# د افغانستان

# له ماشومانو او کوچنیانو سره

## د تـاوتـریـخوالي ستونزه

(د مقالو ټولګه)

لیکوال

پوهندوی آصف بهاند

**اهدا:**

**استاد صدیق روهي ته،**

**چې د تاوتریخوالي مخالف**

**او په نوي بنېه،**

**د نوي نسل د روزلو پلوي و.**

**«کوچنیان باید په علم پسې ولاړشي او د علم رڼا له ځان سره راوړي»**

(استاد گل پاچا الفت)

**«ماشومان ګلان دي، ګلان ښه وساتئ»**

(دوکتور لطیف بهاند)

د کتاب ځانګړني :

د کتاب نوم: د افغانستان له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه،

لیکوال: آصف بهاند،

د خپریدو نیټه: د ۲۰۱۹ ام عیسوي کال سپتمبر میاشت،

د خپریدو ځای: افغان جرمن آنلاین پورتال.

# د مطالبو فهرست


۱ ـ د سر خبرې ۶ ام مخ

۲ ـ زما د اوږدې مودې زدکړو، مطالعې او تجربو پایله داسې وايي ۷ ام مخ

۳ ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالی ستونزه، لومړی مقاله ۸ ام مخ

۴ ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالی ستونزه، دویمه مقاله ۱۳ ام مخ

۵ ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالی ستونزه، دریمه مقاله ۱۷ ام مخ

۶ ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالی ستونزه، څلورمه مقاله ۲۱ ام مخ

۷ ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالی ستونزه، پنځمه مقاله ۲۵ ام مخ

۸ ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالی ستونزه،شپږمه مقاله ۲۸ ام مخ

۹ ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالی ستونزه، اومه مقاله ۳۱ ام مخ

۱۰ ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالی ستونزه،اتمه مقاله ۳۳ ام مخ

۱۱ ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالی ستونزه،نهمه مقاله ۳۶ ام مخ

۱۲ ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالی ستونزه، لسمه مقاله ۳۹ ام مخ

۱۳ ـ د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي (۱) یولسمه مقاله ۴۲ ام مخ

۱۴ ـ د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي (۲) دولسمه مقاله ۴۵ ام مخ

۱۵ ـ د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي (۳) دیارلسمه مقاله ۴۸ ام مخ

۱۶ ـ د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي (۴) خوارلسمه مقاله ۵۱ ام مخ

۱۷ ـ د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي (۵) پنځلسمه مقاله ۵۴ ام مخ

۱۸ ـ د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي (۶) شپاړسمه مقاله ۵۷ ام مخ

۱۹ ـ د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي (۷) اوه لسمه مقاله ۶۲ ام امخ

٢٠ ـ د افغانستان پر ماشومانو او کوچنيانو باندې د تاوتريخوالي سونامي (٨) اته لسمه مقاله ۶۵ ام مخ

٢١ ـ د افغانستان پر ماشومانو او کوچنيانو باندې د تاوتريخوالي سونامي (٩) نولسمه مقاله ۶۹ ام مخ

٢٢ ـ د افغانستان پر ماشومانو او کوچنيانو باندې د تاوتريخوالي سونامي (١٠) شلمه مقاله ٧۵ ام مخ

٢٣ ـ د افغانستان پر ماشومانو او کوچنيانو باندې د تاوتريخوالي سونامي (١١) يوويشتمه مقاله ٧٨ ام مخ

٢۴ ـ د افغانستان پر ماشومانو او کوچنيانو باندې د تاوتريخوالي سونامي (١٢) دوه ويشمه مقاله ٨٢ ام مخ

٢۵ ـ د افغانستان پر ماشومانو او کوچنيانو باندې د تاوتريخوالي سونامي (١٣) درويشتمه مقاله ٨۵ ام مخ

٢۶ ـ پردی چاپيريال او له کوچنيانو سره د چلند مسآله، پلار ته ليک، ځليريشتمه مقاله ٨٧ ام مخ

٢٧ ـ پردی چاپيريال او له کوچنيانو سره د چلند مسآله، پلار يې هيروي، پنځه ويشتمه مقاله ٩٣ ام مخ

٢٨ ـ په پردي چاپيريال کې مورنۍ ژبه، شپږويشتمه مقاله ٩۶ ام مخ

٢٩ ـ قلم، توپک او چکچکې، اوه ويشتمه مقاله ١٠٨ ام مخ

٣٠ ـ کم سنه انتحاري، د ستونزې جرړې او حل لارې، اته ويشتمه مقاله ١١١ ام مخ

٣١ ـ ځو مقالې، ځو څپيرې او يو ياد داشت، نهه ويشتمه ١١۶ ام مخ

٣٢ ـ «راتلونکی نسل بناد کړئ»(د نوی نسل نوې روزنه)، ديرشمه مقاله ١١٩ ام مخ

٣٣ ـ مشرانو تاسې د توپک تخم کرلی ولې، يو ديرشمه مقاله ١٢٢ ام مخ

٣۴ ـ له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي نوی باب، دوه ديرشمه مقاله ١٢۴ ام مخ

٣۵ ـ ککړه هوا او ککړ ذهنيت، دري ديرشمه مقاله ١٢۶ ام مخ

٣۶ ـ يوه بله نيکنامي؟ «افغانستان د نجونو تعليم لپاره ځلورم ناوړه هېواد»، ځلور ديرشمه مقاله ١٢٩ ام مخ

٣٧ ـ د چاروواکو ځانغوښتنه او د معارف د کوچنيانو چکچکې، پنځه ديرشمه مقاله ١٣٣ ام مخ

٣٨ ـ ماشومان، کوچنيان او نشه، شپږديرشمه مقاله ١٣۶ ام مخ

| | |
|---|---|
| ۳۹ ـ نه ایلیدونکي سونامي، یو میلیون نشه اي ماشومان، اوه دېرشمه مقاله | ۱۳۹ ام مخ |
| ۴۰ ـ شپیته کلن، شپږ کلنه او انصاف، اته دېرشمه مقاله | ۱۴۸ ام مخ |
| ۴۱ ـ «تلویزیونه څه کاني دي وکړي؟» نوی چاپ شوی او ویشل شی کتاب... نه دېرشمه مقاله | ۱۵۱ ام مخ |
| ۴۲ ـ «وسله ګرځول سنت دي»؟ څلویښتمه مقاله | ۱۶۲ ام مخ |
| په ګاونډیو هیوادونو کي افغان ماشومانو سره تاوتریخوالی، | ۱۶۷ ام مخ |
| ۴۳ ـ دوه ماشومان، دوه مرګونه او دوه چلندونه، یو څلویښتنه مقاله | ۱۶۷ ام مخ |
| ۴۴ ـ چیرې چي ښوونکی نه وي، دوه څلویښتمه مقاله | ۱۷۸ ام مخ |
| ۴۵ ـ لوڼي د زدکړو په لور، که نه... دري څلویښتمه مقاله | ۱۸۲ ام مخ |
| ۴۶ ـ د ښونځیو تړل، د وطن او نوي نسل بربادول دي، څلورڅلویښتمه مقاله | ۱۸۷ ام مخ |
| ۴۷ ـ زموږ تعلیمي نظام او د جهادي کتابونو لړی، پ پنځه څلویښتمه مقاله | ۱۸۹ ام مخ |
| ۴۸ ـ د لیکوال بیوګرافي | ۱۹۴ ام مخ |

# د سر خبرې

زموږ په هېواد افغانستان کې د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی د یوې داسې سونامي حیثیت لري، چې زموږ د ټولنې په یوې محسوسې او عیني ستونزې بدله شوې ده. دا سونامي تر اوسه زموږ هر نسل، هره لسیزه، هر کال، هره میاشت هره اونۍ، هره ورځ، هر ساعت، هره دقیقه او هره شیبه د سل ګونو، زرګونو، لکونو او میلیونونو ماشومانو او کوچنیانو اوسنۍ او راتلونکې ژوند ځپې او د تباهۍ کندې ته یې ور پورې وهي.

ما د دې کتاب د مقالو په ترڅ کې ویلي او لیکلي دي چې زموږ د ټولنې عیني ستونزو او تجاربو ته په کتو سره، د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی په لومړي ګام کې په دریو برخو باید و ویشل شي:

١ ـ رواني تاوتریخوالی:

(ژبنی تاو تریخوالی: ډارول، بېکنځلې کول، بد رد ویل، تهدیدول او ډول ـ ډول نور رواني فشارونه)،

٢ ـ جسمي تاوتریخوالی:

(وهل ټکول، شاقه کارونه،جګړو ته اړایستل)،

٣ ـ جنسي تاوتریخوال.

زموږ په هېواد افغانستان کې، زموږ د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد د تاوتریخوالي دا درې واړه ډولونه بنه په درز کې روان دي او مجریان یې د بېلابېلو نومونو تر پردې لاندې، د خپلو اعمالو د توجې له پاره دلایل هم وړاندې کوي.

د مقالو په دې ټولګه کې زما داسې مقالې را ټولې شوې دي چې په یو ډول نه یو ډول، له ماشومانو او کوچنیانو سره د روان تاوتریخوالي په باب بحثونه په کې راغلي دي، د تاوتریخوالي بېلګې په کې په نښه شوې، د تاوتریخوالي د ستونزو په باب خبرې په کې شوې دي او ستونزو ته د حل لارې ښودل شوې دي.

د مقالو دا ټولګه، د دې موخې په پار د کتاب په بڼه برابره شوې ده، چې زموږ د خلکو او ټولنې پاملرنه دې ته ورواوړي چې، تاوتریخوالی له هیڅ چا سره ښه نه دی؛ په تېره له ماشومانو او کوچنیانو سره. دا یو تریخ او انکار نه منونکی واقعیت دی چې زموږ په ټولنه کې له ماشومانو او کوچنیانو سره په بېلابېلو بڼو تاوتریخوالی شوی او کېږي او د تاوتریخوالي ترسره کونکي باید په دې پوه کړای شي چې د هرې ټولنې وګړي چې له خپل نوي نسل سره تاوتریخوالی کوي، هغوی په حقیقت کې خپلې راتلونکې ته اور اچوي او هر څه په ایرو بدلوي. د تاوتریخوالي پر

ځای باید له نوي نسل سره مینه وشي، په نوي او مدرنه بڼه د وخت له غوښتنو سره سم وروزل شي؛ څو ښه راتلونکي او هوسا ژوند ولري. په دې ډول به موږ وتوانېږو چې ښه پوه نوی نسل ولرو او پایله به یې دا وي چې یوه خورا نیکمرغه او ښېرازه ټولنه ولرو.

د تاوتریخوالي پایلې په ټوله نړۍ کې منفي ثابتې شوې دي. له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي پر ځای، له هغول سره مینه وکړئ، د هغوی روزنې ته پاملرنه وکړئ او په ډېرې مینې سره عاطفه وروڵېږدوئ. دا ښه په یاد ولرئ:

**تر څو نوی نسل په سمه توګه و نه روزل شي، هېڅکله د سمون تمه و نه کړئ. د نوي نسل له روزلو پرته به تل له ستونزو او بدمرغیو سره لاس ګریوان اوسئ!**

پوهندوی آصف بهاند

د ۲۰۱۹ ام عیسوي کال اکتوبر

## زما د اوږدې مودې زدکړو، مطالعې او تجربو پایله داسې وایي:

**زموږ د ګلالیو ماشومانو او کوچنیانو سترګې او څېرې
موږ ته وایي: موږ د ژوند په هغه پړاو کې یو چې
نه غواړو د خبرو اوریدو په ځای مو پر مخ
څپېړې ولګېږي، موږ نه غواړو چې
د مښتـو لوستونو او موزیک
د اوریدو پر ځای د
ټوپک او بمونو
درزا واورو.**

*****

**دا ښه په یاد ولرئ:
تر څو نوی نسل په سمه توګه و نه روزل
شي، هېڅکله د سمون تمه و نه کړئ. د نوي نسل
له روزلو پرته به تل له ستونزو او بدمرغیو سره لاس ګریوان اوسئ!**

*****

**د ماشوم د حقونو په رڼا کې،
که د افغانستان ټولنه په اوسني وخت
کې و ارزول شي، داسې باید وویل شي
چې زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنیانو له
پاره د مځکې پر مخ د یوه ریښتیني دوزخ حیثیت لري.**

*****

# له ماشومانو او کوچنیانو سره

## د تاوتریخوالی ستونزه،

## لومړۍ مقاله

**زموږ د ګلالیو ماشومانو او کوچنیانو سترګې او ځیرې**
**موږ ته وایي: موږ د ژوند په هغه پړاو کې یو چې**
**نه غواړو د خبرو اوریدو په ځای مو پر مخ**
**څپیړې ولګیږي، موږ نه غواړو چې**
**د مښتو لوستونو او موزیک**
**د اوریدو پر ځای د**
**ټوپک او بمونو**
**درزا واورو.**

د دې بحث په پیل کې باید و ویل شي چې دا مطلب په ټوله نړۍ کې یو منل شوی حقیقت دی چې د ماشوم او کوچني د حقونو د کنوانسیون له مخې تر اتلسو کلونو لاندې افراد ټول ماشومان او کوچنیان شمیرل کیږي.

د ماشومانو او کوچنیانو خوا خوږي، ډیری قلموال تل په دې فکر کې وي چې څنګه به د دوی له پاره یو ګټور نثر، شعر، داستان، تابلو، رسم، انځور، کارتوني فلم، مقاله، رساله، کتاب او یا... برابر کړي، چاپ یې کړي او د لوستلو او استفادې له پاره یې په لاس کې ورکړي، څو ماشومان او کوچنیان وکولای شي یو څه ور نه زده کړي او د راتلونکي ژوند د مقدماتو په ډول یو څه لاس او مغزو کې ولري؛ خو ډیر لږ په دې باب فکر شوی دی چې زموږ اوسنی ټولنه د بیلابیلو ستونزو د یو ستر کودام حیثیت لري، د ستونزو په دې ګودام او د ستونزو په دې باد او توفان کې زموږ ماشومان او کوچنیان، څومره او په څه ډول او له کوم ډول تاوتریخوالي سره مخ دي او ولې؟

زه فکر کوم چې د ماشومانو او کوچنیانو د روزلو په پروسه کې د دوی د ادبیاتو له رامنځ ته کولو او غني کولو نه مخکې باید د هغه تاو تریخوالي مخه ونیول شي، چې زموږ د ټولنې ماشومان او کوچنیان ور سره مخ دي. د کور له چاپیریال نه نیولې تر کوڅې، له کوڅې نیولې تر وړکتون (که وي) او له وړکتون نیولې تر ښوونځې او له ښوونځې نیولې بیا تر ټولنې پورې.

زمونږ په ټولنه کې د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی د یوې داسې نه لیدونکې سونامي حیثیت لري چې زمونږ د ټولنې په یوې محسوسې اوعیني ستونزې بدله شوې ده او دا سونامي هر نسل، هره لسیزه، هر کال، هره میاشت هره اونۍ، هره ورځ، هر ساعت، هره دقیقه او هره شیبه د سل ګونو او زرګونو ماشومانو او کوچنیانو اوسنۍ او راتلونکې ژوند ځپي او د تباهۍ کندې ته یې سر له اوسه ور پورې وهي.

زمونږ په ټولنه کې یوه ډیره نا سمه پالیسي «چې ډب نه وي، ادب نه وي» عامه بڼه لري چې د هغې تر سیورې لاندې ضارب خپله ګناه پټوي او خپل عمل توجه کوي. په پرمختللو ټولنو کې د «چې ډب نه وي، ادب نه وي» پر خلاف عمل روان دی، ډب نه شته، خو ادب شته. دلته، په کومه ټولنه کې چې زه ژوند کوم (ډنمارک) وهل یا تاو تریخوالی، حتی که لفظي هم وي، جُرم شمېرل کیږي او په قوانینو کې د وهلو ټکولو له پاره له شېږو نه تر اتلس میاشتو بند په نظر کې نیول شوی دی.

زمونږ د ټولنې عیني ستونزو او تجاربو ته په کتو سره، د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی په لومړي ګام کې په دریو برخو باید و ویشل شي:

۱ ـ رواني تاوتریخوالی:

(ژبنی تاو تریخوالی، ډارول، ښکنځلې کول، بد رد ویل، تهدیدول او ډول، ډول نور رواني فشارونه)،

۲ ـ جسمي تاوتریخوالی:

(وهل ټکول، شاقه کارونه،جګړو ته اړایستل)،

۳ ـ جنسي تاوتریخوال.



مورږ به څو نسلونه د دې کوچني پور وړي یو

د عیني محسوسو تجاربو له مخې چې زمونږ ټولنه مطالعه شي، دا ثابتیږي چې هر هغه مشر چې له کوم کشر سره تاوتریخوالی کوي، خامخا له هغه مشر سره د ماشومتوب او کوچنیوالي

په دوران کې دې ته ورته تاوتریخوالی شوی دی، چې دی یې اوس په شعوري یا غیر شعوري توګه، په عقدوي ډول له خپلو کشرانو سره کوي.

موږ مشران باید دغې ترخې تکراریدونکي تجربې ته او دې ترخه حقیقت ته په کتو سره دې تاوتریخوالي ته د پای ټکی کېږدو، هغه داسې چې دا قرباني ورکړو چې له موږ سره په شوي تاوتریخوالي سترګې پټې کړو، ور نه تیر شو، څو دا عقده او دا ترخه تجربه چې له نسلونو، نسلونو تر موږ پورې را رسیدلې ده، بل نسل ته و نه لیږدول شي او که یې لکه د تیرو نسلونو په شان چې موږ ته یې را سپارلې ده او موږ یې راتلونکي نسل ته وسپارو، نو له راتلونکي نسلونو سره به مو له دې نه هم ستره جفا کړې وي، لکه تیرو نسلونو چې له موږ سره کړې ده. کله چې موږ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي له لارې عقدوي چلند کوو، نو په حقیقت کې موږ د هغوی د ذهن په کرونده کې د عقدو او ستونزو تخم کرو چې په زلمیتوب او له هغه نه وړاندې په ژوند کې د هغوی هر څه په زهرو لړي. ډاکتر صاحب محب زغم «د حقارت غوټه» نومی کتاب له فارسي ژبې نه په روانه پښتو اړولی دی او دا موضوع په کې ډیره هر اړخیزه او علمي څیړل شوې ده، درانه لوستونکي کولای شي په لاندې لینک کلیک وکړي، کتاب تر لاسه کړي او وې لولي.

که موږ غلي کینو، چوپتیا او ځان غلی نیول خپله له نوي نسل سره جفا ده، دا په خپله یو ډول تاوتریخوالی دی چې په رڼو ور ته ګورو، نوی نسل مو د همدې تاوتریخوالي په پایله کې د بربادۍ کندې ته ور لویږي، که د مخنیوي له پاره یې څه ونه کړو، دا په خپله له هغو سره د تاوتریخوالي یوه ښکاره بیلګه ده.

له کوچنیانو او ماشومانو سره دغه یاد تاوتریخوالی څوک کوي؟ البته چې مشران یې کوي او مشران یې هغه وخت کوي چې په هغوی کې د بې سوادۍ او نا پوهۍ مرض شایع وي. که د عادي لیک لوست په کچه سواد ولري، هغوی بیا مطالعه نه کوي او د سواد لوړې کچې ته یعني علمي سواد ته چې هغه د ماشومانو او کوچنیانو او تنکیو ځوانانو روزنه ده، ځان، کورنی او ټولنه نه شي ور لوړولی. نو په دې صورت کې نه ماشوم، نه کوچنی، نه نوی نسل او نه هم د هغوی حقوق پیژني. په دغسې یو حالت او په دغسې یوه ټولنه او چاپیریال کې چې د بیسوادۍ او ناپوهۍ بلا ور باندې حاکمه وي، بیا نو د مینې او محبت ځای تاو تریخوالی نیسي او کله چې له ماشوم او کوچني سره تاو تریخوالی وشو، پایله به یې دغسې وي لکه زموږ ټولنه او زموږ دا اوسني نسلونه چې د هرې ستونزې د حل لاره په وهلو ټکولو یا ژبني تاو تریخوالي کې لټوي. د مطالعې او زدکړو په باب مې په یوه علمي ګزارش کې ولوستل چې په ۲۰۰۶ کال کې د تایلند په پلازمینه بنکاک کې د ملګرو ملتونو د یونسکو اداري د سواد په باب یو کنفرانس جوړ کړی و. په ګزارش کې سواد، علمي زدکړو او د نوي نسل روزلو ته داسې شوی وه:

«په کنفرانس کې د باسواده لپاره یو نوی تعریف وړاندې شو، چې فکر کوم، په نني عصر کې د باسواده لپاره تر ټولو ښه تعریف دی. هورې د برخوالو پوهانو او د پوهنې د متخصیصینو په نظر سواد، د یو شي لیکلو او لوستلو ته نه وایي او نه هم د سواد اموزي یا لیک لوست زده کړې هدف د انجنیرانو او ډاکترانو روزل دي ، بلکې اصلي هدف یې د علمي سواد کچې ته د ټولنې رسول دي او علمي سواد د ماشومانو او نویو ځوانانو روزنه ده.»

دې ګزارش او دې ته ورته نورو علمي کارونو او پیښو ته په کتو سره او بیا د خپلې ټولنې او په تیره بیا زموږ په ټولنه کې د ماشومانو او کوچنیانو اوسنی بده وضعه او له هغوی سره تاوتریخوالی هر آګاه انسان دې ته متوجه کوي چې موږ او زموږ ټولنه تر اوسه د نرۍ په پرتله د ژوند کولو په ډیره ټیټه سطحه کې خپل ژوند پر مخ بیایو. دغسې د همدې لیکنې بحث ته که پام وکړو، لیدل کیږي چې موږ تر اوسه نه یو توانیدلي چې پر ماشوم او کوچني باندې د تاوتریخوالي تنده سیلۍ او توفان و دروو، له هغه وروسته یې بیا د سواد د زدکړې، ښونځي

پوهنځي او په لوړه کچه د مطالعي، لوړو زدکړو او د ماشومانو، کوچنيانو، ځوانانو او نوي نسل د علمي سواد غم وکړو.

نو دلته ده چي اصلي کار بايد له مشرانو نه را پيل کړو، که مشرانو ته و ويل شي چي له ماشوم او کوچني سره تاو تريخوال څه پايلي لري، او په علمي دلايلو قناعت ورکړل شي، هغوی به له خپلو ماشومانو او کوچنيانو سره تاوتريخوالی ودروي، که مو د ښونکي تعليمي سويه ټيټه وي، لومړی هغه بايد لوړه کړای شي يعني چي موږ با سواده او پوه ښونکي نه لرو، ځکه مو په ښونځيو کې سويه ډيره او بيا هم ډيره ټيټه ده، ډيره برخه ښوونکي مو په څه نه پوهيږي او له ماشوم او کوچني سره د چلند په سيستم نه پوهيږي، ځکه مو په ښونځيو کې د تشدد کچه لوړه ده.



ځومره چي د دي ماشوم کوناټي او پښي په لښتو وهل کيږي، له هغه نه يي ځو ځلي ډير شعور او تحت شعور د حقارت په متروکه وهل کيږي.

په دې برخه کې د ورځپاڼه ليکونکي هميم جلالزي په قلم د يوه ليکل شوي مستند راپور يوې برخې ته پام وکړئ:

«په افغانستان کې د ښوونځي دښمنان کم نه دي. همدا اوس هم سلګونه ښوونځي تړل شوي دي چې لامل يې نا امني بلله کيږي. هغه چي پرانستي بلل کيږي، تر لس ميليونه زيات زده کوونکي ورځي. دا د افغانستان لپاره يو ښه خبر دی چي د اووه ويشت نيم ميليونه نفوس له ډلي يي لس ميليونه يوازې په ښوونځيو کې په زده کړو بوخت وي.

خو دلته بدمرغي دا ده چي ټول حساب په ظاهري ښه او غلوونکو ارقامو باندي کيږي. ما تر اوسه پوري د پوهني وزارت له چارواکو دا و نه وريدل چي د لس ميليونه ماشومانو د زده کړې سطحه ځومره ده؟

ښاغلی وردګ وايي د سناتورانو او وکیلانو په سپارښتنه یي ځینی داسي کسان د دیني عالمانو په نوم مقرر کړي چي اسناد نه لري.

ایا دوی کولای شي چي له ۱۲ ټولګي څخه تر فارغېدو وروسته پر یوه موضوع باندې یوازې یو پاراګراف ولیکي؟ دغه راز د ښوونکو پر وړتیا باندې هم یوازې په رسمیاتو کې خبرې کیږي.

د تېرې سي شبنې پر ورځ د پوهني وزیر فاروق وردګ مشرانو جرګې ته ور غوښتل شوی و. ښاغلي وردګ جالبې خبرې وکړې. یوه یي ماته دا وه، چې ویل یې ۶۵ زره داسې کسان یې مقرر کړي دي چي هېڅ اسناد نه لري، مانا نالوستي دي.

د ده خپل ټکي دا و چي دغه کسان څوک وايي په پاکستان او څوک وايي په ایران کې یې مدرسه ویلې ده او د ده په وینا د سناتورانو او وکیلانو په سپارښتنه یې د دیني عالمانو په نوم مقرر کړي دي.

دا که د افغانستان شاوخوا دوه لکه ښوونکو درېیمه برخه وګڼو نو مانا یې دا ده چې په پرانستو ښوونځیو کې مو هم درېیمه برخه ښوونځي هغه معیار نه لري چې په افغانستان کې د ښوونځي لپاره ټاکل شوی دی.

نېتجه دا کېږي چي موږ یوازې په دې بسنه کړې ده چې په رسنیو کې ارقام ډېر وښودل شي. دلته پر دې بحث نه کوم چې دا کار له ښوونځي سره دښمني ده کنه ده، خو دومره ارو مرو ویل کېدای شي چې پوهني ته لا هم موږ هغه اهمیت نه ورکوو چې نړۍ یې ورکوي.»

د لومړۍ مقالې پای

# له ماشومانو او کوچنیانو سره

## د تاوتریخوالی ستونزه

### دویمه مقاله

**زموږ د ګلالیو ماشومانو او کوچنیانو سترګې او څیرې**
**موږ ته وايي: موږ د ژوند په هغه پړاو کې یو چې**
**نه غواړو د خبرو اوریدو په ځای مو پر مخ**
**څپیړې ولګیږي، موږ نه غواړو چې**
**د مثبتو لوستونو او موزیک**
**د اوریدو پر ځای**
**د توپک او بمونو**
**درزا واورو.**

له ماشوم او کوچني سره تاوتریخوالی او د هغوی زوروني ته که په ځیر سره وکتل شي، کیدای شي پایلې یې داسې وي:

ـ له ماشوم او کوچني سره د تاوتریخوالي آثار او پایلې د هغوی پر ذهن او روان باندې د تل له پاره پاتې کیدای شي،

ـ زموږ په هیواد کې د کورنی، ښونځیو او ټولنې په چاپیریال کې، پر ټولنه باندې د ناوړه قوانینو د حاکمیت په وجه د تاوتریخوالي له پاره شرایط چمتو دي او عملي کیږي هم،

ـ جسمي او رواني تنبیه د ماشومانو او کوچنیانو په راتلونکي ژوند باندې ډیره نا وړه اغیز لرلای شي،

ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي په پایله کې هغوی چغې وهي، خو مشران یا د تاوتریخوالي عاملین یې نه اوري، که یې اوري، پام نه ور ته کوي او ځان حق په جانبه ګڼي،
ـ ټولنه او مشران باید په دې پوه کړای شي چې له ماشومانو او کوچنیانو سره تاوتریخوالی پټ جنایت دی،

او په پای کې دا دوې مهمې پوښتنې چې ټول اړوند مسوولین او قلموال باید پام ور ته وکړي:

١ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره تاوتریخوال څه شی دی؟

٢ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي عوامل کوم دي؟

د ې یوې ډلي کوچنیانو ته چا د څه په نامه وسله په لاس ورکړې او دا بل ماشوم چا په وسلو او مرمیو محاصره کړی؟ طبعاً مشرانو او هغه مشر نه پوهیږي چې دا حالت پر دې ماشومانو او کوچنیانو باندې په راتلونکې کې څه راولي؟

زما د ټولني نوی نسل چې په دې بڼه روزل کیږي، سبا به د څه تمه ترې ولرو؟

موږ لا په اورني کې ماشوم ته د جګړې انځور او د نفرت تابلو په مخ کې ږدو،

آیا دا تاو تریخوالی دی که نه؟





له ماشومانو او کوچنیانو سره د تشدد او تاوتریخوالي په باب زموږ قلموال غلي نه دي ناست او کله نا کله يي دغو ستونزو ته په پام سره مقالې ليکلي يا ژباړلي دي چې زه به يي د مثال له پاره د ځينو سر ليکونه را واخلم:

ــ په تعليمي ادارو کې تشدد،

ليکوال: ډاکټر مبارک علي،

ژباړن: بارکوال مياخېل،

دا مقاله په تاند ويبپاڼه کې په څو برخو کې خپره شوې ده.

ــ د ماشومانو وهل ځيرکتيا ته څومره تاوان رسولی شي؟

ليکوال: ډاکټر سباوون،

ــ ولې جوماتونو کې زده کوونکي ماشومان وهل کيږي؟

ليکوال: محمد قاضي زاده،

ــ لونګ: وهل کړي و يوې ښځې په تيره زمانه کې،

هميم جلالزی افغان ورځپاڼه ليکوونکی،

ــ کورنی شخړې او ماشوم،

ژباړه: نعيمه غني،

ــ د ښونکی ورځ، تعليم په وهلو نه په مينه زده کول کيږي
ليکونکی. نوربادشاه يوسفزی،

دغه راز په پل ويبپاڼه کې ــ چې د ماشومانو او کوچنيانو د روزنې او د ماشومانو او کوچنيانو د ادبياتو ځانګړې ويبپاڼه ده ــ له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي په باب ګڼې مقالې او لارښوونې آنلاين شوي دي او وخت په وخت آنلاين کيږي.

پاسنيو يادو قلموالو او ځينو نورو ليکوالو زموږ د ټولنې ستونزو ته په کتو سره، له ماشومانو او کوچنيانو سره د تشدد موضوع ته په پام، دا موضوع او دا ستونزه تر خپلې وسې په مستند ډول څيړلې ده، د خپلو تجاربو او پوهې نه يې په استفادې سره حللارې ور ته ښوولې دي، خو زه يې داسې انګيرم چې تر څو د ټولنې فکري تګلورې بدل نه کړای شي، نه شي کيدای چې له کوچنيانو او ماشومانو سره د روان تشدد مخه ونيول شي، لومړی بايد په عام ډول پر ټولنه باندې په حاکم فکري سيستم کې بدلون راوستل شي، بيا نو کولای شو د روان تاوتريخوالي مخه ونيول شي او دا کار د تعليم د عاميدو له لارې ډير ښه تر سره کيدای شي.

زموږ په ټولنه او هيواد کې دغسې چې له ډيرو نورو جدي مسايلو سره، سر سري او عادي چلند کيږي، له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالی ستونزې ته هم دومره چې ښايي پاملرنه، نه شوې او نه هم پاملرنه کيږي، خو په نورو هيوادونو کې دا مسأله دومره جدي نيول کيږي چې په دې برخه کې نوي قوانين طرحه او پارلمان ته وړاني کيږي او د پارلمان له تاييد نه وروسته يې اړوند ارګانونه په جدي ډول تطبيقوي. په همدې نږدې ورځو کې د اندونيزيا پارلمان دا موضوع تصويب کړه چې له کوچنيانو سره د جنسي تاوتريخوالي مجرمينو ته د عقيميدو او خسي کيدو سزا ورکړل شي.

دا موضوع د اندونيزيا په پارلمان کې هغه وخت را پورته شوه چې له دې نه څو ورځې وړاندې پر يوې څوارلس کلنې نجلۍ باندې ډله ايز جنسي تيری وشو او هغې جلۍ خپل ژوند له لاسه ورکړ.

خو زموږ په هيواد او زموږ پر ټولنې باندې داسي وحشت حاکم کړای شوی دی چې دې ته ور ته پيښې هره مياشت، هره اونۍ او ښايي هره ورځ وشي، خو د څه ويلو څوک نه شته او عاملين يې هسکه غاړه ګرځي.

له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي پر موضوع باندې، تر ټولو په نوې مقاله کې چې په تاند ويبپاڼه کې مې له نظره تيره شوه، يو ليکوال د ښونکي د ورځې په پلمه دا موضوع مطرح کړې ده چې په ښونځيو

کې تر ټولو نه مخکې خپله ښونکي له زده کونکو سره هم لفظي تاوتريخوال کوي او هم فزيکي تاوتريخوالی. د ده د ليکنې سر ليک دا دی:

«د ښونکی ورځ، تعليم په وهلو نه په مينه زده کول کيږي »
د دې ښاغلي د ليکنې څو کرښې ـ په ولولو:

« يوه ورځ مې فکر وکړو که زه په ټولګي کې تر ټولو کمزوری او د پوښتنې کولو جرات نلرم خو لاعمل يې د ماشومتوب د سکول د ښوونکيو سلوک دی، تشدد سپکاوی او توهين دی خو چې د افغانستان او پاکستان دا نور زده کوونکي ولې د پوښتنې جرات نلري، کله چې مې د دواړه هيوادونو د هلکانو څخه وپوښتل نو هغوی راته هم دغه لامل وښودلو چې د سکول تشدد او توهين ترې زړه وباسلی چې وس پرې کړېږي.

مهمه نه ده چې تاسو دې زما د دې خبرې سره موافقه يئ چې ګني په وهلو او تشدد د يو زده کونکي په لويې والي کې بې جراته او بې همته کوي، که څوک په دې فکر وکړي کيدای شي په کومه نتيجه ورسيږي.

تعليم په وهلو نه په مينه زده کيږي، که د ماشوم سره د ترخې پرځای خوږه و ويل شي هغه کار بيا ماشوم په مينه کوي، د ښونځۍ ښونکی که هر رقم وي ډېر د عزت او احترام وړ وي، که ښونکي نه وې نن به ما دا ليکنه نه وه کړې، نه به تاسو دا ليکنه لوستلې وه، ښونکي پيشه په ټوله کې د هرې پيشې ستره ده ولې چې د دې پيشې روسته بيا نورې پيشې پيل کيږي، ښوونکی د ټولنې د سر ګل دی...»

د دويمې مقالې پای

# له ماشومانو او کوچنیانو سره

## د تاوتریخوالی ستونزه،

### دریمه مقاله

**زموږ د ګلالیو ماشومانو او کوچنیانو سترګې او څیرې**
**موږ ته وايي: موږ د ژوند په هغه پړاو کې یو چې**
**نه غواړو د خبرو اوریدو په ځای مو پر مخ**
**څپیړې ولګیږي، موږ نه غواړو چې**
**د مثبتو لوستونو او موزیک**
**د اوریدو پر ځای**
**د ټوپک او بمونو**
**درزا واورو.**



په افغانستان کې د یوې مرجع یا ویبپاڼې او فیسبوک پاڼې په یوه هدایت یا لارښود کې داسې راغلي دي چې که په لارو کوڅو کې ماشومان او کوچنیان د ډار احساس کوي باید څه وکړي؟ که یې څوک یا کوم موټر تعقیبوي دوی باید څه وکړي او...

له دې نه ښکاري چې په ټول کې د افغانستان غوندې یوه ټولنه او چاپیریال کې ماشومان او کوچنیان خوندیتوب نه لري او د تشدد او تاوتریخوالي له ډاره دوی او د دوی میندو پلرونو ته لازم هدایتونه ورکول کیږي .

په میډیا کې د دغسې مطالبو او لارښوونو را ښکاره کیدل، په نیغه د دې ګواهي ورکوي چې په دغسې ټولنه کې لکه افغانستان ماشومان او کوچنیان امن نه دي او له ښکاره تاوتریخوالي سره لاس ګریوان دي.





له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي بل ډول، جنسي توپیر دی. له بده مرغه چې زموږ په ټولنه کې په تیره پښتنو کې د جنسي توپیر کچه ډیره لوړه ده او په کورنیو کې له نجونو نه، د هلکانو په زیږیدو خوشاله کیږي، بیا په کورنیو کې نسبت هلکانو ته نجونې ډیر کارونه تر سره کوي. په کور کې پخلی، کور پاکول، کالي مینځل او... او له کور نه د باندې د څارویو پوول، خس را ټولول، له ګودر نه اوبه راوړل او... چې له یوې خوا له نجونو نه د ماشومتوب

او کوچنیوالي خوند او دنیا اخستل کیږي او له بلې خوا له کور نه د باندې د توهین او جنسي تیري خطر هم ور ته ډیریږي.

د ملګرو ملتونو د یونیسف اداري په یوه تازه رپوټ کې په دې باب داسې راغلي دي:« "نجونې د زده کړو، ودې او له ماشومتوبه د خوند اخیستو ډېر فرصتونه قرباني کوي. د ماشومانو تر منځ د کار دغه نا انډوله وېش جنسي تبعیض هم تل پاتې کوي او په ډېرو نسلونو کې د ښځو پر اوږو د کار بار ډېروي".

دغه رپوټ د اکتوبر ۱۱ ورځې نژدې کېدو پر مهال خپور شوی، چې د ماشومو نجونو نړیواله ورځ ده او په کې د جنسي زور زیاتي، ماشومانو ودونو، نجونو سنتولو شمېرې هم یادې شوې دي.»

زه یې داسې انګیرم چې په افغانستان کې له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي اصلي سرچینه کورنی چاپېریال دی. نو د همدې له پاره د تاو تریخوالي ریښې باید په کورنی کې ولټول شي. انسان له کورنی نه ټولنې ته راوزي، که په کورنې چاپیریال کې تاوتریخوالي وي، نو طبعي خبره ده چې له کورنی نه ټولنې را وتونکی شحص، له تاوتریخوالي سره راوزي او همدا کورنی تاوتریخوالی په ټولنه کې نور هم پالل کیږي، وده کوي او بیا وروسته د ټولنې د غړو په منځ کې په ټکرونو بدلیږي او ستری بد مرغی را منځ ته کوي.

څنګه چې ښکاره ده زموږ ټولنه یوه نارینه واکې ټولنه ده او په داسې ټولنه او چاپیریال کې، نارینه، د کورنی ټول غړي(ښځې او ماشومان ـ کوچنیان) خپل ملکیت ګڼي او ځان د ټولو خاوند او سالار ګڼي، که د حاکم نارینه  دې ملکیت او دې مشرتوب ته کوم خطر پیښ شي، نو یاد مشر تاوتریخوالي ته مخه کوي.

د همدې عیني حاکمو شواهدو له مخې ویلای شو چې تاوتریخوالی له کورنی نه ټولنې ته را وزي او په ټولنه کې په منفي لوري نوره وده کوي. ستونزې یوازې په تاوتریخوالي سره نه حل کیږي، د ستونزو د حل او له منځه وړلو له پاره نورې لارې چارې هم شته. موږ باید د نورو خلکو او نمونه ټولنو تجربو نه په استفادې سره په کورني ژوند او تعلیمي پروګرامونو کې داسې مسایل ځای کړو چې د تاوتریخوالي په مخنیوي کې مرسته وکړای شي. دلته به یې د یوې بیلګې یادونه وکړم:

د بي بي سي په یوه نوي څېړنیز راپور کې داسې راغلي چې په استرالیا کې، په کوچنیانو کې د نا انډولتوب د له منځه وړلو په خاطر او له دوی سره د تاوتریخوالي د مخنیوي په پار، څه نوي پروګرامونه په نظر کې نیول شوي دي .

په اوسني او نوي نسل کې د نا انډولی او تاوتریخوالي د مخنیوي په خاطر داسې پروګرام طرح شوی دی چې د پخوانیو نظریاتو پر خلاف د داسې څه تبلیغ کیږي چې پخوا به یوه جنس ته هغه یا منع و او یا به پیغور شمیرل کیده، لکه د نجونو فوتبال کول او یا ځواکمنیدل او یا د خپګان او ژوبلیدو په وخت کې د هلکانو ژړل، د نر او ښځو په تنخوا کې نا انډولتوب، په کور کې کار کول، پر غوسه باندې د کنترول څرنګوالی، او ..

د دې ګزارش په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«د استرالیا په یوه ایالت کې داسې ښوونیز پروګرام پیل شوی چې موخه یې د جنسیتي کلیشو او د کورني تاوتریخوالي د ریښو له منځه وړل دي.

راتلونکی کال به د استرالیا د وکتوریا ایالت په ټولو ښوونځیو کې د "درناوي اړیکو" په نوم دا نصابي پروګرام اجباری وي.

دا پروګرام به له زدکوونکو سره مرسته وکړي چې پر ټولنیزې ناانډولۍ، د جنسیت له مخې پرکېدونکي تاوتریخوالي او نارینه وو ته ورکړل شوو امتیازي حقونو یا برترۍ باندې پوه شي... ...د لومړي ښوونځي زدکوونکو ته به د داسې هلکانو او نجونو تصور ور کول وي چې په کور کې کار کوي، لوبو کې برخه اخلي، د اور وژونکو او هرکلي ویونکو په څېر دندې لري. په دې ښوونیز نصاب کې دا مواد هم شته چې "نجونې فوټبال کولی شي، ډاکټرانې کېدلی او ځواکمنېدلی شی" او "هلکان د ژوبلېدلو یا خپه کېدلو په مهال ژړلی شي، نرمېدلی شی، روغتیا پال یا نرس کېدلی او ماشومان پاللی یا ساتلی شي." ...»

د دریمې مقالې پای

# له ماشومانو او کوچنيانو سره

## د تاوتريخوالی ستونزه،

## څلورمه مقاله

**زموږ د ګلاليو ماشومانو او کوچنيانو سترګي او څيري**
**موږ ته وايي: موږ د ژوند په هغه پړاو کی يو چي**
**نه غواړو د خبرو اوريدو په ځای مو پر مخ**
**څپيړې ولګيږي، موږ نه غواړو چي**
**د مثبتو لوستونو او موزيک**
**د اوريدو پر ځای**
د ټوپک او بمونو
درزا واورو.

د افغانستان د څيړني او ارزيابي ډله يو خپلواک څيړنيز سازمان دی چي د افغانستان د ټولني په بيلابيلو برخو کي د څيړني له لاري غواړي چي د افغانانو د ژوند او پوهي کچه لوړه کړي. دا سازمان افغانستان ته د مرستندويي ټولني له خوا په ۲۰۰۲ ام کال کي تاسيس او د يو غير دولتي سازمان په توګه يي فعاليت کړ دی. مالي مرستي يي د مهاجرينو په چارو کي د ملګرو ملتونو د عالي کميشنری، اروپايي کميسيون، نړيوال بانک او د ناروې، ډنمارك، سويس، سويدن او بريتانيا هيوادونو له لوري ورکول کيږي.

دغه سازمان په افغانستان کي د نورو څيړنو تر څنګ له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاو تريخوالي پوري اړوند موضوع په باب هم څيړنه کړي ده.

له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي موضوع پوري اړوند يوه په زړه پوري علمي څيړنه شوي ده او پايله يي ديبرا. ج. سميت نومي ليکوال د کتاب په بڼه ليکلي ده او د «په افغانو کورنيو کي د ماشومانو پر وړاندی ورځنی تاوتريخوالی» تر سر ليک لاندي يي د ۱۳۸۶ کال کي يي خپور کړی دی.

په دي څيړنه کي په ډير لوړ مصرف د افغانستان په څلورو ولايتونو(باميان، هرات، کابل او ننګرهار) کي دا څيرل شوي ده چي له کوچنيانو او ماشومانو سره څه ډول او ولي تاوتريخوالی کيږي؟

دا ډېره پر مصرفه، خو جالبه او علمي څېړنه ده چې دلته یې د موضوع په ارتباط ځیني مهم ټکي یادوم:

ـ په تاتریخوالي پوري اړوند ماشومان کوچنیان او کورنی یې څه وایي او غوښتني یې څه دي؟

ـ د میندو پلرونو او ماشومانو مسولیت څه شی دی؟

ـ د تاوتریخوالي په نتیجه کي څه منفي پایلي ماشومانو، کوچنیانو، کورنیو او په پای کي ټولني ته ور په برخه کیدای شي؟

ـ د تاوتریخوالی هیڅ ډول باید و نه منل شي.

ـ څه ډول کولای شو چي د ماشومانو او کوچنیانو د بدني تنبه پر ځای له بل ډول چلند څخه استفاده وکړو؟

ـ څه ډول کولای شو چي د وخت په تیریدو سره د نویو نسلونو د روزني په برخه کي په خپلو چلندونو کي بدلون راولو؟

او...

په پاسني یاد کتاب کي، له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي په باب دا او دې ته ورته نوري څېړني شوي دي، خو په چا یې لولي او څوک به یې په هغې ټولني کي تطبیق کړي؟



که څوک هیله لري چي دا شپنۍ ته اړایستل شوې جلۍ

به په دې ډول کار کي سبا هم صحت ولري

او هم سواد، دا اشتباه ده!

زموږ په ټولنه او زموږ په هیواد کې له یوې سطحې او سر سرې څیړنې څخه جوتیږي چې دا ځلوېښت کاله زموږ ماشومانو او کوچنیانو ته او زموږ بچو ته له ټولو نه مخکې دوه شیان په غوږونو کې ور پو شوي دي:

و وژنه، یا وژل کیږي.

دا نه دي ور ته ویل شوي چې:

چې ولوله، زده کړه او ژوند وکړه.

که چیرې مشران خپل نظریات پرماشومانو ور تپي او په زوره یې ور باندې مني، دا خپله د تاتریخوالي یوه بڼه ده، ماشومان باید فکر کولو ته و هڅول شي، دې ته اړ ایستل نه شي چې د خپلو مشرانو باورونه دې حتماً ومني. له تاو تریخوالي نه لرې کیدل او په ژوند باندې باور او له ژوند سره مینه.

زموږ په ټولنه کې، زموږ په ښونځي کې، زموږ په کلي او کوڅه کې او په پای کې زموږ په کورنیو کې له ماشوم او کوچني سره د تاوتریخوالي تریخ حقیقت شته دی، اوس نو باید پر دې فکر وکړو چې لومړی د دې روان تاوتریخوالي مخه څه ډول ونیول شي او په دویم پړاو کې څنګه کولای شو چې ماشوم او کوچني ته داسې چاپیریال برابر کړو چې په هغوی کې د تاوتریخوالی زړی هیڅ و نه کرل شي.

زه فکر کوم چې د دې پیل به د ماشوم او کوچني له کورني چاپیریال نه کیږي چې په میندو پلرونو او یا د کورنۍ په نورو مشرانو پورې اړه لري او دا نیغ په نیغه د کورنیو د مشرانو د زدکړو، سواد او پوهې په کچه پورې اړه لري؛ نو دلته دی چې د سواد، مطالعې، زدکړې او پوهې مهم والی ثابتیږي او هر کله باید په لومړیتوبونو کې وشمیرل شي.
که په یوه کورنۍ کې مور پلار یا نور مشران، ماشومانو او کوچنیانو ته داسې چاپیریال برابر کړي چې په هغه کې د تاوتریخوالي نښې هم نه وي، ډیره به ښه وي. د ساري په توګه :

مشران خپله باید د کشرانو په مخ کې له لفظي او فزیکي تاوتریخوالي نه ډډه وکړي، په تلویزیون کې دې د هغو پروګرامونو او فلمونو د لیدلو دایره تنګه یا بیخي بنده کړي چې په هغو کې وهل ټکول او تاوتریخوالی زیات وي او حتی د هغو صحنو لیدل دې په تلویزیون کې یا بند یا محدود کړي چې په هغو کې وهل ټکول او تاوتریخوالی او غچ اخستل په براﻻ ډول ښودل کیږي، د هغو کتابونو او مضامینو لوستل دې هم تر ډیرې اندازې یا بند یا محدود کړي چې د تاوترخوالي ښکاره او یا پټې نښې په کې موجودې وي، که ماشومان او کوچنیان د دغسې فلمونو یا پروګرامونو ځینې صحنې په تصادفي ډول وګوري، باید کشرانو ته، میندې پلرونه او یا د کورنۍ نور مشران د هغو په باب لازمي څرګندونې وکړي او دا ورته و وایی چې د ستونزو د حل لار تاوتریخوالی نه، بلکې خبرې دي.

زموږ په ټولنه کې داسې نه لیدونکی تاوتریخوالی هم شته چې د همدې مشرانو له خوا رامنځ ته شوی دی او تر ټولو زیات او په لومړي ګام کې یې ناوړه اغیز پر ماشوانو او کوچنیانو باندې پریوزي چې ښه بیلګه یې د چاپیریال د ککړتیا مسأله ده. د چاپیریال ککړتیا یوازې د خوسا شیانو ډیر والی، د هوا ککړتیا نه راځي، بلکې ځینې کارپوهان د چاپیریال ککړ تیا په دریو برخو ویشي:

ـ د هوا ککړتیا،

ـ نوري ککړتیا،

ـ غریزه ککړتیا.

زموږ په ټولنه کې يې نوري او غږيزې ککړتيا ته د چا پام هم نه دی اوس حتی د چاپيرپال ککړتيا ته، چې بيلابيل عوامل او ډولونه لري، هم چنداني ځوک پاملرنه نه کوي.

د ملګرو ملتونو د ماشومانو د صندوق(يونيسف) په يوه نوي راپور کې ويل شوي دي چې په ټوله نړۍ کې د درې سوه ميليونه په شاو خوا کې ماشومان د ککړې هوا د تنفس له جدي ستونزې سره مخ دي او کيدای شي چې له ډيرو سترو ستونزو سره مخ شي او د دوی مخ پر ودې مغزو ته صدمه ورسوي.

او زه ډاډه يم چې زموږ په ټولنه کې د دې ماشومانو ـ چې د ککړې هوا د تنفس له جدي ستونزې سره مخ دي ـ د شته والي سلنه د نورو ټولنو او هيوادونو په پرتله ځو، ځو ځلې ډيره ده.

ټول افغانستان، په تيره ماشومان او کوچنيان د تاوتريخوالي له سونامي سره مخ وو او اوس هم ور سره لاس ګريوان دي، په همدې دليل زموږ ټولنه، په تيره ماشومان او کوچنيان ډيرې ځارنې او پاملرنې ته اړتيا لري. که د اوسني نسل مشران ماشومانو او کوچنيانو ته د تاوتريخوالي په پايله کې د رسيدلو ټپونو او دردونو درملنه په علمي او رواني ډول نه شي کولای، دومره خو بايد وشي چې اوسنی روان تاوتريخوالی ودروو او که هيڅ نه شو کولای، د همدې روان تاوتريخوالي پرضد خپل غږ پورته کړو او که آرام او غلي لاس تر زنې کينو، نو...

زموږ ټولنه، زموږ خلک او زموږ د ځو نسلونو زړه او ماغزه د جګړې په لوګيو او کرکې لړل شوي دي، هغه نا دودې چې له دوی سره شوي دي، د هغو په وجه دوی له عقدو او کرکې سره يو ځای زيږيدلي، د همدې ستونزو په لومو او دايره کې را لوی شوي دي، له همدې رواني ستونزو سره يې ژوند کړی دی او اوس هم ور سره لاس ګريوان دي. دا د ټولو لوستو او په تيره سياسيونو او قلموالو ستره دنده ده چې د دې ستونزو په حلولو او له منځه وړلو کې، له خپلو ټولو امکاناتو نه په استفادې سره، په ډير زړه سوي خپلې وروستی هلې ځلې تر سره کړي او په دې باب عملي يو څه تر سره کړي.

موږ بايد په دې باب جدي فکر وکړو چې د بيلابيلو ښونيزو او روزنيزو پروګرامو له لارې، په تيره د ادبياتو له هنر نه په استفادې سره، يا د ادبياتو د هنر په وسيله، چې له عاطفي پلوه ښه غني دی، د خلکو له زړونو او ذهنونو څخه د بې باورۍ، کينې، جګړې او کرکې لوګی، زړې او ريښې را وباسو او په ځای يې د مينې، عاطفې او باور ګلان وکرو.

موږ بايد جدي هوډ او اقدام وکړو چې څنګه کولای شو د ادبياتو د هنر په وسيله له ماشومانو او کوچنيانو سره د روان تاو تريخوالي مخه ونيسو او په ځای يې علمي او محبت آميزه چلند غوره کړو، دا علمي چلند په يوه ټولمنلي قانون باندې بدل کړو او په دې ډول د خپلې راتلونکې د بربادۍ او سوځيدو مخه ونيسو.

د څلورمي مقالې پای

# له ماشومانو او کوچنیانو سره

## د تاوتریخوالی ستونزه،

## پنځمه مقاله

**زموږ د ګلایو ماشومانو او کوچنیانو سترګي او ځیرې**
**موږ ته وایي: موږ د ژوند په هغه پړاو کې یو چې**
**نه غواړو د خبرو اوریدو په ځای مو پر مخ**
**څپیړې ولګیږي، موږ نه غواړو چې**
**د مثبتو لوستونو او موزیک**
**د اوریدو پر ځای**
**د توپک او بمونو**
**درزا واورو.**



له نن څخه شاو خوا پنځه میاشتي وړاندې ما د دې لړۍ په لومړۍ برخه (له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه، لومړۍ برخه) کې، د ماشومانو او کوچنیانو د روزني او زدکړو په برخه کې، د کوچنیانو ادبیاتو ته د پاملرني نه مخکې، یوې بلي موضوع ته داسي اشاره کړې وه:

«زه فکر کوم چې د ماشومانو او کوچنيانو د روزلو په پروسه کې د دوى د ادبياتو له رامنځ ته کولو او غني کولو نه مخکې بايد د هغه تاو تريخوالي مخه ونيول شي چې زموږ د ټولنې ماشومان او کوچنيان ور سره مخ دي. د کور له چاپيرياله نه نيولي تر کوڅې، له کوڅې نيولي تر ورکتون (که وي)، له وړکتون نيولي تر ښوونځي او له ښوونځي نيولي بيا تر ټولنې پورې . زموږ په ټولنه کې د ماشومانو او کوچنيانو پر ضد تاوتريخوالى د يوې داسې نه ليدونکې سونامي حيثيت لري چې زموږ د ټولنې په يوې محسوسې اوعيني ستونزې بدله شوې ده او دا سونامي هر نسل، هره لسيزه، هر کال، هره مياشت هره اونۍ، هره ورځ، هر ساعت، هره دقيقه او هره شيبه د سل ګونو او زرګونو ماشومانو او کوچنيانو اوسنى او راتلونکى ژوند ځپي او د تباهۍ کندې ته يې سر له اوسه ور پورې وهي.»

څنګه چې ما د دې مقالو په تيرو برخو کې هم له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي پر ډولونو خبرې کړې وې، په هغو ډولونو کې يې يو ډول چې زموږ په ټولنه کې يا د چا ور ته پام نه دى او که د يو نيم ور ته پام هم وي، دومره په جدي سترګه نه ور ته ګوري، د ټولنې ډيره سلنه خلک يوازې له ماشومانو او کوچنيانو سره د جنسي تاو تريخوالي په باب فکر کوي، او د ماشومانو او کوچنيانو روحي زورونې ته يا د چا پام نه دى او که وي هم دومره يې مهمه نه ګڼي.

په افغانستان کې که هر ولايت، هر ښار، هر کلى او يا هر کور په نظر کې ونيول شي او تر څيړنې لاندې ونيول شي، هلته به له ماشوم سره د تاوتريخوالي يوه نه، بلکې ډيرې بيلګې وليدل شي. د ماشومانو او کوچنيانو روحي زورونه سره له دې چې د تاوتريخوالي د نورو ډولونو په پرتله لوړه سلنه لري، خو د چا ور ته پام نه دى. نه اړوندي اداري سر پسې ګرځوي او نه هم د کورنيو ور ته پام دى، په داسې حال کې ښايي د روحي زورونې او تاوتريخوالي پايلې، د تاوتريخوالي له نورو ډولونو نه خطرناکې وي او په نتيجه کې ماشومان او کوچنيان هم له رواني پلوه او هم له صحي او فزيکي پلوه د تباهۍ کندې ته ور پورې وهي.

د امريکا د کلفورنيا په پوهنتون کې د اروا پوهنې يوه څيړونکې په دې برخه کې داسې وايي:
«د ماشوم زرورنې ډيره برخه، ماشومانو ته د عاطفي نه پاملرنې زيږنده ده، چې په بيلابيلو ډولونو تر سره کيږي. لکه:

**ـ روغتيايي لارښوونو ته نه پاملرنه،**

**ـ لوږه يا خوراکي توکو ته د ماشومانو او کوچنيانو نه لاسرسى،**

**ـ د ماشوم او کوچني جسمي او روحي ودې ته نه پاملرنه،**

**ـ ماشوم او کوچني ته داسې نه پاملرنه چې هغه له مخدره توکو سره د روږدي کيدو پولې ته ورسيږي،**

**ـ د ماشوم او کوچني زدکړو ته نه پاملرنه...»**

څنګه چې ما مخکې هم يادونه کړې وه، اوس بيا هم ټينګار کوم چې که په ماشومانو او کوچنيانو کې د تاوتريخوالي ريښې لټول کيږي، لومړى بايد له کورنۍ څخه راپيل شي، ځکه چې له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي د ډيرو برخو سر چينه کورنۍ ده، په تيره د رواني او فزيکي تاوتريخوالي ريښې. مثلاً په کورنيو کې ماشومانو او کوچنيانو ته د ميندو او پلرونو عاطفي نه پاملرنه، له ورو سره رواني تاوتريخوالى دى چې په راتلونکي ژوند کې هغوى له رنګارنګ ستونزو مخکې کولاى شي.

له هغو ماشومانو او کوچنیانو سره چي میندو پلرونو عاطفي بې توجهي کړې وي، هغوی تل ګوشه نشینه وي او له خپلو همځلو او ټولني نه ځان لري ساتي، کله چي دا ډول ماشومان له ټولني او همځولو نه لرې وي، د هغوی پر بدني او عصبي ودې باندې منفي اثرات پرېښودای شي او په پای کې یو معیوب انسان ور نه جوړېدای شي.

زه یې بیا په تکرار سره وایم چې: ټول افغانستان، په تیره ماشومان او کوچنیان د تاوتریخوالي له سونامي سره مخ وو او اوس هم ور سره لاس ګریوان دي، په همدې دلیل زموږ ټولنه، په تیره ماشومان او کوچنیان ډیرې څارنې او پاملرنې ته اړتیا لري. که د اوسني نسل مشران، ماشومانو او کوچنیانو ته د تاوتریخوالي په پایله کې د رسیدلو ټپونو او دردونو درملنه په علمي او رواني ډول نه شي کوالی، دومره خو باید وشي چې اوسنی روان تاوتریخوالی ودروي او که هیڅ نه شو کوالی، د همدې روان تاوتریخوالي پرضد خپل غږ پورته کړو او که آرام او غلي لاس تر زنې کینو، نو...

زموږ ټولنه، زموږ خلک او زموږ د ځو نسلونو زړه او ماغزه د جګړې په لوګیو او د کرکې په زهرو لړل شوي دي، هغه نا دودې چې له دوی سره شوي دي، د هغو په وجه دوی له عقدو او کرکې سره یو ځای زیږیدلي، د همدې ستونزو په لومو او دایره کې را لوی شوي دي، له همدې رواني ستونزو سره یې ژوند کړی دی او اوس هم ور سره لاس ګریوان دي.

دا د ټولو لوستو او په تیره سیاسیونو او قلموالو ستره دنده ده چې د دې ستونزو په حلولو او له منځه وړلو کې، له خپلو ټولو امکاناتو نه په استفادې سره، په ډیر زړه سوي خپلې وروستۍ هلې ځلې تر سره کړي او په دې باب عملي یو ګام تر سره کړي.



د پنځمې مقالې پای

# له ماشومانو او کوچنيانو سره

## د تاوتريخوالی ستونزه،

### شپږمه مقاله

**د ماشوم د حقونو په رڼا کې،**
**که د افغانستان ټولنه، په ټول کې**
**و ارزول شي، داسې باید و ویل شي**
**چې زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنيانو له**
**پاره د مځکې پر مخ د یوه ریښتیني دوزخ حیثیت لري.**

تاوتريخوالی، په تیره له ماشومانو او کوچنيانو سره تاوتريخوالی په ټوله نړۍ کې یوه منفي پدیده ده، په بدو یادیږي، خو بیا هم دا عمل په نړیواله کچه شته او په تیره زموږ په ټولنه کې داسې برید ته رسیدلی دی چې یوازې د یوې سترې غمیزې نوم ښه صدق ور باندې کولای شي.

له ماشومانو او کوچنيانو سره تاوتريخوالی اوس څه په نړیواله سطحه او څه زموږ د وطن او ټولنې په کچه کومه نا آشنا پدیده نه، بلکې ډیری یې پیژني او په دې هم یا لږ یا ډیر پوهیږي چې له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي عمل یو منفي عمل دی، خو بیا هم په بیلابیلو ډولولونو تر سره کیږي، د منفي پایلو په باب یې لږ کسان پوهیږي چې څومره ورانونکې څپې لري. همدا اوس که په ټولنه کې د ډیری نا خوالو رواني ریښې را وسپړل شي، مالومه به شي چې ریښې یې په هغه تاوتريخوالي کې نغښتې دي، چې په کوچنیوالي کې له ماشومانو او کوچنيانو سره شوي دي.

له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي ډیره سلنه د لویانو په هغو نه پاملرنو کې ریښې لرلای شي چې له وړو سره په بیلابیلو بڼو تر سره شوي دي. ماشومانو او کوچنيانو ته نه پاملرنه په هره برخه کې، په هره بڼه چې وي، او په هر حالت کې چې وي، نا سم، غیر عاطفي او منفي کار دی، خو په دغو لاندو برخو کې نه پاملرنه د ماشوم او کوچني په راتلونکي ژوند کې ژورې منفي اغیزې درلودلای شي:

ـ د ماشوم او کوچني صحي مسایلو ته نه پاملرنه،

ـ له خوراکي توکو نه د ماشومانو او کوچنيانو بې برخي کيدل یا بې برخي کول،

ـ د ماشوم او کوچني جسمي او روحي ودې ته نه پاملرنه،

ـ ماشوم او کوچني په داسې حالت کې پريښودل او هغه ته نه پاملرنه چې هغه دې مخدره توکو ته لاسرسی پیدا کړي او د هغو د مضراتو د خطر په دایره کې راګیر شي،

ـ دغه راز له ټولو نه مهمه دا چې ماشوم او کوچني ته دومره نه پاملرنه او په داسې چاپیریال کې یې ساتنه او لویونه چې هغه دې له زدکړو محروم او لرې پاتې شي.

هغه ماشومان او کوچنیان چې په کورنۍ کې دننه او یا له کورنۍ نه د باندې، له جسمي او روحي پلوه د لویانو د نه پاملرنې په دایره کې را ایساریږي، هغوی په خپل راتلونکي ژوند کې له بیلابیلو روحي او جسمي نا خوالو سره مخ وي، په کورنۍ او ټولنه کې ډیر منزوي، وي او له خپلو همځولو او د کورنۍ له غړو سره یې اړیکي ډیرې لږې او کمزورې وي او دغه حالت د دغسې ماشومانو او کوچنیانو پر رواني روغتیا او د اعصابو پر ښه والي ډیره نا وړه اغیزه کولای شي.

دغه راز که ماشوم او کوچنی په کوچنیوالي کې د نورو محرومیتونو د منفي اغیز ترڅنګ د جنسي تاوتریخوالي مزه هم څکلي وي، نو د هغه راتلونکی شخصیت له رواني او عاطفي پلوه دومره تاواني کیږي، چې رغول یې ستونزمن نه، بلکې ناشوني وي. حتی که په کورنۍ کې د ننه د یادو ناخوالو څخه کومه یوه موجوده وي او په څوځلې د ماشوم او کوچني په مخ کې تکرار شي، د ماشوم په شخصیت باندې دومره نا وړه اغیز کوي، تر دې بریده چې د هغه رواني او عاطفي نړۍ به د هغه په راتلونکي ژوند کې له رواني ټپونو څخه ډکه وي.

زموږ په ټولنه کې رواني عملي او عیني ستونزو دا ثابته کړې ده چې په کوچنیانو کې سترس، عاطفي او رواني ستونزې، په نیغه د ماشوم زورنې، وهلو ټکولو سره ژورې ریښې لري. په کورنۍ کې دننه د لویانو په منځ کې هر ډول ستونزې چې رامنځ ته کیږي، باید هڅه وشي چې ماشومان او کوچنیان له هغو څخه  لرې وساتل شي. په دې چې له لویانو نه ډیر ژر ماشومان او کوچنیان هغه منفي کړه وړه اغیزمن کولای شي. د ساري په ډول په یوې کورنۍ د کوم مشر نا روغه کیدل، مړینه، د ښځې او میړه په منځ کې د ګډ ژوند ستونزې او...

که د مشرانو له لوري د داسې ستونزو د رامنځ ته کیدو په وخت کې که په علمي ډول د ماشومانو او کوچنیانو جسمي او رواني مسایلو ته پاملره و نه شي او هغوی د دې ستونزو د منفي څپو په دایره کې واقع کړای شي، دا ماشومانو او کوچنیانو ته د نه پاملرنې لوی ډولونه دي او پایلې به یې ژر یا وروسته نه یوازې د کورنۍ ماشوم او کوچني ته منفي او ورانونکې وي، بلکې د کورنۍ د ټولو غړو له پاره به منفي نتایج ولري.

زموږ په ټولنه کې تجربو په وار، وار ښوولې ده چې هغه کورنۍ او میندې پلرونه چې له فقر سره لاس ګریوان وي، ډیر سترس لري او تل پریشانه او خوا بدي وي؛ دوی تل خپلو بچو ته پوره پاملرنه، نه شي کولای، نو هماغه ده چې ماشوم او کوچنی له ډیرو عاطفي او جسمي ښیګنو محروم او د رواني او جسمي کړاوونو زمینه ور ته برابریږي چې دا خپله له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي یو ډول شمیرل کیږي. هغه کوچنیان چې په کم سن کې له داسې حالاتو سره مخ وي، په لویوالي کې په رواني او جسمي ستونزو د اخته کیدو ښه زمینه ور ته برابریدی شي.

له هغه چا سره چې په کوچنیوالي کې ډیر تاوتریخوالی شوی وي او د همدې تاوتریخوالي سره یو ځای لوی شوی وي، په لویوالي کې هغوی خپله د رنګارنګ تاوترخوالي مسببین کیدای شي، ځکه چې د تاوتریخوالي رنګارنګ بیلګې دوی له ماشوموالي نه د خپل ذهن په تاخانو کې ساتلي وي، پر دوی دغه منفي تجربې عملي شوې وي، ځکه یې په لویوالي کې بیرته پر بل نسل یا نورو ماشومانو باندې تطبیقوي.

زموږ په ټولنه کې په سلهاوو لا زرهاوو ځلې د کم سن د ودونو بیلګې لیدل شوې دي او همدا اوس هم دا غمیزه روانه ده. تجربو ثابته کړې ده چې د لږ سن درلودونکې میندې پلرونه، په تیره کم سنه میندې، چې زموږ په ټولنه کې یې بیلګې ډیرې دي، د ټاکلې تجربې د نه درلودلو او د ټاکلو شیانو د نه پوهیدنې په صورت کې خپلو بچیانو ته پوره څه چې، لړه پاملرنه هم نه شي کولای، نو هماغه ده چې پر ماشوم او کوچني باندې رنګارنګ ستونزې غالبیږي او همدا

نه پاملرنه هغوی له ډیرو ستونزو سره مخامخ کولای شي، نو ځکه ماشوم او کوچني ته د کم سنه میندو پلرونه نه پاملرنه په خپله د تاو تریخوالي یو ورانونکی ډول دی چې د ماشوم او کوچني جسمي او رواني روغتیا ته ژور ټپونه ورکولای شي.

دغه راز زموږ په ټولنه کې تجربو دا هم ښوولې ده چې د ماشومانو او کوچنیانو د پاملرنې او نه پاملرنې په برخه کې، د بې سواده میندو پلرونو او باسواده میندو پلرونو د چلن په منځ کې لوی توپیر لیدل کیږي. دغه راز د لږ تحصیل درلودنکي میندې پلرونو او د ډیرو زدکړو خاوند میندې او پلرونو د چلندونو په منځ کې لوی توپیر موجود وي. تجربو ښولې ده چې د باسواده او لوړو زدکړو درلودونکي میندې پلرونو توجه ماشومانو او کوچنیانو ته ډیره وي او له هغو سره د چلن په څرنګوالي باندې هم ښه پوهیږي او په نسبي ډول له بې سوادو میندو پلرونو نه ډیره پوهه لري چې باید ماشومانو او کوچنیانو ته څه ډول پاملرنه وشي.

دغه راز هغه ډله کوچنیان چې په نا امنه ټولنه کې زیږي، رالویږي او هره ورځ نا امني ګوري او پر خپل بدن او روان باندې یې تجربه کوي، هغوی په راتلونکي ژوند کې ډیر بې اعتباره او د نا امنی احساس کوي او د ډیر سترس درلودونکي وي. چې دا هم د ټولنیز تاوتریخوالي په تر ټولو خطرناکو ډولونو کې راتلای شي.

که همدا اوس د تاوتریخوالي په ترویج کې د ټولني او رسنیو پر رول خبرې وکړو، ویلای شم چې له میندو پلرونو او له کورنیو نه د میډیا بیلابیل ډولونه د تاوتریخوالي په ترویج کې زښت ډیر رول لري. هره ورځ د جګړې خبر، د وژلو خبر، د چادونو خبر د غلاوو او شکونو خبر او...

د ساري ډول چیرې چادونه کیږي، مثلاً یو تلویزیون د خپل کانال او خپرونو د مهموالي او شهرت له پاره غواړي د همدې چاودني خبر لومړی او ښه غوړ او ځورب خپور کړي. په چاودنه کې پنځه مړه پنځه ځلویښت ټپیان شوي وي، دوی نه وایي چې ۵ مړه او ۴۵ ټپیان دي، دوی وایي چې په چادونه کې پنځوس تنو ته مرګ ژوبله واوښته. خلک نه پوهیږي چې څو مړه دي او څو ټپیان دي. چې دا په خپله په ټولنه کې د تاوتریخوالي د رواجولو سبب کیدای شي.
دغه راز تجربو ښوولې ده چې زموږ ډیری تلویزیوني کانالونه جنګي فلمونه خپروي، چې دا په خپله پر ماشومانو او کوچنیانو کې د تاوتریخوالي زړی کري. دلته ډیر مسولیت میندو پلرونو ته ور له غاړې دی چې ماشوم او کوچني ته د څه ډول پروګرامونو د لیدلو اجازه ورکړي او له کومو یې منع کړي.

په دې ډول لیدل کیږي چې زموږ په ټولنه کې ماشومان او کوچنیان له څلورو خواوو نه د تاوتریخوالي د سوځونکو لمبو په دایره کې را ګیر وي. په کورنی کې تاتریخوالی، په ښونځي کې وهل ټکول، په کوڅه کې زورول او تښتول، په ټولنه کې هر ډول تاوتریخوالی او په پای کې د میډیا له لوري د عاطفي او معلوماتي مسایلو پر ځای، جنګي فلمونه او جنګي خبرونه او ډیر ځلې په خپلو سترګو د چاوددنو او وژنو لیدل؛ دا هر څه تا تریخوالی دی.

په دغسې شرایطو کې باید لومړني مثبت ګامونه له فرد نه، له مور نه، له پلار نه، له میندو پلرونو نه را پیل شي او په مثبت ډول له کورنی نه د کار او ښوونځي او بیا په ټولنه کې رواج کړای شي او میډیا کې دې هم د مسلکي کسانو په ګمارلو سره د منفي شیانو د مخنیوي په خاطر هلې ځلې پیل شي.

د شیرمې مقالې پای

# له ماشومانو او کوچنیانو سره

## د تاوتریخوالی ستونزه،

## اومه مقاله

**د ماشوم د حقونو اړوند،**
**که د افغانستان ټولنه، په ټول کې**
**و ارزول شي، داسي باید و ویل شي**
**چي زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنیانو له**
**پاره د ځمکي پر مخ د یوه ریښتیني دوزخ حیثیت لري.**

ځنګه کولای شو چي له ماشومانو او کوچنیانو سره د جنسي تاوتریخوالي مخه ونیسو؟

له هر څه مخکي د دي خبري یادول اړین ګڼم چي د نورو ټولنو او نورو خلکو په پرتله زموږ ټولنه او خلک په لږ نه، بلکي ډیر توپیر کي سره واقع دي. افغانان د ژوند په هره برخه کي له نورو سره په توپیر کي دي، حتی له خپلو ګاونډیانو سره؛ د همدي له پاره که پر تاوتریخوالي خبري کیږي هم د افغاني ټولني د ځانګړنو په نظر کي نیولو سره باید خبري پري وشي او که له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي پر لارو چارو هم څوک بحث کوي، باید د افغاني ټولني د ځانګړو رواجونو او نرخونو ته په کتو سره دا کار تر سره شي.

ټولي میندي او ټول پلرونه په کورني چاپیریال کي دننه، باید پرته له ستونزو نه هغه څه تر سره کړي چي له ماشومانو سره د جنسي تاوتریخوالي په مخنیوي کي ډیر اساسي رول لري.

هیڅ کله اړینه نه ده چي میندي پلرونه دي فکر وکړي چي له لویو ستونزو سره مخ دي، دوی کولای شي په ډیرو ساده الفاظو سره ماشومان پوه کړي چي په ورځني ژوند کي باید څه وکړي او له خپلو مشرانو سره څه ډول چلن وکړي، څو د دي زمینه مساعده نه شي چي د ماشومانو او مشرانو اړیکي دي د خړپړتیا تر بریده ورسیږي، البته هغه میندي پلرونه چي سواد لري او د لوړو زدکړو خاوندان دي او د معلوماتو کچه یي لوړه ده، په دي کار کي به ډیر بریالي وي. دوی کولای شي له خپلو لوستل شوو او لاس لرلو معلوماتو نه په استفادي سره، هر کله ماشوم ته ټاکلي او ځانګړي لارښوني وکړي.

دا ډیره اړینه ده چي ماشوم پوه کړای شي چي دوی خوندي دي او په امن چاپیریال کي ژوند لري، او د دي مفهوم لیږدول او ماشوم ته یي ویل په یوه وار نه کیږي، باید د ورځني ژوند په لړ کي څو ځلې ورته و ویل شي او پوه کړای شي.

دا په یاد ولرئ چي که ماشوم د دي خبرو د اوریدو یا پوهیدو له پاره چمتو نه وي، ډیر ټینګار کول هم ښه نه دي، حتی میندي پلرونه کولای شي چي له خبرو نه سوا د ځینو لوبو په ترڅ کي هم دا موضوعات ورته بیا، بیا و وایي او له دي وړاندي په هر ډول چي ماشوم او کوچنی ځان آرامه احساسوي، په هغه ډول او هغه حالت کي دي ور ته و ویل شي.
د دي له پاره چي له جنسي پلوه ماشوم د امنیت او خوندیتوب احساس وکړي، باید میندي پلرونه یي پوه کړي چي د لمبلو په وخت کي مور یا پلار او د صحي معایناتو په وخت کي ډاکټر حق لري چي د ماشومانو په بدن لاس و وهي، خو شرط به یي دا وي چي مخکي له مخکي ماشوم

په دي کار خبر کړي او اجازه ور نه وغوښتل شي، د ماشوم له اجازې پرته هيڅ څوک حق نه لري چي د ماشوم بدن لمس کړي، په داسي مواردو کي ماشوم د «نه» ویلو حق هم لري.

د میندو پلرونو دنده ده چي ماشوم ته د «نه» ویل ور زده کړي، «نه» ویل د ماشوم حق دی، څو چي د یوه کار کولو ته ماشوم ذهناً چمتو نه وي، په جبر او زور وربانديې د څه منل سم او علمي کار نه دی. زموږ په ټولنه کي ښايي داسي و انګيرل شي چي: هر هغه ماشوم چي «نه» وايي بې تربيه او بد ماشوم دی، په داسي حال کي چي د متمدنو او پرمختللو ټولنو مثبتو تجربو دا ثابته کړې ده چي میندې او پلرونه باید ماشوم ته په ځینو مواردو کي د «نه» ویل ورزده کړي. «نه» ویل د ماشوم حق دی. که څوک په ماشوم د جنسي تيري تکل وکړي او ماشوم «نه» ورته و وايي، دا څه بدي لري؟ په دې ډول ماشوم دا زده کوي چي د خپل بدن او د خپلو احساساتو اختيار په خپله لري.

میندې او پلرونه دا باید ماشوم ته ور زده کړي چي راز باید راز پاتي نه شي، هر هغه څه چي دی رنځوي او د راز په ډول يې ذهناً په عذابوي، باید خپلو میندو او خپلو پلرونو ته یې و وايي. میندې او پلرونه باید په دې پوه شي چي د ماشوم زوروني تر ټولو اصلي عامل د رازونو پټول دي. ماشوم باید په دې پوه کړای شي: هر هغه څه چي د ده په خوښه نه وي او د ده د آزار سبب کيږي، باید پټ پاتې نه شي.

ماشوم باید پوه کړای شي چي که ډار، پريشاني او منفي احساسات د ده ګناه نه ده او د هغو ویل به دوی ته کومه ستونزه نه جوړوي. ماشوم باید پوه کړای شي چي داسي رازونه او ستونزې له میندو پلرونه نه علاوه، دوی کولای شي له خپلو خويندو ورونو، نږدې کورنيو دوستانو، ښوونکو، روان پيژندونکو او ډاکترانو سره هم شريک کړي.
له مور پلار او ډاکتر نه پرته، هر چا چي د ماشوم د بدن د لمسولو تکل وکړ، ماشوم حق لري چي شکايت وکړي او د اعتماد وړ شخص ته راپور ورکړي او خپل شکايت ور ورسوي.

د ماشوم د بدن د لمسولو په برخه کي باید و ویل شي چي د ماشوم ډارول او تهديدول هم جُرم ګڼل کيږي، خو له بده مرغه چي زموږ په ټولنه کي د یوه قوي حکومت او په دې برخه کي د یوه ټاکلي قانون د نشتوالي او د ماشوم د حقونو د نه مراعاتولو له کبله، ډير څلي د ډارولو او تهديد نه په استفادې سره د ماشومانو حقونه تر پښنو لاندې شوي دي او حتی د همدې ډارولو او تهديد نه په اسفادې سره پر ماشومانو جنسي تيري هم شوي دي چي د ځينو شکايتونه او غږونه تر میډیا پورې هم رسيدلي دي.

لکه مخکي چي یادونه وشوه هغه حقونه چي ماشومان او کوچنيان په پرمختللو ټولنو کي لري، په افغانستان کي يې نه لري او که چیرې د کاغذ پر مخ ليکل شوي هم وي، څوک يې نه مراعاتوي او نه ور پسي ګرځي. **د ماشوم د حقونو اړوند، که د افغانستان ټولنه، په ټول کي و ارزول شي، داسي باید و ویل شي چي زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنيانو له پاره د مځکي پر مخ د یوه ریښتيني دوزخ حيثيت لري.**

د تاوتریخوالي له ډولونو څخه هر ډول چي تاسو را واخلئ او دا ماشومان په کي و ارزوئ، ليدل کيږي چي د زيږيدو له ورځي چي د دوی حقونه تر پښنو لاندې کيږي بيا تر پايه چي دوی د ماشومتوب له نړی نه د لويانو د ژوند دايرې پښنه ور ږدي، حقونه يې نه مراعاتيږي.

د اومي مقالي پای

# له ماشومانو او کوچنیانو سره

## د تاوتریخوالی ستونزه،

## اتمه مقاله

**د ماشوم د حقونو اړوند،**
**که د افغانستان ټولنه، په ټول کې**
**و ارزول شي، داسې باید و ویل شي**
**چې زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنیانو له**
**پاره د مځکې پر مخ د یوه ریښتیني دوزخ حیثیت لري.**

له بده شامته زموږ د ټولنې جوړښت او روابط له هره اړخه چې وڅېړل شي د اوس له پاره داسې راغلي یا داسې عیار شوي دي چې : پرته له دې چې د ټولنې وکړي پوه شي، د ماشوم زوروني شرایط په کې برابر کړای شوي دي.

د ملګرو ملتونو د روغتیایي سازمان (WHO) د تعریف له مخې: «ماشوم زورونه هر هغه عمل یا نظر ته ویل کېږي چې د ماشوم وجود ته، د ماشوم روغتیا ته، د ماشوم روان ته او د ماشوم نیکمرغی ته د تهدید یا ضرر رسولو بڼه ولري چې لومړني او اصلي عاملین یې میندې پلرونه او مسؤل کسان ګڼل کېږي.»

پرته له شکه چې که په افغانستان کې د هرې برخې د وراني دلایل او ریښې ولټول شي، پره یې پر جګړې او د جګړې پر دوام باندې ور اچول کېږي، له هغو نه یو هم د ماشومانو د حقونو تر پښو لاندې کېدل او له ماشومانو سره تاتریخوال؛ خو له پیل نه بیا تر نن پورې هیڅ چا و نه ویل چې:

**ـ دا جګړه چا پیل کړه؟**

**ـ دا جګړه یې ولې پیل کړه؟**

**ـ دا جګړه ولې نه بندیږي؟**

**ـ څوک او کوم دلایل د جګړې د دوام سبب دي او ولې؟**

ټول هغه کسان، ګوندونه، تنظیمونه او ډلې ټپلې چې یو بل ته د پره ګوته نیسي، په خپله د جګړې عاملین او د نورو نا روا کارونو تر څنګ د ماشومانو د حقونو تر پښو لاندې کونکي دي. د جنګي ډلو ټپلو په رسمي او غیر رسمي قوانینو کې د ماشوم حقونه هیڅ ډول تعریف او رسمیت نه لري.

هغه عوامل چې زموږ په ټولنه کې د ماشوم زوروني اصلي لاملونه دي، هغه هم له جګړې او جګړه ایزو شرایطو پورې تړل کیږي. د روان پیژندني کارپوه ښاغلی جعفر احمدی وایي: په افغانستان کې ماشوم روږونه دوه سببونه یا عوامل لري: ټولنیزې ستونزې او د میندو پلرونو د وضعیت څرنګوال.

په عام ډول د هرې ستونزې لکۍ په جګړو پورې نشلول کیږي. همدا اوس په افغانستان کې ګڼ شمیر ماشومان او کوچنیانو د جګړې په پایله کې خپل میندې او پلرونه له لاسه ورکړي دي، دا خپله له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي هغه ډول دی چې له ناورین نه هم اوښتي ده چې د همدې ماشومانو او کوچنیانو ټول ژوند یې ور برباد کړی دی.

د افغانستان رسمي منابع د هغو ماشومانو شمیر چې د جګړې له کبله بې پلاره شوي دي درې سوه زره ښيي. په دې برخه کې دا د وروستي ګزارش لنډیز دی:

«د افغانستان د کار او ټولنیزو چارو وزارت وایي په دغه هېواد کې نژدې ۳۰۰ زره ماشومان بې سرپرسته دي. په دوی کې یوازې څلور سلنو ته دولتي او خصوصي پالنځایونه یا روزنځایونه شته.
اوس چارواکي وايي غواړي د افغانستان په څلورو زونونو کې نوي پالنځایونه جوړوي.»

خو زه فکر کوم چې دا دحل لار نه ده، د حل د لارې لومړی ګام د جګړې درول او د ماشوم د حقونو ته په درنه سترګه کتل او مراعاتول دي.

ښاغلی احمدي د ټولنیزو ستونزو په ډله کې اقتصادي فقر او فرهنګي ستونزو ته، په علمي او مستندو دلایلو سره اشاره کوي او دا شیي چې له اقتصادي فقر نه را پیدا شوې ستونزې څنګه یو ماشوم ته په ورځني ژوند کې د دې زمینه باربروي چې د ده حقونه دې تر پښو لاندې شي، پر ده دې د جنسي تیري زمینه برابره شي او...

اوس ټول څیړونکي او د ماشوم د حقونو مدافعین او پلویان په دې پوهیږي او عیني شواهدو هم دا ښوولې ده چې زموږ په ټولنه کې د ټوپکي واکدارۍ په حاکمیدو سره ځینو داسې نا منلې او نا وړه دودونه تقریباً د یوه قانون بڼه غوره کړې ده، چې د نړۍ په هیڅ ځای او هیڅ واکدارۍ کې یې سارۍ نه شته، لکه «بچه بازي»

د روان پیژندني کارپوه ښاغلی جعفر احمدی د خپل جالب بحث په لړ کې زموږ په ټولنه کې د «بچه بازي» نا وړه دود ته داسې اشاره کړې ده:

«د افغانستان په ځینو سیمو کې بچه بازي په یوه دود باندې بدله شوې ده چې اصلي عاملین یې سیمه ایز زوراکان دي»

هغه څه چې د «بچه بازي» په ترځ کې له ماشوم سره کیږي، که له علمي او رواني پلوه په ژوره توګه وځیرل شي، په حقیقت کې په ژوندیني د تل له پاره د ماشوم د روان وژل دي، د دې کارونو په پایله کې ماشوم ته دومره رواني صدمه رسیږي، چې د راتلونکي ژوند ټولې نا خوالې یې له همدې ستونزې نه سر چینه اخیستلای شي.

په افغانستان کې د ماشوم زوروني له پاره بل چاپيريال له کورنۍ نه د باندې د ښوونځي چاپيريال دی.

په افغانستان کې د ښونځي چاپيريال د پرمختللي نړۍ د ښونځيو له چاپيريال سره دومره توپير لري چې هيڅ د مقايسې وړ نه دی. د افغنستان د ښونځيو په چاپيريال کې د نورو ګڼو ستونزو تر څنګ اصلي ستونزه د مسلکي او په خپلو رشتو باندې د پوهو او مسلکي ښونکو نه شتون دی، کله چې خپله ښونکي په څه پوه نه شي او ګڼې ستونزې ولري، څنګه کولای شي چې زده کونکي ته څه ور زده کړي.

زده کونکي ماشومان د ژوند ډيره وخت د ښوونځي په چاپيريال کې تيروي او د ښونځي په چاپيريال کې له بده مرغه چې تر ښيګڼو بد ګڼې او منفي شيان ډير دي لکه:

**ـ له ګڼو ستونزو نه ډار،**

**ـ له زده کونکو سره په بيلابيلو نومونو تبعيض،**

**ـ تحقير او توهين،**

**ـ او له ټولو نه مهمه او خطر ناکه مسأله د ماشوم بدني تنبه ده.**

د افغانستان د ښونځيو په چاپيريال کې دا او دې ته ورته نورې ګڼې ستونزې د دې سبب کيږي چې د ماشومانو د جسمي او رواني زوروني له پاره زمينه برابره کړي چې په پايله کې يې له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي زمينه برابريږي چې د ټولو مسببين مشران دي.

د اتمې مقالې پای

# له ماشومانو او کوچنيانو سره

## د تاوتريخوالی ستونزه،

### نهمه مقاله

**د ماشوم د حقونو اړوند،**
**که د افغانستان ټولنه، په ټول کي**
**و ارزول شي، داسې بايد و ويل شي**
**چې زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنيانو له**
**پاره د ځمکي پر مخ د يوه ريښتيني دوزخ حيثيت لري.**



**زموږ په ټولنه کي اقتصادي فقر او فرهنګي فقر لاس سره يو کړی او له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي په برخه کي يې داسې غميزه رامنځ ته کړې ده چې مخنيوی او اصلاح يې لويې حوصلې او ډير وخت ته اړتيا لري.**

له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي په پايله کي د ماشوم او کوچني چغې او نارې لکه د اور لوګی پاس خيژي ، خو زموږ په ټولنه کي دغه نارې سورې مشران نه اوري، د تاوتريخوالی عاملين خو يې بيخي نه اوري، هيڅ څوک يې نه اوري، دا ځکه چې زموږ په ټولنه

کې، له ماشوم سره تاوتریخوالی تقریباً په یوه قانون بدل شوی دی او دا حالت اوس د یوې سترې غمیزې تر بریده پورې رسیدلی دی.

زموږ په هیواد افغانستان کې او په تیره بیا زموږ پر ټولنه باندې د ناوړه سنتي دودونو او رواجونو په سیوري کې، د ماشومانو او کوچنیانو د حقونو د تر پښو کولو زمینه ډیره ښه مساعده ده او د اشخاصو او کورنیو د آبرو د ساتلو په غرض، هغه څه چې په ماشومانو او کوچنیانو باندې، په تیره نجونو باندې کیږي؛ اصلا د هیڅ ډول تورو او جملاتو په چوکاټ کې نه شي تشریح کیدلای. د ننګ، غیرت، آب آبرو او... د ساتلو په غرض د ماشومانو او کوچنیانو ټول ژوند د بربادۍ سوځیدونکي اور ته اچول کیږي.

دا هغه خاموش تاوتریخوالی دی چې له کلونو او پیړیو پخوا زموږ پر ټولنه حاکم دی او دا اوسني نسلونه او چیز فهمه خلک که د دې دودونو د له منځه وړلو له پاره څه وکړي ښه تر ښه، که نه په کلونو او پیړیو به راتلونکي نسلونه هم په دې اور کې وسوځي.

د جګړې د قانون د حاکمیت له کبله، په نجونو باندې د زورواکو د نه تیرې په خاطر؛ ډیرې کورنۍ حاضریږي چې خپلې نا بالغه لوڼې په ډیر کم سن کې په میړونو کړي او په اصطلاح؟ خپله آبرو په ځای کړي، دا چې هغه ماشومه یا نا بالغه نجلۍ ټول عمر ژوند په خپله نه، بلکې لکه مړیی د نورو په خوښه تیروي، خیر دی، مقصد دا چې د هغې د کورنۍ آبرو پر ځای وي. مانا دا چې له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ډیره سلنه، پر ټولنه باندې د ناسمو او ناوړه دودونو د حاکمیت له کبله او د همدې دودنو د سیوري په دایره کې تر سره کیږي.

زموږ په هیواد کې د یوه سالم او قوي حکومت د نشتوالي له کبله د هر ډول قانون مراعات او طرح ناشونې بریښي، ځکه چې د ټوپکي واکدارۍ په رامنځ ته کیدو سره، په لومړي ګام کې د هر ډول قانون د ناکامۍ وجه همدا ټوپکیان دي او بیا هغه کسان دي چې د میډیا په مخ کې د قانون او قانوني ژوند او کار چغې وهي، خو په عمل کې همدا د قانون رامنځ ته کونکي دي چې خپل وضعه کړي قوانین تر پښو لاندې کوي.

له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي کار هغه وخت شونی دی چې په لومړي ګام کې په ټولنه کې د رایجو ناوړه دودونو او رواجونو ټولنیز بستر کې د دې دودونو ریښې وچې کړای شي. که دا نا وړه دودنونه بدل نه کړای شي، ډیر نور نسلونه به هم د همدې بلاوو خوراک شي.

زموږ د ټولنې د هر قشر کور او ژوند ته چې ور نږدې شې، د ماشوم زوروني او له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي یوه نه، څو ـ څو بیلګې هره ورځ لا هر ساعت لیدلای شئ. له نورو رواني مسایلو نه که ور تیر شئ، د ماشوم او کوچني د بدني او جنسي زوروني بیلګې مو په هر کور او هره کوڅه کې تر سترګو کیدای شي. حتی ماشوم او کوچني ته نه پاملرنه او له هغو سره یوه عادي بې تفاوتي د هغوی ټول ژوند ګډ وډ کولای شي. د ساري په ډول که پر یوې باکره نجلۍ جنسي تیری کیږي، تیری کونکی به خپله وحشیانه جنسي غریزه په ډیرو لنډو شیبو کې ارضا کړي، خو «غم دی د لالي پر سر»، اصلي صدمه هغې نجلۍ ته رسیږي او ټول عمر یې زوروي چې تیری ور باندې شوی وي. هغه نجلۍ بیا نه څوک په کورنۍ کې مني او نه یې له کورنۍ نه د باندې څوک قبولوي، که یې مني یا یې قبولوي، ښایی یوازې د جنسي استفادې له پاره یې وکاروي او بس او هغه څه چې له متضررې سره شوي وي، هغه یې د عمر تر پایه زوروي او لکه دیوال چې ښوره خوري او په پای کې ړنګوي، د همدې جنسي زورزونې او تاوتریخوالي خاطرات هغه متضرر انسان لکه ښوره خوري، روح او روان یې په عذابوي او په پای کې په فزیکي ډول هم له منځه وړي.

ځیني کورنۍ او یا ځیني میندې پلرونه د ماشومانو او کوچنیانو سره خپل کړی یا کیدونکی تاوتریخوالی د «تنبه» تر نامه لاندې توجي کوي، چې دا هم سم کار نه دی. تنبیه، وهل ټکول نه دي، تنبه جسمي زوروونه نه ده، تنبیه پرته له جسمي زوروني او وهلو ټکولو هم کیدای شي، مثلاً دا یو ډول تنبیه ده چې ماشوم ته و ویل شي چې: که دې داسې وکړل یاد ې داسې و نه کړل، نو بیا زه هغه وعده کړی کتاب یا پتلون نه در ته اخلم او یا په ورځ یا اونۍ کې چې تا ته یوه یا دوه یا لس روپۍ مور درکوي، هغه به در نه کړل شي.

په ځینو کورنیو کې د وهلو ټکولو په اثر له ماشوم او کوچني نه شین بانجان جوړ کړي، چې بیا و پوښتل شي چې ولې دې ماشوم یا کوچني په دې ډول و واهه؟ بیا په هسکه غاړه وایي چې: تنبیه هم کله، کله ښه وي.

دلته دی چې له ماشومانو او کوچنیانو سره په چلن او یا تاوتریخوالي په کولو او نه کولو کې د میندو پلرونو او کورنیو د زدکړو کچه، مطالعه او د ماشوم روزنې په باب د دوی مالومات څومره موثره واقع کیږي؟

زموږ د ټولنې د زکړو او پوهې کچه تر دې اندازې ټیټه ده چې همدا اوس هم تر اتیا سلنې ډیرې کورنۍ او مشران د ماشومانو او کوچنیانو د اصلاح له پاره د وهلو ټکولو او بدني تنبیه د نسخې پلویان دي او دوی په خپله دا نسخه پرخپلو ماشومانو او کوچنیانو باندې تطبیقوي.

څنګه چې زموږ په هیواد کې په دې برخه کې کوم قانون نه شته، که وي هم څوک يې نه تطبیقوي، د همدې ستونزو له کبله ټول هغه کسان چې له ماشومانو او کوچنیانو سره عملاً تاوتریخوال کوي، د معافیت د یوه غیر مریي قانون په دایره کې ځان امن احساسوي.

د همدې له پاره د دې برخې کار پوهان په دې نظر دي چې مخکې له دې چې څوک د اولاد خاوند شي باید له ماشومانو او کوچنیانو سره د اړیکو ساتلو او د هغوی د پالنې او روزنې په برخه کې ځیني کورسونه او درسونه تعقیب کړي، خو زموږ په ټولنه کې يې په چا؟ چیرې؟ او څنګه او په کومه بودجه باندې دا کار تر سره کوې؟

دلته «آبی ټوله بې» ده، دلته میندې پلرونه ځان او ماشوم ته ډوډۍ نه شي پیدا کولای، کورسونه او دا نورې کیسې خو لا په ځای پریږده.

له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي د غمیزې دایره او لمن دومره پراخه ده چې هر څومره مزل په کې کوي، نه خلاصیدونکې ده او په تیره زموږ په ټولنه کې چې د دې غمیزې په سیمه کې سفر پیل کړل شي، په هر پل کې يې نوې غمیزې او نوې ننداري سره مخ کیدای شي.

د نهمې مقالې پای

# له ماشومانو او کوچنيانو سره

## د تاوتريخوالي ستونزه،

## لسمه مقاله

**د ماشوم د حقونو اړوند،**
**که د افغانستان ټولنه، په ټول کي**
**و ارزول شي، داسي بايد و ويل شي**
**چي زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنيانو له**
**پاره د مځکي پر مخ د يوه ريښتيني دوزخ حيثيت لري.**

جګړه او د تاوتريخوالي نور ډولونه به په ځانګړو ټولنو پوري اړه ولري، خو له ماشومانو او کوچنيانو سره تاوتريخوالى په ټوله نړۍ کي يوه عامه ستونزه ده، يوازي په دى توپير چي د تاوتريخوالي درجه او څرنګوالى به فرق کوي.

دا خبره سمه ده چي ماشوم زوروونه کومه نوي پديده نه ده او په ځانګړو ټولنو پوري محدوديږي هم نه، خو د ټولني د جوړښت او په هغو کي د قوانينو موجوديت يا نشتوالى او بيا که قانون وي هغه څومره او څه ډول تطبيقيږي، هم د تاوتريخوالي په کچي او څرنوالي باندې تاثير لرلاى شي.

ډير ځلي داسي هم شوي او کيږي چي ميندي پلرونه د اولاد راوړلو پروګرام نه لري، خو ماشومداره کيږي او يا يې عمر او تجربه د دې مرستته نه ور سره کوي چي د نوي دنيا ته راغلي ماشوم پالنه او روزنه دې په سمه توګه وکړاى شي، کله چي داسي ميندي پلرونه نه شي کولاى چي خپل ماشوم او کوچني ته په سمه توګه و رسيږي، دا په خپله له ماشوم او کوچني سره د تاو تريخوالي يو ډول دى.

په پرمختللو ټولنو کي دا يوه منل شوي او عامه خبره ده چي ماشوم دنيا ته راوړل يا ماشوم زيږول يوازي دا نه دي چي وي زيږوه او نور يې په دې ناسمه عقيده پريږده چي: «روزي يې خداى ور رسوي او وزن يې مځکه جګوي»
مخکي له دې چي ماشوم دنيا ته راوړل شي بايد کورنۍ (ميندې پلرونه) د نوي زيږيدلي ماشوم د جسمي او فکري ودې او روزني له پاره ټاکلي امکانات او شرايط په نظر کي ونيسي.
ما د دې بحث په تيرو برخو کي له ماشومانو سره د تاوتريخوالي ځينو مهمو برخو ته اشاره وکړه او دا هم و ويل شول چي د تاوتريخوالي يو ډير ظالمانه ډول چي د ماشومانو او کوچنيانو پر ټول عمر منفي اثر ايښودلاى شي، هغه د کم سن ودونه دي او دا کار زموږ په ټولنه کي بنه په درز روان دى. سره له دې چي ټاکلي اړوند ارګانونه کله، کله د دې ستونزې په برخه کي خپل غږ جګوي او د ځينو تصويب شوو او نا تصويب شوو قوانينو يادونه هم کوي، خو دا قوانين څوک په چا تطبيق کړي؟

د ۲۰۱۶ کال په جولای کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، په افغانستان کې د کم سنه ماشومانو د ودونو د ډیر والي په برخه کې خپل غږ اوچت کړ. په کابل کې د بي بي سي خبریال خوشحال تایب په هغه وخت کې دا موضوع د یوه رپوټ په ترڅ کې داسي څیړلي وه:
«د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په وروستیو کلونو کې په دغه هېواد کې د ماشومانو ودونو د زیاتوالي په اړه خبرداری ورکړی دی.

د بشري حقونو خپلواک کمیسیون چارواکي په ټیټ عمر کې د ودونو لامل جنګ جګړې، نا امني، د قانون نه پلي کېدل، بېوزلي او ناوړه دودونه په ګوته کوي.
ویل شوي د قربانیانو ډېری یې نجونې دي.

د افغانستان د بشري حقونو کمیسیون وایي سیمه ییزو ادارو ته د رسېدلو شکایتونو پر بنسټ له تېرو څلورو کلونو راهیسې په ټیټ عمر کې د نجونو او هلکانو ودونو د پېښو قربانیانو شمېر شاوخوا ۷۰۰ ته رسېږي.

د چارواکو په وینا د دغه راز پېښو د قربانیانو شمېر تر دې ډېر زیات دی او په تېرو پنځلسو میاشتو کې ټولې ثبت شوې پېښې د کوچنیو نجونو په زور د ودولو په اړه وې.

د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون مشرې سیما سمر نن په کابل کې یوې خبري غونډې ته وویل د جنوبي آسیا د نورو هېوادونو په پرتله په افغانستان کې د ماشومانو جبري ودونو شمېر لوړ دی.

نوموړې وایي "په خواشینۍ سره ځیني وخت د ماشومانو حقونه د هغوی د نژدې کسانو لکه مور او پلار له خوا تر پښو لاندې کېږي. چې له هغې ډلې په زور د ماشومانو ودونه دي"

د اغلې سمر په وینا "دا د افغانستان په ګډون په جنوبي آسیا کې د بشري حقونو یوه ستونزمنه موضوع ده. خو په افغانستان کې د جنګ جګړو او تاوتریخوالي دود له امله دا قضیه تر بل هر ځایه ډېره ده". د ماشومانو حقونو د نړیوالو تړونونو له مخې په ټیټ عمر کې د ماشومانو ودول د ماشومانو له حقونو څرګنده سرغړونه ده.

د افغانستان د مدني قانون له مخې په افغانستان کې د هلکانو لپاره د واده قانوني عمر ۱۸ کاله او د نجونو لپاره ۱۶ کاله ټاکل شوی دی. چې د افغانستان د بشري حقونو کمیسیون د مشرې په وینا د نجونو لپاره دا عمر ټاکل خپله "جنسي تبعیض" دی. او د دغه قانون د سمون غوښتنه یې وکړه.

د افغانستان د بشري حقونو کمیسیون وایي په ځینو برخو کې خپله د قانون جوړونکي قانون ماتوي.

دوی وایي په افغانستان کې د ورته پېښو ډېروالی د قانون منګولو ته د عاملینو نه سپارل دي.
دوی د افغانستان د پوهنې، لوړو زده کړو، ښځو چارو، اطلاعاتو او کلتور وزارتونو او عدلي او قضایي ادارو وغوښتل په دې برخه کې د خلکو د پوهاوي لپاره مرستې وکړي.»

په پاسني رپوټ کې ډیرو مهمو مسایلو ته اشاره شوې او مسولین یا مسولې اداري هم په نښه شوې دي، خو وروسته له هغه وخته بیا تر نن پورې نه یوازې هیڅ چا یا هیڅ اداري، هیڅ ډول څه نه دي کړي، بلکې لیدل شوي دي او لیدل کیږي چې د ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي په کچه او ډولونو کې نه یوازې کمی نه دی راغلی، بلکې ډیر شوي هم دي، خو د ځواب ویلو څوک نه شته.

زما یوه شاعر دوست، دعاطفي کلماتو په چوکاټ کې، له یوه کوچني سره شوی تاوتریخوالی انځور کړی دی او په پای کې یې ویلي دي چې له دې او دې ته ورته په زرګونو نورو کوچنیانو سره، د شوي تاوتریخوالي د ځواب څوک شته؟ البته چې نه.

د شاعر دوست توري په لاندې ډول دی:

«د هېلمند په ایمرجینسي روغتون کې مې د تېپانو پوښتنه کوله، ناڅاپه یې د دې ګلالي کټ ته ودرولم، ورلنډ سوم، ما ویل:

بچی څنګه یې؟

ماشوم خپلې رنځورې سترګې په سترګو کې راخښې کړې، شونډې یې مرې مرې شوې، هېڅ یې ونه ویل، یوازې یې په ځیر، ځیر راته کتل.

د خولې پرشا وخوا یې د درد له لاسه پولې ولاړې وې، په ډېره خوارۍ لړ وخوځېدې، خو سترګو یې هماغسې زما په سترګو کې ځوابونه لټول. په سترګو کې یې یوه پوښتنه دا وه:

کاکا زه یې ولې داسې کړم؟

دا پوښتنه به څوک ځواب کړي؟

د نړۍ کوم سیاستوال؟ د سیمې کوم استخبارات او د ماینونو جوړولو او خښولو کوم واستاکار؟ د هغې ورځې په سهار مې ګڼ بې لاسو او بې پښو افغانان ولیدل، چې د بېرحمه دوښمن خښنو کړیو ماینونو خوړلي وو، خو د دې ماشوم دردمنې سترګې بل ډول وې، دا سترګې حیرانې وې، یوه یوه کمزورې اوښکه په کې ډنډ وه، چې د راوتلو وس یې نه درلوده. د ماشوم شونډې رپېدې، خو هېڅ یې نه ویل، سترګو یې ماته کتل او همدا یوه پوښتنه یې کوله:

د څه لپاره یې داسې کړم؟

ولې؟

ما خو چاته هیڅ نه و ویلي؟ ....

له ما سره د دې پوښتنو ځواب نه و، آیا له تاسو سره شته؟»
زه یې بیا په تکرار سره وایم چې که پر ټولنه باندې د حاکمو ناوړه قوانینو مخنیوی و نه شي، دا قوانین ونه درول شي یا بدل کړای نه شي، نو به د نورو نا خوالو تر څنګ، له ماشومانو او کوچنیانو سره اوسنی تاوتریخوالی همداسې پسې روان وي او ځو نسلونه به بیا، بیا د همدې ناوړه دودونو قرباني وي.

د لسمې مقالې پای

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

## د تاوتریخوالي سونامي

## ۱

### یولسمه مقاله

تاو تریخوالی لکه تندر له بل ځای څخه نه را پریوزي، بلکې همدا ټولنه ده او همدا مشران دی چې له کوچنیانو او ماشومانو سره یې په پوهیدنه یا نه پوهیدنه کې، په رنګارنګ بڼو سره کوي.
زموږ د ګلالیو ماشومانو او کوچنیانو سترګې او ښیرې موږ ته وایي:

**موږ د ژوند په هغه پړاو کې یو چې نه غواړو د خبرو اوریدو**
**په ځای مو پر مخ څپیړې ولګیږي، موږ نه غواړو چې د مثبتو**
**لوستونو او موزیک د اوریدو پر ځای د ټوپک او بمونو درزا واورو.**

*****

**د ماشوم د حقونو اړوند، که د افغانستان ټولنه، په ټول کې و ارزول شي،**
**داسې باید و ویل شي چې زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنیانو له پاره**
**د مځکې پر مخ د یوه ریښتیني دوزخ حیثیت لري.**



د کوم دلیل او قانونه له مخې دا کوچنیان وهل شوي او ربړول شوي دي؟

په ټوله نړۍ، په تېره زموږ په هيواد افغانستان کې تجربو ښودلې ده چې له ماشومانو او کوچنيانو سره تاو تريخوالی، د يوې ټولنې د بربادۍ اساس جوړوي. زموږ په ټولنه کې دا منفي کار د سواد، تعليم او پوهې د نشتوالي يا ضَعف په وجه، له ډېر پخوا نه موجود و او لکه ميراث، نويو نسلونو ته هم رسيدلی دی.

همدې ستونزو ته په کتو سره او د نوي نسل د روزلو له نهضت سره د مرستې په پار، ما ګڼې **مقالې** وليکلې چې يوې ته مې د **«له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي ستونزه»** سرليک وټاکه، په څو برخو کې مې خپره کړه او وروستۍ برخه يې د ۲۰۱۷ کال د اپريل په اوه ويشتمه نيټه (۲۰۱۷/۰۴/۲۷) پرليکه شوه.

په ياده مقاله کې مې ښودلې و چې تاوتريخوالی يوازې فزيکي زورنه او وهل ټکول نه دي، بلکې نور ډېر ډولونه هم لري چې د نا پوهيدنې په حالت کې يې زموږ ډېری افغانان خپل حق ګڼي. لکه ماشوم يا کوچني ته ښکنځلې کول او چغې وربانديې وهل چې ښايي ځينو مشرانو ته دا يوه ساده موضوع ښکاره شي، خو په دې نه پوهيږي چې ماشومانو او کوچنيانو باندې په قهر چيغې وهل او ښکنځلې کول د هغوی رواني مانۍ او د شخصيت غر نړوي او داسې يې له ماتې سره مخ کوي چې بيا د رغيدو او ترميم نه وي او په حقيت کې موږ راتلونکې ټولنې ته يو معيوب غړي ور وړاندې کوو.



زموږ د ټولنې دا او دې ته ورته په لکونو کوچنيان د خپل ماشومتوب له دوه سلنې حقونو هم نه دي برخمن، مسوليت يې چا ته ور له غاړې دی؟

په تيرو مقالو کې ما د تاو تريخوالي **دغو** ډولونو ته نغوته کړې وه:

زموږ د ټولنې عيني ستونزو او تجاربو ته په کتو سره، د ماشومانو او کوچنيانو پر ضد تاوتريخوالی په لومړي ګام کې په دريو برخو باید و ويشل شي:

### ۱ ـ رواني تاوتريخوالی:

(ژبنی تاو تريخوالی، ډارول، ښکنځلې کول، بد رد ويل، تهديدول او ډول، ډول نور رواني فشارونه)،

### ۲ ـ جسمي تاوتریخوالی:

(وهل ټکول، شاقه کارونه، جګړو ته اړ ایستل)،

### ۳ ـ جنسي تاوتریخوال.

له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي دغه ډولونه چې ما په نښه کړي دي، بنایي نیمګړي به وي، خو اساسي برخي یې همدا دي چې هره برخه یې بیا بنایي په ځانګو هم و ویشل شي چې له بده مرغه موږ ته او زموږ ټولني کې یې میراثي بڼه غوره کړې ده او ما یې د حل یوه لار په خپلو تیرو مقالو کې ښوولې وه چې لنډیز یې دلته بیا را اخلم:

«د عیني محسوسو تجاربو له مخې چې زموږ ټولنه مطالعه شي، دا ثابتیږي چې هر هغه مشر چې له کوم کشر سره تاوتریخوالی کوي، خامخا له هغه مشر سره د ماشومتوب او کوچنیوالي په دوران کې دې ته ورته تاوتریخوالی شوی دی، چې دی یې اوس په شعوري یا غیر شعوري توګه، په عقدوي ډول له خپلو کشرانو سره کوي. موږ مشران باید دغې ترخې تکراریدونکې تجربې ته او دې ترخه حقیقت ته په کتو سره دې تاوتریخوالي ته د پای ټکی کیږدو، هغه داسې چې دا قرباني ورکړو چې له موږ سره په شوي تاوتریخوالي سترګې پټې کړو، ور نه تیر شو، ځو دا عقده او دا ترخه تجربه چې له نسلونو، نسلونو تر موږ پورې را رسیدلې ده، بل نسل ته و نه لیږدول شي او که یې لکه د تیرو نسلونو په شان چې موږ ته یې را سپارلې ده او موږ یې راتلونکي نسل ته وسپارو، نو له راتلونکي نسلونو سره به مو له دې نه هم ستره جفا کړې وي، لکه تیرو نسلونو چې له موږ سره کړې ده.

کله چې موږ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي له لارې عقدوي چلند کوو، نو په حقیقت کې موږ د هغوی د ذهن په کرونده کې د عقدو او ستونزو تخم کرو چې په زلمیتوب او له هغه نه وړاندې په ژوند کې د هغوی هر څه په زهرو لړي.»

د یولسمي مقالي پای

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

## د تاوتریخوالي سونامي

## ۲

### دولسمه مقاله

په لومړي سر کې ما له ماشومانو او کوچنیانوسره د تاوتریخوالي په باب، په لنډه توګه خپلې لوستلې، په سترګو لیدلې او اوریدلې تجربې درنو لوستونکو سره شریکې کړې او موضوع مې نوره اوږده نه کړه؛ خو اوس یې چې ګورم، له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه د یوې سونامي په شان راته ښکاریږي.

په نړیواله، سیمه ایزه او ملي کچه سیاسیون هڅه کوي چې د خپلو شخصي، وطني، ګوندي ګټو په نظر کې نیولو او د خپل قدرت د ساتلو په موخه، د مدیا له لارې د خلکو پام په بل لوري واړوي او په ټولنه کې د شته اساسي ستونزو په باب څوک فکر هم و نه کړي، چې په یادو هیرو شوو ستونزو کې یوه «له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه» ده. دا داسي ستونزه ده چې که دولتونه، دلې ټپلې او اشخاص یې هر څومره هیره یا پټه کړي، خامخا یوه ورځ لکه ستره بلا سر راجګوي لکه اوس یې چې زموږ په ټولنه کې سر را اوچت کړی دی.
همدې ستونزو ته په کتو سره په دې نږدې ورځو کې بي بي سي د «سیف د چلډرن» نومي نړیوالي اداري د مالوماتو له مخې، د افغانستان له ماشومانو سره د تاو تریخوالي په برخه کې یو راپور خپور کړی دی او دا یې لیکلي دي چې «یو نوي سلنه افغان ماشومان له روحي یا فزیکي زور زیاتي ځوریږي»، د بي بي سي د رپوټ په یوه برخه کې داسي راغلي دي:

«یوه نړیوال مرکز ویلي، له ۱۰۰ نه ۹۱ افغان ماشومان د ټولنې یا کورنیو له لوري له یو نه یو ډول فزیکي یا روحي زور زیاتي سره مخامخ دي.

سیف د چلډرن نومي نړیوالي اداري ویلي دي، نژدې ۵۱ سلنه افغان ماشومان په کوروونو کې له روحي زور زیاتي ځوریږي، چې په خبره یې پر ماشومانو چیغې وهل، کنځل یې، د والدینو د بدمرغی لامل بلل، له کوره شړل او یا د خوشي کولو ګواښونه په دغو ځوروونو کې شامل دي.

د دغه رپوټ چمتو کولو لپاره د پلازمېنې کابل په ګډون ننګرهار، بلخ، سرپل او جوزجان ولایتونو کې له ۱۰۰۰ ډېرو ماشومانو سره مرکې شوې دي. دغو مرکو کې ۱۱ سلنه ماشومانو ویلي چې نامناسب یا لوڅ تصویرونه پرې کتل شوي دي.

اووه سلنه ماشومانو ویلي، چې د لویانو د بدن حساسو برخو لیدو ته اړ کړل شوي دي او یا لویانو د دوی د بدن حساسو برخو ته کتلي دي. نژدې ۵ سلنه مرکه کونکو ماشومانو دا هم ویلي، چې جنسي اړیکو ته اړایستل شوي دي.

د ماشومانو د ملاتړ مرکز سلاکار صفي الله امر خیل له ماشومانو سره جنسي زور زیاتی د دغه رپوټ تر ټولو بوږنوونکې برخه بللې ده.

د نوموړي په وینا د نامناسبو فلمونو لیدو ته د ماشومانو اړ ایستل، د هغوی د بدن حساسو برخو ته کتل د هغوی د جنسي ځورونې لپاره لار هواروي. ښاغلی امرخیل وایي، دغه ډول پېښو کې ډېر مهال بیوزله ماشومانو ته زیان رسېږي.

هغو ماشومانو چې دغه ارزونه کې یې برخه لرله، ویلي، چې ډېری مهال پلرونو، خپلوانو، زورواکو، پولیسو، وسله والو، روحانیونو او د ټولنې یو شمېر نورو کسانو له جنسي پلوه ځورولي دي.

ماشومانو دا هم ویلي، چې د مور، پلار، نژدې خپلوانو، د ښوونځي یا ټولګي مشرانو او صفا کارانو وهلي ټکولي دي، تر ستونې یې نیولي او ان سوځلي یې دي.

ارزونه کې ماشومانو ویلي، چې د مور پلار له لوري نه پاملرنې، د مناسبو خوړو، کالیو او درملو نشتوالي او ناروغیو هم ځورولي دي.

د ارزونې ګډونوالو ماشومانو ویلي، کله چې دوی مېندې، پلرونه شي له خپلو اولادونو سره به هېڅکله داسي چلند و نه کړي، چې دوی سره شوی دی.

ارزونه کې معلومه شوې، چې د ښاري ماشومانو پرتله کلیوال ماشومان له زور زیاتي ډېر ځورېدلي دي.»

ما د تاوتریخوالي په باب د خپلو مقالو (له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه) په لومړی برخه کې له دې ستونزې سره د څه کولو په برخه کې داسي لیکلي وو:

«که موږ غلي کینو، چوپتیا او ځان غلی نیول خپله له نوي نسل سره جفا ده، دا په خپله یو ډول تاوتریخوالی دی چې په رڼو ورته ګورو، نوی نسل مو د همدې تاوتریخوالي په پایله کې د بربادۍ کندې ته ور لوېږي، که د مخنیوي له پاره یې څه و نه کړو، دا په خپله له هغو سره د تاوتریخوالي یوه ښکاره بیلګه ده.

له کوچنیانو او ماشومانو سره دغه یاد تاوتریخوالی څوک کوي؟ البته چې مشران یې کوي او مشران یې هغه وخت کوي چې په هغوی کې د بې سوادۍ او نا پوهی مرض شایع وي. که د عادي لیک لوست په کچه سواد ولري، هغوی بیا مطالعه نه کوي او د سواد لوړې کچې ته، یعني علمي سواد ته چې هغه د ماشومانو او کوچنیانو او تنکیو ځوانانو روزنه ده، ځان، کورنۍ او ټولنه نه شي ور لوړولی. نو په دې صورت کې نه ماشوم، نه کوچنی، نه نوی نسل او نه هم د هغوی حقوق پیژني. په دغسي یو حالت او په دغسي یوه ټولنه او چاپیریال کې چې د بیسوادۍ او ناپوهی بلا ور باندې حاکمه وي، بیا نو د مینې او محبت ځای تاو تریخوالی نیسي او کله چې له ماشوم او کوچني سره تاوتریخوالی وشو، پایله به یې دغسي وي لکه زموږ ټولنه او زموږ دا اوسني نسلونه چې د هرې ستونزې د حل لاره په وهلو ټکولو یا ژبني تاو تریخوالي کې لټوي.»

نور ولسونه په څلورو لسیزو کې، د څلورو نسلونو په زدکړو او کړاوونو سره؛ د ښه ژوند، پرمختګ او اقتصاد لوړو پوړیو او د کولتور یو عالي پړاو ته ځانونه رسوي؛ موږ په څلورو لسیزو کې، د څلورو نسلونو په قربانۍ او د سلګونو زرو لیترو وینو په تویدو سره، په ټوله نړۍ کې د تور او بد نامه خاوندان یو او په نړیواله کچه د هر منفي اوبد لست په پیل کې مو د هیواد نوم لیکل کیږي، د جګړې او بدمرغۍ داسي کندې ته ور لویدلي او په داسي مرض اخته شوي یو چې اوس یې علاج له موږ نه څه چې له ټولې نړۍ څخه ورک دی.
ښه!

اوس باید موږ خپله سر په ګریوانه کې ښکته کړو او و وایو چې زموږ ټولنه او خلک د فکري او اخلاقي ابتذال دې برید ته رسیدلي دي چې پلار، خپلوان، پولیس او مذهبي مشران پر ماشومانو او کوچنیانو جنسي تیری کوي، له نورو نه بیا څه ګیله په کار ده.

د دې ټولو ستونزو له لوستلو او پوهیدو وروسته دا پوښتنې پیدا کیږي چې:

ـ پر دې ټولنې او خلکو باندې د فکري او اخلاقي ابتذال دا حالت چا او څنګه راوست؟

ـ دا حالت له کوم رژیم او کومو خلکو سره څنګه راوړل شو؟

ـ دا حالت پر دې ټولنه باندې څنګه حاکم کړای شو چې اوس یې بیخي د یو دود بڼه خپله کړې ده؟

ـ د دې ستونزې د حل لارې یې څنګه پیدا کولای شو؟

ـ تر څو به د دې تباه کونکي سونامي په څپو کې زموږ نسلونه پرله پسې د تباهی کندې ته ورلویږي؟

د دې پوښتنو د ځوابونو په باب باید فکر وشي، دولتي مقامات ایله یو پر بل تورونه ولګوي او د یو بل ګریوانونو ته لاس واچوي.
قلموال فرهنګیان باید د خلکو د لارښونې له پاره د پاسنیو پوښتنو ځوابونه پیدا کړي او نوی نسل د دې ستونزو له دایرې نه را وباسي.



دا وسلې که اصلي وي که پلاستکي، خو له کوچنیانو سره د کارولو فکر یې اصلي دی او د دوی د ذهن په کرونده کې د زهروږ د تخم په څیر کرل شوی دی، دا تخم د دې کوچنیانو د ذهن په کرونده کې چا او ولې وکاره؟

د دولسمي مقالي پای

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

## د تاوتریخوالي سونامي

## ۳

### دیارلسمه مقاله

زموږ په ټولنه او زموږ په هیواد افغانستان کې له ماشومانو او کوچنیانو سره تاوتریخوالی، ماشوم زوروونه او د هغوی حقوقو او روزنې ته نه پاملرنه په داسې یوه موضوع بدله شوې ده چې اوس تقریباً تر نوي یا پنځه نوي سلنه مشران وهل ټکول او د ماشوم او کوچني بدني او روحي زوروونه خپل حق ګڼي او داسې فکر کوي چې دوی ماشوم او کوچنی په دې دلیل وهي ټکوي چې له بدو کارو را واوړي.
زموږ ډېره سلنه زدکړي هیواد وال لا د دې ناسمې پالیسی له مخې: «چې ډب نه وي، ادب نه وي» د هغوی په وهلو او زوررولو لا ویاړ هم کوي.
زموږ د ټولنې پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي دې حد ته رسیدلې ده چې اوس یې مخنیوی ستونځمن نه، بلکې د نه کیدونکې برید ته ورنږدې شوې ده. دولت اصلاً دې موضوع ته هیڅ پام ځکه نه کوي، چې دولتي مسولین داسې کسان ګمارل شوي دي چې نه ماشوم، نه کوچنی او نه هم نوی نسل پیژني، نه یې له حقوقو خبر دي او نه هم پر دې پوهیږي چې د نوي نسل د ناسمې روزنې عواقب به کورنیو او هیواد ته او ټولنې ته څه وي. د وړکتون ښونکي د دریو یا څلورو کلونو ماشوم په سوکانو اولغتو وهي، په ښونځیو کې یې ښونکي وهي په کورنۍ او کوڅه کې یې مشران وهي ډبوي او...
ماشوم په هر سن کې خانته روزنه او پاملرنه غواړي، موږ سر بیره پر دې چې ټاکلې او اړینه پاملرنه نه ورته کوو، د وهلو ټکولو او تحقیرولو ډالۍ هم ورکوو، په دې نه پوهیږو چې زموږ دا چلن د ماشوم په فزیکي او رواني حالت باندې څومره بده اغیزه کوي. مثلاً د اوو یا اتو کالو یو کوچني باندې همدې ټولنې او مشرانو داسې حالت راوستی دی چې هغه د خښتو کار ته اړ وزي، د خښتو هغه قالب یا هغه خښتې چې ماشوم جګوي او لیږدوي یې، د هغه پر فزیکي ودې باندې څه ډول منفي تاثیر کوي، دې خبرې ته د چا پام هم نه دی.



دغه راز د جګړې اصلي قربانیان ماشومان او کوچنیان دي، ځکه چې د تیښتې او پټېدو په چم نه پوهیږي او د دې توان نه لري چې د مشرانو د جګړې له اور نه ځان خلاص کړي. لاندې عکس ته ښه ځیر شئ:



دا ماشوم چا په وینو ولاړه، ولې د څه له پاره د کومې موخې په غرض او نورې داسې پوښتنې چې یا یې څوک ځواب نه شي ویلای او یا هم داسې ځوابونه ویل کیږي چې هر څه په خامو تارونو تړي او په تقدیر یې ورسپاري.

زموږ په ټولنه کې د ماشوم زوروني د سونامي د درولو له پاره څوک د یو سپین په اندازه هم څه نه وایي او که څوک څه ولیکي او یا یې و وایي، د نورو له پاره حتی د خندا او تمسخر وړ مسأله بریښي. کله چې ما د کوچنیانو د ادبیاتو په نامه مقالې او کتابونه خپاره کړل، ما ته مخامخ ویل شوي دي چې:

«تا له ځان نه څه ماشوم جوړ کړی دی، بل څه نه شته چې فکر او لیکنه پرې وکړې.»

د داسي تيپ خلکو پاليسي دا ده چي:

«وې زيږوه، وزن يي مځکه جګوي، روزي خداى ور رسوي»

دوى د ماشوم او کوچني د حقونو په نامه هيڅ شى نه پيژني او د راتلونکي ټولني په باب چي همدا کوچنيانو به يي رهبران وي؛ هيڅ فکر هم نه کوي.

دلته په اروپا کي په ډنمارک کي مي داسي څلور بول ليدلى چي زما په مخ کي يي خپله وړه لور په څاپيړو وهله. کله مي چي ورته وويل چي دا ماشوم ولي وهي؟ را ته وې ويل چي:

«پريږده چي ډار مي ورسره وي، چي په غټوالي کي هرڅه ورته ووايم ، بيا «نه» و نه وايي.»

په اروپا کي، په تيره په ډنمارک کي د ماشوم زورونه او وهل ټکول لوى جُرم دى او عاملين يي زندان ته هم ليږل کيداى شي، خو اوغان لالا خپل ماشوم په دې موخه واهه ټکاوه چي د تل له پاره د پلار ډار ورسره وي.

د ماشوم مادي او معنوي روزني او ژوند (لکه کافي تغذيه، د اوسيدو له پاره مناسب ځاى،، د زدکړو او تحصيل مناسب وخت او ځاى) ته نه پاملرنه؛ د هغوى د هر اړخيزې ودې مخنيوى کوي چي پايله يي دغسي وي لکه اوس چي زموږ ټولنه، زموږ خلک او ډيري کورنى ورسره لاس ګريوان دي.

د پرمختللو ټولنو د برياليو راز په دې کي دى چي له ټولو لومړيتونونو نه مخکي ماشومان په درجه يو لومړيتوبونو کي درول کيږي او رسيدګي ور ته کوي.

د ديارلسمي مقالي پاى

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

## د تاوتریخوالي سونامي

## ۴

## ځوارلسمه مقاله

(د جون لومړی نیټه د ماشوم نړیواله ورځ؟)



د جون لومړی نیټه د ماشوم نړیواله ورځ؟

زموږ په هیواد افغانستان کې، که پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د روان تاوتریخوالي د مسألې د ځیرولو په دایره کې دا پوښتنې مطرح شي چې:

ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره تاو تریخوالی څه مانا،

ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره کومو چلندونو ته تاوتریخوالی ویلای شو؟

دجون لومړۍ په نړۍ کې د ماشوم د نړیوالي ورځې په توګه لمانځل کيږي، خو زموږ په هېواد کې نه یوازې دا چې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره څه نه دي شوي، بلکې په نويو راپورونو کې ويل شوي چې افغانستان د هغو شپاړسو هيوادونو په لست کې شته چې ماشومان په کې له ډيرو ستونزو سره مخ دي.

د امریکا غږ په پښتو ویبپاڼه کې د یو راپور په ترځ کې داسي راغلي دي:

«په افغانستان کې د سايف د چلډرن ځانګه وايي افغانستان د نړۍ د هغو ۱۶ هیوادونو په ډله کې شامل دی، چې ماشومان په کې د ډیرو ستونزو سرمخامخ دي.»

ښايي د دولت د دريځ ګونو قواوو ډيرې غږي په دي پوه نه شي. ځکه چې د یویشتمي پیړۍ په دي ۲۰۱۸ کال کې هم دغه ډله خلک ماشومانو او کوچنیانو ته د سلګونو کلونو وړاندي نظرياتو له کړکۍ نه ګوري.

اوس هم په ډيرى کورنيو کې د دي جملي مفهوم د يو حاکم قانون په ډول حکومت کوي:

«ته ماشوم يي، غلی دي په ځای کينه!»

او که ماشومانو او کوچنیانو ته د نوي عصر د غوښتنو پر اساس، د نويې تکنالوژۍ په چوکاټ کې، په نوي بڼه وکتل شي او ارزښت ورکړل شي؛ نو زموږ په ټولنه کې دا کار ښايي دوه سلنه هم نه وي شوی.

ځنګه چې مخکي عرض وشو اړوند مسؤلين ماشوم زرورنه هيڅ نه پيژني، او که يي پيژني هم، دوى يوازې د ماشومانو او کوچنیانو وهلو ټکولو ته ماشوم زوورنه وايي؛ هغه هم ښايي په ټوله دولتي دستګاه کې داسي مرجع يا پته نه وي چې د ماشومانو وهل ټکول دې په کې ثبت شوي وي چې اوس يې کوم ځيرونکي د ولې؟ او څرنګوالي په باب ځيرنه وکړي.

تر ټولو جالبه او دردونکي خبره بیا دا ده چې د ماشوم زوروني په دايره کې د ماشوم زوروني هر ډول چې پر ماشوم باندې تطبيق شي، ډير ځلي هغه د ځانګړو باورونو يا «شرم» تر پردې لاندې پټيږي، دا چې ماشوم ته ضرر رسونه څومره د هغه پر جسم او روان باندې اوسمهالي او يا اوږده منفي اغيز پريستی شي، هغه بيا دوی يا هيڅ نه پرې پوهيږي او که پوهيږي هم، په يو ډول نه يو ډول تیښته ورنه کوي.

هر چيري او هر کله چې له ماشومانو او کوچنیانو سره د چلن موضوع يا د تاوتريخوالي موضوع مطرح کيږي؛ په نړیواله کچه د ماشوم زوروني هماغه یو منل شوی تعريف په نظر کې نيول کيږي چې:

«ماشوم يا کوچني ته هر ډول ضرر رسول، د ميندو پلرونو يا ماشوم – کوچني ساتونکو له لوري هر ډول عمدي يا غير عمدي نه پاملرنه چې د ماشوم – کوچني بدن سلامتيا ته، د هغه روان يا نيکمرغی ته، د هغه آسودګۍ او ګټو ته تاوان ورسوي؛ ماشوم زوورنه ګڼل کيږي.»

په ډيرو ټولنو کې داسي کيږي چې ماشومان ـ کوچنيان، له پيدايښت سره سم، د ميندو پلرونو د جنسيت، مذهب، قوم او ځينو نورو دلايلو له مخې؛ له تاوتريخوالي سره مخ کيږي، له بده شامته چې دا خبره زموږ په وطن کې ډيره عامه ده.

ماشومان ـ کوچنيان به هيڅ پر ځان خبر نه وي، خو له زورزياتي سره مخ وي، هغه هم په داسي افراط سره چې بيا د متضرر ماشوم درملنه په ټول ژوند کې هم نه کيږي او له هغه نه رازيږيدلي ستونزې لکه ساري ناروغي پرګرديې ټولني باندې منفي سيورى غوړوي.



که څوک غواړي چې د افغانستان د ماشومانو او کوچنيانو زورونه او له هغو سره روان تاوتريخوالي وپيژنی او د مخنيوي هڅه يې وکړي؛ تر ټولو مخکې بايد د دغو ستونزو او تاوتريخوالي د رامنځته کيدو عوامل وپيژني او د هغو سټه وچه کړي، د ماشومانو ـ کوچنيانو ارزښت ټولنې او خلکو ته وروپيژني او د مدرنې او سالمې ښوونې روزنې له پاره يې فکر وکړي.

دځوارلسمې مقالې پای

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنيانو باندې

## د تاوتريخوالي سونامي

## ۵

### پنځلسمه مقاله

**تاو تريخوالی لکه تندر له بل ځای ښخه نه را پريوزي، بلکی همدا تولنه ده او همدا مشران دی چي له کوچنيانو او ماشومانو سره يي په پوهيدنه يا نه پوهيدنه کي، په رنګارنګ بڼو تر سره کوي.**

د ماشومانو او کوچنيانو په باب زما د کارونو او څېړنو په لړ کي ډېر لړ داسي پېښ شوي دي چي په ميډيا کي د ماشومانو او کوچنيانو په باب ما ته څه په مخه راغلي وي، او ما هغه د سند او د راټلونکو څېړنو د لا غنا په پار نه وي خوندي کړي. د همدې ساتلو او خوندي کولو په لړ کي مي په افغان جرمن آنلاين پورتال کي، له ماشومانو او کوچنيانو سره د ورځني تاوتريخوالي په باب يو کتاب (**په افغانو کورنيو کي د ماشومانو پر وړاندی ورځنی تاوتريخوالی**) له نظره تير شو او خوندي مي کړه.




اوس غواړم چي د خپلو مقالو (د افغانستان پر ماشومانو او کوچنيانو باندې د تاوتريخوالي سونامي) په لړ کي، د ياد کتاب پر محتوياتو باندي خبري وکړم او ځيني داسي برخي يي راواخلم چي له ماشومانو سره روان تاوتريخوالي په ښه وجه معرفي کوي او د مخنيوي لارې چارې يي ښيي.
په دوه زره دويم ( ۲۰۰۲م) کال کي، د نادولتي موسسو د فعاليت په چوکاټ کي «د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې» هم خپل فعاليت پيل کړ. دې ادارې په افغانستان کي د کورنی ډاينامېزم د بدليدونکي طبيعت په هکله د څېړنې يوه پراخه پروژه پيل کړه، چې «په افغانو کورنيو کي د ماشومانو پر وړاندی ورځنی تاوتريخوالی» يي يوه لاسته راوړنه ده.

دا گزارش ډوله کتاب د یوې اوږدې څیړنې په پایله کې میرمن «دیبرا ج . سمیت» د هغو رپوټونو پر بنسټ لیکلی دی چې د څیړنیزې ډلې له لوري د افغانستان په څلورو ولایتونو (بامیان، هرات، کابل او ننگرهار) کې تر سره شوي وو او د «د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره» د څیړونو په لړ کې د اروپایي ټولنې په مالي لگښت د ۱۳۸۶ کال په سلواغي میاشت کې خپور شوی دی.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري په هکله:

**د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**

د گل فروشی کوڅه (د ۲مې کوڅې څنډه)
نوی ښار کابل افغانستان
تلفون ۰۷۹۹۲۰۸۵۴۸ (۰) ۹۳+ بریښنا پته areu@areu.org.af بریښنا پاڼه www.areu.org.af

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره یوه خپلواکه څېړنیزه موسسه ده او مرکزي دفتر یې په کابل کې دی. د دغه سازمان دنده په لوړ کیفیت سره د څېړنو تر سره کول دي چې په پلان جوړونه او د هغه په پلي کولو کې لارښود او کټور وي. دغه اداره د څېړنې او زده کړې کلتور ته د څېړنیز ظرفیت د ځواکمن کولو او د نیوکو د آسانولو له لارې پرمختګورکوي.
د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري لرلید دا دي چې د هغه فعالیتونه د افغانانو ژوند ښه کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په دوه زره دویم (۲۰۰۲) کال کې د مرستندویه ټولنې پوسیله چې په افغانستان کې یې کار کاوه، تاسیس شوه او د بسپنه ورکوونکو هیوادونو، ملگرو ملتونو او نورو څو اړخیزه نمایندگیو، نادولتي سازمانونو (NGOs) د استازو څخه یې یو مدیره پلاویډرلود. د دغې اداري د هغه وخت بودجه، د اروپا د کمیسیون د کډوالو لپاره د ملگرو ملتونو عالي کمیشنرۍ، نړیوال بانك او د ډنمارك، سویس، ناروې، سویډن او انگلستان هیوادونو لخوا برابریده.
اوس د دې کتاب (په افغانو کورنیو کې د ماشومانو پر وړاندې ورځنی تاوتریخوالی) د لیکوالې، دیبراجې سمیت په هکله:
**دیبرا جې سمیت** د افغانستان د څېړنې او ارزونې په اداره کې د جندر او روغتیا د څانگې د څېړنې لوړ رتبه امره ده د دوه زره شپږم کال (۲۰۰۶) د جنورۍ په میاشت کې، کله چې نوموړې په دغه اداره کې کار پیل کړ، له هغه مهال څخه را په دې خوا هغه یوه څېړنیز مقام کې کار کوي چې په هغه کې دودیزه قانون او د مناقشو د څېړنې ټولنیزی حل لارو؛ استازیتوب، په ولسی جرگه کې د ښځو د جندر گټو؛ حکومتي وزارتونو کې د جندر پرمختگ؛ او د کورنیو د داینامیزم او زور زیاتي څېړنې شاملی دي.
نوموړې مخکې له دې چې افغانستان ته راشی، د لندن د روغتنپالنې په ښوونځي او تراپکل هلت کې کار کاوه، چیرته چې هغې د روغتیایي پالسی څېړنه په مالاویاو او زمبیا کې تر سره کړه. نوموړې د لندن د اقتصاد او سیاسي پوهو له ښوونځي څخه دوکتورا لري، چې د دغه رتبې د ترلاسه کولو لپاره یې د هندوستان په راجستان ایالت کې د جندر مسایلو په هکله سیمه ییزه څېړنه تر سره کړه.
دا کتاب (په افغانو کورنیو کې د ماشومانو پر وړاندې ورځنی تاوتریخوالی) پښتو ته هم را ژباړل شوی دی. د کتاب پښتو متن ۷۸ مخونه لري او د تاوتریخوالي په باب مستند مالومات په کې راوړل شوی دی. دغه راز د تاوتریخوالي د مخنیوي په باب ښې او گټورې لارښوونې په کې راغلي دي.

د کتاب په مقدمه کې دي ته اشاره شوې ده چې ځیرنیز ګروپ په خپلې ځیرنې کې په کورنیو کې د تاوتریخوالي افراطي بڼې یا افراطي بیلګې ثبت نه کړې. د کتاب په لنډیز کې داسې راغلي دي:
«په دغه څیړنه کې هڅه شوې چې د تاو تریخوالی افراطی او یا غیر معمولي حالات راغونډ نشي، بلکي دغه څېړنه د تاو تریخوالی د ډېر نورمال او طبیعي حالت پورې چې د خلکو د ورځنیز ژوند (ورځنیز تاو تریخوالی) برخه ده، اړه لري.»
د دې پروژې مسؤلینو حتماً ځانته د ځیرني او موادو د راټولولو ځانګړي اصول لرل چې خپل کار به یې د هغو پر بنسټ پرمخ بیوه. ښایي د همدغو اصولو پر بنا د کتاب لیکوالي، په کورنیو کې د ماشومانو پر وړاندې تاو تریخوالی په دوو برخو وېشلی وي، هغه هم داسې:
«په کورنۍ کې د ماشومانو پر وړاندې تاو تریخوالی په دوو برخو وېشل کېږي: تاو تریخوالی چې د انضباط او یا سزا په ډول ترې کار اخستل کېږي او تاو تریخوالی چې د غوسې، تشویش او یا نااميدۍ له کبله د مرتکب لخوا ترسره کېږي. دا څرګنده ده چې په حقیقت کې د دغه دوه ډوله تاو تریخوالی ترمنځ ښایي تداخل موجود وي، سره لدې، د تحلیلي وضاحت په موخه په دوه برخو ویشل ګټور کار دی.»
ښایي دا ویش د اروپایي اصولو او تجربو پر بنسټ شوی وي، خو زما ځیرنې، د سترګو لیدلی حال او شته اسناد ښیي چې د افغانستان غوندې یوې ټولنې کې چې له ډیرو اړخونو له نورو هیوادونو او ټولنو سره ورته والی نه لري، د تاوتریخوالي نور ډولونه هم موجود دي چې په نورو ټولنو کې یې بیلګې نه شته، داسې تاوتریخوالی چې نور خلک یې لا تصور او اټکل هم نه شي کولای. څو بیلګې یې ما په خپلو مقالو کې په نښه کړې دي، هغه هم په دې ډول:
زموږ د ټولنې عیني ستونزو او تجاربو ته په کتو سره، د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی په لومړي ګام کې په دریو برخو باید و ویشل شي :

## ۱ ـ رواني تاوتریخوالی :

ـ ژبنی تاو تریخوالی،

ـ ډارول،

ـ ښکنځلې کول،

ـ بد رد ویل،

ـ تهدیدول، او ډول، ډول نور رواني فشارونه.

## ۲ـ جسمي تاوتریخوالی:

ـ وهل ټکول،

ـ شاقه کارونه،

ـ جګړو ته اړ ایستل.

## ۳ ـ جنسي تاوتریخوالی.

له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي دغه ډولونه چې ما په نښه کړي دي، ښایي نیمګړي به وي، خو اساسي برخې یې همدا دي چې هره برخه یې بیا ښایي په څانګو هم و ویشل شي چې له بده مرغه موږ ته او زموږ ټولنې کې یې میراثي بڼه غوره کړې ده.

د پنځلسمې برخې پای

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

## د تاوتریخوالي سونامي

## ۶

## شپاړسمه مقاله

زموږ د کلالیو ماشومانو او کوچنیانو سترګې او خیرې موږ ته وایي : موږ د ژوند په هغه پړاو کې یو چې نه غواړو د خبرو اوریدو په ځای مو پر مخ څپیړې ولګیږي، موږ نه غواړو چې د مثبتو لوستونو او موزیک د اوریدو پر ځای د ټوپک او بمونو درزا واورو.

د عیني محسوسو تجاربو له مخې چې زموږ ټولنه مطالعه شي، دا ثابتیږي چې هر هغه مشر چې له کوم کشر سره تاوتریخوالی کوي، خامخا له هغه مشر سره د ماشومتوب او کوچنیوالي په دوران کې دې ته ورته تاوتریخوالی شوی دی، چې دی یې اوس په شعوري یا غیر شعوري توګه، په عقدوي ډول له خپلو کشرانو سره کوي.
موږ مشران باید دغې ترخې تکراریدونکې تجربې ته او دې ترخه حقیقت ته په کتو سره دې تاوتریخوالي ته د پای ټکی کیږدو، هغه داسې چې دا قرباني ورکړو چې له موږ سره په شوي تاوتریخوالي سترګې پټې کړو، ور نه تیر شو، څو دا عقده او دا ترخه تجربه چې له نسلونو، نسلونو تر موږ پورې را رسیدلې ده، بل نسل ته و نه لیږدول شي او که یې لکه د تیرو نسلونو په شان چې موږ ته یې را سپارلې ده او موږ یې راتلونکي نسل ته وسپارو، نو له راتلونکي نسلونو سره به مو له دې نه هم ستره جفا کړې وي، لکه تیرو نسلونو چې له موږ سره کړې ده . کله چې موږ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي له لارې عقدوي چلند کوو، نو په حقیقت کې موږ د هغوی د ذهن په کرونده کې د عقدو او ستونزو تخم کرو چې په زلمیتوب او له هغه نه وړاندې ژوند کې د هغوی هر څه په زهرو لړي.
ښه به دا وي چې ماشوم سره شوی تشدد، ماشوم بیان کړي او ویې وایې، هغه هم داسې چې د علمي تجربو له مخې داسې زمینه برابره کړای شي چې ماشوم هغه تشدد بیان کړی او وې وایې، چې له ده سره شوی دی؛ که داسې ونه شي نو له ماشوم سره شوی تاوتریخوالی په عقدو باندې بدلیږي او عقده په هره بڼه چې وي د ماشوم راتلونکی ژوند له خطر سره مخ کوي.
د تر بحث لاندې کتاب (په افغانو کورنیو کې د ماشومانو پر وړاندې ورځنی تاوتریخوالی) په لوستني سره لوستونکی پوهیږي چې د خیرنې دا کاري ډله او لیکواله، له پوښتل شوو کورنیو سره په موافقت کې دا مني چې له ماشومانو او کوچنیانو سره تاوتریخوالی د دوی په ژوند کې شته او تاوتریخوالي تر سره کونکي او عاملین یې هم همدوی دي، خو له نیکه مرغه چې دا کورنی خپلې تیروتنې مني او دا وایي چې دوی له خپلو کوچنیانو سره د تاوتریخوالي د نه کولو او د یو ښه چلند د ترسره کولو په برخه کې لارښونو ته اړتیا لري. د څیړنې دا کاري ډله او لیکواله، له کورنیو سره د مرستې په موخه، د کتاب په لنډیز کې دا سپارښتنې کړې دي:«

سپارښتنې:

- د میندو او پلارونو لپاره د ماشومانو د روزلو د مهارتونو د نورو لارو پروګرامونه رامنځته کول، چې له کلیوالو حالاتو سره مناسب وي. هر پروګرام چې د ماشومانو پر وړاندې د تاو تریخوالی د مخنیوي په برخه کې کار کوي، لومړی باید پوه شي چې په ټولنو کې د ماشومانو

پر وړاندې د تاو تریخوالی د منفي پایلو او دا چې تاوتریخوالی د ماشومانو د انضباط یا تشویق لپاره غوره لاره نده، عمومي خبر تیا موجوده ده. له دې کبله دا معلوماتي کمپاینونه باید د مورنیو او پلرنیو مهارتونو د نورو لارو په هکله د خلکو په خبرتیا تمرکز وکړي.

• د میندو او پلرونو لپاره د ماشومانو د روزلو نور مهارتونه باید د هغو موسسو لخوا طرح شي چې په دغه ساحه کې له بیلابیلو ټولنو سره په نږدې همکارۍ کې کار کوي، تر څو ډاډه شي چې دغه شان نورې لارې د افغانستان د بېلابېلو چاپیریالو لپاره اختصاص شوي.

• په سیمه کې د شتو سرچینو په مرسته کار کول. د ټولنې نفوذ لرونکي خلکو په شمول د مشرانو (نارینه او هم ښځینه)، ملایانو، د روغتیایي پاملرنې سیمه ییز کارکوونکي یا ښوونکي، په ټولنو کې د ماشومانو د روزلو د نورو لارو د ښوونې او مباحثې د لیږدولو په برخه کې کېداي شي ګټور ثابت شي.

نوموړې څېړنې په ټولنه کې داسې اشخاص وپېژندل چې په ځانګړې توګه د ماشومانو پر وړاندې د تاو تریخوالی پر ضد وو . دغه اشخاص کېداي شي د هغه پروګرامونو په وسیله چې موخه یې په کورنیو کې د ماشومانو پر وړاندې د تاو تریخوالی قابو کول دي په ګوته شي او د ماشومانو د روزلو د نورو لارو د مهارت پیغامونو او د ماشومانو پر وړاندې د تاو تریخوالی له امله د ضرر پېښېدو پوهې د خپرلو لپاره وګمارل شي.

• د ټولنې د لا زیاتې بوختیا تشویقونه. پروګرامونه او کمپاینونه اړین دي چې ټولنې یو ټولیزه قضاوت ته تشویق کړي چې د ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالی به د هغوی په ټولنه کې و نه منل شي، او هغه خلک چې د ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالی او زورزیاتې کوي هغوی وهڅوي چې دغه کار بس کړي. که چېرې د ماشومانو توهین باندې اغماض ونشي او په ټولنه کې معمول و نه منل شي نو حتی که خلک د روحي فشار لاندې یا د ناامیدۍ احساس هم کوي نو دغه کار به ونکړي.

• کورنیو ته ښوونه وشي چې روحي فشار له تاو تریخوالی څخه پرته اداره کړي. د تشویشونو د اداره کولو د پرمختللو مهارتونو په برابرولو او په کورنۍ کې د تشویش د اثراتو پراخه پوهه به په کورنۍ کې د ماشومانو پر وړاندې تاو تریخوالی مخه ونیسي.»

په افغانستان کې د یادې موسسې له لوري، د ټولنې د بیلابیلو برخو د څېړنې په لړ کې، د ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالي موضوع څېړل یې د کار یوه فرعي برخه ده. په دې هکله د کتاب په سریزه کې داسې راغلي دي:

«په 2006 کال کې، د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په افغانستان کې د کورنۍ ډینامېزم د بدلیدونکي طبیعت په هکله د څېړنې یوه پراخه پروژه پیل کړه، چې په ځانګړې توګه، په کورنیو کې د کورنیو جوړښت او د جنډر بدلون او نسلي رولونه او اړیکې د تاوتریخوالی په کچه باندې څه ډول اغېزه کوي. کومې څېړنې چې تر اوسه سرته رسېدلې دا هڅه یې کړې څو اټکل کړي چې کوم ډول کورنۍ تاوتریخوالی چې د ټولنې لخوا د یو ګروپ په توګه، ښځې د یوې ډلې په ډول د نرانو په وړاندې، او د مختلفو نسلونو او افرادو لخوا که نارینه وي او که ښځینه، مناسب او قانوني ګڼل شوی وي

د دغې څېړنې موخه دا ده چې د روحي فشار اصلي عوامل یا په تاوتریخوالی پورې اړوند انفرادي او ټولنیز خصوصیات او د کورنۍ د غړو په منځکې د تاو تریخوالی منل درک او په ګوته یې کړي .

دغه پاڼه د پورتنۍ څېړنې له یوې فرعی برخې څخه بحث کوی: په کورنې واحد کې د ماشومانو پر وړاندتاو تریخوالی (په دې څېړنه کې د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالي کې ټولې بدني سزاګانې او واړه ظالمانه یا د سپکاوي څخه ډک عملونه شاملدي) »

د کتاب په سریزه کې د کتاب د موضوعاتو لنډیز راغلی دی او د څیړنې د موخو او د تاوتریخوالي د ډولونو ثبتول او په نبنه کول د دې له پاره تر سره کېږي چې د ځینو مهمو مسایلو په پوهېدو کې ګټه ورنه واخستل شي چې زه یې د مهموالي او د خلکو او ټولنې په منځ کې د روان او کېدونکي تاوتریخوالي د ژوندیو او مستندو بېلګو له پاره دلته یوه د پام وړ **برخه** رانقلوو:

«دغه څېړنه کې هڅه شوی چې د تاو تریخوالی افراطی او یا غیر معمولې موارد راغونډ نشي بلکې دغه څېړنه د تاو تریخوالی د ډېرو عامو عادي بڼو سره چې د خلکو د ورځنې ژوند ورځنیز تاوتریخوالي یوه برخه ده، تړاو لري په داسی حال کې چې د دغه څېړنې موخه دا نه وه چې په کورنیو کې د تاو تریخوالی اندازه څرګنده کړي، دغه څېړنې وموندل چې په کورنی کې د ماشومانو پر وړاندی تاوتریخوالی په خپلو ټولو بڼو سره د څېړنې په ټولو سیمو کې جاري دی. په حقیقت کې، د ماشومانو پر وړاندی فزیکې تاوتریخوالی په ټولو 61 موضوعاً څیړل شویو کورنیو کې په بیلابیلو کچو موجود وو. د ټولنو د خلکو د کیسو پر بنسټ او په مسؤنه توګه داسی ویېلي شو چې، که ټولو نه، خو یو اندازه ماشومانو په دغو ټولو کورنیو کې اکثره په لویو ټولنو کې په کورنی کې په بیلابیلو کچو تاو تریخوالی زغمي.

## د ماشومانو پر وړاندېتاو تریخوالی په دوو برخو وېشل کیږی:

تاو تریخوالي چې د انضباط او یا سزا په ډول تری کار اخستل کیږی؛ او تاو تریخوالی چې د غوسي، روحي فشار او یا ناامیدی له کبله د مرتکب لخوا ترسره کېږي.

دغه دوه کټګوري د تاوتریخوالي د اداره شوی او نه اداره شوی مفهوم په نظر کې نیولو سره یو شان دی. داسی پوهه موجوده ده چې په حقیقت کې د دغو دوو کټګوریو تر منځ زیاتی موجود دی: په سمه او سنجول شوی ډول تاو تریخوالي چې د انضباط او یا سزا ورکولو په موخه وی، او تاو تریخوالي چې بنیاد یې د شخص غوسه وی او خپله اداره یې له لاسه وکړی وی، د ماشومانو پر وړاندی د دغه دوه ډوله زور زیاتی تر منځ توپیر موجود دی. سره له دې، د تحلیلي څرګندونې په موخه د دغه دوه ډوله تاوتریخوالی طبقه بندي ګټور کار دی.
سر بیره پر دی، د ماشومانو پر وړاندی زور زیاتي په ښکاره او عمومي توګه د دغه دوه کټګوریو په برخه کې د ځواب ویونکو لخوا تر بحث لاندی راتلی. په بیلا بیلو ولایتونو کې د ماشومانو پر وړاندی د تاو تریخوالی په ډول ډول بڼو کې د لږ شان توپیر سره سره، د تاوتریخوالي ډېری عامی بڼې چې څرګنده شوی هغه، په څپېړه وهل، ناوړه خبری، په سوک، لغته، لښته، کیبل او پایبوټانو باندی وهل وو. په حقیقت کې، د ډېرو کورنیو لپاره دغه راز تاوتریخوالي کېداي شي د نورمال یا د ورځني تاوتریخوالی بیلګه ورکړي. د بی شانه یا غیر معمول تاوتریخوالی د ډولونو بېلګې چې د دغه څېړنې په بهیر کې موندل شوي عبارت دي له:

په ماشومانو ډزی کول، په رسی تړل، د ژمي په سړه هوا کې بهر په یخو اوبو مینځل او د خلکو پر وړاندی د هغوی سپکاوی. د ماشومانو پر وړاندی د تاو تریخوالي ډېرو کیسو باندی په مشرح توګه بحث وشو او د ماشومانو پر وړاندی د تاو تریخوالی په هکله بیلا بیل لید لوری او مفکوري راغونډې شوی. دغه معلومات پدی موخه تجزیه کېږي څو د دغه لاندی مسایلو په پوهیدو کی تری ګټه واخستل شي:

- د ماشومانو پر وړاندی د افرادو د تاوتریخوالي او دوامداره یا مزمن تاو تریخوالی دلایل او عوامل؛
- څوک د ماشومانو پر وړاندی تاو تریخوالی کوی؛
- څوک د ماشومانو پر وړاندی د تاو تریخوالی حق لري او د تاوتریخوالی د دغه شان وړوالي په هکله لویان څه ډول احساس کوي؛

• د ماشومانو پر وړاندی تاو تریخوالی څومره معمول دی؛

• د ماشومانو پر وړاندی تاوتریخوالی د وخت په تیریدو سره څه بدلون موندلی دی .

دغه پانه د ماشومانو پر وړاندی د تاوتریخوالی په هکله د لویانو پر لید لورو او مفکورو متمرکزه ده، هغوی خپله د ماشومتوب پر مهال دغه شان تاوتریخوالی پر خپل ځان لیدلی دی. د مشرانو لیدلورو باندی په تمرکز سره دغه پاڼه هغه مسایل چي ولی میندی او پلورونه په کورنی کي د ماشومانو پر وړاندی سخت دریځ لري، تر بحث لاندی ځیړنیزه ډلو له ماشومانو سره د عملی او میتودی دلایلو لـه کبله مرکه و نـه کـړه .

همدا رنګه د تاوتریخوالی ځانګړی بني په دغه پانه کي نه څیړل کیږي:

لومړی،

د ماشومانو پر وړاندی جنسی تیری د دغه څیړني د لویي پروژي له مقصد او بهیر څخه بهر وو.

دوهم،

د ماشومانو واده او اجباري ودونه په دغه پاڼه کي تر پوښښ لاندی نه دي راغلي، خو د دغه اداری په یوه بله پانه چي د ودونو د کړنلارو او په کورنی کي په تاوتریخوالی باندی د هغې د اغېزو اړوند پروژه کي راغلي، څیړل کیږی.

دریم،

په دغه پاڼه کي په اصلي توګه د ماشومانو پر وړاندی د فزیکي تاوتریخوالی او بدو وینااوو په هکله یو لړ بحثونو باندی ټینګار شوی دی. د ماشومانو پر وړاندی بی پروایي او په کورنی کي ماشومان په زوره شاقه کارونو ته اړول په تفصیل ندی بیان شوی، ځکه چي دغه مسایل د پراخي څیړني د پروژی له مقصد څخه بهر وو او همدارنګ ځواب ورکوونکو په دی هکله ډېری خبری نکولي .

د دغه څیړني د موندنو پر بنسټ، دغه پاڼه څو مهمه استدلالونه کوی:

لومړي،

په هغو ټولنو کي چي څیړنه تر سره شوه، د ماشومانو پر وړاندی تاوتریخوالی د کورنی د غړو له خوا منل شوی کار وو، په زیاته کچه تری کار اخستل کېدو او خلك ور سره آشنا وو. سره له دې، د ماشومانو په وړاندی تاوتریخوالی په پراخه کچه د منلو وړ ندی. د ماشومانو په وړاندي دا ډول کړه وړه د منلو وړ ندي او ښه هم نه بریښي.

دوهم،

او د لومړنی موندني د پایلی په توګه، ډېر خلك لېوال دي څو د خپلو ماشومانو د روزني لپاره د تاوتریخوالی څخه پرته نوری لاری چاری غوره کړي، مګر د ورته لارو چارو په اړوند ډېر لږ معلومات لري.

دریم،

ډېر تاوتریخوالی چي ماشومانو ته متوجه ده هغه د لویانو د احساساتو سره تړاؤ لري، کله چي د کورنی مشر غړي د فشار لاندي وینو ماشومانو یا خوینديي او وررونه د هغوی د غوسي قرباني ګرځي.

## څلورم،

په کورنۍ کې د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالی د نورمالی او عادي اړيکي د یوی برخي په څیر ګڼل کیږي. او د میندو او پلرونو د دغه کار په اړه کوم خاص ټولنیز قضاوت نه کیږي. ځکه خو، د ماشوم په وړاندی د ظلم او سخت دریځ خپلولو پر مهال د رټلو یا تورنیدو څخه لږه ویره لیدل کیږي . د ماشومانو د روزلو د نورو لارو رامنځته کول، د روحي فشار د اداره کولو مهارتونه او په کورنی کې د ماشومانو په وړاندې د ډېر لفظي انتقاد (چې پخپله د ټولنې څخه رامنځته کیږي) تاوتريخوالی به د تاوتريخوالی په وړاندې د ننګوني تر ټولو ښې او اغیزمني لارې وي.

دا لاندینی فصل د نوموړې څیړنې میتود تر بحث لاندې نیسي او د څیړنې هغه میتودونه چې د معلوماتو د راټولولو او تحلیل لپاره په کارول شوي، په لنډ ډول ښيي. بل، دریم فصل د څیړنې اته بیلابیلې سیمې تشریح کوي. څلورم فصل د والدینو هغو امیدونو او هیلو ته لنډه کتنه کوي کوم چې د خپلو ماشومانو د راتلونکي لپاره يې لري او همدارنګه په کورنی کې د ماشومانو رول روښانوی، څو هغه شرایط څرګند کړي په کوم کې چې د ماشومانو پر وړاندی تاوتریخوالی او اجبار ترسره کیږي. پنځم فصل د هغه تاوتريخوالي نمونې او ډولونه تشریح کوي چې په ټولنو کې چیرته چې دغه څیړنه ترسره شوه عادي او معمولي بریښي. همدارنګه دغه فصل د هلکانو او نجونو د روزنې ترمنځ توپیر په ګوته کوي او دا هم بیانوي چې په یوې کورنی کې چاته او پر چاباندې د تاوتریخوالی حق ورکول شوی. نوموړی فصل دا هم سپړي چې ټولنه د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالی د زیان څخه څه خبرتیا لري. شپږم فصل د بدني سزا د استعمال په وړاندی د کړو وړو توپیر څیړي او داسي نمونې وړاندې کوي چې د یوې کورنی ګړ شمېر غړي بیلابیل نظرونه لري. نوموړی فصل دا هم بیانوي چې څرنګه د خلکو معنوي نظرونه د ماشومانو سره د تاو تریخوالی په مهال د هغوی د اصلي چلند سره توپیر لري. اووم فصل د بدني سزا په اړه د میندو او پلرونو مختلف دلیلونه څیړي او د ماشومانو د روزنې او تربیې ځینې نوری لارې چې د ځواب ورکوونکو لخوا تشخیص شوي، وړاندې کوي. اتم فصل د ماشومانو په وړاندی د تاوتريخوالی لا زیات عوامل بیانوي، چې د لویانو د روحي فشار او ناامیدی د احساس له امله چې کېدايشي په کورنی کې د ماشومانو په وړاندی د تاوتریخوالی لامل وګرځي، تمرکز کوي. نهم فصل د خلکو د ادراك او پوهې د څیړنې پوسیله حالاتو ته د بدلون لپاره خلاوو ته پام را اړوي څو جوته کړي چې څنګه او په څه ډول په کورنی کې د ماشومانو په وړاندی تاو تریخوالی د وخت په تیریدو سره بدلون موندلي. وروستي او د دغه پاڼي د پای او بشپړیدونکي فصل تر ټولو مهمو او ارزښتناکو بحثونو باندی رڼا اچوي او د پالیسی او پروګرام هغه وړاندیزونه چې د دغه څیړنې څخه لاسته راځي وړاندی کوي .

لکه څرنګه چې دا مضمون په کورنۍ کې د ماشومانو په وړاندې د تاو تریخوالی اړونده مسایلو باندی تمرکز کوي مګر د یادونې وړ ده چې د نوموړې څیړنې کاري ټیم د ماشومانو سره د هغوي د والدینو او نورو مشرانو لخوا د ژورې مینې محبت او پاملرنې شاهد هم دي. همدا راز والدینو د خپلو ماشومانو د راتلونکي په اړه خپلې ژورې اندیښنې او پراخه هیلې او امیدونه څرګند کړل، لکه څرنګه چې پدې اړه په څلورم فصل کې ورته اشاره شوېده»

د شپاړسمي مقاله پای

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

## د تاوتریخوالي سونامي

## ۷

## اوه لسمه مقاله

**په اوسنۍ زمانه کې په نړیواله کچه له کوچنیانو سره د تاوتریخوالي څو غوره بیلګې، چې د بشریت نوم ته یې تور داغ ګڼلی شو:**

**۱ ـ د سوریې په جګړه کې یو ماشوم په زخمي حالات کې ډاکټر ته وایې: زه به خدای ته ټولې خبرې وکړم چې څه روان دي.**

**۲ ـ د موسل په ښار کې یوه عراقي جینۍ په زخمي حالات کې منډې وهي کمره مین ته وایې: کاکا له ما نه ویډیو مه اخله، زه بې حجابه یم.**

**۳ ـ یو فلسطینی ماشوم د ډیرې لوږې په وخت کې خدای ته سوال کوي: ما ژر واخله که جنت ته لاړم لږ څه خو به وخورم.**

**۴ ـ د افغانستان په جګړه کې د یو ماشوم لاس شدید ټپي و، د درملنې په وخت کې ماشوم ډاکټر ته وایې: ډاکټر صاحب لستونړی مې مه پرې کوه، نورې جامې نلرم.**



د کتاب ليکوالي، د خلکو د نظرياتو په چوکاټ کې دا نظر وړاندې کړی دی چې بدني سزا د تاديب د يوې بنې په توګه د دوی له پاره د منلو وړ ده، په داسې حال کې چې په پرمختللې نړۍ کې د تاوتريخوالي هيڅ ډول د منلو وړ نه دی، عاملين يې مجرم شميرل کيږي او د قانون په چوکاټ کې سزا ورکول کيږي. د دې پروژې د پوښتنو په ځوابونو کې راغلي دي چې وهل ټکول او لا د وسلې کارول هم مجاز ګڼل شوي دي. د کتاب د پنځم څپرکي په لومړۍ برخه کې د بيلابيلو سيمو د خلکو له خولې راوړل شوي دي:

«د بدني سزا بڼې، ډولونه او شدت "چې ډب نه وي ادب نه وي" (پښتو متل) لکه څرنګه چې په مقدمې کې په ډاګه شوه، دغې څېړنې د تاوتريخوالي ګڼ شمېر ډولونه کوم چې د شوخۍ د سلوك په صورت کې په کار وړل کېږي راپه ګوته کړلو چې ځينې يې په لاندې ډول دي : په څپېړه وهل، غوږ کشول، کنځل، په لغته يا سوك وهل، په کوتك يا د برق په کيبلو وهل او يا په بوټانو وهل او داسې نور. د يادونې وړ ده چې د برق د کيبل په واسطه وهل د کابل او هرات د ښارې او کليوالو سيمو څخه بهر ډېر کم اوريدل کيدل. په لښته او څپيړه وهل په څلورو واړو ولايتونو کې تر ټولو عامه او کاريدونکې سزا بلل کېده . د ننګرهار ولايت يواځينې استثناء وه چې د ماشومانو په وړاندې د سلاح د کارولو هم په ګوته شوې وه، او هلته د ماشومانو په څپيړه وهلو باندې ډېر ټينګار کېده. په پښو باندې د لښتې په واسطه د ماشومانو وهل هم د ځينې خلکو لخوا د سزا په توګه په ګوته کېده . د ماشومانو د په سوك او لغته او په ټيګه وهلو خبرې هم ډېرې کيدې . ماشومانو ته د کنځل خبرې ډېرې نه کيدې، مګر ځواب ورکونکو ته دا د ارزښت وړ نه برېښېده چې د ماشومانو د تأديب په اړوند د چا پوښتنو ته ځواب ورکړي. نو کله به چې د لفظي غوسې خبره وشوه نو هغوي به په دې ټينګار کاوه چې لفظي غوسه په ښځو کې ډېره عامه خبره ده. د راپورونو له مخې د لفظي غوسې مثالونه ډېر شديد دي. د مثال په توګه، د باميانو د ولايت په ښارې سيمه کې د منځنې عمر يو سړي وويل چې خپلو ماشومانو ته داسې وايي "په ګور شې او الله مو رانه واخله". په نورو مثالونو کې د کابل د کليوالي سيمې يوې بوډۍ ښځې د خپلې نږور په اړوند وويل چې نږور يې خپلو بچيانو ته وايي چې پلار يې ايران ته تللی او هلته مړ دی . د لفظي تيري په څير ماشومانو ته د تهديدونې تاوتريخوالي هم پکار وړل کېده، د مثال په توګه د باميانو د کليوالي سيمې يو د پوخ عمر اوسېدونکې چې ماشومانو ته فزيکي سزا نه ورکوی د څېړنې ټيم ته وويل چې لور يې داسې تهديد کړه چې و به يې ترې او تر هغه به يې ووهي چې د خوځېدو څخه ولويږي، دا ځکه چې هغې د ګاونډې د لور سره جګړه کړې وه . د سزاګانو ترمنځ کوم توپير ونه موندل شو مګر يوازې د کليوالو او ښارې سيمواو همدارنګه د غريبو او شتمنو کورنيو تر منځ لږ څه توپير موجود ؤ. ترټولو عام سلوك چې ماشومان دهغو په ترسره کولو سره وهل کيږي (په ځانګړې توګه د نجونو لپاره مګر هلکان هم تر ډيره بريده پکښې راځې) د هغو لړۍ د ماشومانو د تصورشوي جنسي والي او غلا څخه پيليږي ان تر دې چې د ماشومانو د کور نامناسب دننه او يا دباندې جګړې، خپل ګټور کارونه لکه د غاليو اوبدل په صحيح ترتيب سره نه کول، شوخي کول، ګډوډي جوړول...

په ماشومانو باندې تاوتريخوالی د هغوی د تأديب او تربيې لپاره د ډېر کم عمر څخه پيليږي. لکه چې د شلو کلو په شاوخوا عمر کې يوه ښځه چې د هرات ولايت د کليوالي سيمې اوسېدونکې ده د خپلو دريو وړوکو بچيانو په اړوند وايي : کله چې زما زوي بې ځايه اوبه ضايع کړي نو زه يې وهم ځکه چې په سختۍ سره اوبه راوړل کېږي، او يا يې هغه مهال وهم چې ګډوډې وکړي او يا خپلې جامې چتلې کړي... زما مشر زوی درې کلن دی او زما دوهم زوي وړوکی دی .د دوه يا دريو کلو په عمر ماشومانو ته د سزا ورکولو ټينګار د څېړنې په لړ کې د نورو خلکو لخوا شوی ؤ .د ماشومانو په وړاندې تاوتريخوالي شدت ته په اشارې ځينې ټولنو داسې وويل چې د سزا ورکولو په مهال کېداې شي ځينې ماشومان کلك ټپي او يا له منځه ولاړ شي . د کابل په ښارې سيمه کې يوې بوډۍ ښځې د نورو بوډۍ ښځو سره د يوې ګډې ناستې په ترڅ کې وويل چې خلك بايد خپل ماشومان داسې ونه وهي چې په غلطۍ ورڅخه ووژل شي. داسې نمونې

وړاندي شوي چي والدينو خپل بچيان سخت ټپيان کړي ؤ. يو سړي د ځوانانو سره د يوې ګډې ناستي په ترڅ کي وويل چي خلك نجوني او ښځي د دارو درملو د لوړو بيو لپاره ډېري نه وهي : هيڅ څوك خپلي ښځي او لوڼي نه وهي ځکه چي لاسونه يا خپې يې ماتيږي او د دارودرملو بيې هم لوړي دي. ځکه مونږ بې وزله يو او مونږ نشو کولاي د هغوي د دارو درمل د توان څخه ووځو . بصيرت د منځني عمر سړی چي د دريو ماشومانو پلار دی او د هرات د ښارې سيمې اوسېدونکی دی غواړي چي خلکو ته نصيحت وکړي چي څرنګه د ماشومانو د وهلو ټکولو څخه ځان وژغوري : دا نورو ته زما نصيحت دی چي: تاسو کولاي شئ خپل ماشومان په لښته ووهی ځکه په لښته وهل هغوي معيوب نه بلکه يوازې سخت يې دردوي .ځيني وخت د ګډو ناستو په مهال خلکو د هغه تاوتريخوالو په اړوند خبرې کړې وې چي په خپلو ماشومانو يې ترسره کړې وې . د ښځګې په توګه د ننګرهار ولايت د ښارې سيمې يوې د پاخه عمر مېرمنې وويل چي خپله لور يې د سر په شاوخوا کي وهلي وه او د څو کلو په تيريدو سره د هغې لور د سر د خوږو څخه شکايت کاوه . هغې وويل چي اوس يې داسې پريکړه کړې چي بيا به ماشومان په سر نه وهي . د کابل په ښارې سيمه کي د غريبې کورنی يوې پخې ښځې د يوې ګډې ناستې په مهال د خپلي لور هغه کيسه وکړه چي څرنګه يې هغه په خوله باندې وهلي وه او خوله يې وربانديې ويني کړې وه . همدارنګه د کابل په کليواله سيمه کي د غريبې کورنی د پاخه عمر يو سړې چي د اتو ماشومانو پلار دی د خپل هغه ځوان زوي کيسه کوي چي په خوله باندې وهلی ؤ او خوله يې د وينو څخه ډکه وه . همغه سړي وويل چي خپل ماشومان معمولاً په لښته وهي، وروسته بيا د همدې ګډې ناستې په مهال همغه سړي پدې ټينګار وکړ چي د ماشومانو د وهلو سره موافق ندی.

دا د دې ښکاره نمونې دي چي څرنګه د ماشومانو په وړاندې تاوتريخوالي ته مخه کيږي. خلکو په لويو ناستو کي دا ومنله چي د خپلو ماشومانو په وړاندې ډېر توند دي، مګر په عين وخت کي تاوتريخوالی د منلو وړ نه بولي. دا ډول اختلاف چي د خلکو د نظر او عمل په مينځ کي موجود دی يعني په عمل کي يو څه کوي مګر په فکر کي بل څه، په شپږم فصل کي په ډاګه شوېدی.»

اوه لسمي مقالي پاى

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنيانو باندې

## د تاوتريخوالي سونامي

## ۸

## اتلسمه مقاله

**په اوسنۍ زمانه کې د تاوتريخوالي څو غوره بېلګې چې بشريت نوم ته يې تور داغ ګڼلی شو:**

**۱ ـ د سوريې په جګړه کې يو ماشوم په زخمي حالات کې ډاکټر ته وايي: زه به خدای ته ټولې خبرې وکړم چې څه روان دي.**

**۲ ـ د موسل په ښار کې يوه عراقي جينۍ په زخمي حالات کې منډې وهي کمره مين ته وايي: کاکا زما ويډيو مه کوه بې حجابه يم.**

**۳ ـ يو فلسطيني ماشوم د ډيرې لوږې په وخت کې خدای ته سوال کوي: ما ژر واخله که جنت ته لاړم لږ څه خو به وخورم.**

**۴ ـ د افغانستان په جګړه کې د يو ماشوم لاس شديد زخمي وو، ډاکټر سره د لاس له پرې کيدو پرته بله لار نه وه. ماشوم ډاکټر ته وايي: ډاکټر صاحب د لاس پرې کيدو په وخت کې مې لستوڼی مه پرې کوه نورې جامې نلرم.**

په کتاب کې چې نور سرليکونه او د سرليکونو محتويات ولوستل شي، لوستونکی پوهيږي چې خلک تاوتريخوالی د يوه واقعيت په ډول داسې مني چې بايد تاوتريخوالی ترسره شي. دغو سرليکونو ته پام وکړئ:

ـ د هلکانو او نجونو د بدني سزاګانو توپير،

ـ په کورنۍ کې څوك د ماشومان د وهلو حق لری؟

ـ بدني سزا د وروستی وسيلې په توګه،

ـ بدني سزا د يو ډول ښه تأديب په توګه،

- د ماشومانو په وړاندېهرډول تاوتریخوالي د نه منلو وړ،
- د ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالي دلایل،
- د نورو خلکو قار او غوسه پر ماشومانو ویستل،
- او...

البته په کتاب کې د دې نظریاتو تر څنګ د اروپایي نظریاتو په څیر هم نظریات وړاندې شوي دي او د کتاب په ورستیو برخو کې د یوې ښې پایلې په توګه داسې ښودل شوې ده چې د خلکو نظریات دا ښیي چې له ماشومانو سره د تاوتریخوالي مسأله په مثبت لوري روانه ده او د خلکو په نظریاتو کې بدلون راغلی دی. دا یې یوه بیلګه ده:

پنځم چوکاټ: د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د لړیدو درک

*اوس هغوی خپل ماشومان نه وهي، خو پخوا به یې وهل اوس وخت خلک نبه شوي دي خپله غوسه په نبه توګه کنترولوي هغوي وړه خبر نه لويږي څکه چې د دنيا په بيلا بيلو برخو کې يې ژوند کړي دي* — **د باميان له کليوالې سيمې ښځه، د ځوانو ناريتنه وو سره د يو دله ييزه مرکې څخه يو ټکی**

*پخوا به هر کله مور او پلار خپل ماشومان وهل خو اوس يې دومره کلک نه وي اوس ماشومان زيات وهل نځوي ځکه چې هغوي شوونځي ته زي پخوا نبوونځي نه وو که يو نبوونځي هم وو د کورني جګړي له کبله به ماشومان تللای نشوي* — **د کابل کليوالې سيمه. له سپين سرو ښځو سره د يو ډله ييزه مرکې څخه يو ټکی**

**پخوانيو خلکو به خپل ماشومان ډير وهل او سزا يې ورکوله ځکه چې ناپوهې وه. د نننۍ زماني خلک لا اوس هم خپل ماشومان وهي، خو سزا را کمه شوي ده. زه دا نه وايم چې اوس خلک خپل ماشومان نه وهي خو د سزا کچه را ټيټه شوي ده— په کليوالې ننګرهار کې، عبد الغالب د دايا له کورني څخه**

*هو، زموږ وخت ډير بد وو، کله به چې ما څه خطا وکړه نورو به وهلم ما خپله به زما زوي کله چې کوچنی وو په رسۍ واهه. زه خپل لمسيان هغو مره نه وهم چې خپل زامن به مې وهل، دوی يوازې يوه يا دوه څاپيړې وهم* — **د باميان له کليوالې سيمې څخه، سپين سرې ښځه**

د کتاب د پایلو او وړاندیزونو په برخه کې، له ماشوم سره د کیدونکې تاوتریخوالي دلایل داسې په نښه شوي دي:«

پنځه اساسی دلایل چې د ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالی سبب ګرځي:

• لمړی، ځینې خلك جسمي سزاګاني د ماشومانو د ښې روزنې لپاره یوه ښه لاره ګڼي.

• دوهم، بل هغه خلك چې داسې سزاوې د ماشومانو د ډېر بد سلوك په حالت کې د هغوی لپاره سزا یې ګڼې چې دا ورستې لاره ده، خو دا پداسې حال کې وي چې داسې میندې او پلرونه د خپلو ماشومانو د روزنې لپاره د دسپلین د نورو لارو چارو څخه بیخبره وي.

• دریم، د میندو او پلرونو هغه تشویش چې د خپلو ماشومانو د راتلونکې په باب او دا چې دوی به په راتلونکی کې د تولنې سالم غړي نه شي، او د دسپلین د نورو لارو چارو څخه د بیخبرۍ په صورت کې هغوی ته د جسمي سزاګانو د ورکولو باعث ګرځي، پداسې حال کې چې دوی پدې پو هیږي چې ددوی و هل ټکول ښه کار ندی او یوه موثره طریقه نده.

• څلورم، کله نا کله ذهني فشار او خواشینیتوب میندي او پلرونه پر ماشومانو باندي تاوتریخوالی ته اړ باسي. په کورنیو کي د لویانو تر منځ د ترخو اړیکو موجودیت او اقتصادي ضعف د ذهني فشار او خواشیني احتمالي عوامل ګڼل کیږي.

• پنځم: د ماشومانو په وړاندي تاوتریخوالی په ټولنه کی په پراخه پیمانه رواج لري او خلکو ته د یو عام کار په شان ښکاري، او پدې اړه د ټولني په عام ډول د منفی قضاوت تغیرول آسانه کار ندی.»

رینیتیا هم له ماشوم سره د تاوتریخوالي د تر سره کیدو عمده دلایل همدا دي، خو د مخنیوي لارې یې باید وښودل شي او دې ستونزو ته حللارې هم پیدا کړل شي. د دې کتاب په پای کې د «د پالیسی او پروګرامونو لپاره وړاندیزونه» تر سر لیک لاندې، د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالی د مخنیوي لپاره یو شمیر وړاندیزونه شوي دي، **هغه** دا دي:«

د پالیسی او پروګرامونو لپاره وړاندیزونه:

• هر هغه پروګرام چي د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالی د مخنیوي لپاره کار کوی باید له دی خبری اګاه وي چي په ټولنه کي د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالی د منفي نتایجو یو عمومی درک موجود دی او خلك په دې پوهیږی چي تاوتریخوالی د ماشومانو د روزنی او هڅولو لپاره ښه لاره نده . ځکه خو د عام پوهاوي پروګرامونه باید خلك د ماشومانو د روزلو په نورو مهارتونو او لارو چارو باندې سمبال کړی.

• د روزنې نور مهارتونه او لارې چارې باید د هغو موسساتو له خوا د مختلفو ټولنو په مرسته طرح شي چي په دې اړه کار کوي تر څو ډاډه شی چي دغه لاری د افغانستان د بیلابیلو چاپیریالو سره مناسبې دی، او د افغانستان ډیرو راز راز کورنیو او ټولنو لخوا به اختیار شی. او ځکه باید ډاډه شی چي له تاوتریخوالی څخه پرته د ماشومانو د روزلو دغه لارې د افغانستان په چاپیریال کې د پلی کیدو وړ دی.

• د روزنې نور مهارتونه او لارې چارې باید په ټولنه کې په مستقیمه توګه تدریس او پری بحث وشي . دا کار د رسوخ د خاوندانو لکه سپینږیرو ( نارینه او ښځو)، ملا امامانو، نرسانو او ښونکو له خوا په ټولنه کې په ښه توګه تر سره کېدای شي.

• څېړنې داسی خلك هم په ټولنو کې په ګوته کړل چي د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالي کاملاً مخالف و. د داسې خلکو څخه په ټولنه کې د عام پوهاوي په تبلیغ او روزنیزو کارونو کې د موثرو پروګرامونو په لاره اچولو سره د تاو تریخوالي د مخنیوي لپاره ښه ګټه اخیستل کېدای شي.

• دا پروګرامونه باید د ټولنې د هڅولو لپاره په کار واچول شي تر څو پوري د هغه کسانو سره چي د ماشومانو سره تاو تریخوالی کوی مرسته وکړي چي د هغوی په وړاندې تاوتریخوالی بس کړي.

• دا پروګرام او کمپاین باید د ټولنې د هڅولو لپاره پکار واچول شي تر څو خلك په دې باندې قانع شي چي د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالي په ټولنو کې د منلو وړ کار ندی . (حتی د فکري فشار او خواشینیتوب په حال کې هم د ماشومانو په وړاندې تاوتریخوالي په ټولنو کې د یو نورمال او قبول شوي سلوك په حیث نه پیژندل کیږي.)

• د فکري فشار او خواشینیتوب د اداره کولو مهارتونو ته وده ورکول او په کورنیو باندې د هغو د تاثیراتو په اړه پوهاوی به هم د ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي په مخنیوي کې مرسته وکړي»

زه دا پاسني وړانديزونه د ليکوالي د ليدنو او تجاربو پايله گڼم چې ټول پر ځای هم دي؛ خو دا بايد هيره نه شي چې څرنگه چې زموږ په ټولنه کې د تاوتريخوالي ډولونه ډير دي، همداسې يې د مخنيوي له پاره د وړانديزونو لست اوږد او لارې چارې يې هم بايد ډيرې وي، د قانون د يوې برخې په توگه ومنل شي او دا قانون د يوه قوي حکومت له لوري په جدي ډول تطبيق کړای شي او سر غړونکو ته يې داسې سزا ورکړل شي لکه په قزافستان کې چې پر کوچنيانو باندې د جنسي تيري مرتکبينو ته ورکول کيږي، يعنې د تل لپاره، له نارينتوب څخه محروموِل.

په افغانستان کې د دې او دې ته ورته څيړنو، ارزونو او وړانديزونو پايلې، د قانون د نشتوالي او تنظيمي ټوپکي انارشی د موجويت په پار؛ ناکامي او بې نتيجې دي او تر څو چې همدا ټوپک او ټوپکوال حاکم وي او د «جهاد؟ او مقاومت؟» تومار په چلش کې وي، همدا حال به راون وي. په داسې حالت کې د متخصصينو رالېږل، څيړنې کول او د علمي معيارونو له مخې وړانديـزونه کول، هسې په هوا کې د تورې ښورول دي او حلاره يې دا ده چې لومړی د ټوپکي له لاسه ټوپک واخستل شي، نوی مدرن قوانين حاکم کړای شي او د دې قوانينو په چوکاټ کې د نوي نسل په روزلو باندې په نوې بڼه پيل وشي؛ بيا به نه تاوتريخوالی وي او نه به ...

په افغانستان کې له ټولو خلکو، په تيره له ماشومانو سره د روان تاوتريخوالي په اړوند د يو شاعر دوست دا بيت را په زړه شو:

زما د ژوند پر سيمه مالي څه کرې گلونه
پـر دې شگلنه دښته بهارونه ستړي شوي

دا خبرې د نا اميدی په پار نه کوم، بلکې په دې خاطر يې وايم او ليکم چې: تر څو زموږ په ټولنه کې د ټوپک او ټوپکوال امر او قانون وي او د دوی افکار د خلکو پر ذهنيتونو باندې حاکم وي؛ له گردو خلکو، ټولنې او په تيره له ماشومانو او کوچنيانو سره به د تاوتريخوالي دا لړی روانه وي او لکه سيوري په هر لوري به يې تعقيبوي.

د اتلسمي مقالې پای

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

## د تاوتریخوالي سونامي

## ۹

### (د «مهسا» تښتونه او وژنه)

نولسمه مقاله



**په اوسنۍ زمانه کې له کوچنیانو سره د تاوتریخوالي څو غوره بیلګې چې د بشریت نامه ته یې تور داغ ګڼلی شو:**

**۱ ـ د سوریې په جګړه کې یو ماشوم په زخمي حالات کې ډاکټر ته وایي: زه به خدای ته ټولې خبرې وکړم چې څه روان دي.**

**۲ ـ د موصل په ښار کې یوه عراقي جینۍ په زخمي حالات کې منډې وهې کمره مین ته وایي: کاکا زما ویډیو مه کوه بې حجابه یم.**

**۳ ـ یو فلسطیني ماشوم د ډیرې لوږې په وخت کې خدای ته سوال کوي: ما ژر واخله که جنت ته لاړم لږ څه خو به وخورم.**

**۴ ـ د افغانستان په جګړه کې د یو ماشوم لاس شدید زخمي وو، ډاکټر سره د لاس له پرې کیدو پرته بله لار نه وه. ماشوم ډاکټر ته وایي: ډاکټر صاحب د لاس پرې کیدو په وخت کې مې لستوڼی مه پرې کوه نورې جامې نلرم.**

**۵ ـ او په پای کې زموږ «مهسا»، چې د اسارت او مرګ شیبو کې به زموږ «مهسا» څه ویلي وي؟**

«له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه» تر سرلیک لاندې د مقالو د خپرولو په پیل کې ما دې موضوع ته اشاره کړې وه چې:

زموږ په ټولنه کې د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی د یوې داسې سونامي حیثیت لري، چې زموږ د ټولنې په یوې محسوسي او عیني ستونزې بدله شوې ده. دا سونامي هر نسل، هره لسیزه، هر کال، هره میاشت هره اونۍ، هره ورځ، هر ساعت، هره دقیقه او هره شیبه د سل ګونو او زرګونو ماشومانو او کوچنیانو اوسنی او راتلونکی ژوند ځپي او د تباهۍ کندې ته یې سر له اوسه ور پورې وهي.

خو اوس خبره نوره هم خرابه او داسې برید ته رسیدلې ده چې زموږ د ټولنې له پاره د لمنې او تندي د تور داغ حثیت لرلای شي.

د کوچنیانو او ماشومانو د ژوند د خوندیتوب او هر اړخیز ښه کېدو په برخه کې چې په هېوادنۍ، سیمه ایزې او نړیوالي کچې څه ویل شوي او یا کوم قوانین وضع شوي دي؛ یوه سلنه هم د افغانستان د ماشومانو او کوچنیانو له پاره نه په پام کې نه نیول شوي دي او نه تطبیق شوي دي. کله، کله به چې ما د ځینو مقالو په پیل کې، په ترڅ کې او یا په پای کې لیکل:

د ماشوم د حقونو په رڼا کې،
که د افغانستان ټولنه، په ټول کې
و ارزول شي، داسې باید و ویل شي
چې زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنیانو له
پاره د مځکې پر مخ د یوه ریښتیني دوزخ حیثیت لري.

نو ځینو دوستانو به راته ویل چې:

«ته یو څه افراط کوې!»

ما به بیا ورو ورته وویل چې:

«ور به شي، خبر به شي!»

چې دربانديې راشي، بیا به پوه شي.

اوس د «مهسا» د ژوند په بیه، د دې د کورنۍ د تلپاتي ویر په بیه او د افغان ټولنې د هر ماشوم او د هغوی د کورنیو د دایمي ډار په بیه دا ثابته شوه چې زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د څه شي حیثیت لري؟

ــ د عادي نړۍ،

ــ د جنت،

ــ د برزخ،

ــ که د دوزخ.

د «مهسا» تښتوني او بیا وژنې ته چې له هره اړخه وکتل شي، پایله به یې دا وي چې په ریښتیا زموږ ټولنه د ماشوم د حقونو په رڼا کې، په ټول کې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د مځکې پر مخ د یوه ریښتیني دوزخ حیثیت لري.

د وژنې تر بریده پورې تاوتریخوالي د څه ډول حالت زېږنده ده او له کومو خلکو او کوم ډول رژیم سره دا تاوتریخوالی راغی او پسې باب شو؟

د سرو، شنو، سپینو او تورو بدلونونو په پایله کې د افغانستان په نامه ټولنه بې ځښته نغری شو او بې سرپوښه دیگی شو، هر څوک راغلل او د خپل دیگي د پخولو په پار یې په دې نغري کې د خپلې خوښې سون توکي کېښودل، په خپل دیگي کې چونچه وښوروله، د خپلې خوښې خواړه یې پاخه کړل، څوک یې په خپله مخه ولاړل او څوک یې اوس هم د خپلې سپین سترگۍ او زموږ د ناپوهۍ پر اساس لا همدلته زموږ د وطن په ورانو کوڅو او زموږ د فکرونو په بویونو باغونو کې د حاکمانو په څېر چکر وهي.

موږ ته که له خپلو رارسېدلي دي او که له پردیو؛ ټول مو له خپلې ناپوهۍ، بېسوادۍ او په زړو ځنځیرو کې د پاتې کېدو په وجه رارسیدلي دي.

په دې را رسېدلو تاوانونو کې یو د «باور» د نشتوالي مساله ده. زر ځلې چې چا ته ووایي چې سبق، درس، تعلیم هغه هسې په رنگارنگ غیر علمي او نامنلو الفاظو داسې ځواب درکوي چې هم دې خندا ورته راځي او هم به ورته وژاړې.

له بده مرغه چې د سیاسیونو د عمدي او غیر عمدي منفي عملونو او د استفاده جو خلکو د دایمي غولونو په وجه، زموږ په ټولنه کې بارو وژل شوی دی. دوی په دې نه پوهېدل او نه پوهېږي چې د باور وژل، د انسانیت وژل دي او پایله یې دغه حالات دي چې اوس یې خلک د ژوند په بیه پور ادا کوي. هیله ده چې باور ونه وژنئ، باور د ژوند مالگه او د وړاندې تگ یوه مهمه وسیله ده.

او په پای کې د جگړې سونامي او له هغې نه رازېدلې په لسگونو نورې سونامیگانې چې یوه په کې له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه ده.

په کابل کې صرافانو کاربندیز کړی و، هغوی سره که له یوې خوا د «مهسا» غم دی، له بلې خوا د خپلو بچو د تښتونې او وژنې وېره هم ورسره ده. په همدې اړوند دا د یو هېوادوال د زړه خواله ده:

«پرونیو خبرونو کې مې د هغو صرافانو ژړا اوریدله چې اولادونه یې کابل کې غلو اختطاف کړي او وژلي وو.

نړدې هره ورځ د ښار په بیلابیلو برخو کې د مجرمینو لخوا خلک وژل کیږي او اختطافیږي. هغه حکومت چې رعیت یې آن په پلازمینه کې خوندي نه وي، څنګه پرې خلک باور وکړي؟

له ګڼو خلکو مې اوریدلي چې دغه جنایتکاران په لوړه کچه ملاتړي لري. د سختو ورځو ولسمشر په دوره کې خو د پارلمان یوه غړې له اختطافچیانو سره د لاس لرلو په تور تورنه شوه، خو خدای خبر د کوم مصلحت له مخې خبره غلې شوه.

دا مصلحتونه دې ستاسو سر وخوري، ولس مو له ستړې پریشانۍ سره مخ کړی.»

له ماشومانو سره د تاوتریخوالي په اړوند ما په لسګونو مقالې لیکلې او خپرې کړې دي؛ خو دا ستونزه په داسې نه تماميدونکي خواشينۍ باندې اوښتې چې هره ورځ نوې غوټۍ کوي او نوي ازغي ټوکوي چې تر ټولو تازه، چوخېدونکی او زوروونکی ازغی یې د ماشومې شپږکلنې «مهسا» تښتونه او بیا وژنه ده.

د «مهسا» تښتونه او وژنه، زموږ په ټولنه کې له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي تر ټولو ظالمانه او وحشیانه بېلګه ده. د دې تاوتریخوالي تاثيرات خورا ژور او منفي دي. دومره یې ټپونه ژور دي چې درملنه یې ښايي لسیزې وخت ونیسي او یا یې هیڅ درملنې ته امید نه وي.

د دې ماشومې د تښتونې او بیا وژنې منفي تاثيرات لومړی د دې پر مور پلار، بیا پر کورنۍ او بیا د ټول افغانستان په کچه پر ټولنه باندې یو ځل بیا د ډار او وحشت څپې غالبوي.

اوس درسته ټولنه او په ټولنه کې بیا ټولې میندې او ټول پلرونه ډارېږي چې څه وخت به يې څوک ماشوم او کوچنی تښتوي، له دوی نه به څه غواړي او د نه ورکړې په صورت کې به یې وژني او که هیڅ هم نه وي یا هیڅ هم پیښ نه شي، له رواني پلوه ټول خلک ناارامه دي، ډار یې په زړونو کې ځالې کړې دي او همدا ډار پر دوی حکومت کوي، چې ډار خپله د تاوتریخوالي یو ډېر لوی او خطرناکه ډول دی، خلاصه: «آبی، تولـه بی»

ما «**د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي**» تر سرلیک لاندې د خپلو لیکلو او خپرو کړو مقالو په ترڅ کې ویلي او لیکلي دي چې زموږ د ټولنې عیني ستونزو او تجاربو ته په کتو سره، د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی په لومړي ګام کې په دریو برخو باید و ویشلای شو:

١ ــ رواني تاوتریخوالی:

(ژبنی تاو تریخوالی، ډارول، ښکنځلې کول، بد رد ویل، تهدیدول او ډول، ډول نور رواني فشارونه)،

٢ ــ جسمي تاوتریخوالی:

(وهل ټکول، شاقه کارونه،جګړو ته اړایستل)،

۳ ـ جنسي تاوتریخوال.

زه فکر کوم چې د «مهسا» په دې لنډ شېبړ کلن عمر کې، زموږ ټولني او پر ټولنه باندې حاکمو قوانینو د پاسنیو یادو تاوتریخوالو د ډولونو ډېره سلنه پر دې باندې د وژنې تر بریده پورې تطبیق کړه.

د «مهسا» تښتوني او وژنې ته په کتو سره نه یوازې د دې کورنۍ په زړونو کې ډار او ترهې ځاله کړې، بلکې دا ډار اوس د ډېرو خلکو او کورنیو ملګرتیا کوي.

وېره خپرول خپله یو ډول تاوتریخوالي دی او دا وژونکی تاوتریخوالي له همداسې پېښو سره په ټولنه کې خپرېږي. دا خپله لوی او وژونکی تاوتریخوالي دی چې د خلکو او ماشومانو ـ کوچنیانو په زړونو کې ویره خپره کړای شي او د «مهسا» تښتوني او وژنې د ټول افعان ولس په زړونو او فکرونو کې همدا وژونکې وېره خپره کړه.

د «مهسا» د تښتوني او بیا وژنې په برخه کې د ټولنې د هر قشر د زړه سوي او همدردۍ غږ جګ شو. له رئیس جمهور نه نیرلي تر قلموالو او استادانو پورې. دغو دوو بېلګو ته یې وګورئ:

«پینځه ځلوینښت کاله یې پرلپسې زموږ غوږونو کې همدا ویلې: چې د افغانانو وژنه غزا ده او ثواب لري.

د دغې ګلورینې نانځکې قصاب قاتل ( قاتلین) هم د هغو وژونکیو دویم یا دریم نسل دی، چې خامخا یې هم د کتې او هم د غزا نیت درلودلی دی .

زه، چې تر هرچا زیات ځان پر هیومانیزم ګروهمن ګڼم، هم د دې بڼکلې ماشومې تثبیت شویو قاتلانو ته اعدام غواړم. او د دې لپاره به هرځای او هرچاته خپل غږ خامخا رسوم.»

«#زه بیا بل شي ته چورت وړی یممهسا شهیده سوه او هغه دوه به اشد مجازات او اعدام سي. مګر ایا موږ تر هغو دوو نور بدتره قاتلان نه لمانځو؟، لاسونه یې نه مچو او ویاړ نه په کو؟ پر ځانو او مغزو مو حاکم کړي نه دي؟

زه دې ته چورت وړی یم چې قاتل فکر او د قاتل د احترام فکر څنګه په ټولنه کې پای ته و رسیږي. د مهسا قاتلین خو دوه نوچکه ځوانان وه و نیول سول اعدام به سي.

مګر هغه پوخ فکر چې په دې ټولنه کې حاکم دئ د قاتل د لاسونو د مچېدلو او د قاتل د درناوي د هغه د له منځه وړلو له پاره باید را پورته سو.»

په پاسنیو نظریاتو کې هم درد شته او هم د لیکوالو له لوري د حل لارو ته د دوی له نظره اشاري شوي دي.

ګوره که سرکار ته خدای دا وس او جرأت ورکړ چې د «مهسا» قاتلین یې اعدام کړل، تاسو یې داسي مه ګڼئ چې حق حقدار ته ورسید، عدالت پر ځای شو او د کوچنیانو او مشرانو نړۍ هم ګل ګلزار شوه. خبره دا ده چې زموږ پر ټولنې باندې لکه خپسه یو لوی تور وېرونکی قانون حکومت کوي، چې همدا قاتلین یې تر تور ځادر لاندې داسې وژونکې عملونه تر سره کوي؛ د قاتلینو تر اعدام مخکې باید د قاتلینو د راالېرونکو او ساتونکو لاسونه غوڅ او ریښې او فکرونه یې وچ کړای شي؛ وروسته تر هغه د تورې خپسې په شان دا تور حاکم قانون د خلکو له ذهنونو څخه د سولې په فضا کې، د ارامې ټولنې په لمن کې د عصري تعلیم په وسیله لرې کېدای شي. دا کار د یوه قانوني دولت او نوی منل شوي قانون په چوکاټ کې کېدونکی دی، نه د خیال پلونو له لارې.

خو په یاد ولرئ چې په خپل دولت او ټولنه کې همدا اوس برحاله داسي ښاغلي؟ لرو چې په زرګونو ځلي يې نه يوازي له ماشومانو سره، بلکې له ټولو خلکو او وطن سره د «مهسا» تر بیلګي هم تاو تریخوالی ترسره کړی دی، او همدا اوس هم په ډېرو ځایونو کې د درناوي؟ وړ دي.

آیا په دي کار سره د «مهسا» او د «مهسا» په خیر د ټللو متضررو، ارواوې به په موږ پوري تو لعنت نه وايي چې کله ځینې خلک، دولت او ځینې کړی د تاوتریخوالي د اصلي عاملینو درناوی کوي؟

زما له نظره اساسي پوښتنه دا ده چې پر ټولنه او ماشومانو باندې دا حاکم کړای شوي قوانین او د تاوتریخوالي دا راوړل شوی کلتور چا راوړ او دا «هر څوک په خپل سر» قانون له کوم رژیم او کوم سیستم او کومو خلکو سره زموږ وطن ته راغی؟

زما له نظره دا انارشي له تنظیمي او ټوپکي واکدارۍ سره یو ځای راوړل شوې، تقویه شوې او نوره هم باب شوې ده او پر ټولنه باندې د دې له پاره حاکمه کړای شوې ده چې دې او دې ته ورته د نورو قوانینو په چوکاټ کې د ګډوډۍ او تاوتریخوالي عاملین وکولای شي خپل غیر قانوني او غیر انساني حاکمیت او نا روا ژوند نور هم وغځوي او تر دې هم زیاتې مادي ګټې تر لاسه کړي.

دا چې څوک څنګه او چېرې متضرره کیږي، څوک وژل کېږي او څوک د تباهۍ کندې ته ورلوېږي؛ دا په دوی پورې هیڅ اړه نه لري.«مسته دې تازه ګرځي، غم دی د لالي پر سر.» دو دې مست، تازه او خندانه رځي، د دوی د منفي عملونو او کړو ګناهونو پیټی د خلک پر اوږو بار دی



«زه اوس نه یم، چې تاسو هر څه کوئ، هغه مو خوښه؛ خو په یاد ولرئ: هر څه چې پر ما شوي دي او هر څه چې ما لیدلي دي، هغه به ټکي په ټکي خدای ته ووایم.»

(د مور او پلار سپینه سپوږمۍ)

د نولسمي مقالې پای

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنيانو باندې

## د تاوتريخوالي سونامي

## ۱۰

## د تاوتريخوالي په مخنيوي کې د زغم يا مدارا رول

## شلمه مقاله

زموږ په ټولنه کې د اوږده رنګارنګ تر سره شوي تاوتريخوالي په پايله کې نن سبا زموږ خلک او ټولنه مدارا ، رواداري، زغم او تېرېدنې يا ګذشت ته زښته ډېره اړتيا لري، ځکه چې جګړې، ظلمونو او نادودو دومره ځپلي دي چې لارې ورنه ورکې دي.

د همدې له پاره مې اړينه وګڼله چې، «د افغانستان پر ماشومان او کوچنيانو باندې د تاوتريخوالي سونامي» د مقالو په دې برخه کې له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي د مخنيوي او بيا له ټولو خلکو سره د تاوتريخوالي د مخنيوي په پار؛ د مدارا يا زغم په باب هم يو لنډ بحث وکړم.

«زغم يا مدارا» ويی، د «پښتو ــ پښتو تشريحي سيند» په ۹۵۲ ام مخ کې د «مدار» په ډول ثبت شوی او په مانا کې يې داسې ورته ليکلي دي:«

۱ ــ زغم، صبر،

۲ ــ احترام، ناز، مهرباني،

۳ ــ د تاويدو ځای، ګردش،

۴ ــ زهره،

۵ ــ جادو،

۶ ــ ملاحظه، قدر، خاطر.»

(زاهد مشوانی عبدالقيوم، پښتو ــ پښتو تشريحي سيند، دانش خپرندويه ټولنه، دريم چاپ، ۲۰۰۹ ام ميلادي کال، ۹۵۲ ام مخ)

په نورو قاموسونو کې يې هم مانا د زغم، ګذشت، رواداري او تيريدنې په بڼه ثبت شوې ده چې په دې مقاله کې هم د زغم، ګذشت، درناوي او صبر په مانا کارول کېږي. مدارا يا زغم، له موږ سره د متفاوتو چلندونو درناوي ته ويل کېږي.

ملګرو ملتونو د نومبر شپاړسمه د مدارا یا زغم د ورځې په نامه نوملې ده او هر کال یې د لمانځلو په ترڅ کې بیلابیل پروګرامونه جوړوي او د دې پروګرامونو په ترڅ کې هڅه کوي چې د انسانانو په منځ کې د شته عقیدتي او سلیقوي تضادونو په خاطر، د سولې او پوهاوي مسأله مطرح او پلوي یې وشي.

د ملګرو ملتونو د یونسکو څانګې د ۱۹۹۵ کال په اکتوبر کې، (د اکتوبر له پنځه ویشتمې څخه د نوامبر تر شپاړسمې پورې) د غړو هېوادونو په ګډون، په پاریس کې د خپلې اته ویشتمې (۲۸ مه) غونډې په ترڅ کې، د زغم یا مدارا د اصولو اعلامیه تصویب او خپره کړه.

په دې غونډه کې غړو هېوادونو پر دې ټینګار وکړ چې زغم یا مدارا یوازې یو با ارزښته اصل نه دی، بلکې د ټولو ملتونو او خلکو له پاره د سولې ـ اقتصادي او ټولنیز پرمختګ له پاره لومړنی شرط ګڼل کېږي. دغه راز د غونډې ګډون کونکو، په بشري ټولنو کې د زغم او مدارا د نظریې پر پراخوالي باندې ټینګار وکړ او د مدارا د اصولو اعلامیه یې برابره کړه.

د زغم یا مدارا د اصولو اعلامیه، د بیان د ازادی پر اصولو د ټینګار پر بنا تصویب شوه. د زغم یا مدارا د اصولو د لومړی مادې له مخې، مدارا یا زغم د سترګو پټولو او درناوي په مانا نه ده، بلکې مدارا یا زغم دا مانا رسوي چې ټول انسانان، له خپلو ټولو ظاهري اختلافاتو، ژبنیو، موقعیتي، ارزښتي اختلافاتو سره ـ سره، د دې حق لري چې په سوله کې ژوند وکړي او هغسې چې دي، وي دې.

ملګرو ملتونو د زغم یا مدارا عامول او ترویجول د یونسکو اداري ته سپارلي دي. یوې څېړنې ښودلې ده چې، په هغو هېوادونو او ټولنو کې چې حاکم رژیم د خپلو مخالفانو له نظریاتو سره مقابله کوي؛ هلته له سلیقوي تصادونو رازېږېدلې جُرمونه تر نورو دا زیات او عام دي.

په بېلابیلو ټولنو او ځایونو کې خلک شاهد دي چې حاکم رژیم د دې پر ځای چې له خلکو سره مدارا وکړي او له زغم څخه کار واخلي، برعکس حاکم رژیم د ځان د ساتلو په خاطر، د مقابل لوري د نظریاتو د اوریدو پر ځای، د هغوی سټه ایستلې ده.

د یونسکو د سازمان د منشور له مخې، زغم او مدارا د دیموکراسۍ او ازادۍ تمرین دی. مدارا یا رواداري هغه حالت ته هم ویل کېږي چې موږ داسې څه ومنو یا یې درناوی وکړو چې زموږ له افکارو او نظریاتو سره مخالف هم وي.

دلته اساسي پوښتنه دا ده چې: د افغانستان په ټولنه کې چې دا ډېره موده د رنګارنګ تاوتریخوالو ځونامي ځپلې ده، مدارا، ګذشت او زغم څه حال لري او څومره دی؟

دې پوښتنې ته د ځواب پیدا کولو نه مخکې باید ولیدل شي چې، له هغه چا سره چې باید مدارا وشي او له زغم نه ورسره کار واخستل شي، له موږ سره د هغوی اختلاف څومره لوی او پراخ دی. څنګه او ولې زموږ په ټولنه او خلکو کې د بېلابیلو دلایلو له مخې، د خلکو او ټولنې په منځ کې رنګارنګ اختلافونه ډېر دي، لمن یې پراخه او شدت یې هم تر وروستۍ درجې پورې لوړ دی؛ نو ویلای شو چې د نه زغم او نه مدارا، نه ګذشت او نه درناوي لمن هم همدومره پراخه ده.

د همدې لوی او اساسي دلیل له مخې ویلای شو چې زموږ ټولنه او زموږ خلک، د مدارا یا زغم د نشتوالي په یوه لویه دایره کې راګیر دي.

زموږ په ټولنه کې د شته ستونزو په نظر کې نیولو سره، د حاکم کلتور په دایره کې موږ نه شو کولای چې د مدارا، زغم او ګذشت له اصولو څخه ډېره پیروي وکړو. د همدې دلیل له مخې ویلای شو چې زموږ په ټولنه او خلکو کې د زغم، مدارا، تیریدنې او درناوي کلتور تر اوسه

پورې په ډېره ټيټه کچه کې دی؛ همدا دليل دی چي هره ورځ، هرساعت او هره شيبه په لارو او کوڅو کي ليدل کيږي چي په ډيره وړه موضوع او واړه اختلاف سره د خلکو په منځ کي کشکړپ پيښيږي، لاس گريوان کيږي او وهل ټکول کوي، ځان، کور او ټولني ته ستونزې زيږوي.

هغه حکومتونه يا حاکم گوندونه چي غواړي يوازې خپل فکر او ايډيالوژي او يا څه چي دوی غواړي؛ هغه سم او برحقه گڼي او پرخلکو يې خامخا تطبيقوي؛ هلته د مدارا، زغم، گذشت او درناوي توري بې مانا او پوچ دي، يعني د مقابل لوري خبره نه اوري، ابداً ارزښت نه ورکوي، مدارا او درناوي نه ورسره کوي.

که د داسي حکومتونو او حاکمو گوندونو په مقابل کي خلک يا اپوزيشن هم په خپل دريځ ودريږي، ټينگار پرې وکړي او ووايي چي حکومت او حاکم گوند نه، بلکي دوی برحقه دي؛ بيا نو ټکر رامنځ ته کيږي، لفظي شخړې په وهلوټکولو او تاوتريخوالي بدليږي او ان تر نظامي برخورد پورې چي بيلگي يې همدا اوس زموږ په ټولنه کې، په سلگونو ځايونو کي ليدل کيږي.

د ټولني په يو څه بوه خلک بايد ټولنه او خلک په ځير سره د روانو پيښو له مخي وڅيړي او دا پايله د خلکو په مخ کي کيږدي چي په ټولنه کي کومي ډلي او کوم سياسي نظامي گروپونه مدارا، زغم، تساهل، د پرلپسي تاوتريخوالي په پايله کي له منځه وړي او د هغو په مقابل کي څوک په ټولنه کي د عدم تشدد، مدارا، زغم او گذشت پلويان دي.

له مدارا، زغم او گذشت سره تر ټولو دوښمني ډلي او گروپونه هغه دي چي د مدارا او زغم پر ضد خپل بنسټپالي فکرونه په پارلمان کي په قانون بدلوي او بيا يې د قانون په چوکاټ کي پر خلکو تطبيقوي. زموږ په ټولنه کي يې ښه مثال هغه تويکي تنظيمي ډلي او گروپونه دي چي له دوه نوي ام (۹۲) کال نه را په ديخوا، د اسلامي حکومت په نامه په افغانستان کي حاکم دي. عيني تجربو ښودلې ده چي هره ډله چي په واک کي نه وي، مسلحانه او غير مسلحانه تشدد کوي او په وياړ سره وايي چي موږ تر هغو جنگيږو چي په افغانستان کي اسلامي نظام قايم شي.

د همدي سرزوريو، تشدد او نه زغم پايله دا ده چي اوس يي په عيني ډول گورو چي: زموږ په ټولنه کي زغم، مدارا او گذشت په نامه هيڅ شی نه شته، له کور نه نيولي تر کوڅي، ښونځي، دفترونو، ښارونو او ټول هېواد کي د گذشت او زغم پر ضد، تشدد روان دی، په تيره له ماشومانو او کوچنيانو سره، که لويان او مشران په خپلو کي هم لفظي او فزيکي برخورد او تاوتريخوالی کوي، پر ماشومانو او کوچنيانو باندې ژور منفي اغيز کوي او دا حالت د ماشومانو او کوچنيانو راتلونکی ژوند سر له همدا اوسه په زهرو لړي.

**د زغم، مدارا او تېرېدني کلتور دې د نورو خلکو مبارک شي،**

**موږ ايله د تشدد کلتور پر ځای کړو.**

د شلمي مقالې پای

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

## د تاوتریخوالي سونامي

## ۱۱

## عدم تشدد د تاوتریخوالي له منځ وړونکی

## یوویشتمه مقاله



د ماشوم د حقونو په برخه کي څه چي په نړیوالو قوانینو کي راغلي دي، زموږ په ټولنه کي یوه سلنه هم نه تطبیقیږي او دلیل یې ښایي دا وي چي بیسواده خلک خو پریږده، با سواده او لا د

اړوندو ادارو او ان د پارلمان غړي په هغو قوانینو لا خبر هم نه دي، نه خو يې لا د تطبيق په فکر کې يې.

د ماشومانو د حقوقو تړون د ملګرو ملتونو د ســازمان عمومي ټولنـــــې د ۱۹۸۹ کال د نوامبر پر شلمې نېټې تصويب کړ. دا قانون څلور پنځوس مادې لري. د افغانستان په ټولنه کې د ماشومانو او کوچنیانو ژوند ته په کتو سره، ویلای شو چې د پاس یاد شوي قانون ـ چې د یو نړیوال منل شوي سند حیثیت لري ـ دوه سلنه هم نه مراعاتېږي.

زموږ په ټولنه کې له ماشومانو او کوچنیانو سره د مور له نسه تاوتریخوالی پیل کېږي، چې وزیږي کورنی چاپیریال يې له تاوتریخوالي ډک وي، چې ښونځې ته يې قدم کېښود، په شعوري او غیر شعوري ډول رنګارنګ تاوتریخوالی ورسره پیل کېږي:

ـ د حلال و حرام کیسه،

ـ د طالب او د عسکر کیسه،

ـ د کورنیانو او بهرنیانو کیسه،

ـ د شهید او مردار کیسه

او...

خلاصه د ښونځي په هماغه ابتدایه دوره کې د شاګردانو د ذهن په کرونده کې د کرکې تخم ورشیندي او د نفرت په زهرو يې ټول ژوند ور لړي. دا داسې تاوتریخوالی دی چې د یو کوچني ټول ژوند ورخرابوي.

دغه لاندې د سترګو لیدلې شکایت ډوله حال يې یوه غوره بېلګه ده:

«د معارف د رئیس پر ځای په ښوونځیو کې د افراطیت مخه ونیسئ!
دا څوم ځل دی چې زه يې د بېلابېلو ماشومانو څخه اورم چې په ښوونځیو کې ځینې استادان داسې خبرې او بحثونه کوي چې نه د درس سره کوم تړاو لري او نه هم لازمه ده چې په ټولګي کې دې داسې بحثونه وسي.

ځینې د ښوونځیو ماشومانو ما ته په ځو ځله ویلي چې موږ ته استاد د طالب او عسکر په اړه خبرې کوي او وایي چې طالبان مړه سي شهیدان دي او عسکر چې مړ سي هغه شهید نه دی خو اصلي د جنګ شهیدان طالبان دي.

په اکاډمیک ماحول کې طالب، عسکر او شهادت څه مانا؟

په وار وار دا هم هلته ورته ویل کیږي چې ډیموکراسي کې ژوند کول کفر دی او باید ډیموکراسي له منځه ولاړه سي، په اسلامي نظام کې ډیموکراسي نسته او دا نامشروع نظام دی.

اول خو دي د دې استاد ملا ماته سي چې په اکاډمیک ماحول کې د جنګ، مرګ، مړ او شهادت په اړه ماشومانو شاګردانو ته بحث کوي. موږ خپل ماشومان ښوونځی ته د جنګ، مرګ او شهادت ښودلو لپاره نه لېږو. دا ځینې استادان خپل تر وخت تېرې مفکورې شاګردانو ته بیانوي!

دوهمه دا ورته ویل کیږي چې ډیموکراسي کفر ده او دا نظام کې ډیموکراسي ده نو دا نظام کفري دی. اول خو دي په نوم استاده! ستا ملا ماته سي چې په ټولګی کې ته دا بحث کوې. د یو مکتبي شاګرد به په ډیموکراسي څه سر خلاصیږي او هغه کله د ډیموکراسي په ماهیت پوهیږي.

شاګردان به د ډیموکراسي څخه څه مفهوم واخلي بغیر له دې چي نظام ورته کفري ښکاره سي او خپل فکر په دې پېچلي موضوع کي ستړی کړي.

همدا د افراطیت لپاره زمینه سازي ده چي شاګردانو ته له ماشومتوب څخه همدا عبث بحثونه کیږي او فکر يې د ابادی پر ځای د خرابېدو لوري ته ځي. زموږ نفس وختئ چي یو څه د عصریت، مدنیت او د ژوند کولو لپاره خلک راوبولو، هغه زموږ ماشومان په مکتب کي دوباره زموږ د دې مفکوري خلاف روزل کیږي.

د معارف ګران رئیس صاحب! د افراطیت او جهالت دا مرداري په معارف کي کنټرول کړئ! موږ نه غواړو راتلونکي ماشومان مو د مرګ او شهادت مفکوره واخلي، موږ غواړو دوی ته د ژوند، عصریت او مدنیت مثبته مفکوره ورکړل سي! د خدای موندلو او رسېدلو لار یوازي په مرګ کي نه ده، په ژوند کولو کي ډېره اسانه ده.

د معارف رئیس صاحب! هیله کوم! هیله کوم! د دې کارونو مخه په ښوونځی کي ونیسئ! د دې پایلي تر ناکامه مظاهرو په جدي ډول ډېري خطرناکي دي.»

د ښاغلي احمد ولي اڅکزي د خبرو د تائید له پاره ډېر ژوندي مثالونه شته دي، حتی په درسي کتابونو کي هم د درسي موادو په ترڅ کي په عمدي ډول د جګړې او تشدد د رامنځ ته کېدو زړي کرل شوي دی.

آیا دا تاوتریخوالی نه دی چي ماشومانو او کوچنیانو ته په درسي کتابونو کي د جګړې، کرکي او دوښمني تصویر په مخکي کېښودل کېږي او د ذهن په کروندو کي يې د نفرت زړی کرل کېږی؟

دا يې یوه ښه بېلګه ده:



د افغانستان پارلمان په ۲۰۱۶ کال د نوامبر میاشتې په نهمه نیټه د ښځو او ماشومانو د نه زورولو قانون تصویب کړ. په دې قانون کې ویل شوي دي چې که چا دا کار تر سره کړ، هغه جرم شمېرل کیږي او ترسره کونکی یې مجرم دی.

زه ډاډه یم چې د دې قانون تصویب کونکي هم دا قانونه نه مراعتوي او که لازمه وي دوی خپلې ښځې او ماشومان وهي، کړوي او ربړوي یې، ځکه چې زموږ په ټولنه کې، له ښځو او ماشومانو سره تاوتریخوالی په یوه نا لیکلي منل شوي قانون باندې بدل شوی دی.

زه په دې عقیده یم چې له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي یوه لار د عدم تشدد د لارې خپلول او پیروي ده. موږ کولای شو چې له یو فرد نه او له خپلې کورنۍ څخه یې راپیل کړو او بیا یې کلي، ښار او ټول هیواد کې و غځوو او په یو کلتور باندې یې بدل کړو.

د عدم تشدد پالیسۍ په خپلولو او پیروۍ سره تر ډېره د رنګارنګ تاوتریخوالي مخه نیول کېدای شي. له ژبني تاوتریخوالي نه نیولې بیا تر وهلو ټکولو، جنسي تاوتریخوالی، په زوره کار او جګړو ته اړ ایستل، په جبر سره خپله عقیده په چا باندې منل او... پورې.



د یوویشتمي مقالي پای

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

# د تاوتریخوالي سونامي

# ۱۲

## دوه ویشتمه مقاله

په تېښ عمر کي واده، د تاوتریخوالي بله زشته بڼه د همدې مقالې د لیکلو په زماني واټن (۲۰۱۹/۰۶/۱۷) کي مي د فیسبوک په ځو رنګي مخ کي، په همدې موضوع پورې اړوند له یوې نادودې سره مخ شوم. هغه دا چې ښاغلي Sadiqullah Afghan Afghan د دوه زره نولسم کال د جون پر شپاړسمه په خپله فیسبوک پاڼه کې یو خبر له عکس سره خپور کړی و چې دوې ډېرې د لږ سن نجوني د واده چامې په تن سینګار کړې ناسې دي. زه له ښاغلي Sardar Zahory څخه د زړه له کومې مننه کوم چې د ده د فیسبوکي هڅو په مرسته له دې موضوع څخه خبر شوم او په دې مقاله کې مي دې مهمې پېښې ته د تاوتریخوالي د یوې بېلګې په توګه ځای ورکړ.

لومړی مي دا د ښاغلي صدیق الله افغان افغان له پاڼې د ده لیکلی لنډ متن راکاپي کړ، خو بیا مي د لا استناد په موخه د لیکلي متن او انځور عکس هم ورنه واخیست. دا لاندې یې عکس دی:



زه يي داسي ګڼم چي له دي کوچنيانو سره دا کړنه د ټول عمر له پاره تاوتريخوالی دی. «کورنۍ يي دا د نصيب کار بولي» خو د پردي تر شا کېدای شي چي دا نجوني په همدي کم سن کي يا په «بدو» کي ورکړل شوي وي او يا به د «ولور» مسأله په منځ کي وي. هر څه چي وي، وي به؛ خو له دي دواړو کوچنيانو سره د يوي شيبې يا يوه وار له پاره تاوتريخوالی نه دی شوی، بلکي د ټول عمر له پاره له دوی سره د تاوتريخوالي د بنسټ ډبره اېښودل شوي ده.

ما د همدي مقالو(له ماشومانو او کوچنيانو سر د تاوتريخوالي ستونزه) په ترڅ کي څو ځلي د کوچني د قانوني سن په باب د ملګرو ملتونو د اړوند څانګو د پرېکړو په باب خبري کړي دي.

د موضوع حقيقت دا دی چي دا ډول عملونه له يوه يا دوو کوچنيانو سره تاوتريخوالی نه، بلکي د يوي لويي ټولني د ماشومانو او کوچنيانو د ژوند د تباه کېدو د ناوړه او منفي دود پر دېواله يوه بله خښته اېښودل شوي ده.

دا چي وروسته دي کوچنيانو ته، کورنيو ته يئ، ټولني ته او په ټول کي د هېواد نوي نسل او کلتور ته څومره ستونزي او نوم بدوالی رامنځ ته کوي؛ شايي عاملينو ته يي دومره مهم نه وي، خو په راتلونکو کي لومړی د نوي نسل او بيا د ټولني پر ژوند دومره ناوړه او ورانونکی اغېز ښندي چي بيا يي بېرته جوړول او ترميمول ستونزمن نه، بلکي ناممکن وي او قرباني يي همدا نسل او راوروسته نسلونه دي.

ما څو ځلي د خپلو مقالو په ترڅ کي ويلي دي او اوس يي بيا په تکرار سره وايم چي:

ټولنه او مشران بايد په دي پوه کړای شي چي له ماشومانو او کوچنيانو سره تاوتريخوالی پټ جنايت دی. او دي موضوع ته ما څو ځلي اشاره کړي چي له ماشومانو او کوچنيانوسره هر ډول تاوتريخوالی ډېري ناوړه پايلي لرلای شي.

د ۲۰۱۸ ام کال د اپريل په اته لسمه نيټه چي له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي په باب کومه مقاله ما خپره کړه، هلته مي په ساده او عام فهمه ژبه ليکلي وو:

«له ماشومانو او کوچنيانو سره تاوتريخوالی اوس څه په نړيواله سطحه او څه زموږ د وطن او ټولني په کچه کومه نا آشنا پديده نه، بلکي ډيری يي پيژني او په دي هم يا لږ يا ډير پوهيږي چي له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي عمل يو منفي عمل دی، خو بيا هم په بيلابيلو ډولونو تر سره کيږي، د منفي پايلو په باب يي لږ کسان پوهيږي چي څومره ورانونکي څپې لري. همدا اوس که په ټولنه کي د ډيری نا خوالو رواني ريښي را وسپړل شي، مالومه به شي چي ريښي يي په هغه تاوتريخوالي کي نغښتي دي، چي په کوچنيوالي کي له ماشومانو او کوچنيانو سره شوي دي.»

خو په چا يي لولي او بيا يي پر چا عملي کوي؟

له بده شامته زموږ د ټولني جوړښت او روابط له هره اړخه چي وڅيړل شي د اوس له پاره داسي راغلي يا داسي عيار شوي دي چي: پرته له دي چي د ټولني وګړي پوه شي، د ماشوم زورونې شرايط په کي برابر کړای شوي دي. د ملګرو ملتونو د روغتيايي سازمان (WHO) د تعريف له مخي:

«ماشوم زورونه هر هغه عمل يا نظر ته ويل کيږي چي د ماشوم وجود ته، د ماشوم روغتيا ته، د ماشوم روان ته او د ماشوم نيکمرغی ته د تهديد يا ضرر رسولو بڼه ولري چي لومړني او اصلي عاملين يي ميندي پلرونه او مسؤل کسان ګڼل کيږي.»

ما پخوا هم په تېيټ سن کې د نجونو د ودولو ستونزې ته اشاره کړې وه او د تاوتريخوالي د مقالو په نهمه برخه کې مې داسې ليکلي وو:

«زموږ په هیواد افغانستان کې  او په تیره بیا زموږ پر ټولنه باندې د ناوړه سنتي دودونو او رواجونو په سیوري کې، د ماشومانو او کوچنیانو د حقونو د تر پښو کولو زمینه ډیره ښه مساعده ده او د اشخاصو او کورنیو د آبرو د ساتلو په غرض، هغه څه چې په ماشومانو او کوچنیانو باندې، په تیره نجونو باندې کیږي؛ اصلاً د هیڅ ډول کلماتو او جملاتو په چوکاټ کې نه شي تشریح کیدلای. د ننگ، غیرت، آب آبرو او... د ساتلو په غرض د ماشومانو او کوچنیانو ټول ژوند د بربادۍ سوځیدونکي اور ته اچول کیږي.

دا هغه خاموش تاوتریخوالی دی چې له کلونو او پیړیو پخوا زموږ پر ټولنه حاکم دی او دا اوسني نسلونه او چیز فهمه خلک که د دې دودونو د له منځه وړلو له پاره څه وکړي ښه تر ښه، که نه په کلونو او پیړیو به راتلونکي نسلونه هم په دې اور کې وسوځي.

د جګړې د قانون د حاکمیت له کبله، په نجونو باندې د زورواکو د نه تیري په خاطر؛ ډیری کورنی حاضریږي چې خپلې نا بالغه لوڼې په ډیر کم سن کې په میړونو کړي او په اصطلاح؟ خپله آبرو په ځای کړي، دا چې هغه ماشومه یا نا بالغه نجلی ټول عمر ژوند په خپله نه، بلکې لکه مريی د نورو په خوښه تیروي، خیر دی، مقصد دا چې د هغې د کورنی آبرو پر ځای وي. مانا دا چې له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ډیره سلنه، پر ټولنه باندې د ناسمو او ناوړه دودونو د حاکمیت له کبله او د همدې دودنو د سیوري په دايره کې تر سره کیږي.

په ټیټ سن کې د نجونو ودول که له یوې خوا له دې نجونو سره ډېر زشت تاوتریخوالی دی، له بلې خوا هغو هلکانو سره هم تاوتریخوالی ترسره کېږي چې پرته له رضا او خبرېدو نه همدا نجوني ورته ودېږي او دواړه لوري ټول عمر پرته له خپلې خوښې ژوند تېروي.

په پیټ سن کې د کوچنیانو ودول زموږ د کلتور هغه نیمګړې برخه ده چې په تر سره کولو سره کې نسلونه تباه کېږي او مخ توروالی یې ټولو نسلونو ته ور په برخه دی. د همدې له پاره ټول قلموال رسالت او مسؤلیت لري چې د دې ناوړه پدېدې پر ضد خپل غږ اوچت کړي، مخه یې ونیسي او خپل راتلونکي نسلونه له بدمرغیو وژغوري.

د دوه ویشتمې مقالې پای

# د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې

## د تاوتریخوالي سونامي

## ۱۳

### درویشتمه مقاله

**که د نفرت پر ځای مینه وکړو، له ډېرو ستونزو به خلاص یو او ټولو سره به مو مرسته کړې وي!**



ما د همدې مقالو(له ماشومانو او کوچنیانو سر د تاوتریخوالي ستونزه) په ترڅ کې څو ځلې د کوچني د قانوني سن په باب د ملګرو ملتونو د اړوند څانګو د پریکړو په باب خبرې کړې دي. له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي په باب ګڼې مقالې او کتابونه لیکل شوي دي، خو د دې پر ځای چې زموږ پر خلکو باندې مثبت اغیز وکړي، تاوتریخوالی نور هم په ډېرېدو دی او لیدل کیږي چې د هرې ورځې په تېریدو سره د تاوتریخوالي نوي ډولونه را پیدا کیږي او زموږ د ټولنې پر بېدفاع ماشومانو او کوچنیانو باندې تطبیقیږي او د ې ناوړه دود ته نور هم باد ورکول کیږي.

د یو چا شخصیت د تاندې ځوانی په موده کې جوړېدونکی وي، که پام ورته ونه شي او له رنګارنګ تاوتریخوالي او فشارونو سره مخ وي، نو څه به وشي؟

کورنی تاوتریخوالی، له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي یوه جلا او د جدي بحث وړ برخه ده. د کورنیو د مشرانو خپلمنځي تاوتریخوالی یو له همدې مواردو څخه دی چې ډیری مشران یې داسې انګیرې چې نو زموږ د خولې عداوت او یا لاس اچول یا وهل ټکول په ماشومانو او کوچنیانو باندې هیڅ اړه نه لري، مګر په نړۍ کې د ماشومانو او کوچنیانو د پالنې، ساتنې او روزنې ډېری څېړونکي او متخصصین پر دې باور دي چې د کورنی د غړو تر منځ نا وړه جال چلند، د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د تاوتریخوالي حیثیت لري.

له ماشومانو او کوچنیانو سره تاوتریخوالی، یوازې د ماشومانو اوکوچنیانو فزیکي او جنسي زوروونه نه ده، بلکي د کورنۍ د مشرانو او نورو غړو خپلمنځي لفظي یا فزیکي بد چلن له رواني پلوه د ماشومانو او کوچنیانو د زوروني لامل کېږي او ډېر ژور رواني منفي اغېز پرې کوي چې پایله یې د کوچنیانو ژوند تر ډېرې اوږدې مودې پورې تر منفي اغېز لاندې ساتلی شي.

هغه ماشومان او کوچنیان چې د لنډې یا اوږدې مودې په مخه د کورنۍ د مشرانو د خپلمنځي لفظي یا فزیکي تاوتریخوالي شاهد وي، ډېر ژور منفي اغېز ورپه برخه کیږي. د کورنی

تاوتريخوالي ډېرى ډولونه پټ پاتي کيږي، د همدې له کبله يې ډولونه او بېلګې نه په نښه کيداى، خو که ځينو رپوټونو او اسنادو ته پاملرنه وشي، د کورني تاوتريخوالي په باب کېداى شي ځينې حقايق په نښه شي. د همدې حقايقو په رڼا کې که د ماشوم زوروني يو عادي تعريف ته پام وشي، هلته په ټينګار سره ويل کيږي چې ډېرى کړني دي چې ماشوم زوروونه بلل کېږي، ځينې يې په لاندې ډول دي:«

ـ د هر چا له لوري چې وي، هغه کړنه چې د ماشوم د ازارولو سبب شي،

ـ د کورنۍ د نورو غړو بد او ناوړه چلن،

ـ د بد چلن اوربدل او ليدل دواړه ماشوم زوروونه بلل کېداى شي،

ـ د ورځني ژوند د بېلابېلو اړخونو په زوره کنترول او څارنه،

ـ د کورنۍ د نورو غړو لفظي يا فزيکي تهديد،

ـ د کورنيو ځارويو وژنه او زوروونه، او...»

هغه کوچنيان چې په کورنيو کې يا له بد چلن سره مخ وي او يا د بد چلن ننداره کونکي وي، د ځانګړو نښو لرونکي وي:

ـ ډېر قهرجن وي او په خوشي خبره قهر يا خوشکه کوي،

ـ تل ډار او خپګان ورسره وي،

ـ په ټولنه کې يې چلن ناسم وي،

ـ په ښونځي کې ضعيف وي.

د ماشومانو او کوچنيانو د اساسي روزلو يو زړه سواندى متخصص د کوچنيانو د روزنې په برخه کې داسي ويلي دى:

«نن په ډېرو هېوادونو کې د پلار ورځ ده. ښاغلي Ajmal Khan ليکلي:

"په ژوند کې مې ډېر سخت کارونه کړي دي خو تر پلارولي سخت کار نشته."

هغه ربښتيا وايي د اولادونو روزنه د ماغزو تر جراحي سخت او پېچلى کار دى. له بده مرغه چې زموږ په ټولنه کې دې برخي ته هېڅ پام نه دى شوى له پوهنتون لوستي نيولي تر بشپړ نالوستي پورې ډېرى وګړي نه پوهيږي چې له جسمي او رواني پلوه يو روغ انسان څه ډول وي پاتي خو د روغ انسان روزل شول. تر هغو چې موږ پر ماشوم روزنه پانګونه نه وي کړې او له بل هر څه ځخه مو لومړيتوب نه وي ورکړى دا ټولنه به هېڅکله ښه ورځ او ښه راتلونکې ونه ويني.
د پلار ورځ دې هغو پلرونو ته بختوره وي چې د خپلو اولادونو د ښې روزنې په پار يې څه کړې وي د خپلو ناسمو او غلطو تجربو پرځاى يو څه زده کړې.»

**که د نفرت پر ځاى مينه وکړو، له ډېرو ستونزو به خلاص يو او ټولو سره به مو مرسته کړې وي!**

د درويشتمي مقالې پاى

# پردی چاپيريال

## او له کوچنيانو سره د چلند مسآله

## پلار ته ليک

## ځليريشتمه مقاله

د نړۍ په هر ګوټ کې د خورو ورو افغانانو د کورنيو په منځ کې دوه ډوله ستونزې سر راپورته کوي:

۱ـ هغه ستونزې چې د مهاجرت په چاپيريال کې غوښتي او نا غوښتي سرې ورسره مخامخ کيږي.

۲ـ هغه ستونزې چې په ځانګړي ډول يې کورنی او په عام ډول يې مهاجرين په خپلو منځو کې سره رامنځ ته کوي.

هغه ستونزې چې مهاجر په نوي چاپيريال کې په ناڅاپي ډول ورسره مخامخ کيږي، کيدای شي د نوې ټولنې او نوي چاپيريال د نويو قوانينو په زده کولو سره يو څه له مخې لرې شي؛ خو هغه ستونزې چې مهاجرين يې په عام ډول په خپلمنځي اړيکو کې خپله سره رامنځ ته کوي؛ د هغو حلول او له مخې لرې کول يو څه ستونزمن ښکاري. هوښيار او بادرايته خلک کولای شي چې د زړو او نوو مثبتو تجاربو په کارولو سره په ډيره هوښيارتيا د دغو ستونزو په لرې کولو کې بريالي شي. د دغو ستونزو تر ټولو ستره او بلا ډوله ستونزه په کورنيو کې د ميندو- پلرونو او ماشومانو ځپلمنځي اړيکوو رانيدل دي.

افغانان خو په لومړي ګام کې هلته په وطن کې او دلته په اروپايي هيوادونو کې د ديموکراسی له لاسه کړم، کړم دي. زما داخبره دې لوستونکي داسې نه تعبيروي چې ګنې زه د ديموکراسی پلوی نه يم، نه زه د ديموکراسی پلوی څه، چې ورباندې مين هم يم؛ خو نه پرهغې ديموکراسی باندې چې بوش جان؟ او اروپايانو يې لس کاله مخکې نسخه جګړه ځپلو، مريضو، خوارو او بينوا افغانانو ته په لاس ورکړه، چې اوس د هغې صادرې شوې ديموکراسی مخه دوی په خپله هم نه شي نيولای او په بلا يې افغانان څه چې ټوله دنيا سر ورنه ټکوي.

پرته له کوم شک نه، ديموکراسي ښه شی ده، خو کله چې موږ ديموکراسي وايو، ورسره بايد په جدي ډول دا پوښتنې رامنځ ته شي چې:

ديموکراسي چيرې او دچا له پاره؟

هغو افغانانو چې خپله تولنه او خلک یې ښه پیژندل، د نوې صادرې شوې دیموکراسۍ پر ضد یې ډیرې نارې سورې اوچتې کړې، خو چا به اوریدلې وای؛ هغه و چې وروسته له نه (۹) کلونو نه د جرمني د وخت د دفاع وزیر کارل ګوتنبرګ د ۲۰۰۹کال د دسمبر په دویمه نیمایي کې افغانستان ته د یو بیړني سفر له پای ته رسیدو وروسته وویل:

«موږ(غربیان) تیروتلي یو چې په افغانستان کې د غربي ټیپ دیموکراسۍ له پاره خپل وخت او پیسې مصرفوو...»

دیموکراسي ژورې او لرغونې ریښې لري. د بشریت په تاریخ کې د دیموکراسۍ په لټه پسې مجبور یو چې یونان ته سر ورښکاره کړو. په یونان کې د دیموکراسۍ په اړوند اوه (۷) پیړۍ مخکې له میلاد نه د ستر او نه هیریدونکي دراکون (Drakon) نوم یادولای شو، چې د لومړي ځل له پاره یې د خپل هیواد اساسي قانون تدوین کړ. وروسته له دراکون څخه، د دووتنو نومونه له دیموکراسۍ سره تړاو لري، چې یو یې سیاست پوه او قانون جوړونکی سولون (solon) و او بل یې دموکرات مشر کلیستن (cleistheines) و، چې د آتن اساسي قانون یې اصلاح کړ. له دوی نه وروسته تامس جفرسون (Tomas Jefferson) یادولای شو، چې د امریکا د دیموکراسۍ پلار، د استقلال د اعلامیې مولف او د بشر د حقوقو منادي و.

که د دیموکراسۍ دغه بنسټ ایښودونکي او پلرونه ژوندي وای او افغانستان ته د امریکا یانو او اروپایانو د صادرې شوې دیموکراسۍ حالت او پایلې یې لیدلې وای، نو ځای پر ځای به یې زړونه دریدلي وای.

په افغانستان کې د بوش ډوله دیموکراسۍ په رڼا کې، زموږ د رمو ساتونکو له لیوانوسره آشنایي پیل کړې ده او هره ورځ د تندیو وریوو له غوښو نه غوړې میلمستیاوې ورته جوړوي، او زموږ محکوم خلک یې یوازې ننداره کوي.

چا سره چې پرله پسې ناکردې او نادودې وشي، نو وایي:
«زموږ لاس تور سپي خټلی»

دلته اروپا کې هم افغانان په کرار نه دي، ورمیږونو ته یې د دیموکراسۍ د منفي اړخونو چړې وربرابرې شوي دي او د اروپایي دیموکراسۍ منفي اړخونو، په لسهاوو او سلهاوو کورنۍ د تباهۍ کندې ته ورغورځولې دي.

اوښ نه یې پوښتنه وکړه:

کوتل ښه دی که مخ په ځوړه؟

اوښ په ځواب کې وویل:

درې واړه دې ورک شي.

بیایې وپوښته:

دریم یې لا څه شی دی؟

اوښ ویل:

ختې.

اوس موږ نه هم اوښ جوړدی، کاږه واږه او له عیبونو ډک یو، د اروپایي ژوند لوړ او ځوړ راته ګران شوی او په ختو کې نښتي یو.

دلته د اروپايي مهاجرت په چاپيريال کې ډيرى ميندې او پلرونه له خپلو لوڼو او زامنو شکايت لري چې نا فرماني کوي. ځيني ميندې او پلرونه د افغانستان د چاپيريال په څير، له خپلو ماشومانو نه په ټوله مانا تابعيت غواړي او هرڅه چې دوی غواړي، ماشومان بايد هماغسې وکړي.

د دغو ستونزو په لړ کې کله شکوه او شکايت، کله د خولې عداوت او کله بيا خبره وهلو ټکولو ته رسيږي، چې پايله يې له ميندو او پلرونو څخه د ماشومانو لرې کيدل، تښتيدل او بل ځای د ژوند غوره کول دي او يا هم د پوليسو په مداخلې سره تر دې هم نورو مرداريو ته پښه ورغځوي. ډيرى کورنۍ داسې انګيري چې کوچنيان او نوي ځوانان ملامت دي. دا په ومنو چې اروپايي ديموکراسي د ډيرو ښو اړخونو تر څنګ، منفي اړخونه هم لري او له همدې منفي اړخونو نه په استفادې سره ځيني پيغلوټې او تنکي ځوانان، خپلو کورنيو، مشرانو او راتلونکي ژوند ته ستونزې زيږوي.

پر کوچنيانو باندې څه د ميندو او پلرونو په ځای او بې ځايه فشارونه، څه د اروپايي ديوکراسۍ پراخه دايره او په څنګ کې يې د ځينو ميندو او پلرونو نه پاملرنه؛ نوي ځوانان داسې ډنډ ته ورپورې وهي چې بيايي له هغه ډنډ څخه راوتل ګران او يا هم نا شوني وي.

خو ځيني کسان بيا داسې انګيري چې ټول ځوانان به داسې نه وي. شته دي داسې ځوانان چې مشرانو ته يو څه ورکوي، لاس نيوی يې کوي او لارښوونه ورته کوي. دلته به زه د يو افغان ځوان د زړه خبرې، د يو ليک په ډول تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کړم، تاسو به په دې ليک کې ولولئ چې دا ځوان له خپلو ميندو پلرونو اومشرانونه څه غواړي او څه هيله ورنه لري:

پلاره!

تاسو هم لکه د هر مهاجر په څير د يوې وړې لاس ته راوړنې په بدل کې، هلته په وطن کې او دلته د مهاجرت په نوي چاپيريال کې، ډير څه له لاسه ورکړل. تاسو څومره ستونزې وګاللې او زه مو وينم چې اوس يې هم ګالئ.

دا ستونزې، دا غمونه، تاسو په خپلو غوښو، وينو او ټول روح او روان احساس کړې او احساسوئ يې. اوس مو هم وينم چې په وطن کې د ناخوالو او دلته ستاسو له ژوند او زده کړو سره نابرابر قوانين، تاسو زوروي او کړوي مو او تاسو لکه غر ورته ولاړ يئ.

د خپلو زده کړو او تجاربو خنازي ته لکه يتيم په پټه خوله اوښکې تويوئ،

لکه ديوال چې ښوره خوري، دا غمونه او ستونزې هم ستاسو روح او روان په پټه سره خوري او له منځه يې وړي.

هم مو شرقي کلتور او پوهه زوروي او هم د غربي کلتور او تمدن د اور په دايره کې راګيريئ، تاسو او تاسو ته ورته ستاسو ځينو نورو همځولو وطنوالو په خپل وطن کې تر وسه او د امکاناتو تر بريد پورې، لوړې زده کړې کړې دي او د کار په ترخ کې مو تجارب ترلاسه کړي دي. تاسو، ستاسو او ستاسو د همځولو زده کړې او تجربې، زموږ د خلکو او وطن له پاره لويه شتمني ده؛ او زه يې وينم چې دلته په پردي وطن کې د مهاجرت او غربت په دې چاپيريال کې تاسو خپله دا شتمني له لاسه ورکړې ده. ستاسو زدکړې او ستاسو تجربې په دې ټولنه کې د پانګې او کارخاوندانو ته څه په لاس نه ورکوي، ځکه په کم ارزی ورته ګوري؛ او زه پوهيږم چې دا حالت تاسو او ستاسو همځولي مشران زوروي.

پلاره!

ما به وبښي چې زه زغردې خبرې درته کوم. زه نه غواړم چې د هغو دردونو، رنځونو او غمونو بار پر خپلو اوږو یوسم، چې تاسو په کې راګیرېږئ. تاسو باید د یوه پلار په توګه د خپلو زده کړو او تجربو په رڼا کې، ما ته له دغو دردونو، کړاوونو، غمونو او تیارو څخه د وتلو لار وښیئ.

زه مو درد وينم او احساسوم یې، زما په رګونو کې ستاسو وینه جاري ده، زه هم تاسو غوندې په یوه دردمنه ټولنه اوروڼ اندې با درګه کورنۍ کې پیدا شوی یم.

زه لاوړوکی وم چې ستاسو په مټ په افغانستان کې د بل کړای شوي اور له دایرې څخه راوایستل شوم. ما لا د وطن د ښیګڼو او بد ګڼو مزه دومره نه وه څکلې، له وطن نه مې څه په یاد نه دي، یوازې مې د ذهن په دهلیزکې د ړندو راکټونو او مرمیو د غږونو آزانګې کته پورته کیږي، خو ستاسو او ځینو نورو مشرانو له خولې مې اوریدلي دي چې په افغانستان کې له روان سیستم او له حاکمو خلکو او نظریاتو سره جوړیدل او روانیدل، ګران کار دی؛ او دلته هم حالت داسې دی چې موږ ټول یې وینو او پرې پوهیږو. ټولو دردونو او غمونو کې چې تاسو ته هلته او دلته در په برخه شوي دي، زه پرې پوهیږم او ځان په ټولو کې درسره شریک ګڼم.

پلاره!

زه پوهیږم چې تاسو ډیر ځلي د ښکلولو پر ځای چیچل شوي یاست، خو څه وکړم، زما ژبه هم لکه د سمندر څپې، د زړګونو هیلو او خبرو د ویلو هڅه کوي. زه غواړم ستاسو د ستونزو په باب وغږیږم.

زه پوهیږم چې تاسو د هیلو د اوسپنيز د یوال ترشا ولاړ یاست، څه نه شئ کولای او د سویو هیلو ایرې مو د نامردۍ زمانې بادونه هرې خوا ته بادوي او تاسو یوازې د خپلو سوځیدلو هیلو د ایرو په بوړبڼکیو کې راګیرېږئ.

انسان ته نه ښایي چې ستونزو ته ځان وسپاري، له ښو هیلو سره ژوند کول او په هغو پسې هڅه کول، انسان ته د پرمختګ او ښه ژوند لاره سموي،

او زه مو وینم چې ستاسو د دردونو له تیارې ځالې څخه نوې هیلې سر اوچتوي. نور دې د چوپتیا کونګ (جغد) د خپل ذهن له کندوالې څخه وشړه. د نا امیدۍ کونګ د خپلو نوو هیلو په رڼو او تیرو غشو وولې. زه پوهیږم چې د خلکو د پرله پسې ناکامیو په کندواله کې، ترخه بوټي راشنه شوي دي او د دوی په کروندو باندې د مهربانه نرم پسرلني باران پر ځای، د دښمنیو د زهرو بارانونه وریدلي دي، او دا د زهرو بارانونه افغانانو په کلونو، کلونو د ښه کیدو په هیله وزغمل. زه پوهیږم چې دوی ته نوره ژړا هم نه ده ورپاتې، دوی نور نه شي ژړلای، د دوی پر ځای تیږې په ورېږي، ورېږ ژاړي.

پلاره!

ما ته مور ټولې هغه کیسې ټکي په ټکي کړې دي چې تاسو د جګړې په سره اورکې له موږ سره څه کړي دي او زموږ په خاطر مو د ټوپکیانو څومره نادودې لیدلي او زغملي دي.

تاسو د ګولیو په باران کې موږ ترزخمي وزرو لاندې پټ کړي وو،

تاسو د نامردۍ زمانې، د نامرادو ګردونو په بوړبوښکیو کې موږ ساتلي یو،

تاسو د راکټونو په اختر کې، د ژړا او دار پرځای موږ ته داړ او خندا راښودلې ده،

تاسو د خپلو کلیوالو د وجود غوښې، چې د مسلمان ډوله نا مسلمانو په راکټونو ځیرې شوې وې، راټولې کړې او هدیرې ته مو رسولې دي،

تاسو د خپل سر په بیه موږ خوېندي ـ ورونه لکه د پیشکې بچې په څو ځالو کرځولې یو، تاسو خپل تیر تاریخ او اوسنې برخلیک ته ژړلي دي،

او تاسو...

پلاره!

زه پوهیږم چې ستاسو په کوګل کې خلکو او وطن ته د هیلو انګازې خپرې وې او تاسو خپل هرڅه په دې لاره کې وآزمیل، خو په مقابل کې تاسو وچیچل شوئ؛

خو تاسو اوس د تیرو ناکردو، نادودو او ناکامیو په دایره کې ځان مه ورغورځوئ، ځان د اندیښنو په خوسا ډنډ کې مه ډوبوئ او...

مه کوئ، ځکه چې زه ستاسو ژوند غواړم، زه تاسو غواړم، تاسو مې پلار یئ او زه تاسو ته اړتیا لرم.

ډیر کسان دي چې اوس تاسو له لاسه ورکړي دي او د هغو نشتوالی تاسو زوروي، زه نه غواړم چې بې وخته تاسو له لاسه ورکړم او ستاسو د نشتوالي دروند بار د ژوند تر پایه زما پراوږو بار وي.

پلاره!

زه ستاسو په پرتله ډیر بې تجربې یم، ما به وبښئ چې د خپلې بې تجربې نړی نه په تاسو غږ کوم او د لړو تجربو له عینکو نه تاسو ته ګورم او دا کرښې درته لیکم.

زه نه غواړم چې د اروپایي کلتور د منفي اړخونو یو لاروی واوسم، خو دا یو ښکاره حقیقت دی چې د اروپایي کلتور په جال کې راګیریم، له هرې خوا ډول، ډول یرغلونه راباندې کیږي، او دا دی د دغو یرغلونو په پایله کې زه د خپل پلرني وطن ډیر څه له لاسه ورکوم. خپله ژبه، خپل کلتور او... په پای کې هرڅه. زه توپان پسې اخیستی یم، دا توپان د نوح له توپان څخه هم خطرناکه دی، او زه مهاجر افغان ماشوم لکه ماته بیړی د اوبو پر سر روان یم، او هره شیبه ډوبیدو ته لار څارمه،او دا تاسو یاست چې زما لاس نیوی کولای شئ.

پلاره!

دا تاسو یاست چې په دې توپاني حالت کې له ما سره مرسته کولای شي. تاسو که د خپلو ستونزو له جال نه ځان را ونه باسئ او په دې کړکیچن حالت کې زما لاس نیوی ونه کړئ او لار را ونه ښیئ، یقیناً زه د تباهی کندې ته لویږم؛ نو هیله کوم چې ته نور بې مورده سوچ کول او په لوی لاس بلې دنیا ته تلل پریږدئ. زه ستاسو لارښوونو او تجربو ته اړتیا لرم، هیله کوم زما لاس نیوی وکړئ!

ډیری مشران (میندې ـ پلرونه) په خپلو ناسمو سیاسي تضادونو ښه پوهیږي، او په دې ښه خبر دي هغه سیاسي پالیسي یا سیاسي لارې چې دوی پرې روان وو او روان دي، غلطې دي او ناسمې ثابتې شوې دي، خو بیا هم ټینګار پرې کوي؛ په دې ښه پوهیږي، هغه سیاسي مشران چې د دوی له نظره د تایید وړ وو، هغوی په نا سمو لارو روان وو، خو بیا یې هم تاییدوي، په ښو یې یادوي، دفاع ورنه کوي او لاره یې تعقیبوي. د همغو سیاسي لیډرانو د تیروتنو په وجه اوسنی ستونزې په هیواد کې د دننه او له هیواد څخه د باندې د افغانانو د پرمختګ په لاره کې،

لکه غر داسي پرتي دي. د همدغو مشرانو (میندي ـ پلرونه) نا سمو سیاسي تضادونو دا دی نویو نسلونه ته هم لکه د سرطان نا روغي، لاس ورغځولی دی. ډیري کورنی د پخوانیو سیاسي تضادونو له مخي د خپلو لونو او زامنو د راتلونکي ژوند د بنسټ ډبره ږدي او په دې ډول نوی نسل هم د خپلو ناسمو سیاسي تضادونو په زهرو لړي او د خپلو عقدو او ګناهونو درند پیتی د هغوی پر اوږو باروي. نوی نسل به تر څو او تر کومه ځایه د تیرو نسلونو د ګناهونو او تیر وتنو پیتي پرشا چلوي.

پلاره!

تاسو که د هیوادنیو او نړیوالو سیاسیونو د تیروتنو ښکا رشوی یئ او تاسو که په خپل هیواد کي د خپلسرو ایله جاري تش په نامه مسلمانانو د افراطیت په وجه، د خپلي ځالي پریښودلو ته اړایستل شوي یئ او هر څه مو له لاسه ورکړي دي؛ زه دا دی په اروپا کي له ورته ستونزو سره مخامخ یم، خو په لړ توپیر سره. چي نور هیڅ نه وي، ډیری اروپایان چي د افغان او افغانستان کلمي اوري، د جګړي، تروریزم او مخدراتو تور مفاهیم یې په ذهنونو کي تداعي کیږي او له بده مرغه چي دغه تور داغونه د افغانانو په لمن باندې ډیر ښه وهل کیدای شي.

پلاره!

زه په دې ښه پوهیږم، هره ورځ د نړی له ګوټ ـ ګوټ څخه د منفي، بشریت ضد کړنو د اخبارونو په اوریدو سره، پر تا باندي نور هم فشار زیاتیږي او تاسو زورروي، خو ستاسو اولادونه او ټول کشران، پر تاسو باندې حق لري چي له تاسو نه یو څه لارښوونکي خبري واوري، تاسو روغ ووینې او ستاسو په خوله کي خندا ووینې.

د یویشتمي پیړی د تمدن د ډیوي تر څنګ، تیاره ګوټونه هم شته او د اوسني وخت په دې حساسو شرایطو کي که څوک په نا پوهی سره یو ګام د دې زماني د تیروتنو په کوڅه کي اوچت کړي، بیا یي راګرځیدنه ګرانه نه، بلکي نا شوني ده؛ ځکه چي د یویشتمي پیړی د تیروتنو لار یو طرفه ده او په یوطرفه لارکي بیرته راګرځیدل، انسان د مرګ کندې ته رسوي.

نوی نسل که د یویشتمي پیړی د پوهي او تکنالوژی ډیوه په لاس کي لري، د خپلو مشرانو لارښوونو ته هم اړتیا لري. هیڅ څوک نه غواړي چي خپل پلار له لاسه ورکړي. خدا مه کړه که زه تاسو له لاسه ورکړم، یو خوا به مي د یتیم په نامه د پردي وطن په سوځنده بیدیا کي د پلار سیوری له سره ایسته شوی وي او بل پلو که ستاسو او نورو زړه سواندو مشرانو لارښووني نه وي، نو خامخا به د دیموکراسی او تمدن په نامه، د دیموکراسی د منفي اړخونو په پیروی سره، د یوویشتمي پیړی د وحشت په تیاره دایره کي راګیر کیږم چي پای یې مخ په ښکته تلل دي.

نو هیله کوم، زما له زړه او ذهن څخه دا راپورته شوې خبرې د زړه په غوږو واورئ، زما د ماشومتوب معصومیت سترګو ته ودروئ، له ځان سره پام وکړئ او زما خندا او خوشالي په ژړا او ویرمه بدلوئ!

ستاسو زوی...

د ځلیریشتمي مقالي پای

# پردی چاپیریال

## او له کوچنیانو سره د چلند مسآله

پلار یي هیروي

پنځه ویشتمه مقاله

د یوه کار د سرته رسولو له پاره، د یوې هیلي د پوره کیدو له پاره میندې او پلرونه ډیر ځلي غواړي کوچنیان تر فشار لاندې ونیسي، انتقاد پرې وکړي او خپل پروګرام پرې عملي کړي.

هلته په افغانستان کي بیا خبره د انتقاد له برید نه هم اوښتي، تر ښکنځلو او وهلوټکولو پورې رسیدلي ده؛ آن تر دې چي ما په خپله داسي ماشومان لیدلي چي د دغو وهلو ټکولو په پایله کي معیوب شوي هم دي. دا ټیپ میندې او پلرونه فکر کوي چي دا ډول چلند د ماشوم د اصلاح له پاره ښه لاره ده، خو په دې سوچ نه کوي چي د «ډب نه وي، ادب نه وي» زمانه اوس پای ته رسیدلي ده او که مشران د وهلو ټکولو، ښکنځلو او تند انتقاد پر ځای، د ښه چلند او نرم برخورد لاره غوره کړي، ښه به وي. مثآل:

د امر پر ځای هیله وکړي. لکه: مور باید ماشوم ته ونه وایو چي (دا کار باید دغسي وکړې.) که د دې پر ځای په نرمه ژبه ورته وویل شي: بچیه! که دا کار داسي نه، دغسي وشي ښه به وي.

توهین، ښکنځل، تند انتقاد او ډیر فشار، د ماشوم روح او شخصیت په بله بیايي. توهین او تند انتقاد چي سره یو ځای شي، د هر چا، په تیره د ماشوم شخصیت وژني، داسي یې ځای پرځای دروي چي بیايي وړاندې تګ یا ستونزمن وي او یا نا شونی. کوچنیان باید د لویانو له عینکو ونه لیدل شي، لویان باید ماشومان په خپله تله کي ونه تلي، هغوی خپل همځولي ونه ګڼي او لوړې هیلي ورنه ونه لري؛ ځکه هغوی خپله وړه دنیاګی لري.

د لویانو دنده دا ده چي ماشومانو ته په ډیره مهرباني او مینه لارښوونه وکړي او دهغوی اعتماد او پاملرنه ځان ته واړوي، نه دا چي د هغوی بې اعتمادي او کرکه راوپاروي. میندې او پلرونه باید په ډیر هنرمندانه ډول له خپلو اولادونو سره اړیکي ټینګي کړي او لارښوونه یې وکړي.

انتقاد، وهل، توهین، ګیله او زشت برخورد، اصلاً پایله نه لري. د دغو ستونزو د حل له پاره د نورو لارو تر څنګ، د حل یوه لاره او ښه تجربه د نامتو امریکایي لیکوال ډبلیو لیوینګستون لارند د یو مشهور لیک بیا، بیا لوستل دي.

د دې لیک نوم دی:

«پلار یې هیروي.»

دا لیک د نړۍ په اکثرو ژبو ژباړل شوی دی. زه دا لیک د نامتو لیکوال ډیل کارنګي له «آئین دوست یابي» نومي کتاب څخه راژباړم. د ډیرو میندو او پلرونو تجربو ښوولې ده چې د دې لیک له لوستلونه وروسته، له ماشوم سره د دوی په چلند کې جوت توپیر راغلی دی.

انسان کولای شي د تهدید له لارې ماشوم یو کار ته اړباسي، خو دا کار ناوړې پایلې لري. په لیک کې پلار له ماشوم سره غږیږي، دا سې لکه چارلي چاپلین، چې د لندن له کوڅو څخه خپلې لور ژرالدینې ته یو لیک لیکلی و. په لیک کې چاپلین داسې انساني عواطف په نښه کړي وو، چې بیا د نړۍ د ټولو پیغلو له پاره سرمشق شو او د نړۍ په اکثرو ژبو وژباړل شو؛ خوپه دې لیک (پلار یې هیروي) کې به وګورئ چې پلار څنګه له ماشوم سره چلند کوي، چې باید ویې نه کړي او له کوم چلند نه باید کار واخلي. زموږ هنر په دې کې دی چې د نیک برخورد او صمیمیت له لارې کوچني ته سمه لارښوونه وکړو.

دلته به د یوه پلار منفي چلند او پښیماني وګورو. هیله ده چې موږ هم (یو څه را ښه شو)، د نوي عصر، نویو غوښتنو ته غاړه کیږدو او په خپل چلند کې جوت توپیر راولو. دا هم لیک:

زویکه غوږ کیږده:

دا ټول هغه وخت درته وایم چې ته ویده یې. خیره دې ګونځې غوندې ښکاري او پر خولې شوي تندي باندې دې د زرینو ویښتانو یوه کړۍ نښتې ده. په غلا دې د خوب کوټې ته راغلی یم. همدا څو شیبې مخکې مې چې په کتابتون کې ورځپاڼه لوستله، د پښیمانی یو غریو پسې واخیستم او د خپلو ګناهونو له پوهیدوسره سم دې د کټ څنګ ته راغلم.

زویکیه!

شته دې داسې شیان چې د هغو په باب ما فکر کړی دی. ما له تا سره بد چلند کړی دی.

ښونځي ته د تګ له پاره دې چې کالي اغوستل، درباندې په قهر شوم، هغه هم د دې له پاره چې مخ دې د مینځلو پر ځای، په لمده ټوټه پاک کړ.

بیا مې وښکنځلې، په دې خاطر چې بوټان دې نه وو پاک کړي.

کله چې دې خپل شیان پر غولي وغورځول، په قهر مې درباندې چغې کړې.

د سبا ناري پر مهال مې هم ستا د کارونو نیمګړتیاوې پیدا کړې. تا هرڅه تویول، خوله دې له ډوډۍ ډکه کړې وه، دواړه څنګلې دې پر میزلګولي وې، پر خپلې ډوډۍ باندې دې ډیرکوچ وسولول، او کله چې ته د خپلو لوبو پر لوري تللې، زه روان وم چې ریل ګاډي ته ورسیږم، تا راته لاس وښوراوه او په لوړ آواز دې وویل: پلاره خدای په امان. ما دې په تریو تندي په ځواب کې وویل: ځان مه غونجوه.

بیا دا پیښې تر لمر پریواته روانې وې. کله چې د واټ بل پلو کې وم، څارنه مې دې وکړه چې په ګونډوشوی وې او مرمري تیږو سره دې لوبې کولې، جورابې دې سورې شوې وې، د همځولو انډیوالانو مخ کې مې سپک کړې، زه روان شوم او ته مې اړیستلې چې کور ته راپسې راشې. جورابې دې قیمتې وې او که خپله دې له بازار نه اخیستلای، نوحتمأ به دې د هغو ښه ساتنه کړې وای.

ته خپله فکر وکړه زویه، چې سړی پلار وي او دا ډول فکرونه ور دوڅار شي. په یاد دې دي چې لږ وروسته بیا کتابتون کې د ورځپاڼې په لوستلو بوخت وم، چې ته زړه نا زړه او لږ خوابدی راغلې؟ کله مې چې لږ ورځپاڼه ټیټه کړه او د ورځپاڼې له کنډونه مې ولیدې، نو ښکاره وه چې زما د حوصلې جام ستا دبې وخته راتګ په خاطر ډک شوی و. ستا په زړه کې څه تیر شول او د وره په خوله کې دې پښه ونیوله، زه وډونګیدم:

«د شپې په دې وخت کې څه غواړې؟» تا هیڅ ونه ویل، خو د یو توپاني یرغل په څیر دې رامنډې کړې، لاسونه دې زما د غاړې امیل کړل، ښکل دې کړم. زه دې په خپلو ښکلو لاسونو په مینې او عاطفې سره ټینګ په غیږ کې ونیولم. دا عاطفه خدای ستا په زړه کې داسې غوړولې وه؛ چې غفلت او نا پوهي یې هم نه شي هیرولی. که کتل مې بیا تللی وې او د پښوڅپهاری دې د زینوله خوا اوریدل کیده.

ښه زویکه!

لږ ځنډ نه و وتلی چې ورځپاڼه مې له لاسه وښویده او یو زوروړنکی ډار رادوڅار او راباندې حاکم شو. زما عادتونو له ما سره څه وکړل؟ په ورو ـ ورو څیزونو د انتقاد عادت، د سرزنش او ښکنځلو عادت، تا ته دا زما ډالی وه چې ماشوم وې.

دا کارونه د دې له پاره نه وو چې ته راته ګران نه وې؛ دا د دې په خاطر وو چې ما له یو ماشوم نه له حد نه زیات څه غوښتل. زه لګیا وم ته مې د خپل منګ(سن) په متر اندازه کولې. ستا په شخصیت کې ښه، نازنین، ښکلي او حقیقي شیان زښته ډیر وو. ستا وړوکی زړه لکه ښکلي سهارغونډې و، چې د لوړوغرو له پاسه سر راجګوي او دا دې په خپل ذاتي حرکت سره وښودل.

تا نن شپه د مخه ښې له پاره رامنډې کړې او ښکل دې کړم. زویکه نن شپه نور هیڅ ارزښت نه لري، زه په تیاره کې ستا کوټې ته راغلی یم او په زوړند سر دې د کټ په څنګ کې په ګونډو شوی یم، دا یوه عاجزانه تلافي ده. پوهیږم که دا ټول مې په ویښتیا کې درته ویلی وای، پام دې نه ورته کیده؛ خو سر له سبا نه به زه یو ریښتینی پلار اوسم، تا سره به صمیمی اوسم. کله چې زوریدې، زوریږم به، کله چې خاندې، خاندم به. کله چې وغواړم د بې حوصله ګۍ په خاطر څه ووایم، ژبه به مې په غاښ کړم او لکه یو دیني عبادت به هر کله له ځان سره دا بیا ـ بیا ووایم:

«هغه یوازې یو ماشوم دی، یو ښکلی ماشوم.»

خواشینی یم چې ته مې یو نارینه انګیرلی وې. اوس دې ګورم چې سړی ستومانه په کټ کې ویده یې، پوهیږم چې تر اوسه پورې هغه نوي زیږیدلي ماشوم ته پاتې کیږې، چې پرون یې د مور په غیږ کې سر د هغې پر اوږو ایښی و.

پوهیږم چې ډیر مې غوښتل، ډیر زیات.

د پنځه ویشتمې مقالې پای

# په پردي چاپيريال کې مورنی ژبه،

## د کوچنيانو ادبيات او زدکړه

## «د ماشومانو ادبيات، څېړنه او ارزونه»

## د سيمينار په مناسبت

## شيرويشتمه مقاله

ټاکل شوې ده چې «د ماشومانو ادبيات، څېړنه او ارزونه» تر سر ليک لاندې، د افغانستان په جلال آباد ښار کې، د ختيزې سيمې ليکوالو او ژورنالېستانو د خپلواکې ټولنې له خوا علمي سيمينار جوړ شي. د دې سيمينار مسولينو له ما نه هيله کړې چې دې سيمينار ته يوه مقاله ولېکم. دا مقاله د هغو په غوښتنه ليکل شوې.

زموږ په وطن او ټولنه کې د جګړې اور او وير، په لسګونو سونامي ګانې رامنځ ته کړې او بې شميره غميزې يې په ميراث پرېښې دي، داسې چې زموږ څو نسلونه يې د اور خوراک کړل او هغه چې د دې سونامي ګانو له مرګونو څپو نه نيم ژواندي پاتې دي، له بېلابېلو ستونزو سره لاس ګريوان دي. د جګړې او له جګړې د را زېږېدلو سونامي ګانو د زور او تاو په وجه يو شمير وطنوالو خپل کلي کورونه، نغري، هديرې او هر څه په ځای پرېښودل، بهر ته يې يوازې د سر د خلاصون په تمه مخه کړه.

تللي خلک په بهر ملکونو کې له رنګارنګ ستونزو سره مخ شول، چې تر ټولو لويه غميزه او ستونزه يې د نورو ټولنو د کلتورونو تر فشار لاندې او ډير ځلې د کورنيو د مشرانو د بې غورۍ په وجه د مورنۍ ژبې او په عام ډول د خپل کلتور د ډيرو برخو له لاسه ورکول دي.

د بهر ميشتو افغانانو له ژوند نه چې کوم ښکلی انځور دننه په افغانستان کې د خلکو د ذهن په ګالري کې رسم شوی دی، دا سم او ښکلی نه دی، نه يې منفي اړخ سم دی او نه يې مثبته خوا. ژوند په هر ځای او هره ټولنه کې چې وي، منفي او مثبت اړخونه لري او زموږ افغانانو د ناکامی يو دليل دا دی چې هر چيرې او په هر څه کې ډير اِفراط او تفريط کوو.

په پرمخ تللو هيوادونو کې ژوند رنګينی لري، خو ستونزې يې هم ډيرې او چاقې دي. په هغو ټولنو کې د اِنتګريشن (integration) يا په ټولنه کې جذبيدل او د هغو له قوانينو سره ځان برابرول، لږې نه، ښې ډيرې ستونزې لري؛ هغه هم يو ه شرقي او د بيلې عقيدې درلودونکي انسان ته. په افغانستان غوندې يو چاپيريال کې زيږيدلی، را لوی شوی انسان ته او بيا په اروپا

غونډي یوي ټولنه کي ټول عمر ژوند کول، داسي یوه بوټي ته ورته وګڼئ چي له ګلانو او رنګینیو نه یي ازغي او بد رنګي زښته ډیره ده.

په داسي ټولنو کي زیږیدلي او زیږیدونکی نسل ته که مشران پام و نه کړي، هماغسي لویږي لکه د هغي ټولني وګړي او دا نوي ورغلي خلک تر څو چي ځان له هغي ټولني او د هغو له قوانینو سره ځان جوړوي، یا د لیونتوب پولي ته ور رسیدلی وي او یا هم دومره وخت وربانديٖ تیر وي چي نور د کهولت خزان وهلي بڼ ته ور ننوتی وي.

په دې لیکنه کي د همدغو ترخو واقعیتونو په نظر کي نیولو سره کوم تصویر چي زه له افغانستان نه د باندي د افغان ماشومانو او کوچنیانو د روزنې، مورنی ژبې د زدکړې، د فرهنګ د ساتلو او د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کي وړاندي کوم، همدا اوس وایم چي منفي اړخ یي ډیر دی. ما دي څوک د ډیر خوشبین او ډیر بد بین په تور نه رنګووي، دا یو تریخ واقعیت دی او لکه د سقراط جام، اوس افغانانو ته ور په برخه دی.

کله چي یو ماشوم، کوچنی یا تنکی زلمی د وطن پریښودلو ته اړ کیږي، نو د باندي له وطن نه، که لرې وطن وي که کوم نږدې هیواد، په لومړي ګام کي د مورنی ژبې زدکړه، ساتل او پالل ور ته ډیر اړین وي او وروسته له هغه نه په مورنی ژبه باندي ورته د مطالعي او د کوچنیانو د ادبیاتو لوستل مطرح وي.

په وطن کي د ټوپک د شپیلۍ د سُر کیدو، د جګړي د اور د تودیدو او ځینو نورو دلایلو پر بنا د ډیری افغانانو منډه ګاونډیو هیوادونو ایران او پاکستان ته وه، چي شمیر یي میلیونونو تنو ته رسیده.

په ایران کي خو یي په ډیرو ځایونو کي افغان کوچنیانو او ځوانانو ته، ښوونځي او پوهنځي ته د تګ اجازه هم نه ورکوله او د ژوند په هر چاره او هر ځای کي دوی ته د «آشغال» خطاب شوی، کیږي او که چیري کومي سلني ماشومانو کوم ټولګي ته د تګ چانس تر لاسه کړی هم وی، په داسي چاپیریال کي به و چي یو توری به هم د دوی د ژبې او عقیدې، تاریخ او جغرافیې هلته نه و. د مورنی ژبې، ښو یا په خپله خوښو زدکړو او یا د ماشوم پالني، روزني او د کوچنیانو د ادبیاتو خو لا پوښتنه هم باید و نه شي.

ایران ته که افغان د کار له پاره تللی دی او که د سر ساتلو په موخه، په هر حالت کي دی دومره په عذاب شوی چي په پای کي د کوم مظلوم افغان له ذهن او ضمیر نه دا غږ را پورته شوی دی چي فیروز کندوزي نومي سندرغاړي بیا په خپل خواږه غږ زمزمه کړی هم دی:

ورک دې شي ایران

ورک دې شي ایران د غم لړلو تومنوسره××ژوند مي په کي تیر کړ دم د یو جوړه جامو سره

ورک دې شي ایران، په ایران کي مي زړه تنګ دی
هر شرکت ته لاړ شم، په نصیب کي مي کُلنګ دی
یوه په ګناه نه یم، د مهندس را سره جنګ دی
میاشت مي پوره نه وي، بیا روان یم بسترو سره

ورک دې شي ایران د غم لړلو تومنوسره××ژوند مي په کي تیر کړ دم د یو جوړه جامو سره

ورک دې شي ایران، کار یي ټول په غم لړلی دی
هر ځوان ته چي ګورې، په ژوندیني د ګور مړی دي

حـال پـوښتنه ی مه کړه، د مـزله کـردو وهـلی دی
څوک لارو کې مړه شول، څوک سودا کوي ګوروسره

ورک دي شي ایران د غم لړلو تومنوسره××ژوند مې په کې تیر کړ دم د یو جوړه جامو سره

په پاکستان کې هم د پاکستاني قوانینو په چو کاټ کې او په افغانانو باندې د حاکم اِفراط له وجې په هغو کتابونو او درسي موادو کې چې دوی استفاده ورنه کوله، داسې څه نه شته چې ماشوم دې له پر مختللو علومو او عصري ژوند سره آشنا کړي. هغه کتابونه او درسي مواد چې ما لیدلي دي هلته درسي پروګرام داسې برابر کړای شوي و چې تر مثبتو موادو منفي په کې ډیر ځاي پر ځای شوي وو. همدې موادو ته په کتو سره، په دې اړوند ما د ۲۰۱۲ کال په پیل کې د یوې مقالې په ترڅ کې داسې لیکلي وو:

«هلته په افغانستان کې زموږ د کوچنیانو او زلمیانو په غوږونو کې د ښوونکي د غږ پر ځای، د قومندان آمرانه چیغې آزانګې کوي. اوس زموږ ماشومانو او زلمیانوته د الف او ب د زدکړې پر ځای د ډزو کولو لاربښوونه کیږي، دا دی زموږ سرنوشت او دا دی زموږ ښوونه او روزنه. په ګاونډیو هیوادونو کې چې د افغانانو له پاره کوم ښوونځي او پوهنځي پرانستل شوي وو، هغه هم د سیاست او مذهب په رنګ رنګول شوي وو. هلته هرې مذهبي او سیاسي ډلې هڅه کوله چې خپل افکار او عقاید تدریس کړي او د خپلو نظامي اهدافو د تر سره کولو له پاره، په لومړي ګام کې د ماشومانو او تنکیو زلمیانو په ذهنونو کې د جګړې، وسلې او وژنې مفاهیم ځای پرځای کړي. د دغو ښوونځیو او پوهنځیو په درسي کتابونو کې هیڅکله زده کوونکو ته د خپل وطن تاریخ، ملي ګټو، تمدن او علمي پرمختګونو په باب، څه نه لیکل کیدل، مورنۍ ژبه او ملي کلتور اصلاً مطرح هم نه وو. د دغو ښوونځیو په یو درسي کتاب کې مې ولوستل:

«ت = توپک،

ج = جهاد،

م = مجاهد،

ټ = ټانک،

و= وژل،

او...»

هلته په پاکستان کې ډیره سلنه ماشومان او کوچنیان د یوې مړۍ ډوډۍ د پیدا کولو له پاره له هر ډول روزنې ښوونځي او کتاب نه لرې، په کوڅو کې سر ګردان ګرځیدل. د داسې کوچنیانو ښه انځور د افغانستان د خلکو په درد دردیدلی لیکوال، ژورنالست او کالم لیکونکي نور البشر نوید ډیر ښه وړاندې کړیدی. د انسانیت، ماشومتوب او کوچنیتوب له ټولو حقونو محروم یو افغان کوچنی، چې پلار یې د جهاد په نامه، نیابتي جګړې کې وژل شوی دی، د اسلام نور ارکان، سواد، د کوچنیانو ادبیات او... خو لا څه کوې، چې کلمه یې هم نه ده زده. یوه ورځ مې په پیښورکې د یوې مجلې په لومړي مخ باندې پر دغه سرلیک سترګې ولګیدې:

«ما له کلمه نه راځي»

په ډیره بیره مې د نظر وړ مخ راواړاوه، هلته له دوو عکسونو سره، یو مضمون او مرکه چاپ شوي وه، چې یوه برخه یې دا ده:

نوم: زین الدین،

د پلارنوم: غواص،

عمر: پنځلس کاله،

علاقه: کندوز، کورتیپه،

حال: فارست پلوسي کیمپ، پیښور،

ملاقات: نورالبشرنوید...

... یوه ورځ یو خیرن خیچن ماشوم دفتر ته راننوتو، په غاړه کې یې د کپړې تیلی وه، په هغې کې د سپیلنو داني وې، په لاس کې یې په یوه ډبي کې د سکرو انګارو. له تیلی نه یې داني پر انګار واچولې، لوخړې شوې، ببوزی یې ورته و واهه. یو بل ورته و ویل: ما، ما، ما لوخړې مه کوه. د هغه زړه لکه چې مات شو. دویم چت ته په شیړ دیرش پونګو راختلي ماشوم ته یې په بې ارزی وکتل. ما ورته اشاره وکړه. هغه سمدستي څو داني په انګار کې واچولې، ما منع کړو او ورته ومې ویل: په موږ به د چا نظرولګي؟ د نظر شوي خلک خو تاسو یاست چې بې کوره، بې وطنه، بې یاره، بې دلداره شوي یاست. هغه ودرید او ما یې دریم چت ته په شیړ دیرش پونګو د راختلو کفاره ادا کړه. هغه تلو، ما منع کړو. خبره واوره ! هغه ګم سم ودرید. ما ورته و وې:

ـ ته د کوم ځای یې؟

ـ زه، زه د کند ز یم.

ـ دلته کینه!

زما خواته د کند ز ولایت د کورتپيي شهزاده، د ښار د لوګیو خیرن ناست و. دغه وخت یو بل افغان مهاجر راغی. سپینه ـ ښکلې پاکه ږیره، تک سپین پګړی په سر کړی، تک سور سپین مخ، ما دغه سپین ږیري ته و وې : راشه ستا وطندار دی. هغه څو ورځې وړاندې ماته ویلي و چې: زه د کند ز د ولایت یم، په سوونو جریبه زمکه لرم، یو زوی مې په سعودي کې دی. هغه له خپل وطندارسره یو څو خبرې وکړې او بیا یې ور ته و وې چې: اوس ښه سړي له راغلې، هغه ما ته اشاره وکړه او ولاړو. زما مخې ته د کند زولایت شهزادګان ناست وو، یو شهزاده چې په مخ کې یې نن هم د خپل وطن ... توب سره وو او په پټکي یې دوړه نه وه؛ بل شهزاده د سپیلنو شهزاده و چې د خپل وطن سره یې په مخ کې سوزیدلي وو. په وړوو لاسونو کې یې اور نیولی و، په سپوږمی مخ یې د پیښور د لوګو تورکي وو، په سترګو کې یې د رنجو په ځای، یأس او ارمان و، د افغانستان د شهید زوی و، مور او دوو ماشومانو له پاره یې سوال کولو، ډوډی یې غوښته، د خپل وطن مُلا ورته ویلي وو چې د اسلام جنګ دی، ورشئ یو د بل سرونه مات کړئ. د اسلام او د وطن په نوم لکونه افغانان قتل شوي. یو طرف ته افغان شهید شو، بل طرف ته یې افغان ته د شهادت مرتبه واخیسته. زما سره د افغانستان د هغه شهید زوی ناست و، د چا پلار چې د اسلام له په لار کې شهید شوی دی. ما له هغه نه آخري تپوس کړی و او زه یې ګونګی کړی وم:

ـ بچې تا له کلمه درځي؟

ـ کلیمه؟ نا، ما له کلمه نه راځي .

ـ بچې، مونځ درځي؟

ـ مونځ؟ مونځ نه راځي.

زه د اسلام د شهید زوی نه دوو آخري سوالونو په خپله یو سوال کړم...»

د مورنۍ ژبې او په مورنۍ ژبه باندې د سواد د زدکړې مسأله په اروپايي هیوادونو کې، د هر هیواد د ځانګړو قوانینو په چوکاټ کې تر سره کیدای شي، خو بیا هم دا د هر هیواد په هغو خلکو پورې تړلې ده چې دلته د مهاجر په توګه ژوند پیل کوي، په تیره د کورنۍ په مشرانو پورې یې اړه لري چې تر کومې اندازې دوی له خپل وطن، تاریخ، خپل کلتور، خپلې مورنۍ ژبې سره مینه ساتلې ده او د هغو په زدکړه کې څومره د کوربه هیواد له امکاناتو نه استفاده کولای شي. د اروپايي هیوادونو په سیمه کې، په تیره ډنمارک کې د زدکړو، هر ډول امکانات شته، دا په هر چا پورې اړه لري چې استفاده ور نه کولا شي که نه.

په اروپايي هیوادونو کې د مهاجرو ضد سیاست د روحې په رامنځ کیدو سره او د راسیزم په قوي کیدو سره د مورنۍ ژبې د زدکړو امکانات ورځ تر بلې محدود شول او حتی په ځینو هیوادونو کې دا خبرې هم رامنځ ته شوې چې: هغه بودجه چې د بهرنیانو د مورنۍ ژبې په زدکړه باندې مصرفیږي، ولې یې د خپلو ژبو د زدکړې او تقویې له پاره مصرف نه کړو؟

کله چې زه په ۱۹۹۲ ام کال کې د افغانستان پریښودلو ته اړ شوم، لومړنی ځای چې ما د افغان ماشومانو او کوچنیانو او نوي نسل بد حالت په کې ولید، هغه پیښور و.

سره له دې چې زه تر سخت رواني فشار لاندې وم، بیا مې هم د ماشومانو، کوچنیانو او نوي نسل ته د څه لیکلو په نیت ګوډ مات یاد داشتونه په ذهن او کاغذ باندې اخستل.

د نوي نسل د سواد، زدکړو، روزنې او د کوچنیانو د ادبیاتو د خراب حالت د یو تصویر وړاندې کولو په موخه مې په ماسکو کې، «نوید» نومې اخبار ـ چې د ښاغلی فاروق فردا په مدیریت خپریده ــ د «پردی چاپیریال او د مهاجرو کوچنیانو د زدکړې مسأله» تر سر لیک لاندې، د مقالو سلسله پیل کړه او بیا مې د ۲۰۱۲ کال د فبرورۍ په ۲۲ مه د دویم ځل له پاره ویبپاڼو کې هم خپره کړه. هلته ما د افغان ماشومانو کوچنیانو او تنکیو ځوانانو د غه حالت ته په کتو سره خپل نظر لیکلي او خپور کړی و او اوس هم په هماغه نظر یم، هغه نظر داسې دی:

«... ما د مهاجرت د نورو ترخو تر څنګه، د افغان کوچنیانو راتلونکي زوروي او هر کله په دې فکرکې یم چې په پردیو چاپیریالونو کې به د افغان کوچنیانو د سواد مسأله څنګه کیږي؟ ځکه چې مهاجرت هرڅه له انسان څخه اخلي. ژبه،کلتور، رواجونه، کور، جومات، مړی، ژوندی، هدیره او ... خو موږ باید ځانونه تسلیم نه کړو. له ټولو میندو او پلرونوسره ښایي چې د نورو نا خوالو سره د مبارزې تر څنګ، په جدي ډول له دې ستونزې سره هم مبارزه وکړي، تر څو زموږ کوچنیان له خپل فرهنګ، تاریخ، عقایدو، ادبیاتو، ژبې او... څخه بیګانه او لرې پاتې نه شي او که ځای پر ځای لاس تر زنې کینو، خدای مه کړه سبا به زموږ د هر یوه کوچنیان بې سواده، له خپل فرهنګ او ژبې سره نا آشنا را لوی شي؛ بیا به نوی نسل له خپل فرهنګ،ژبې، تاریخ او هر څه سره نا بلده او بیګانه وي. بیا به دا د شرم پیټی چیرته او تر څو پورې پر شا چلوو .

دلته په روسیه کې د اټکل له مخې د مهاجرو افغانانو پنځه نوي سلنه مشران باسواده دي، خو خپلو کوچنیانو ته حد اقل الفبا او د خپلې مورنۍ ژبې لوستل او لیکل نه شي ور زده کوالی. وبه منو چې ښوونځي نه شته او شرایط په جدي ډول خراب دي، خو راځئ چې په ډیر ابتدايي ډول یې له کورني سواد څخه پیل کړو.

دا خبره کومه نوې خبره نه ده، پخوا هم زموږ په هیواد کې دا رواج و چې په کورونوکې به د لومړني سواد زدکړه پیل کیده. په دې ډول به موږ وتوانیږو چې حد اقل د مورنۍ ژبې د لوستلو توان خپلوبچیانو ته ورکړو او که دا ونه شو کړای، نو زموږ د بچیانو برخلیک به داسې شي

چي بیا به لکه ځیني ښاغلي، خپلي کورنۍ ته به هم په خپله مورنۍ ژبه لیک نه شي لیکلی. دلته ماسکو کي به د خپلو سترګو یو لیدلی حال تاسو ته ولیکم:

یوه ورځ په یو ځای کي ناست وم، د دوستانو له ډلي څخه یو تن د وطن په لوري روان و او دی په دي ښه پوهیده چي وطن، کلي او کور ته په رسیدو سره، د دي زلمیانو کوم چي دلته ژوند یا زدکړي کوي او یا د محصل په نامه له وطن څخه راایرل شوي دي، د دوی کورنۍ خامخا د خپلو زامنو او بچیانو حال او احوال ورځني غواړي. ټولوته یې وویل:

هلکانو! خپل احوالونه د لیکونو په ترڅ کي ولیکئ چي زه یي ستاسو کورنیو ته ورسوم. ځکه لیک نیم دیدن دی او ستاسو کورنۍ خامخا ستاسو د لیدلو هیله لري. هغوی وویل: سمه ده. ځوشیبي وروسته یو زلمی کاغذ او قلم په لاس کوتي ته راننوت او وې ویل: دا دی کاکا، قلم اوکاغذ مي راوړل، هرڅه چي زه درته وایم، ته یي ولیکه . وطن ته تګونکي دوست مخ ور واړاوه او ښه بد رد یي ورته وویل.

ما په هغي شیبي کي د دي دوست په سترګو او څیره کي یآس او خواشیني ولیدل. ده ورو ترشونډولاندي د قهر په څپو کي دا مطلب زمزمه کاوه:

«سري لمبي مي خوښي دي، خومره خوړلن ته نه راځم
داځلـي کـه لاړم، بیا بـه دي وطـن تـه نـه راځـم»

دغه زلمي چي خپلي کورنۍ ته په بل چا خط لیکه، وړوکی له وطن څخه راایړل شوی و، مور، پلار او کورنۍ یي نه وه ور سره چي څه یي زده کړي وای. دی په لیلیه، پارک، پوهنځي، سرک او نورو ځایونو کي، هره شیبه له پردی ژبي، پردي کلتور او پردیو خلکوسره مخامخ و او... ځکه تر دي سرحده پوري رسیدلی و؛ خو موږ او تاسو خو له خپلو بچیانوسره یو ځای یو او سواد هم لرو او د فرهنګ، فرهنګ چیغي هم وهو، د دي په باب ولي فکر نه کوو چي:

«ولي مو بچیان تراوسه پوري په خپلو مورنۍ ژبو لیک لوست نه شي کولای؟»

له ګاونډیو هیوادونو ایران او پاکستان نه ور وړاندي، په دا نورو لرو او نږدې هیوادونو لکه: تاجکستان، روسیه، أکراپین او ... کي هم د کوچنیانو د زدکړي مسأله، ښوونځي ته تګ او د مورنۍ ژبي په زدکړي او ساتنه پسي، نه ورغلي مهاجر دومره سر خوځوي او نه هم د کوربه هیوادونو خلک او واکداران په ځبل پروګرام کي څه ور ته لري. او دلیل یي دا دی چي یا به کوربه هیواد ته دا موضوع دومره ارزښت نه لري او بودجه به هم نه وي په نظر کي ور ته نیول شوي او ورغلي مهاجر هم په یادو هیوادونو کي د موقتي استوګني په فکر کي وي او له دي هیوادونو نه یي، یوه دایمي امن هیواد ته د تګ په خاطر د ترانزیت یا د خیز د تختي په توګه کار اخیسته.

سره له دې چي په ځینو هیوادونو لکه روسیه کي د افغانانو له پاره ځانګړي ښوونځي هم پرانستل شوي وو، خو موثریت یي د ښکاره او نا ښکاره دلایلو له مخي دومره محسوس نه وو. البته چي په ماسکو کي په خپله افغانانو هم نوښتونه وکړل او وروسته له یاد ښونځي نه د ښاغلي سیداعظم اخګر کارونه د ستاینې وړ دي چي د افغان کوچنیانو د ښووني، روزني او مورنۍ ژبي د زدکړي په برخه کي یي یو لړ ګټورګامونه اوچت کړل.

په روسیه کي د مورنۍ ژبي د زدکړي او ساتني په برخه کي بل د پاملرني وړکار، د مهاجرینو له پاره د ملګرو ملتونود «UNHCR» د اداري او اکلیبر د خیریه مؤسسي له خوا، د افغان کوچنیانو له پاره د یو ښوونځي پرانستل دي. په دې ښوونځي کي د نورو مضامینو تر څنګ، مورنۍ ژبه هم تدریسیدله. په ماسکو کي د میشتو افغانانو او د هغو کوچنیانو د کورنیو د معلوماتو

له مخې چې کوچنیان یې همدې ښوونځي ته تلل؛ د دې ښوونځي تدریس ډېر مثبت ارزول شوی دی. دا خبره هم د یادولو وړده چې په ماسکو کې د افغان کوچنیانو ډېره سلنه په ستونزمنو فزیکي کارونو اخته دي، په دې خاطر د ښوونځي او مورنی ژبې د زدکړې له پاره دومره وخت هم نه پیدا کیږي ...»

البته دا پاسنی گزارش ما د یوې نمونې په ډول یاد کړ، خو په ماسکو غوندې پردي چاپیریال کې یې موثریت د ماشومانو، کوچنیانو او تنکیو ځوانانو په را تلونکي ژوند کې دومره محسوس ځکه نه و چې دا کار په نوي چاپیریال کې چې مهاجر ور روان و، یا نه تعقیبیده او یا به شرایط بیخي په بل ډول وو.

دایمي استوګنځیو ته(هغه هیوادونه چې یو پناه ِغوښتونکي ته پنا ورکول کیږي) په رسیدو سره له ډیرو امکاناتو سره سره بیا نورې ستونزې سر را پورته کوي چې د دې ستونزو په سیوري کې ځیني کورنی د خپلې مورنی ژبې، زدکړو، ښوونځي، پوهنځي، یا لوړو زدکړو په فکر کې هم نه وي. یوه ډله افغانان یې داسي انګیري چې جنت الفردوس ته رسیدلي دي، هر څه د سوسیال له خوا تیار دي او هیڅ ډول ستونزې نه شته، نور نو زدکړې،، مورنی ژبې، خپل کلتور، خپل تاریخ، په وطن کې د جګړې لمبې، په وطن کې د پاتو خلکو فکر او ... څه کوي.

بله ډله افغانان هم د لومړی ډلې په څیر د هیڅ شي په فکر کې نه وي، یوازې د پیسو د پیدا کولو په موخه هڅې کوي او اولادونه د ښوونځي او پوهنځي په ځای پیزاري ته لیږي، څو د پیسو د ګټلو په موخه فزیکي کارونه وکړي.

البته شته داسي افغانان چې د خپل وطن، خپل کلتور او خپل هر څه ته په پام سره، د کوربه هیوادونو له ټولو مثبتو امکاناتو نه په استفادې سره خپلو ټولو مثبتو تجربو نه استفاده کوي، پر ځان فشار راوړي، حتی له خپل معاش نه خپلو بچو سره د مرستې زمینه برابروي، څو کوچنیان او ځوانان زدکړې تر لاسه کړي.

بله خبره دا ده چې په اروپا، امریکا او ځینو نورو پرمخ تللو هیوادونو کې د مورنی ژبې مسأله ډیره سلنه په خپله د افغانانو په علاقې او هڅو پورې اړه لري. په یو ډیر تازه ګزارش کې مې ولوستل چې څه ډول افغانانو ته په ځینو هیوادونو کې په مورنی ژبې د ژباړن د نه شتون په وجه د کیس په اړوند ضرروونه رسیدلي دي، دا په دې چې د محکمې په لړ کې مثلاً دري ژبې ته ایرانی ژباړن راغواړي بیا د قاضي او د دوسیې والا په منځ کې نا پوهیدنه یا سوتفاهم رامنځ ته کیږي او پایله یې د مهاجر له پاره منفي وي.

د کانادا په هیواد کې افغانانو، په ډیر زحمت سره، د کانادا هیواد مقامات په دې قانع کړي دي چې پښتو او دري ژبې د کانادا په رسمي دفاترو کې داسي ثبت او ومنل شي چې د اړتیا په وخت کې هر چا ته په خپله مورنی ژبه ژباړن را وغواړي.

کوم معیارونه چې د کو چنیانو د ادبیاتو په برخه کې په نړیواله کچه منل شوي او مراعاتیږي، د هغو په چوکاټ کې هیڅ ځوک نه شي کولای و وایي چې افغانان به په بهر کې خپلو بچو ته کتابونه برابر کړي وي، یا به یې د مطالعې زمینه ور ته برابره کړې وي او یا به یې کوم ماشوم ته په خپله مورنی ژبه د خوب په وخت کې کوم کتاب لوستی وي. د ماشومانو او کوچنیانو له پاره په اروپا کې په کتابي او چاپي بڼه زما له نظره څه نه دي تیر شوي، په ویبپانو کې د کوچنیانو له پاره څه شعرونه او کیسي لیکل شوي او ژباړل شوي دي چې د لاندې ښاغلو نومونه د یادونې وړ دي:

۱ــ احمد ولي اڅکزی، د ماشومانو او کوچنیانو له پاره یې کیسي او شعرونه لیکلي دي،

۲ــ ښاغلي ملک پرهیز د ډنمارکي لیکوال هانس کریستین اندرسن څو کیسې ژباړلې دي،

۳ــ ښاغلي یوسف هیواد دوست د ډنمارکي لیکوال هانس کریستین اندرسن څو کیسې ژباړلي دي،

۴ــ آصف بهاند د ډنمارکي لیکوال هانس کریستین اندرسن څو کیسې ژباړلي دي.

که چیرې د کوم ماشوم مور یا پلار د خوب په وخت کې، کوم افغان ماشوم ته د آرامه خوب په موخه، کوم کتاب یا کومه کیسه لوستې وي، هغه به هم د کوربه هیواد په ژبه وي، نه د ماشوم په مورنۍ ژبه. د کوچنیانو د ادبیاتو له پاره ډیر د پاملرنې وړ کار د ننه په افغانستان کې شوی او هیله ده چې دا کار نور هم په مثبت لوري تعقیب او وغځول شي.

کله چې زه (آصف بهاند) اروپا ته را ورسیدم، د کوچنیانو د ادبیاتو او نوي نسل د روزنې، په تیره بیا د مورنۍ ژبې د زدکړې او یا عادي لیک لوست د یادولو په موخه مې خپلې هلې ځلې منظمې کړې او جدي هوډ مې وکړ چې په دې برخه کې به کار کوم، نو هماغه و چې په لومړي ګام کې مې په سویډن کې د مورنۍ ژبې له ښونکو سره د سویډن دولت او ځینو افغان فرهنګي ټولنو او شخصیتونو په مرسته کار پیل کړ او د ۲۰۰۲ کال په جنوري کې مې په ستاکهولم کې د دریو ورځو په مخ، د مورنۍ ژبو په هغه سیمینار کې د لکچرست په توګه فعاله ونډه واخیسته چې په سکندنویایي هیوادو نو کې د میشتو افغانانو د مورنۍ ژبو د ښونکو له پاره جوړ شوی و.

په یاد سیمینار کې مې، خپل لومړني یاداشتونه، د دوو مقالو په چوکاټ کې، له ستاکهولم نه په خپریدونکي «فردا» نومې مجله کې خپاره کړي دي.

(فردا مجله، د ۲۰۰۲ کال د مارچ او اپریل ګڼه)

له هغه نه وروسته مې د کوچنیانو د ادبیاتو او نوي نسل د روزنې په برخه کې چې څومره توان رسیدلی او موضوع پورې اړوند مواد په مخه راغلي دي، ما وخت په وخت لیکنې کړې دي. «د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر او اوسنی حالت» تر سر لیک لاندې مې د دې کرښو تر لیکلو پورې ۲۴ مقالې خپرې کړې دي چې ټولې په ویبسایتونو کې همدا اوس هم آنلاین موجودې دي، که یې درانه لوستونکي د مطالعې لیوالتیا ولري، کولای شي په دې پته ټولې ولولي:

د مطالعې د دود او نوي نسل د روزلو په موخه مې تر اوسه څو ګټورې مقالې خپرې کړې دي،

ما په ۱۹۹۴ ام کال کې ویلي، لیکلي او خپاره کړې وو چې ټول خلک په تیره هغه قلموال چې عملاً د کوچنیانو د زدکړو او ادبیاتو په برخه کې فعال دي، باید دې موضوع ته په کمه سترګه ونه ګوري، څو هغسې چې باید، و نه شول. هغه توري دا دي:

«زه له ټولوفرهنګیانو،په تیره له هغوفرهنګیانوڅخه چې عملاً لیکنې او نشرات کوي،هیله کوم چې د افغان مهاجرو کوچنیانو د ښوونې او روزنې له پاره کم له کمه په خپلو خپرونو کې جدي پاملرنه وکړي.

ښاغلي جنید شریف د خپلو ژباړو په لړ کې د یوه ژباړل شوي اثر په مقدمه کې لیکلي ووچې :
«... بیت نیکه په دویمه هجري پیړۍ کې په زاړۍ، زارۍ د خدای له دربار غوښتلي وو چې:
دا وګړي ډیرکړې خدایه لویه خدایـــه، لویه خدایــه »

اوخدای(ج) دا وګړي ډیر کړل؛ خو اوس اوس داسې څوک نه شته چې یو وار ووایي:

دا وګړي ماړه کړې خدایه! لویه خدایه، لویه خدایه، دا وګړي باسواده کړې خدایه! لویه خدایه، لویه خدایه!!! »

زه د یو عیني شاهد په توګه ویلای شم چې:

د پاسنیو نیمګړتیاوو تر څنګه دا هم باید یاده شي چې افغانان چې هر هیواد ته رسیدلي دي، په ټول کې د خپلو ماشومانو او کوچنیانو د پاللو، روزلو، فرهنګ ساتلو فکر ورسره و. د دې کار له پاره یې د کوربه هیوادونو د امکاناتو نه تر یوې اندازې استفاده هم کړې او په شخصي او انفرادي ډول یې هم دې موخې ته د رسیدو هڅې کړې دي، خو په ټول کې دا کار که هر چا ته د ارزونې له پاره وسپارل شي، ضعیف ځکه ارزیابي کیږي چې په بهر کې مو ډیره سلنه ماشومان، کوچنیان او نوی نسل په خپله ژبه سم غږیدای نه شي، لیک لوست وربانديې نه شي کولای او ...

د دې ټولو نیمګړتیاوو او منفي خبرو په څنګ کې، په بهر کې افغانان د نوي نسل د پالنې ـ روزنې، د کوچنیانو ادبیاتو ته پام او له نوي تمدن او نوې نړۍ سره د نوي نسل د آشنا کولو له پاره ځینې ګټور کارونه هم کړي دي چې تر ټولو غوره بیلګه یې د ځینو ویبپاڼو او فیسبوک پاڼو جوړل او په هغو کې د ماشومانو، کوچنیانو او نوي نسل د روزلو په برخه کې تر ټولو نوي لاسته راوړنې، تخلیقات، ژباړې او روزنیزې مقالې او مطالب خپرول دي. لکه:

ـ ماشوم روزنه (فیسبوک پاڼه)،

ـ د ماشوم د ادبیاتو کور(فیسبوک پاڼه)،

ـ پل (ویبپاڼه)،

ـ کتابتون دات کام (ویبپاڼه)،

ـ کوچنیان دات کام (ویبپاڼه).

د ماشومانو، کوچنیانو او نوي نسل د روزلو په برخه کې په دې وروستیو کې هڅې زیاتې شوې دي ډیری ویبسایتونه په دې برخه کې لیکنې، ژباړې او تخلیقات خپروي.د ساري په ډول د تاند او پل فعالیتونه یادولای شو. هغه څه چې نن سبا «تاند» او «پل» ویبپاڼې او د دوی قلمي همکاران لیکي او خپروي یې د کمیت او کیفیت له پلوه له تمې نه لوړ او مثبت دي. مینه وال کولای شي په دې باب زیات مالومات په دې لینک کې ولولي:

دا پټې چې ما یادې کړې، که له افغانستان نه چلیږي او خپریږي، که له بهر نه اداره کیږي، خو اوسنی تکنالوژي یې سمدلاسه، په هماغه شیبه کې مطالب د نړۍ په هر ګوټ کې تر لوستونکو،لیدونکو او اوریدونکو پورې رسوي.

د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د خپرو شووکتابونو او په ویبپاڼو او فیسبوک کې د راغلو موادو په برخه کې چې ما کومې یادونې وکړې، د دې په برخه کې هم په ټول کې افغانان او په ځانګړي ډول پښتانه ستونزې لري. د بریښنایي آدرسونو (فیسبوک پاڼې، ویبسایتونه، بریښنایي آنلاین کتابونه) په برخه کې دننه په افغانستان کې د استفادې امکانات ډیر محدود دي، یا بیخي کمپیوټر او انټرنټ نه پیژني او که یې پیژني، بیا ډیری خلک د انټرنټ ستونزه لري.

په بهر کې چې د کمپیوټر او انټرنټ ستونزه نه شته، بیا نو خدای ځینې خلک په دې مرض اخته کړي دي چې کمپیوټر نه استفاده نه کوي او له ټولو نه لویه ستونزه دا ده چې په ټول کې په افغانانو کې او په ځانګړي ډول په پښتنو کې د مطالعې دود یا هیڅ نه شته او یا هم ډیر ضعیف دی.

پاسنۍ نیمګړتیاوې چې ما په ښنه کړې، دا د دې له پاره نه دي چې زه خپل خلک یا فرهنګیانو ته په کم نظر وګورم، نه داسي نه ده ما ته د انسان توری، بیا په کې زما خپل هیواد وال ډېر ارزښت لري. دا درد مې په دې وخت کې د دې سیمینار په مناسبت ځکه بیان کړ چې د ویلو وخت يې همدا و او بله دا چې دا کار ما د تخریب له پاره نه، بلکې د اصلاح په غرض وکړ، دا په دې چې د ټولو پاملرنه د ماشومانو، کوچنیانو او نوي نسل پالنې، روزنې او ادبیاتو ته ور واوړي.

تر ټولو ستره پانګونه د نوي نسل روزل دي، که مو نوی نسل و نه روزئ، خپلې راتلونکې زمانې او خپل راتلونکي نسل ته مو په خپله اور اچولی دی، بل چا ته د حکایت او شکایت حق نه لرئ. محمود طرزي ډېر ښه ویلي دي: «هرقوم په خپلې ژبې اوهره ژبه په خپلو ادبیاتو ژوندی پا تې کیږي»

په اروپا کې، په سکندنویایي هیوادونو کې، په تیره ډنمارک کې، چیرې چې د مورنۍ ژبې د تدریس او یا له دې سره اړوند کتابونه او درسي مواد ما ته په مخ راغلي دي، ما په خپلو یاد داشتونو او مقالو کې د هغو یادونه کړې ده او ثبت کړي مې دي.

د دې خبرې یادول ډېر اړین ګڼم چې د مورنۍ ژبې په برخه کې تر ټولو ډېر او موثر کار د سویډن په هیواد کې هم د سویډن د دولت په پاملرنې او هم په سویډن کې د میشتو فرهنګیانو په جدي کار او پاملرنې سره تر سره شوی دی، درسي مواد برابر شوي، درسي کتابونه لیکل شوي د مورنۍ ژبې کورسونه دایر شوي دي او حتی د مورنۍ ژبې له پاره ویبسایتونه پرانستل شوي دي، چې موثریت يې په سویډن کې د افغان میشتو کورنیو په ماشومانو، کوچنیانو او تنکیو ځوانانو کې له ورایه محسوس دی.

اوس افغانان په هر ډول شرایطوکې چې دي، په هر هیواد کې چې ژوند کوې، باید د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتنې او پا لنې په برخه کې او د کوچنیانو د ادبیاتو مسألې ته جدي پاملرنه وکړي. په ۲۰۰۲ کال کې چې ما د موضوع په اړوند د سویډن په ستاکهولم کې ځینې وړاندیزونه کړي وو، اوس يې هم ضروري بولم. هغه وړاندیزونه په لړ توپیر سره په دې ډول دي:

ــ په افغانستان کې سیاسي ـ نظامي حالت ټیکاو نه لري، هره ورځ څه چې هره شیبه بدلیدلای شي، د همدې دلیل له مخې د ټاکلي وړاندیز مطرح کول ګران بریښي؛ ځنګه چې په افغانستان کې دننه او له افغانستان څخه د باندې د مورنۍ ژبې ستونزې توپیرسره لري، په افغانستان کې د ننه په مورنۍ ژبې د تدریس او لیک لوست مسألله طرح ده او له افغانستان څخه د باندې په مورنۍ ژبه باندې پوهیدل، د مورنۍ ژبې زده کول، وربانديې خبرې کول او د هغې د سا تلو او پا للو مسأله مطرح ده.

د همدې دلیل له مخې په افغانستان کې دننه ټولو کورنیو، دولتي اړوندو ادارو، ښوونکو او فرهنګیانو سره ښايي چې په مورنۍ ژبه باندې د لیک لوست مسأله دې نه هیروي او ساده دې نه انګیري؛ ځکه چې په مورنۍ ژبه باندې د یو څه زده کول او په دویمه ژبه باندې څه زده کول ډېر توپیر سره لري.

ــ په ګاونډیو هیوادونو، په تیره پاکستان او ایران کې سره له دې چې مهاجرافغانان د یادو هیوادونو، ژبو او ټولنیزو سیاسي شرایطو بار پراوړو وړي، خو باید د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتلو او لیک لوست مسأله هیره نه کړي .

ــ اوس چې له افغانستان نه د باندې بې شمیره فرهنګي ټولنې جوړې شوې دي، که دغه ټولنې د نورو هیوادونو د ناروا پروګرامونو په لمنو پورې نه وي زوړندي؛ باید د افغان کوچنیانو مورنۍ ژبو ته پاملرنه وکړي او په کوربه هیوادونو کې له رسمي مقاماتو سره په تماس کې، د مورنۍ

ژبې د زدکړې په برخه کې بنسټیز کارپیل کړي. څومره چې زه مالومات او تجربه لرم، د بي بي سي د تعلیمي اداري له خوا د خپرو شویو کتابونو د تدریس نتیجه ډیره ښه ده، ځکه یې د تدریس د دوام پلوی یم او وایم چې د دغو کتابونو د تدریس لړی دې پراخه شي .

ـ څنګه چې ښکاره ده په افغانستان کې دننه چاپېریال، د ګاونډ یوهیوادونو چاپیریال او نورو هیوادونو چاپیریال یو بل سره جوت توپیرونه لري، باید د هرهیواد د عیني شرایطو، ستونزو او امکاناتو په نظرکې نیولو سره د مورنۍ ژبې د زدکړې، ساتنې او پالنې له پاره درسي مواد او شرایط برابرکړای شي.

ـ څنګه چې لیدل کیږي د ډیرو هیوادونو په تعلیمي نصاب کې د مورنۍ ژبې زدکړې له پاره ځای نه شته، د همدې دلیل پر اسا س له هرې ممکنې وسیلې نه په استفادې سره د مورنۍ ژبې زدکړه په تعلیمي نصاب کې ځای پر ځای شي او که ممکنه نه وي، د کوچنیانو کورنۍ، فرهنګیان او ښوونکي دې په شخصي ډول د مورنۍ ژبې د کورسونو پرانستلو ته ملا وتړي .

ـ په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې میډیا سره ښایي چې د مورنۍ ژبې د اهمیت، تدریس او ساتلو په برخه کې په پراخ ډول تبلیغاتي کمپاین پیل کړي. ټولو لیکوالو ته لازمه ده چې د موضوع د اهمیت په اړوند مقالې او کتابونه ولیکي.

ـ دې مسألې ته دې د لویانو او کورنیو پام وي : کوچنی چې په پردي چاپیریا ل کې لوییږي، هرډول چې کیږي، باید د مورنۍ ژبې زدکړې ته یې جدي پاملرنه وشي، چې په دې ډول ما شوم وکولای شي چې له خپلې کورنۍ او هیواد والوسره د پوهونې را پوهونې او ارتباط یوه وسیله ولري. که ننې ماشومان او د سبا ورځې ځوانان له هر څومره لوړوزدکړو سره خپل وطن اوخ لکوته ور وګرځي، که په خپله مورنۍ ژبه چې د ده د خلکو ژبه هم ده، خبرې ونه شي کړای، نه یوازې دا چې هغو خلکو او هغه وطن ته خدمت نه شي کولی، بلکې خپل شخصیت ته یې هم ضرر رسوي او پایلې یې منفي دي .

ـ د مورنۍ ژبې په اړوند دې د ټولو ذیربطو دولتونو، فرهنګي مؤسسو، میډیا او اشخاصو فعا لیتونه ، د ملګرو ملتونو د ځانګړو ادارو له پروګرامونوسره همغږي شي.

درسي پروګرام او درسي مواد باید د علمي او متخصصینو له خوا د تیرو تجاربو له مثبتو اړخونو نه په استفادې سره ولیکل شي. هیله داسې ده چې د دې آثارو د چاپ مصارف دې د ملګروملتونو د ماشوم صنوق له خوا ورکړل شي .

څنګه چې د سویډن دولت د مورنۍ ژبې په برخه کې زیات کارکړی دی او ښې تجربې لري، نو په نږدې راتلونکې کې دې، د ملګرو ملتونو او اروپایي اتحادیې سره په تفاهم کې، د مورنۍ ژبې د تدریس او خوندي ساتلو کارپوهان، لیکوا ل او د نظر خاوندان د یوه علمي سیمینار پرمیز سره راټول کړي؛ چې هغوی د یوه واحد درسي پروګرام او درسي موادو له پاره، خپلې تجربې، لیکنې او نظریات یو بل ته واوروي او خپلوکې دې قناعت سره وکړي.

داسې نه شي چې بیا یو ښوونکی په یو ځای کې ماشوم ته و وایي چې : د افغانستان فلانی واکدار خدمتګار او ملي قهرمان و او دا بل یې و وایي چې هغه خاین و، وطن پلورونکی او قاتل و. دا نمونې د دې لړ په تیرو تجاربو کې، له بده مرغه لیدل شوې دي.

ـ په راتلونکې کې دې په نویو چاپیدونکو درسي کتابونو کې د ملي ګټو او ملي هویت مسألې ته جدي پاملرنه وشي او د مسایلو د روښانولو له پاره دې وطني نومونې او ملي ترمنالوژي وکارول شي .

ـ که مور ماشومان له بيسوادى، ظلم، زورزياتي او محروميتونو څخه خلاص نه کړو، په څو يم ځل به مو انسانيت له بي عدالتى او ظلم سره مخامخ کړى وي .

راشئ ماشومان د بيسوادى له لوى ظلم څخه وژغورئ !

راشئ د کوچنيانو په باب هغسي چې د نوې زماني علمي غوښتني يې غواړي، فکر وکړو !

ـ لکه څنګه چې څو ځلي بيلابيلو آدرسونو ته ګران دوست او د کوچنيانو ادبياتو عملاً ډير فعال شخصيت ښاغلي اجمل تورمان، په تعليمي موسساتو کې د کوچنيانو د ادبياتو د مضمون د تدريس وړانديز کړى، د هغه په تاييد سره زه د کوچنيانو د ادبياتو د برخي د فعال او د نوي نسل د روزلو د پلوي په توګه ټينګار کوم چې د کوچنيانو ادبيات دې په مکاتبو او پوهنتونونو کې د يو مضمون په ډول تعليمي نصاب ته داخل کړاى شي.

دا وړانديزونه ما پخوا کړي وو، په ۲۰۱۲ کال کې مې بيا چاپ او تکرار کړل، خو تر نن پورې هيڅ نه دي تر سترګو شوي. که خپله ورپسي و نه ګرځو، بل څوک مور ته هيڅ هم نه کوي.
د سيمينار ګډون کوونکو ته مې د کوچنيانو د ادبياتو د نوموني په برخه کې وړانديز دا دى چې په همدې سيمينار کې دې را ټولو درنو پوهانو ته دا موضوع مخکي کيښودل شي چې:
د کوچنيانوادبيات و ويل شي که د ماشوم ادبيات؟؟؟

دي موضوع ته ما د کوچنيانو ادبياتو د مقالو په لومړۍ برخه کې، په کابل کې د شپيتمي لسيزي په پيل کي د داير شوي سيمينار د پريکړو په رڼا کي اشاره کړې وه چې ماشوم هغه نوزيږي ته ويل کيږي چې لا ليک لوست نه شي کولاى او کوچنى بيا هغه ته ويل کيږي چې د ليک لوست شي، ځکه نو د ماشوم د ادبياتو د اصطلاح پر ځاى بايد د کوچنيانو ادبيات وکارول شي، بيا هم څنګه چې په دې سيمينار کې د را ټولو شو پوهانو پريکړه وي، هغسې به وشي.

شپږوېشتمي مقالې پاى

# قلم، ټویک او چکچکي

## اوه ویشتمه مقاله

زموږ پر وطن او خلکو چې کوم حالت راوړل شوی دی، له دې حالت نه هره ورځ بد خبرونه او منفي زیري را روان وي. د همدغو بدو پیښو او خبرونو په لړ کې مې څو ورځې وړاندې په میډیا کې د یوه افغان کوچني عکس تر سترګو شو چې د یوه عسکر کالي یې په تن وو، ما فکر وکړ چې بیا چا خپل کوچني ته دا جامې شوقي ور اغوستي دي. له ماشوم او کوچني سره مې عسکري جامې او ټوپک نه خوښیږي، نو پرته له دې د لیکنې جزیاتو ته یې پام وکړم، ور نه تیر شوم، خو د ۲۰۱۶ کال د فبرورۍ د میاشتې په څلورمه نیټه مې په تاند کې دا سر لیک تر سترګو شو:

«هغه ماشوم چې ۳۴ ورځې د طالبانو پر ضد د جګړې قومانده په لاس کې لرله»

ماشوم، د جګړې قومانده، هغه هم څلور دیرش ورځې، هک پک شوم او د مطلب لوستل مې پیل کړل.

لیکلي مطلب را ته وویل چې:

د واصل احمد پلار او تره دواړه طالبان وو، د هغوی لار یې پریښې وه او د دولت له مخالفت نه یې لاس اخیستی و، د واصل احمد پلار طالبانو و واژه، تره یې له محلي پولیسو سره مل او وسله یې واخیسته، واصل احمد هم د پلار د غچ اخستلو له پاره وسله وال شو. د واصل احمد تره له «CNN» تلویزیون سره په مرکه کې ویلي دي چې وروسته له جګړې واصل احمد ښوونځي ته لاړ او بیا په لاره کې د وسله والو له خوا و ویشتل او و وژل شو.

هغه څه چې نن سبا زموږ په ټولنه کې له ماشومانو او کوچنیانو سره کیږي، بیخي ډیره سلنه یې له محلي، ملي، مذهبي او نړیوالو قوانینو سره په ټکر کې دي. په نړیوالو قوانینو کې د ماشومانو دحقونو یادونه په جدیت سره شوې ده، خو زموږ په هیواد کې د بیلابیلو دلایلو په خاطر نه مراعاتیږي. د ماشومانو او کوچنیانو له پاره هغو قوانینو ته چې په نړیوالو کچه باید پاملرنه وشي، څو بیلګې یې دا دي:

ـ د بشر د حقونو د نړیوالي اعلامیې د پنځه ویشتمې (۲۵) مادې په دویم بند کې راغلي دي: میندې او ماشومان حق لري چې له ځانګړې پاملرنې څخه برخمن شي...

ـ د ملګرو ملتونو د ماشوم د حقوقو تړون د ۱۹۸۹ کال د نوامبر په شلمه تصویب شوی دی، د دې قانون ځینو هغو ټکو ته ستاسو پام را اړوم چې له دې موضوع سره نیغې اړیکې لري:

په لومړۍ ماده کې راغلي دي:

ماشوم هغه چا ته ویل کیږي چې سن یې له اتلسو کلونو ټیټ وي،
د همدې قانون په دیارلسمه (۱۳) ماده کې راغلي دي چې ماشوم باید د بیان د آزادۍ حق ولري،
د تړون په اته ویشتمه (۲۸) ماده کې راغلي دي چې باید د زدکړو په برخه کې د ماشوم حق په رسمیت وپیژندل شي،
د تړون په دوه دیرشمه (۳۲) ماده کې راغلي دي: داسې دروند زوروونکی کار ماشوم ته و نه سپارل شي چې جسمي او رواني ودې ته یې زیان ورسوي،

د ترون د اته دیرشمي (۳۸) مادې په ځلورم بند کې راغلي دي: په جګړه ایزو حالاتو کې دولتونه مکلفیت لري چې ماشومان له جګړې لرې وساتي څو له جګړې څخه اغیزمن نه شي او هغوی ته د زیان رسیدلو مخنیوی وکړي.
دغه راز ملګرو ملتونو د ۱۹۷۴ کال د دسمبر په څوارلسمې نیټې، د (۲۹) ۳۳۱۸ شماره پریکړه لیک سره مل په جګړه ایزو او اضطراري حالاتو کې د ښځو او ماشومانو د خوندي ساتلو له پاره ځانګړې سپارښتنې لري.

اول خو زموږ په ټولنه کې ډیری خلک له دې قوانینو څخه خبر هم نه دي، نو د تطبیق مسآله به یې څنګه څوک مطرح کړي؟

کوم مواد چې ما دلته موضوع پورې اړوند را نقل کړل، نه یوازې د قرباني شوي واصل احمد په برخه کې تطبیق شوي نه دي، بلکې د ټولو یادو موادو پر ضد عمل شوی دی. دولت نه یوازې د ملګرو ملتونو د ماشوم د حقوقو ترون (د ۱۹۸۹ کال د نوامبر په شلمه تصویب شوی دی) نه دی مراعات کړی، بلکې د ټولو ماشومانو او په تیره د دې وژل شوي ماشوم په برخه کې ګرم ځکه دی چې ویلی یې دي:

«افغان چارواکي هغه ماشوم اتل بولي چې طالبانو د دوشنبې په ورځ د اروزګان ولایت په مرکز ترینکوټ کې ووژه.»

د ماشومانو او کوچنیانو په باب د ملګرو ملتونو ټولو اعلامیو او قوانینو ته په کتو سره، لیدل کیږي چې د افغان ماشومانو او کوچنیانو په حق کې شوي تیري آن د بشري جنایتونو تر برید پورې رسیدلي دي، چې ښه نمونه یې همدا ماشوم جګړې ته لیږل، بیا یې وژل او بیا د افغان دولت او میډیا دریځ او هغه تایدول.

که په جګړه کې د دې ماشوم د ګډون پر دلایلو خبرې وکړو، دا بیا جلا بحث دی. ځیني را پورونه وایي چې د پلار د غچ اخستلو په موخه یې سلاح اخیستې وه، ځیني بیا وایي چې نه د اقتصادي ستونزو له امله د محلي پولسو لیکو ته ورغلی و او ...

زه فکر کوم،هغه چا چې په دې ماشوم دزې کړي او ویشتلی یې دی، هغه یې قاتل نه دی، قاتل یې پر دې خلکو او وطن باندې راوړل شوي حالات دي، قاتل یې هغه څوک دی چې وسله یې په لاس ورکړې، قاتل یې هغه څوک دی چې د بریالیتوب له پاره یې ګلان په غاړه کې ور واچول او...

په هر ډول چې وي په جګړه کې د ماشوم ګډون توجه کیدای نه شي. د دې ریښې د افغانستان په جګړه کې باید ولټول شي. څنګه، چا افغانستان جګړې ته ور پورې واهه، څنګه د خلکو له نا پوهې، بیسوادي او فقر نه په استفادې سره یې دوی د اسلام د دفاع په نامه نیابتي جګړه کې ښکیل کړل، څنګه نیابتي جګړې ټول مادي او معنوي شته له دې خلکو نه واخیستل، څو نسلونه بیسواده او په داسې فکرونو وروزل شول چې اوس خپله جګړې ته منډې ور وهي او پرته له جګړې نه یې طاقت نه کیږي، دا چا وکړل؟

«اوس پرې پوه شولې ولسه، دا د څه له پاره جنګ دی»

هر څه مالوم دي، خو موږ ځان نه وربانديٍ پوه کوو.
د ټوپکیانو په راتګ سره د ټول افغانستان هر څه د غنیمت په نامه لوټ کړای شول او اوس دغه ژوندی پاتي مخلوق داسې د پولی برق ته کینول شو چې مجبوراً خپل لس کلن ماشوم هم د جګړې ډګر ته لیږي. دا او دې ته ورته نور ګڼ شمیر دلایل دي چې ماشوم ، کوچني او نوي نسل ته پاملرنه، نه ده شوې. دغه نه پاملرنه د دې لامل شو چې دا حالت رامنځ ته شي.

دا دردونکی حالت خو اوس حاکم دی او داسې ژر او وړیا ور نه خلاصیدل هم نه شي کیدای، دې ماشوم غوندې او دې ته ورته قرباني به دا ټولنه او دا خلک مني. د افسوس بله برخه دا ده چې د دې ماشوم وژلو ته اوس دولت قهرماني وايي، خيني يې غيرت بولي او په فيسبوک پاڼه کې يې لا د پاک شهيد لقب هم ورکړ. زموږ دولت او با سوادان چې داسې کوي، نو له عامو او نا لوستو خلکو نه به بيا څه تمه لرو؟

ځيني بيا دومره په فرهنګي فقر باندې اخته دي چې د يوه معصوم ماشوم په جګړه کولو باندې وياړي او په خوشالی سره يې ځو ورځې په پر له پسې ډول د ميډيا په پاڼو کې په فخر سره عکسونه او خبرونه ږدي. دا د فخرنه، بلکې د شرم خبره ده. د دې خبر خپرول پر نورو ماشومانو او کوچنيانو، د هغوی پر ميندو پلرونو، کورنيو او ټولنې باندې څومره منفي اغيز ښندي، څومره يې لا جګړې او وحشت ته تشويقوي او څومره يې له ښوونځي، پوهنځي، تعليم، قلم، کاغذ، کمپيوتر او نورو تعليمي توکو نه لرې کوي؛ د قلم پر ځای يې د ټوپک خوا ته او د تعليم په ځای يې د جګړې لوري تشويقوي. زه نه پوهيږم چې زموږ ټولنه او زموږ ميډيا او زموږ سياسيون په کوم لوري قدم اوچتوي ؟؟؟

که زموږ په هيواد کې دا روان حالت له نورو هيوادونو سره مقايسه شي، د مځکې او آسمان په اندازه توپير په کې ليدل کيږي. لرې نه له همدې پيښې سره په يوه وخت کې د ډنمارک په يوې ورځپاڼې (JV) (د ۲۰۱۶ کال د فبرورۍ پنځمه ګڼه) کې داسې يو خبر له عکسونو سره چاپ شو:

د وړکتون د ماشومانو يوې ساتونکې ميرمنې د ورځنې پروګرام له مخې، څو ماشومان د باندې په چکر ايستلي وو، ميرمنې ماشومان د يوه دکان مخې ته د لارې پر خوا کې يوازې پريښې وو او خپله دکان ته ننوتې وه، کوم چا د ماشومانو عکسونه اخيستي وو او خبره يې ميډيا ته را ووته. اوس کيدای شي چې دا ميرمن د غفلت په خاطر له کاره وشړل شي او خبره يې محکمې ته وليږل شي، خو زما په وطن کې؟

زه د نوي نسل د روزلو د يو پلوي په توګه، ماشومانو او کوچنيانو ته د ټولو ملي او نړيوالو نورمونو او قوانينو د تطبيق د يو غوښتونکي په توګه، دې ماشوم او دې غوندې نور ماشومانو او کوچنيانو ته په ليدو او دې ته ورته پيښو ته په کتو سره وايم:

ټولو هغو اشخاصو او مراجعو چې په تشويقي ډول د دې ماشوم عکسونه او په جګړه کې د ګډون خبر خپور کړی دی او په بيلابيلو آدرسونو کې يې قهرمان، غيرتي او شهيد بللی دی، په دې دې پوه شي چې د دوی دا کار دې ماشوم ته، د هغه کورنۍ ته او په تيره ټولو خلکو او ټولنې ته نه يوازې کوم مثبت شی يا ګټه په لاس نه ورکوي، بلکې دا په حقيقت کې له دې ماشوم سره، د وطن له راتلونکو نسلونو سره او په ټول کې له انسانيت سره جفا ده چې څوک ماشومان او کوچنيان جګړو ته هڅوي.

ماشومان او کوچنيان جګړې ته مه تشويقوئ، کتاب او قلم په لاس کې ورکړئ، وړکتون، ښوونځي او پوهنځي ته د تګ له پاره زمينه ورته برابره کړئ.
د ټوپک کارولو او وسلې چلولو چم مه ور ښيئ، د قلم د کارولو او د زدکړو د تر لاسه کولو پر لار يې سيخ کړئ،

ستاسو بچيان ستاسو راتلونکې ده، په خپل لاس خپلې راتلونکې او د وطن آينده ته اور مه وراچوئ،

خپل وطن، خپل ګلشن او خپل راتلونکی نسل مه سوځوئ!

د اوه ويشتمې مقالې پای

# کم سنه انتحاري

## د ستونزې جرړې او حل لارې

### اته ویشتمه مقاله

د ټولو تلویزیونونو، رادیوګانو، ویبپاڼو، ورځپاڼواو... مخونه او خولې په همدې یوه خبر تور دي، ښوري او سترې دي چې:

- یوه لس کلنه نجلی له ځانمرګي برید نه مخکې نیول شوې،

- دا نجلی غولیدلې ده، باید بیرته مور او پلار ته وسپارل شي،

- حامد کرزی ځانمرګي خوشي کوي،

او...

دا کومه نوې خبره نه ده چې جنګي ډلې له انسانانو نه، له زړونه، له ځوانانو نه له... او په پای کې له پاکو ماشومانو نه هم خپل هدف ته د رسیدو له پاره استفاده کوي.
دا د حل لاره نه ده چې اوس له دې نیول شوي ماشوم سره څه وشي، بندیخانې ته وسپارل شي، نور تاوتیرخوالی ورسره وشي، انعام ورکړل شي، بهرته دې ولیږل شي... او که دې وبښل شي؟؟؟

دا جلۍ یې ورور اړایستلې وه چې ځانمرګی برید وکړي. که یې ورور د یوه نسل نماینده ومنو او دا جلۍ د ورپسې نسل، نو ویلای شم چې دواړه د تیرې، جګړې، دود او باروتو نسلونه دي. په دې توپیر چې ورور یې ښایي د ژوند له لومړني تنفس سره د روسانو د سلاح او ټانکونو دودونه تنفس کړي وي او دې جلۍ له زیږیدو سره سم د امریکایي ټانک او باروتو دود تنفس کړی وی. اوس ویلای شو چې دا دواړه نسلونه د تیرې کونکو د ټانوکونو د دودونو، وژنو، وینو او نفرتونو نسلونه دي، هغه هم په وړې نس، لوڅ بدن او د ناسمې لاربښوونې په دایره کې، له دوی نه به اوس د تمدن په اوسنۍ دایره کې د اروا پوهنې د اصولو له مخې څه هیله ولرو؟

زه فکر کوم چې په دې باندې باید فکر وشي چې:

چا دا ماشوم دې کار ته اړایستلی دی او ولې؟

له دې پوښتنې سره سم دا درې نورې پوښتنې هم مطرح کيږي:

۱ـ آيا د لوږې د مجبوريت له پاره دا کار کوي؟

۲ـ آيا د عقيدې او جنت ته د تګ په خاطر ماشوم قانع شوی دی چې دا عمل تر سره کړي؟

۳ـ او که ماشوم د تهديد او ډارولو له لارې دې کار ته اړايستل شوی دی؟

که د لوږې او پيسو د لاسته راوړلو مسآله مطرح وي، بايد په دې سوچ وشي چې دا خلک، دا کورنۍ او دا ماشوم چا وږي کړل؟

او که د عقيدې او جنت ته د تګ په خاطر يې دې کار ته غاړه ايښې وي، نو چا دا عقيده ورکړه؟ چا يې ماغزه له ټولو شيانو پاک کړل او يوازې يې د ذهن په پاکه دړه ورته جنت وليکه او ماشوم يې پوه کړ چې دا د جنت ښيګڼې، امتيازات او دا هم جنت ته د رسيدو لار. او که د تهديد له لارې وي، نو تهديد کونکی ولې دا کارکوي؟

او دغه ټول چا پر دغې ټولنې، کورنيو او خلکو باندې راوستل؟

د دغو ټولو خبرو لکی او سر بيرته ورګرځي هغوخلکو،سيستم او حاکم نظام ته چې دا ډيره موده کيږي له عسکري بوټانوسره د خلکو پرستوني سپاره دي. د همدې حاکمو خلکو د روابطو، ظوابطو ا وقوانينو په چوکاټ کې بهرنيو استخباراتو، په تيره د دوو نا اهله ګاونډيو (ايران او پاکستان) استخباراتو زموږ په ټولنه او حاکم نظام کې داسې نفوذ کړی دی چې د ماشومانو، ځوانانو او ښځيو د ځانمرګو حملاتو د ترسره کولو پلان څه چې، آن د پارلمان، وزيرانو او رئيس جمهور د کار اجندا هم همدوی جوړوي او د تطبيق له پاره يې په مستقيم او غير مستقيم ډول لارښوونه ورته کوي.

دغه او دې ته ورته نورې ستونزې هره ورځ زموږ خلکو او ټولنې ته په زرګونه او لکونه نورې ستونزې زيږوي او هره ورځ زموږ په لسګونه بې ګناه هيواد وال د مرګ خولې ته ورپورې وهي؛ نو دلته دی چې بايد په جديت سره وويل شي:

څنګه چې په ټولنه کې د هرې ستونزې ريښه په حاکم نظام او د نظام په چلونکو کې ده، بايد د نظام د بدلون فکر وشي، نه د شخص يا کوم مقام د بدلون.

د يوه هيواد اساس او تهداب، د هغه هيواد نوی نسل جوړوي او د نوي نسل سمه جوړونه او روزنه، د هغه هيواد په ښوونيز نظام او سيستم پورې اړه لري. زموږ د هيواد په ښوونيز نظام کې په سل ګونو او زر ګونو نيمګړتياوې شته. د هرې ټولنې او هر هيواد په تعليمي سيستم کې دا نيمګړتياوې شته، خو زموږ تعليمي نظام ته راشه کينه (يک مې ليدلی و، نه ماغزه وتلی)
دا تعليمي نظام لکه د حلوا د ديګي مواد هر رژيم چې راغلی، پرته له دې چې د نړيوالو منل شوو علمي مسايلو او ملي او وطني مثبتو مسايلو په باب فکر وکړي، په خپله خوښه يې يو خوا بل خوا اړولي دی، ځکه سم شی او ښه شی نه په کې پيدا کيږي. کوم يو نيم ټکی ښه شی که له پخوا نه په کې پاتې و، هغه هم په دې اړولو رااړولو کې داسې سوی دی چې اوس يې لکه سوی ديګی بوی خيژي او ګټه نه شي ورنه اخستل کيدای.

د ښونځيو په تعليمي نصاب کې داسې شی نه شته چې زده کوونکي ته دې د دې هيواد د ريښتيني تاريخ او هويت په باب حقايق وړاندې کړي او يادې ماشوم ته مينه ورزده کړي، له وطن سره مينه او له خلکو سره مينه او له پرمختګ سره مينه. زموږ تعليمي نظام زموږ د وطن د تاريخ او زموږ د هويت ريښتيني هنداره نه ده؛ نو ځکه مو ماشوم د بل چا له پاره د خپل وطن او خپلو خلکو د تباه کولو له پاره، تش په نامه جنت ته د تګ له پاره، ځان الوزولو ته چمتو کوي.

زموږ مهاجر هيواد وال په هر هيواد کي چي څو ورځي د هغه هيواد د تعليمي نظام په دايره کي په ټولګي کيناست، بيا يي د خپل هيواد تاريخ جغرافيه او هرڅه هير وي او د کوربه هيواد تراني يي پر ژبه جاري وي. د پاکستاني ښوونځي په چوکی يي چي کونه ولګيده، پاکستاني يوه دېره مخ کي ورته نيولي وي چي:

«چوده اګست» هير نه کړی.

ايرانی بيا د اسلامي انقلاب، حيسن، خميني او... ريښکی له سره ورتاووي او غوږ کي يي پو کوي چي:

«افغانستان جز از خاک ايران زمين ميباشد»

او په خپل هيواد کي ملاجان؟ ورته واي چي د اسلام د دفاع اصلي وياړ خدای افغانانو ته ور په برخه کړی دی. مندېي ځان والوزوه او جنت ته ځان ورسوه چي نا وخته نه شي.

دا هغه ترخه واقعيتونه دي چي همدا اوس زموږ په هيواد کي په عيني ډول ليدل کيږي، روان دي او زموږ د هيوادوالو غوښې او هډوکي سوځوي.

ما دا خبره څو ځلي کړي ده: زموږ تعلمي نصاب کي کرکټ په وياړ سره شامليږي، خو لومړنی طبي مرستې، ترافيکي نښې. مدني نړيوال قوانين، اساسي قانون، له ړطن سره مينه او نور اړين مسايل اصلاً ماشوم نه پيژني. کله چي څوک خپل ملي هويت، اصلي تاريخ، د خپل هيواد جغرافيه او ملي ګټو باندې پوه نه شي ا ود زيږيدو له ورځي له آذان سره سم يي په غوږ کي هماغه يو شی يعني جنت ورپوه کړای شي، بيا به خود بهرني استخبارات او جنګي ډلي جنت ته د تګ په نامه زموږ له پاکو ماشومانو او خلکو نه همداسي استفاده کوي.

زما د پوهي او عقيدې له مخي، جنت ته تګ يوازې د خدای د صلاحيت په دايره کي دی، خو اوس زموږ د خلکو د ناپوهی او بيسوادی نه په استفادې سره، بهرنيو استخباراتو، ځينو په اصطلاح مذهبي رهبرانو او د جنګي ډلو مشرانو له خدای سره سمه سيالي پيل کړي ده. جنت ته د تګ ليسنس او سندونه همدوی ورکوي او له دې نه هم حيرانونکي چي زما هيواد وال يي مني او د جنت له پاره خلک او ځان هم قربانوي. او د جنت په نامه تورو خاورو ته ځي، ګټه يي هم مالومه ده چي د چا ده.

له عقيدې چي ورتيرشو، د نورو مجبوريتونو مسآله ده چي يو په کي لوږه ده. ډير ځلي همدې لوږې لوی او واړه اړ ايستلي دي چي دا کار وکړي. په بی بی سی ويبپانه کي مي څو کاله مخکي دا مضمون ولوست:

«طالبان ده دالري» يو نفر توپک په لاس پوز تاو کړی ولاړ و، ويل يي چي وروره زه نه طالب يم اونه هم مالب، زما بچيان وږي دي، دغه خلک د ورځي لس ډالره راکوي او زه هم ورسره روان يم. په همدې نږدې څو ورځو کي مي په کوم تلويزيون کي وليدل چي په عراق کي همداسي چا ځان الوزولی و. يو تن سره يي د چاودني په باب مصاحبه کوله، هغه د نورو ګڼو دلايلو په ترڅ کي دا په جدي ډول وويل چي:

د خدای پار دی، خلک مه وږي کوئ چي هر کار ته بيا غاړه ږدي.

اوس د همدغه فاسد رژيم په راتګ سره په پيل کي د خلکو ټول مادي او معنوي شيان تالا شول؛ يا د غنميت په نامه ورنه يوړل شول او يا د تنظيمي توپکوالو د خپلمنځي شخړو په ترڅ کي ايرې شول او اوس ځينې کسان ښايي د خپلي کورنی د لوږې له پاره هم دې کار ته غاړه کيږدي.

زموږتعلیمي نظام باید هغه څه ماشوم ته ورزده کړي چي له هماغي ورځي یې د عمر تر پایه په درد وخوري، نه دا چي زموږ مډیا تعلیمي سیستم او قلموال، ماشوم، نوی نسل او دا نور خلک په خامو تارونو وتړي او ورته ووایي:

که ځان دې وښوراوه، په دوزخ کې یې!

اوسني رژیم له پیل نه تر نن پوري، هغه کار کړی دی چي باید نه یې وای کړی. نه خلکو ته څه کولای شي او نه څه ورکولای شي او نه نور ورته پرېږدي. هغه د دري ژبې ډېر له مانا ډک متل دی چي وایي:

«دور نرو که شیر میخوریت، پیش نه بیا که بوی میتي»

دا خلک به تر څه وخت پوري د خوف و رجا په پوله کې ساتل کیږي، دا خلک به تر څو پوري په دې منځ کې سوځي.

زموږ نیم عمر د «پنځه زره کلن تاریخ» د افتخاراتو په هغه تکرار تیر شو، چې هیڅ شی په لاس نه شي راکولای، نس مو وږی دی، خلک بیسواده له تمدن او هرڅه بې خبره او د جګړې په اور کې سوځي، موږ د «پنځه زره کلن تاریخ» ترانې غږوو، «پنځه زره کلن تاریخ» ویاړ دی، خو په دې باید پوه شو چې د دې ترانو بې ځایه او بې وخته تکرار نه نس مړوي او نه هم خلک هوښیاروي او نه د جګړې اور وژلای شي، بلکي نور یې هم په تورو تیارو کې بې خبره ساتي.

زه په جدي ډول دا وایم چې «پنځه زره کلن تاریخ» مو له ویاړونو او درناوي نه ډک دی، د باباګانو او شاعرانو شعرونه او د توریالیو توري او ویاړونه دې پر ځا ی وي او احترام دې یې وشي، خو موږ باید دا پوښتنه مخې ته کیږدو چې:

موږچیرې یو؟

په کوم وخت کې ژوند کوو؟

چیرې روان یو او ولې روان یو؟

او څه باید وکړو؟

ځکه د نورو خلکو د تمدن کاروان د برېښنا په څیر چټک روان دی او زموږ پښې د ناپوهی په خامو تارونو تړلې همداسې پراته یو.

«مړه مړه دې، د خدای پار دی د ژوندیو غم وخورئ»

موږ هغه څه چي باید وکړو نه یې کوو، که یې کوو هم ډېر ناوخته یې کوو. ټول هغه څه چې حاکمه ډله اوس کوي، باید دیارلس کاله مخکې یې کړي وای. ښوونه روزنه، د ملي ترمینالوژی د کارولو او ساتلو مسأله، امنیتي تړون او...

په ټولنه او خلکو کې د پوهي سطحه دومره ټیټه ده چې که په یو ځای کې دوه لوحې لیکلي وي، یوه د طب د ډاکتر او بله د فالبین. په دې ډول:

ـ پوهاند دوکتور... متخصص...

ـ آغای جن ګیر، زهر خورو مارګیر، دیدن روی طالع، درد کمر، درد جګر... بې اولادي، بې زني...وغیره.

تجربې ښودلي ده چې تحصیل کړی پوهاند دکتور خپل ډیر وخت په بیکاری سره په خپله معاینه خانه کې تیروي، خو آغای جن ګیرته به د هغو مریضانو لیکه ولاړه وي چې باید همدې ډاکتر ته د تداوي له پاره ورغلي وای.

اوس په دې ټول پوهیږي چې د افغانانو په وجود کې چاړه له غوښې تیره او هډوکو ته رسیدلې ده. اوس خبره دې ته رسیدلې ده چې بهرنیان په ځانمرګو دومره وخت او پیسې نه مصرفوي، هر کور ته یې ځان وژنوته د چمتو کیدو لارښود کتاب لیږلی دی. ما دا مسآله په خپله «زموږ تعلیمي نظام او د جهادي کتابونو لړی» نومې مقاله کې له مآخذونو او اسنادو سره وړاندې کړه چې اوس هم په ځینو ویبپاڼوکې تر لاسه کیدای شي. چې یوازې جنت ته د تګ عقیده او خیال ورسره وي، نور شي ته حاجت نه شته، کتا ب دې ولولي ځان دې وژلو ته چمتو کړي، بس خبره جوړه ده، د هماغي ورځې په پای کې به جنت کې وي. او د پردې شاته د ډرامې اصلي لوبغاړي د خیر پر غونډۍ ناست دي او خاندي.

او دا ټول له نشت یا غلط تعلیمي نظام څخه، ناسمو ټولنیزو اړیکو څخه او د ناقابله او فاسد رژیم د حاکمیت له کبله. د همدې له پاره یې زه بیا تکرارووم چې:

تر څو دا سیستم، دا رژیم او دا پالیسي بدله نه شي، همدغه به موحال وي.

د اته ویشتمې مقالې پای

# څو مقالې، څو څېړې او یو یاد داشت

## «ما سور ګل ژاړه، تور ګل یې پر خره سپور راوړ»

### نه ویشتمه مقاله

د «ما سور ګل ژاړه، تور ګل یې پر خره سپور راوړ» خبره پښتانه هغه وخت کاروي چې یو ورته تېږې پروت وي او بل هم د تلو نه وي او په وینو لړلی یې پر خره بار ورته راوړي. یعنې غم د پاسه غم وي.

زه لګیا یم هره ورځ د خپل ورځني ژوند ډېر ساعتونه په مطالعه او تحقیق د دې له پاره تېرووم چې دا بد مرغه خلک د ماشومانو او کوچنیانو په قدر، تربیه کولو، ښوونځي ته د لېږلو ، تعلیم ورکولو، هغوی سره د چال چلن او په پای کې د خپل ځان، خپلو بچیانو، خپلې ټولنې د راتلونکو نیکمرغیو په باب په یو څه پوه شي، خو دوی ډېره سلنه یا سواد نه لري، یا میډیا ته لاسرسی نه لري او که یې لري، ډېری یې د بیلابیلو دلایلو له مخې دا او دې ته ورته مقالې لولي نه چې له څه خبر شي او په څه پوه شي.

اصل کیسه دا ده چې موږ په ټولنه کې یوبل ګل هم کرل شوی، غوړېدلی هم دی او د میډیا له ګریوانه څخه یې د ویډیو په بڼه سر هم راوتلی دی او د دې ویډیو لیدل ما ته هم را په برخه شول. د دې ویډیو په لیدلو سره دې نتیجې ته ورسیدم چې:
اوس نو زه یې له لوستلو ورتېر یم او له تیریدو سره سم مې زړه ته را لوېږي چې هغه خلک به وایي:

«زه پور غواړم، دی نور غواړي» .

زه لوستل ورنه غواړم هغه ماما؟؟؟ لګیا دی ماشوم وهي. ځان هم نه وربانديږ په تکلیفوي. په وار سره یو ماشوم په بل ماشوم وهي. «پکه، دا دې لا بله سپکه» سم دلاسه مې په زړه کې راتیر شول چې: یو بل تور داغ مو هم وکاته.

د ۲۰۱۵ کال د فبرورۍ په درویشمه نیټه سهار مهال، له نورو لوستنو او لیکنو وروسته د مخکتاب بڼ ته ور ننوتم. داسي یې وګڼئ چې دا بڼ هم سم د کابل باغ عمومي پل دی. هر څه په کې شته، هر څوک په کې لیدلای شي.

زما د مخکتاب د بڼ یو همغږی بڼه ژورنالست ښاغلی احمد شاه اعظمي دی. ده د خوږ ژبي سندرغاړي او شاعر، عیسی بهرام له صفحې نه یوه ویډیو ور خوښه کړې وه او په دې ډول زما سترګې پرې ولګیدې.

ما د دې ياد داشت د ليکلو له پاره د ويديو د اصلي پتې او اخستونکي د پيدا کولو په غرض له ښاغلي بهرام سره اړيکه ونيوله، هغه زما د پوښتنو په ځواب کې داسې راته وليکل:

«سلامونه استاده!

الله (ج) دې وکړي چې د خپلې درنې کورنۍ سره روغ اوسئ.

استاده! دا ويديو ما له مکتاب څخه اخېستې وه. هلته چا د توکو په پانه کې اچولې وه چې زه يې ډېر زياد خفه کړم. اوس انسانان دې ته هم خاندي چې کله دوه ماشومان يوبل په څپېړه وهي. استاد کورمو ودان چې پوښتنه مو وکړه. لينک نه تاسې کولای شئ آزادانه استفاده وکړئ. ستاسې د سلامتيا په هيله!

بهرام»

د ويديو د اصلي اخستونکي او د ميديا جال ته د را رسوونکي پته مالومه نه ده، خو که د افغانستان په اوسنيو شرايطو کې يې عامل هم پيدا کړو، څه کولای شو. اوس عمل تر سره شوی دی. په ټولنه کې دا او دې ته ورته نورې منفي کړنې د دې مانا لري چې د ټولنې د پوهې او سواد سطحه ټيټه نه، بلکې صفر ده. سياسيون خو يوازې د قدرت په جال کې نښتي دي او هر يو غواړي خپله برخه ډېره او غوړه کړي، «غم ده د لالي په سر» قلموال او فرهنګيان خپله پوه شي چې وکړي، خو زما سلا دا ده چې بايد غلي پاتې نه شي.

په ليدو يې ماته د ۱۹۹۱ کال يوه خاطره را په ياد شوه: زه له خپلې کورنۍ سره کابل پوهنتون ته ور څېرمه دهبوري کې د پوهنتون په کورونو کې د نجونو له پاره د جوړيدونکې ليليې په اړخ کې د پوهنتون ملکيت کورونو کې اوسيدم. د سياف جان؟ او مزاري جان درې جګړې مو هماغه په تاخانه کې تيرې کړې، دې ځناورو به چې د خپلو بادارانو په امر د اکمالاتو يا ځينو نورو مرداريو له پاره اوربند وکړ، بيا به يې کوم مجبور لاروی يا کوڅه ډب سپي په لارو کې په نښه ويشتل.

د ماشومانو دا وهل هم هماغسې در واخلئ. کوم ټوپکوال يا پاټکوال به له خپلو مردارخوريو د وزګارتيا په وخت کې دغه کار د تفريح او خوشالتيا له پاره کړی وي. دوه بې سر پرسته، بې پلاره ماشومان به يې دې کار ته اړ ايستلي وي.

په کوم هيواد کې زه ژوند کوم، د پرمختللي نړۍ يوه غوره بيلګه ده. دلته که څوک بل تن يو سوک و وهي او مضروب له سند(شاهد، ويديو، عکس) سره پوليس ته عارض شي، ضارب د محکمې له خوا د څو ساعتونو په اوږدو کې له شېږو نه تر اتلس مياشتو پورې زندان ته ليږل کيږي. او هلته زما په هيواد کې وهل خو لا پرېږده، وژل هم سزا نه لري.

سره له دې چې د څاپيرو دا ويديو څو ورځې مخکې لاس په لاس شوې وه، خو ماته په پاسنۍ نيټه په مخه راغله.

ويديو په لاندې لينک کې ليدلای شئ:

https://www.facebook.com/video.php?v=963681976998240

په هغې شيبه کې مې يا له احساساتو يا له درده او يا له ډېره قهره دا لاندې کامنټ په فيسبوک ورته وليکه:

ښاغلی بهرام!

لومړی له تاسو او بيا له ښاغلي احمد شاه اعظمي نه مننه چې دا ويديو مو شريکه کړه.

دا ویډیو او د دې کوچنیانو دا حالت لیدل، نور چا ته چې هر ډول وي، وي به، خو زما له پاره دومره دردونکي وه چې له لیدلو یې وروسته په ځان نه پوهېدم چې څه وکړم. په څو دلیلونو:

زه یو پلار یم او د یو ویشتمې پېړۍ د دویمې لسیزې د قوانینو په رڼا کې په دې پوهېږم چې ماشومانو سره باید څه وخت څه وشي، خو زما په وطن کې څه ور سره کېږي؟

همدا اوس د کوچنیانو پر ادبیاتو د «د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر او اوسنی حالت» تر سر لیک لاندې زما مقالي خپرېږي، چې پنځمه برخه یې تېره شپه آنلاین شوه. د همدې پنځمې برخې په وروستیو پروګرافونو کې مې په همدې موضوع خبرې کړې دي، مګر چا ته یې وایې؟

«نصیحت په غافلانو اثـر نه کـا
دسرې اوسپنې خوشې ټکول دي»

او په دې زمانه کې زما د وطن له ماشوم سره داسې چلن کېږي.

هغه قوم چې خپل نوی نسل ښونځي ته د لېږلو په ځای، یو د بل وهلو ته اړ باسي، حال به یې دغسې وي لکه د افغانستان اوسنی خلک. همدا ټوپکوال د جګړې او جهاد په نامه د ښونځي په ځای جګړو ته ولېږل شول، اوس ټوله نړۍ ورته اړم ده چې له تشدد نه یې واړوي، خو نه یې شي اړولی.

دغه نازنین کوچنیان، دغه کورنۍ، دغه کلی، دغه ټولنه او دغه خلک هم دغسې در واخله. زما په وطن کې ښونځی سوځول شوی او ښونکی حلال شوی دی او هر چیرې چې ښونځی نه شته، نو دغسې به وي.

خو دا په یاد ولرئ چې نوره دنیا کې دا دیو زرین اصل په توګه منل شوې ده چې:

**«ماشومان ګلان دي، ګلان ښه وساتئ»**

د نه ویشتمې مقالې پای

# «راتلونکی نسل ښاد کړئ»

## (د نوی نسل نوې روزنه)

### دېرشمه مقاله

**نوی نسل هر کله داسي وي لکه اوبه،**
**اوبه که تر مځکي لاندې هم وي،**
**خپله لار باسي.**

نوي نسل باید د نوې زماني د نویو غوښتنو په دایره کې وروزل شي، د نویو زدکړو زمینه ورته برابره کړای شي، نه دا چې د پخوانی زماني د زدکړو په دایره کې وساتل شي او د یو څه زدکړې ته کینول شي.

که داسي کار تر سره هم شي، هغوی خپل کار کوي. نوی نسل نوې تکنالوژی ته په استفادې سره هر چیرې، هر څه کولای شي؛ نو ښه به دا وي چې ټول مشران، میندې پلرونه، د کورنی نور غړي، ښوونکي او ټول هغه کسان چې د نوي نسل په روزنه او لارښوونه کې، په یو ډول نه یو ډول رول لري، هغوی سره ښایي چې نوي نسل ته د خپلو مثبتو تجربو په رڼا کې په نوې بڼه او سمه خوا لارښوونه وکړي.

لاندې عکس ته وګورئ، دا تنکي زلمیان د قرآن کریم زدکړو ته کینول شوي، خو دوی سیپاره په غیږ کې، داسي ناست دي چې ظاهراً د سیپارې د لوستلو تمثیل کوي:



دا هم نوی نسل، اوس دې څوک را واړوي

خو عملاً له نوي تکنالوژۍ نه په استفادي سره بل څه کوي. سمه خبره خو دا ده چې مشرانو ته ښايي چې دواړو ته يې پريږدي، خو د يوه ځانګړي پروګرام په چوکاټ کې دې دواړه زده کړي او هر يو دې په خپل وخت کې وکاروي.

که موضوع ته له دې اړخه پاملرنه وکړو چې ټولنه مو د دې له پاره وروسته پاتې ده چې زموږ ښوونه روزنه له کورنۍ او جومات نه نيولې بيا تر ښوونځي او پوهنځي پورې نيمګړې ده، نو بايد په ښوونيز نظام باندې له سره غور او تجديد نظر وشي. هر څوک بايد په دې پوه شي چې ښونيز نظام مو نيمګړی دی او بايد جدي او بيا ځلي پاملرنه ور ته وشي.

دلته به زه يو شعر د نمونې په ډول را واخلم چې ناقص ښونيز نظام ښه په کې انځور شوی دی. دا شعر ښاغلي شاعر د «د ماشوم د ادبياتو جشن» تر سر ليک لاندې د ۲۰۱۶ کال د مارچ د مياشتې په نولسمه نيټه، د جوړ شوي غونډې ګډون کونکو ته په خطاب کې ويلی دی. او تر ما پورې د ښاغلي عبدالهادي هادي له برکته را ورسيد. ما چې لټه پسې وکړه، هغه هم له «ملک ميرام ګل اکاډمي» نومې فيسبوک پاڼې نه خوښ کړی و؛ زما له پاره، نوي نسل ته د پاملرنې په پار مهم ښکاره شو، ځکه مې په خپل آرشيف کې خوندي کړ چې دا دی اوس يې تاسو درنو لوستونکو سره شريکوم:

## راتلونکی نسل ښاد کړئ

«تر څو چې الله داد رئيس په ښار، صبور جومات کې
ماشوم به ترې خيرات کې

ملا عبدالصبور چوکه په لاس ولاړ جومات کې
غرمبېږی ټټ و ټاپ کې

وهل او ټکول زموږ کلتور، زموږ فرهنګ دی
په هر ماشوم قلنګ دی

معلم ته چې د زده کړې ښه منطق د لښتې لار وي
درسونه به بيګار وي

معلم او ملا نه دی مور او پلار هم ملامت دي
په درز او غرب عادت دي

شروع د نصيحت مو په ښکنځلو او رټلو
په رنګارنګ درلو

نو!! د دې جشنوارې کلانترانو ماماګانو
نظر مې دی مشرانو

ماشوم ته د ماشوم په ارواپوه معلم په کار دی
نن هر يو استا کار دی

په اووم کې به نو څنګه اوولس واړه کتابونه؟
را زده کړي سبقونه!!

نصاب کې د غيرت او ننګ تعريف ورته روښان کړئ
ربنتيا ورته بيان کړئ

د امن سوکالۍ او ورورولئ موضوعات ډېر کړئ
مات زړونه پرې کوښېر کړئ

چني د مدرسي باندې ايکسل پاورپاينټ زده کړئ
او لوستي ورکوژده کړئ

ماشوم ته مو ټول عمر غړولي آللو ده
راپاتي له ببو ده

يو بله آللو د وېښېدو ورته په کار ده
همدغه سمه لار ده

نو! په غوړ کې له آذانه وروسته خپل وطن ورياد کړئ
راتلونکې نسل ښاد کړئ»

د دې پوست په پای کې د طنز په ژبه دا جمله هم ور اضافه شوې ده:

«نوټ: د اکاډمۍ خالص توليد دي. له معارف سره د نامناسبه تړون په پار د ستر الله داد او ابوزاهد رسمي غبرګون هم ورسره ضميمه کوو چې وايي:

ټول هغه ښوونکي دې خدای کسر معاش کړي چې د بل اولاد به خپل نه ګڼي.»

په دې ډول موږ ګورو چې د نوي نسل مخه هيڅ شی او هيڅوک نه شي بندولای، نو ښه به دا وي چې نوی نسل د نوې زماني د غوښتنو له مخې په نوې بڼه وروزل شي.

د دېرشمې مقالې پای

# مشرانو تاسي د ټوپک تخم کرلی ولې

## یو دېرشمه مقاله

د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په لومړی نیټه په فیسبوک کې د دانشمند دوست، انجنیر زهیر شینواري له برکته، د ښاغلي شاه نواز باقر له دې شعر سره مخ شوم:

چي مي پــه کار و، په نوم کانی پــه چینه کې نــه و
په دغه ښار کــې زړه د هیـچا پــه سینه کې نــه و

سترګي مي وباستي له ځانه، ځان مي ولید پـــه کې
ستا ملاقات تــه تــلم روغ ځــای پــه اینه کې نــه و

ای مشره! تــاسي د ټــوپک تــخم کـــرلـــی ولـې؟
ای مشره! دا قلـم پــه تــېره زمــانـــه کې نــه و؟

یـووهَ مـــاشوم به شرنګولي خلک حیـران و ورته
سیکي پکي وې خـــو، سوری په خـــزانه کې نه و

بـــاقره! داسـي بـــې ارزښتــه زنـــدګي تـــېـرېـــده
چي هیڅ کردار د چا د ژوند په افسانه کې نــه و

شعر زما له پاره په زړه پوري و. ځو ځلي مې ولوست. نور شعر یوې خوا ته، دا یوه پوښتنه چي د شعر په یوه بیت کي مطرح شوې ده جدي او د ځواب غوښتونکې ده.
یوه خبره چي د اوسني وخت او اوسني نسل له پاره ډېره جدي ده هغه دا ده چي باید اوسنی نسل دومره چي د تیرو نسلونو په کړنو ویاړي او دا مشران هم ځانونه واجب الاحترام ګڼي، همدومره باید د مسولیت احساس هم وکړي او د خپلو کړنو ځواب و وایي. زه خپله هیڅ د دې پلوی نه یم چي ځوک و وایي:

«ځه ښې کوې، تیر په هیره»

نه باید هر ځوک او هر نسل د خپل وخت او کړنو ځواب ولري، په تیره هغه ځوک چي له نوي نسل نه د درناوي هیله لري.
اوس د دې شاعر دغې مطرح کړې پوښتنې ته ځوک ځواب ویلای شي:

ای مشره! تاسي د ټوپک تخم کرلی ولې؟
ای مشره! دا قلم په تېره زمانه کې نــه و؟

که څوک غواړي که يې نه غواړي، نوی نسل حق لري چې دا او دې ته ورته پوښتنې مطرح کړي په تیره له هغه ځا نه چې له نوي نسل نه د بې اندازې درناوي امید کوي.
د نورو هیوادونو مشرانو په خپل وخت کې د خپلو خلکو او وطن د پرمختک، آبادی او پوهیدنې په موخه زدکړه، کار او مطالعه کړې ده، زموږ مشرانو او تیر نسل یوازې هغه کارونه کړي دي چې د زدکړې او تولید نښه او امید په کې نه ښکاري. یا پیټاوي ته ناست دي، یا يې زرکان او سپې جنګولي دي، یا يې د تربره د وژلو له پاره وسله کارولې ده او تر ټولو بده لا دا چې د همدې وسلې د کارولو او انسان وژنې او ورور وژنې زړې يې د نوي نسل د ذهن په کرونده کې کرلی دی.

د دې خبرو له یادولو او د دې کرښو له لیکلو نه زما اصلي موخه د نوي نسل د روزلو په سلسله کې په سم لوري د هغوی لارښوونه، زموږ په کلتور کې د نا وړو دودونو د له منځه وړلو له پاره د هڅو په لړ کې د یو بل ګام اوچتول دي.

زه د خپل عمر او د خپل نسل د یو مسوول قلموال په توګه د اوسني او راتلونکو نسلونو د روزلو په موخه دا خپله دنده او مسوولیت ګڼم چې پر ټولنه باندې د حاکمو منفي دودونو پر ضد غږ جګ کړم او د حل مثبتې لارې چارې ور ته په نښه کړم.

آیا په رښتیا په تیرو زمانو کې قلم نه و چې زموږ پخوانیو یوازې ټوپک ته لاس ور تیراوه؟ که رښتیا قلم نه و او یوازې ټوپک و، نو دا نورو خلکو د لیکلو او د خپلو بچو د باسواده کولو له پاره څه شی کارول؟

نه قلم و، خو موږ د قلم په ځای ټوپک انتخاب کړ او لیک لوست او نقاشۍ پر ځای مو ټوپک، ډزې، وژل او وینې تویول انتخاب کړل او اوس دغه نسل باید دې ته ملا وتړي چې اوسنیو او راتلونکو ته د ټوپک پر ځای قلم او د مرګ په ځای ژوند ور وښيي، که نه وي نو د بیسوادی او جهالت د وزرو له لا غړیدو نه به مو ښځې د قرآن د آیت پر ځای په لمانځه کې د میړونو او لیورونو نومونه یادوي او د « إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ» پر ځای به «اِنک لکه دی لکه لالک» وایي.

http://www.taand.com/archives/54659

او لکه دا مثال چې ښځې د لمانځه په پای کې د اَسلامعلیکم و رحمتَ الله پر ځای «اسلامالیکم د ماشومانو پلاره، اسلامالیکم د ماشومانو پلاره» وايي. او په دې ډول به د همدې ضدي او په یوه ټکي ولاړ نا پوه خلکو په وجې، ټولنه او خلک تر ډیرو نورو وختونو د ناپوهۍ په تیارو کې پراته وي او راتلونکي نسلونه به مو د پیغور په ډول له ځانه مشرانو ته بیا، بیا په خطاب کې وایي:

ای مشره! تاسې د ټوپک تخم کرلی ولې؟
ای مشره! دا قلم په تېره زمانه کې نــه و؟

د یو دېرشمي مقالې پای

# له ماشومانو او کوچنیانو سره

## د تاوتریخوالي نوی باب

## دوه دېرشمه مقاله

په جګړه ځپلو ټولنو کې، چیرته چي د قانون د حکم پر ځای د ټوپک د شپیلۍ غږ او شپیلۍ غږونکی حکومت کوي، د ټولني له هر قشر سره د هرڅه کیدو امکانات شته، په تیره له ماشومانو او کوچنیانو سره.

د افغانستان په نامه ټولنه کې د ناروااوو او ظلمونو ډیر ډولونه آزمیل شوي، تطبیق شوي او اوس هم جریان لري؛ خو تر ټولو ناروا او ظلم د ماشومانو او کوچنیانو په حق کې شوی او اوس هم په پټه او ښکاره روان دی.

دا په حقیقت کې نه یوازې د هغه ماشوم او کوچني په حق کې ظلم دی چي د ناروااوو، ظلمونو او تاوتریخوالي ښکار کیږي، بلکي د راتلونکي نسل او راتلونکي ټولني په حق کې ستره جفا ده، داسي جفا چي بیا نه جبرانیږي، نه یې پور ادا کیدای شي او د اوس له پاره یې د مخنیوي او اصلاح کومه امید هم نه شي کیدای.

له ماشومانو او کوچنیانو سره زور زیاتي او تاوتریخوالي ډیر ډولونه اوریدل شوي او لیدل شوي دي، خو اوس میډیا وایي چي د افغان ماشومانو او کوچنیانو په حق کې د یو نوي ظلم، نوې جفا او نوي تاوتریخوالي ډول په رواجیدو او زیاتیدو دی:

**د مخدراتو په قاچاق او خرڅلاو کې له کوچنیانو نه استفاده کول.**

د بي بي سي په یوه تازه راپور کې راغلي دي چي د مخدره توکو په ناقانونه وړو راوړو او خرڅلاو کې د مخدراتو مافیا اوس، اوس له کوچنیانو کار اخلي، هغه هم د دې له پاره چي پر کوچنیانو باندې د شک نظر یا هیڅ نه وي یا لږ وي. کوچنیان په بیلابیلو ډولونو اړ ایستل کیږي چي د مخدراتو قاچاق ته مخه کړي چي اقتصادي ستونزې یې غوټه برخه جوړوي.

د بي بي سي په راپور کې راغلي دي چي څنګه یو شپاړلس کلن پلار مړی کوچنی د پلار د لس زره افغانیو د پور په ونج کې د مخدره توکو وړلو ته اړ ایستل کیږي. د دې کوچني داستان د بي بي سي په نوي راپور کې داسي راغلی دی:

«په افغانستان کې پولیس وایي، د تېرو پنځو کلونو په پرتله د نشه یي توکو په پیر، پلور او قاچاق کې له ماشومانو ګټه اخیستل زیات شوي دي.

د نشه یي توکو په کاروبار کې د ماشومانو د ور ښکېلولو یو لامل دا ښودل کېږي چي پولیس پرې لږ شک کوي او سزا یې هم نسبتاً کمه ده.

16کلن احسان چې اصلی نوم یې بل څه دی نژدې لس میاشتې وړاندې کابل ته د راتګ پرمهال د نشه یي توکو د قاچاق په تور و نیول شو.

احسان الله وایي، تېر کال یې پلار مړ شو او د خپلو پورونو پېټی یې ده ته ورپرېښود.
د هغه په خبره، له پلاره لس زره افغانۍ پور ور پاتې وو، خو ده یې د خلاصولو کومه لار نه لرله:

"هغه کس چې زما په پلار یې پور و، ما ته به یې ویل، که دا نشه یي توکي نه وړې بندي کوم دې، په دواړو ځپلیو کې یې نشه یې توکو را ته ځای پر ځای کړل"
احسان په دوه کاله بند محکوم شوی دی چې دمګړی د کابل په اصلاح مرکز کې ساتل کېږي.

احسان د پلار په ژوند هم له سختیو ډک ژوند لاره؛ دی وایي، د اقتصادي ستونزو له امله تړې په څلورم ټولګي کې ښوونځی پاتې شو او د خښتو په بټیو کې یې کار کاوه.»

په دې لړ کې بله غمیزه دا ده چې له کوچنیانو نه د مخدراتو د وړو راوړ ترځنګه، هغوی دې ته هم اړ باسي چې د مخدراتو په خرڅلاو کې له مافیاي کړیو سره مرسته وکړي.

هغه کسان چې د مخدراتو د قاچاق او خرڅلاو په ترڅ کې نیول شوي، په خپلو اعترافاتو کې یې ویلي دي چې د پولیسو ځینو کسانو دوی ته مخدره توکي ورکول چې معتادانو ته یې ورسوي.
دې حال ته چې ولیدل شي، د غمیزې لمنه نوره هم توریږي او پراخیږي، پولیس چې خپله دا کار کوي، نو له نورو اړو یا اړکړای شوو کسانو نه څه ګیله ده.

«عزیز ادعا کوي، په هغه سیمه کې چې ده اوبه خرڅولې، یوه امنیتي چاړواکي ورته نشه یي توکي ور کول چې دی یې پر روږدو کسانو وپلوري.»

### څه ډول کیدای شي چې د دې غمیزې مخنیوی وشي؟

شخص، اشخاص، لیکوال، شاعر فرهنګي څنګه کولای شي چې د یوې مقالې یا شعر په لیکلو سره د دې کار مخنیوی وکړي؟

دولت خپله څه کوي، پولیس باید خپله د دولت د یوې لویې پېښې یا یوه تکړه لاس په ډول د دې دیوال د شړیدو او لویدو مخنیوی کړای وای، خو د پولیس پینه هم په دې ګنده ګی کې ور ننوتې ده. که د دولت اړوند اراکین او مسؤلې ادارې د دې مخنیوي ته نوې لارې چارې ونه سنجوي، دومره به د دې لمن پراخه شي چې د کابل په سیند کې به د اوبو پر ځای  په مخدره توکو د روږدو کسانو سیلاو روان وي.

د دوه دېرشمي مقالې پای

# ککړه هوا او ککړ ذهنيت

## دري ديرشمه مقاله

**دا سمه نه ده چې يو څوک دې نوی نسل، د خپل زاړه فکر منلو ته اړباسي او ښه پوره ټينګ ورباندې ولاړ هم وي، تجربو ناسم ثابت کړی ذهنيت، پر نوي نسل ورتپي او په کلونو، کلونو نور هم نوی نسل د وروسته پاتې والي او ذهني ککړتيا په دايره کې را ايساروي.**

زموږ په هيواد افغانستان کې له جګړې را زيږيدلې ستونزې دومره ډيرې دي، چې اوس هر خوا مخ وا ړول شي، يوه نه، لس نه، شل نه؛ بلکې په سلګونو رنګارنګ ستونزې په مخ درځي. اوس پر ټولنه او د خلکو پر ژوند داسې شرايط او داسې خلک حاکم شوي چې د يادو ستونزو د حل له پاره عادي خلک څه کوې چې حاذق ډاکتران، ټولنپوهان او سياسيون هم د حل لاره نه شي موندی. له خلکو لاره ورکه ده چې څه وکړي په کومه مخه کا او چا ته د زړه حال او د بدن درد و وايي.

پخوا به ما په خپلو مقالو کې د نوي نسل د روزلو فکر کاوه او له دې ټولو ستونزو نه د وتلو لار مې په دې کې ليدله چې نوی نسل زدکړو ته مخه کړي، د نويو علومو په ګاڼه سمبال شي او له نويو علومو، نوې تکنالوژی سره د وطن او خلکو د مينې او خدمت درس هم ورکړل شي؛ خو اوس يې ګورم چې له نوزيږي نه نيولې بيا تر ماشوم، کوچني، زلمکو، ځوانانو، مشرانو او لا بوډاګانو پورې يو هم د بدمرغيو د ستري او تباه کونکي سونامي له څپو نه خلاص نه دي.

بله ستره ستونزه په ټولنه کې حاکم ککړ ذهنيت دی چې له کلونو، کلونو راپه ديخوا، پر خلکو او ټولنې باندې حکومت کوي. ډيری يې په ضررونو باندې پوهيږي، خو بيا يې هم تطبيقوي او تعقيبوي يې. د سلو يا زرو کالونو مخکينی قانون به داسې درباندې تطبيقوي لکه سم مدني قانون چې وي او ګټه يې ټولو ته رسيږي. چې ور ياده يې کړې چې: وروره! دا خو د يوه اړخ په ګټه هم نه دی، ولې داسې کوئ؟

ورو به درته و وايي:

«وروره له ښاره ووزه، له نرخه نه، همدا نرخ دی، همدا رواج دی.»

او يا هغسې چې دی فکر کوي، تا هم اړ باسي چې ته به هم خامخا د ده فکر او طرز ديد منې او هغه به تطبيقوې؛ همدې ته وايي ککړ ذهنيت. دا ټيپ خلک له فزيکي پلوه په اوسنی زمانه کې ژوند کوي او له فکري پلوه زرکاله مخکې زمانو کې ژوند کوي او تا به هم اړباسي چې ته هم له دوی سره زرکاله شا ته ور ګرزې او هلته به په هغه جهنم کې له دوی سره ژوند کوې.

په دې ډول چې ککړه هوا او ککړ ذهنيت لاس سره يو کړي، نو زموږ په ټولنه کې نوی نسل د ککړې هوا او ککړ ذهنيت په دايره کې راڼلوی شي، بيا به د ککړ نوم هم نه ورسره جوړيږي، بيا نو کوم بل نوم ورته لټوئ.

دا ککړه هوا او ککړ ذهنیت له اسمانه نه دي اوریدلي او نه هم په مځکه کي را شنه شوي دي، دا ټول موږ خپله رامنځ ته کړي دي. هوا موږ خپله ککړه کړې ده او ذهنیتونه موږ خپله خراب کړي دي. په هر نامه چې و، موږ جګړې ته مخه کړې ده، له یو عادي لاس اچوني نه نیولې تر مسلحانه وژنو او وینو تویولو پورې، ځکه مو اوس ماشوم هم هماغه څه کوي چې مشرانو یې کړي دي، که نور هیڅ نه وي د جګړې کولو د تمثیل په دود یې بو بل ته لرګي او سوټي د توپکو په څیر نیولي او د یو بل د ویشتلو او وژلو تمثیل کوي. دا لاندې عکس یې ښه بیلګه ده:



دې ماشومانو د مور په نس کې یو بل ته سنګر نیول نه دي زدکړي، بلکې دوی مشران لیدلي چې ټول عمر یو د بل د وژلو له پاره وسله په لاس په سنګرونو کې پراته وي، ځکه کوچنیان هم دغه تمثیل کوي. که دوی ته د سالم مصروفیت زمینه مساعده وای، دوی هیڅ کله داسې نه کول او لا د دې کارونو فکر یې هم نه شوای کولای.

د جګړې د سونامي او له هغې سونامي د رازیږدلو ناخوالو په دایره کې، زموږ د ټولنې د ډیری وګړو، په تیره ماشومانو او کوچنیانو د ذهن په هر کونج او پیچومي کې، د وینې په هر څاڅکي کې، په کتلو او حرکاتو کې یې او لا په هر تنفس کې یې، تاوتریخوالی، وهل ټکول، وژل، د وسلې کارول، ویر او... له ورایه ښکاریږي او احساسیږي.

د ټولو خلکو او په تیره ماشومانو او کوچنیانو له ذهن نه د دغو شیانو تورل، پاکول او لرې کول یوې ستړې عاطفي ته اړتیا لري او دا عاطفه یوازې د ادبیاتو له لارې کیدای شي چې ماشوم ته، کوچني ته او نوي نسل ته ور ډالی شي.

موږ کولای شو چې د ماشومانو له پاره د ځانګړو کیسو او شعرونو په وسیله دا کار تر شره کړو. د پلاستیکي وسلو په ځای شعري او داستاني ټولګې په لاس کې ورکړو، څو وکولای شو په معنوي لحاظ د افغان ماشوم عاطفي لاسنیوی وکړو.

د چاپیریال څو ډوله ککړتیا ټول خلک تهدیدوي، له واړه نیولې تر زاړه، له شتمن نیولو تر بیوزلو. دننه په افغانستان کې په تیره لویو ښارونو کې په عیني او عملي ډول درې ډوله ککړتیا خلک تهدیدوي:

**ـ د چاپیریال ککړتیا،**

**ـ نوري ککړتیا،**

**ـ غږیزه ککړتیا**

خلکو تر اوسه د چاپریال د ککړتیا غم نه و خوړلی چې داسي غږیزه ککړتیا ورپسې راغله چې په هیڅ ځای کې هم نه شي ورنه خلاصدای، حتی په خپل کور کې. د ځانسانسوری په سلسله کې سړی نه شي کولای چې په منابعو او جزیاتو باندې یې وغږیږي، که څوک څه و وایی، ښایي د کفر او مباح الدم فتواوې ورپسې کتار ونبلول شي.

په همدې نږدې ورځو کې بي بي سي د « آلودگی هوا به مغز نوزادان 'آسیب میرساند'» تر سرلیک لاندې یو رپوټ خپور کړ چې زموږ د ټولنې شرایطو ته په کتو سره، بیخي د تشویش وړ ده. یعني نوزیږی ماشوم مو د خپل ژوند د لومړني کال په تنفس سره خپل ماغزه له لاسه ورکوي. ځکه چې د ککړې هوا په چاپیریال کې دنیا ته راځي او د تنفس له لارې آکسیجن نه بلکې، زهري مواد تنفس کوي.

د ملګرو ملتونو د یونیسف اداري ویلي دي چې له یو کلنی نه د ټیټ عمر ماشومان د داسي ککړې هوا په تنفس سره د دوی ماغزه له جدي خطر سره مخ کیږي. او د دې هوا د تنفس په پایله کې چې د ماشوم بدن، په تیره ماغزو ته کومې صدمې رسیږي، کیدای شي د ټول عمر له پاره له دوی سره مل وي.

اوس ګورو چې له یوې خوا ککړه هوا له بلې خوا ککړ ذهنیت د ژوند له پیل نه تر پایه پورې، د یو انسان ژوند تهدیدوي. ماشوم پرته له دې چې پوه شي د ژوند د بربادی مقدمات یې لا په ماشومتوب کې په خپل وجود کې ذخیره کړي وي.

له دې کبله د دولت ټولو ارګانونو، غیر دولتي موسساتو کورنیو او میندو پلرونو سره ښایی چې هر څوک او هر آدرس تر خپلې وسې د خپل ځان او خپلو اولادونو او خپل راتلونکي د ژغورنې له پاره د یوه پا ک چاپیریال او پاک ذهنیت د رامنځ ته کیدو له پاره له خپلو ټولو لاس لرلو امکاناتو نه په استفادې سره د دې ټولو شته ستونزو د حل او د پرابلمونو د لرې کولو په برخه کې مرسته وکړي.

د دري دبرشمي مقالي پای

# یوه بله نیکنامي؟

## «افغانستان د نجونو تعلیم لپاره څلورم ناوړه هېواد»

### څلور دېرشمه مقاله

«...د دوی ډیوې دې خدای ولګوي،

مونږ به د زیارت ډیوې بلوو.»

(استاد الفت)




څو ورځې مخکې (۱۱/۱۰/۲۰۱۷) د «نجونو نړیواله ورځ» ورځ ولمانځل شوه او زمو میډیا هم لږ و ډیر ونډه په کې واخیسته. ځینو هسې یاده کړه، ځینو په ښو تورو سره د نجونو د قدر داني له پاره یو څه ولیکل، یوه نیمه مقاله خپره شوه، د نجونو د ژوند د خرابوالي په باب ګزارشونه... او ځینو لا ولیکل چې دا ورځ بیا له کومه شوه.

په هر ډول چې و، د نجونو په باب یو غږ اوچت شو او یو ځل بیا د هیوادوالو او نړیوالو تر غوږونو پورې دا خبر او دا چیغه ورسول شوه چې په افغانستان کې د نجونو ژوند له هره اړخه خراب او تریخ دی او ډیره سلنه له تعلیم، ښوونځي او پوهنځي نه لرې دي.

د نجونو د ورځې د لمانځلو په لړ کې داسې تایید شوي او نا تایید شوي ارقام هم وړاندې شول چې د دوو میلیونو په شا و خوا کې نجونې ښونځې ته د تګ له حق نه محرومې دي او د دې

محرومیت تر څنګه د تاوتریخوالي له ظالمانه ډولونو سره هم مخ دي. که ښوونځي ته لاړې هم شي، اویا سلنه نجوني په لږ لوړ سن او لږ جګ ټولګي کې نه پرېښودل کیږي چې ښوونځي ته ادامه ورکړي؛ د دغو عیني ستونزو سره، سره د ښووني او روزني وزارت هم په ټاکلي وخت د نجونو ورځ ولمانځله.

وروسته له دې چې په میدیا کې د نجونو د ورځې درز دروز لږ غلی شو، بي بي سي داسي یو رپوټ خپور کړ چې هر بادرکه او با احساسه انسان ته ټکان ورکوي. د یاد رپوټ سرلیک داسي وو:

«افغانستان د نجونو تعلیم لپاره څلورم ناوړه هېواد»

د بي بي سي په یاد راپور کې افغانستان د هغو هیوادونو په ډله کې څلورم ښودل شوی دی چې نجوني په کې د تعلیم نا وړه حالت لري. د رپوټ په یوه برخه کې داسي راغلي دي:

«په هغه ورځ چې ملګرو ملتونو د "نجونو ورځ" اعلان کړه، د one په نوم یوې پراختیایي مؤسسې د هغو هېوادونو یو لیست او رپوټ خپور کړ چې د نجونو تعلیم پکې ډېر ګران دی.

**د شخړو سیمې:**

په هغو لسو هېوادونو کې چې د وسله والو شخړو شاهدان دي، نجوني په ښوونځیو کې د زده کړو له نعمته بې برخي ګڼل کیږي.

په دغو هېوادونو کې چې کورنی د کورنیو جګړو او شخړو له کبله له بې وزلی، خوارځواکی او په کور د ننه له کډوالی کړېږي، حکومتونه یې هم په ځپ ځپانده حالت کې دي.

په دې هېوادونو کې له نجونو نه ښوونځیو ته د تګ پر ځای د کار کولو تمه ډېره کیږي. ډېری یې په کم عمر کې ودېږي، چې له تعلیم نه د پاتي کېدو او د خپلو هیلو پوره کولو مخنیوي کې یې یو ستر لامل همدا هم ګڼل کیږي.

د ملګرو ملتونو شمېرې په ډاګه کوي چې هغه نجونې چې د تعلیم فرصت له لاسه ورکوي، په کورنیو شخړو کې د ښکیلو هېوادونو له زده کړو نه د پاتې ماشومانو پرتله ډېرې دي.
ملګرو ملتونو په ترتیب له تعلیم نه د نجونو د پاتي کېدو لاملونه په نښه کړي:

- په لومړنیو ښوونځیو کې د محرومو نجونو کچه ډېرېدل
- په منځنیو ښوونځیو کې د محرروومو نجونو د شمېر ډېرېدل
- یوازې کمې نجوني ابتداییه ښوونځی بشپړولی شي
- په ښځو کې د لوستو هغو ډېروالی
- د وړ ښوونکو کمښت
- حکومت پر تعلیم سم لګښت نه کوي

هغه لس هېوادونه چې نجونو ته پکې تعلیم کول ګران دي:

1. جنوبي سودان
2. منځنۍ افریقا
3. نیجر
4. افغانستان
5. چاډ
6. مالي
7. ګیني

8. بورکینا فاسو
9. لایبیریا
10. ایتوپیا»

د نړۍ په هر ګوټ کې چې یو منفي لست خپرېږي، له بده مرغه چې افغانستان په کې وي او دا دی اوس مو په دې لست کې هم توره کړې، څلورم یو او دا په هیڅ وجه پټیدای هم نه شي. ملامتیا چا ته ور له غاړې ده، دا هم څوک نه مني، که ثابته هم شي چې ډېره سلنه موږ خپله افغانان ملامت یو، بیا خو جنګ او د جګړې نوم شته چې پېره ور له غاړې کړو او ځانونه سپیني کوترې معرفي کړو، خو هغه شیبه مو هیره وي چې د غیرت، شرم او ځینو نورو دلایلو له مخې خور، لور وهو ټکوو او دې ته یې اړ باسو چې له ښونځي څخه لاس په سر او د کور بندیوانه شي، ښونځي ته د هغې (نجلۍ) په نه تګ چې څومره نورې ستونزې را ولاړېږي، هغه مو هیرې وي.

پخوا ما په خپلو مقالو کې د نورو ولایتونو مثالونه ورکړي و، خو همدا اوس په میډیا کې داسې خبرونه راځي چې لا د ننګرهار غوندې فرهنګپاله ولایت کې هم په څلورو ولسوالیو کې یوه ښځینه فارغه نه شته. دغه رپوټ ته پاملرنه وکړئ:

«د ننګرهار ولایت د پوهنې ریاست چارواکي وايي، چې د دغه ولایت په څلورو ولسوالیو کې تر اوسه یوه جلۍ هم له دولسم ټولګي فارغه شوې نه ده.

د پوهنې ځای ناستي رییس سید عیسی سادات سلام وطندار ته وویل، چې په یو شمېر ولسوالیو کې ان ځینې کورنۍ خپلې لوڼې له شپږم ټولګي پورته زده‌کړو ته نه پرېږدي.

د پوهنې رییس وايي، چې **دوربابا، اچین، نازیان او لالپوره** ولسوالیو کې د دولسم ټولګي یوه فارغه هم نه لري.»

دا چې په نړیواله کچه د افغانستان نوم په هغه لست کې په څلورمه شمیره کې درول شوی چې د نجونو د تعلیم له پاره نا وړه حالت لري، اصلي لامل یې د تاوتریخوالي هغه ډولونه دي چې له کورنۍ او کور نه نیولې تر کوڅې، کلي، ښار او بیا په ټول هیواد کې، په هر ګام کې ماشومان، کوچنیان، په ځانګړي ډول نجونې ورسره مخ دي او په رنګارنګ ډولونو تاوتریخوالی وربانديې تدبیقیږي. له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي پر ستونزو باندې، ما (آصف بهاند) تر لسو ډیرې مقالې لیکلې او خپرې کړې دي.

ما د خپلو مقالو دې لړۍ ته «له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه» سر لیک ټاکلی دی. او د هغو په ترڅ کې مې له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي پر ستونزو خبرې کړې، په تیره له نجونو سره د تاوتریخوالي ډولونه په نښه کړي دي او په دې ډول مې د دوی د حقونو نه د دفاع له پاره خپل غږ اوچت کړی دی.

په دې باب زما وروستۍ خپره شوې مقاله «له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي نوی باب» نومیږي.

دغه مقاله ما یوه میاشت مخکې خپره کړه هلته ما په عام ډول له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي پر نوي باب خبرې کړې دي او دا مې په نښه کړې دي چې د دې تاوتریخوالي پایلې به دې ماشوم یا کوچني او کورنۍ او ټولنې ته یې څه وي. دا یې څو کرښې دي:

«په جګړه ځپلو ټولنو کې، چیرته چې د قانون د حکم پر ځای د ټوپک د شپېلۍ غږ او شپېلۍ غږونکې حکومت کوي، د ټولنې له هر قشر سره د هرڅه کیدو امکانات شته، په تیره له ماشومانو او کوچنیانو سره.

د افغانستان په نامه ټولنه کې د ناروا‌وو او ظلمونو ډیر ډولونه آزمیل شوي، تطبیق شوي او اوس هم جریان لري؛ خو تر ټولو ناروا او ظلم د ماشومانو او کوچنیانو په حق کې شوی او اوس هم په پټه او ښکاره روان دی.

دا په حقیقت کې نه یوازې د هغه ماشوم او کوچني په حق کې ظلم دی چې د ناروا‌وو، ظلمونو او تاوتریخوالي ښکار کیږي، بلکې د راتلونکي نسل او راتلونکې ټولنې په حق کې ستره جفا ده، داسې جفا چې بیا نه جبرانیږي، نه یې پور ادا کیدای شي او د اوس له پاره یې د مخنیوي او اصلاح کومه امید هم نه شي کیدای.»

او دا دی نن مو، له ماشومانو او کوچنیانو سره د همغو تر سره شویو تاو تریخوالي د منفي پایلو ثمر تر لاسه کړ او له بده شامته چې دا منفي پایلې د یو تن یا یوې کورنۍ له پاره نه، بلکې د ټول افغانستان له نامه سره غوټه شو او په دې ډول مو په لوی لاس په دې تور لست کې هم د افغانستان نوم ور درج کړ. موږ پنډ، پنډ پټکي تړو د لویې پکتیا، لوی ننګرهار، لوی کندهار او لوی... کیسې کوو، که مو ماشومان، کوچنیان او لوڼې په اور کې نیني شول، خیر دی، خو چې زموږ غیرت؟ داغداره نه شي او نوم ته مو څوک کاږه و نه ګوري.

**«... د دوی ډیوې دې خدای ولګوي،**

**موږ به د زیارت ډیوې بلوو.»**

(استاد الفت)

د څلور دېرشمې مقالې پای

# د چارواکو ځانغوښتنه

# او

## د معارف د کوچنیانو چکچکي

### پنځه دېرشمه مقاله

| |
|---|
| دا لا یو بل ډول تاوتریخوالی دی: چي د ښونځی ماشومان په زوره د چکچکو له پاره راباسي او درناوی ورنه غواړي: |

ځو ورځي وړاندي ځینو سیاسي کړیو او افرادو د خپلو سیاسي موخو د تر سره کیدو او قدرت د نمایش له پاره «د شهید اونی؟» په پلمه؛ ګڼشمیر دولتي مامورین، کسبه کاران، دوکانداران... او د پوهنتونونو او معارف زدکونکي او ښونکي اړ ایستلي وو چي د دوی له لوري، په راغوښتل شوي غونډه کي ګډون وکړي او که را غوښتل شو خلکو له دې بلني نټه وکړه، نو پایلي به یې ډیري بدي وي. «تاند» ویبپاڼي د «سرخط» په حواله لیکلي وو:

**«نن به د بلخ ټولي اداري فلج وي»**

د تاند په رپوټ کي راغلي وو:

«عطا محمد نور نن د احمد شاه مسعود د تلین غونډې ته د بلخ له ټولو ولسوالانو د ولسوالۍ په سر د زرو کسو راوستلو فرمایش کړی دی.

د بلخ پوهنتون استادانو ته تر "غوږ" ورتېره شوې چي د شنبې ورځي غونډې ته باید دوی او محصلین یې راشي.

پر دولتي ادارو، د محلو پر کلانترانو او نورو هم امر شوی دی چي نه یوازې دوی، بلکي هر یو باید له ځان سره لږ تر لږه لس کسه د شنبې په ورځ سینا ستیډیوم ته راولي...

سرخط ته رسېدلي مالومات ښیي چي د بلخ له ولایت مقام څخه د پنجشنبې په ورځ، هلته ټولو دولتي ادارو ته خبر ورکول شوی دی چي د شنبې ورځي ته باید ځومره یې چي په وس پوره وي، هومره خلک غونډې ته راوبولي.

په دې سربېره، د بلخ ټولو ولسوالانو ته د حاکم حکم شوی چي لږ تر لږه باید هر ولسوال د شنبې ورځي ته له ولسوالۍ څخه زر تنه راولي چي د استاد عطا غږ بدرګه کړي.

سرخط ته ځينو سرچينو ويلي دي چې عطا د بلخ پوهنتون ته هم حال ورلېږلی چې بايد غونډې ته يې ټول استادان او محصلين راشي، کهنه نو غړ به يې سره پورته شي.

تر دي لا بده دا ده چې د دولتي ادارو حاضري غونډي ته وړل کېږي او که څوک نه وو ورغلي، غيرحاضر شمېرل کېږي.

د ښاروالی له خوا بيا د محلو کلانترانو ته امر شوی چې هر کس بايد له ځان سره، له پنځه نيولې، تر لسو پورې کسان د غونډې ځای ته راولي...»

د معارف د زدکونکو را ايستل، د واټونو په اړخونو کې يې د چکچکو او لاس ښورولو له پاره درول، يا په زوره په ځينو غونډو کې د ګډون له پاره اړ ايستل او چاراواکو او اشخاصو ته د چکچکو او درناوي له پاره اړ ايستل؛ له ډېر پخوا نه دود و او اوس هم دا ډرامه د افغانستان پر ستيژ باندې روانه ده، خو د خواشينی ځای دا دی چې اوس دا ډرامه د غميزې اوج ته رسول شوې ده.

دولتي مامورين، د ښوونځيو او پوهنتونونو زدکونکي او عام خلک په غونډو کې د ګډون له پاره په زوره اړ ايستل کېږل او بيا د چاراواکو د ويندويانو له خواد «خودجوشه حرکت» په نامه نومول کېږي او په دې ډول نه يوازې د خلکو او دولتي ادارو وخت ضايع کوي او د زدکونکو په ميلونونو درسي ساعتونه ضايع کېږي؛ بلکې د خلکو او ټولنې د باور درجه هم صفر ته راټيټېږي، ځکه چې هر څه دروغ وي او پايلې يې هم صفر وي. حتی توري او کلمات هم بد نامه کوي. چې يو بدنامه توری د «خود جوش» کلمه ده، ځکه **دا غونډې خود جوشه نه، زور جوشه وي**، نو ځکه دا توری هم په ورځنيو ويناوو او ليکنو کې خپل اعتبار له لاسه ورکوي.

دغسې سياسي غونډو ته د زدکونوکو او خلکو په زوره وربلل، يو غير قانوني، غير مدني او غير انساني کار دی او د اړ کړای شوو خلکو شخصيت ته توهين ګڼل کېږي. د دې غير قانوني کار او غير قانوني عمل په مقابل کې تر نن پورې چا داسې ښکاره عکس العمل و نه ښود، يوازې نن (۲۰۱۷/۰۹/۱۷) په ميډيا، له هغې ډلې نه په «تاند» ويبپاڼه او فيسبوک کې د ښاغلي اجمل تورمان يو ليک راغلی چې د معارف وزارت د چاراواکو په پته يې ليکلی دی. زه نه پوهيږم چې دا ليک به د معارف د ښاغلي وزير تر ګوتو او سترګو پورې ورسيږي که نه؟

زه د زدکړو او نوي نسل د روزلو د نهضت د يو پلوي او لاروي په توګه د ښاغلي اجمل تورمان د ليک بشپړ متن را اخلم، خو له هغه مخکې ښاغلي اجمل تورمان ته وايم چې:

**ستا دې کور اباد وي چې په ټاکلو وختونو کې دې، د وطن د کوچنيانو او نوي نسل د خونديساتلو او حقوقو نه د دفاع په پار خپل غږ اوچت کړی دی، خو دا هم په ياد ولره چې د افغانستان حکومت او دولت له شپاړسو کلونو را په دې خوا، د «دولت خدا داد افغانستان» تر سرليک لاندې، د يو «غنيمت؟» په توګه کارول شوی او ويشل شوی دی او په اوسنی کابينه کې د معارف وزارت د هغه چا غنيمت دی چې په ياده جوړه شوې غونډه کې يې عام خلک، مامورين، محصلين او د ښوونځيو ښوونکي او زدکونکي په زور او جبر ګډون ته اړ ايستلي وو.**

دا هم د پوهنې وزارت په پته د اجمل تورمان ليک:

«د پوهنې وزارت د پاملرنې وړ!

زه په کابل کې د ماشوم د ادبياتو د يوې فرهنګي ټولنې مسوول يم، مونږ ماشومانو او د هغوی ادبياتو ته کار کوو، نو سر او کار مو هم له ماشومانو سره دی، ماشومان چې په افغانستان کې اووه کلن شي د ښوونځي شي، ډېر ځله چې دوی ته يو پروګرام جوړوو نو وجدان مې ځکه

ناکراره وي چې په ښوونځيو کې له خپلو رسمي زده کړو پاتې کېږي، بل تشويش يې د امنيت راسره وي، نو د پروګرام ترپايه سخت په وېره او اندېښنه کې وم.

خو د بلخ والي يې سياسي غونډو ته راغواړي او تر سره لمر لاندې د چارواکو د خبرو چکو ته يې دروي.
کابل چاپ ورځپاڼو په خپلو ننيو ګڼو کې په دې اړه ليکلي چې، په سياسي غونډو کې د زده کوونکو حضور عقلي او منطقي توجيه نه لري.

سرخط خپلواکي ورځپاڼې په خپله سرمقاله کې د حکومت په اجراييه ريس هم چې په دغه غونډه کې يې ګډون کړی و له دې امله انتقاد کړی او ليکلي يې دي چې ،عبدالله چې خلکو ته د خدمت او د پوهنې د پرمختګ شعار ورکوي بايد د بلخ د مسوولانو له دې کار سره يې مخالفت ښودلی و

د ۱۳۸۶ کال د لړم د مياشتي په ۱۵ نېټه چې چارواکي له کابل د بغلان د قند د فابريکې د پرانيستې لپاره ورتلل، د ښوونځيو ماشومان هرکلي ته ورورل شوي ول چې د يوې چاودنې له امله ۸۰ کسه ملکيان چې ډېری يې همدا د ښوونځي زده کوونکي ماشومان ول ووژل شول او تر سلو زيات ټپيان شول.
مونږ ولې له تېرو عبرت نه اخلو؟

د افغانستان د پوهنې وزارت ته پکار ده چې په دې برخه کې جدي اقدام وکړي او په سياسي غونډو کې د ښوونځيو له زده کوونکو استفاده بنده وګرځوي، او په دې برخه کې بايد د والي، وزير، اجراييه ريس، ولسمشر د هچا دستور ته استثنا قايل نه شي.».
اجمل تورمان

زما د مالوماتو له مخې، دا د اجمل تورمان دويم ليک دی چې د کوچنيانو د ادبياتو د خوارو زار حالت په خاطر او د نوي نسل د ښې روزنې په موخه يې لوړ پوړو چارواکو ته ليکي. لومړنی ليک يې د وخت د اطلاعاتو او فرهنګ وزير ته په دې خاطر ليکلی و چې د کوچنيانو د ادبياتو خوار حالت ته پام وکړي او د ماشومانو او کوچنيانو مړې يا هيرې شوې خپرونې بيرته را ژوندۍ کړي په ځانګړي ډول کمکيانو انيس مجله او د کوچنيانو ادبياتو پورې اړوند نورو هغو اړينو مسايلو ته پام وکړي چې په دې اداري پورې تړاو لري، خو پايله يې...

او بل ليک يې همدا دی چې تورمان په رسنيو کې خپور کړ، ښايی اړوندو ادارو او چارواکو ته يې ليږلی هم وي او ما يې دلته بشپړ متن خپور کړ، دا چې اړوندې ادارې او مسؤل اشخاص څه ورسره کوي...

د پنځه ديرشمې مقالې پای

# ماشومان، کوچنيان او نشه

## زدکړې که نشه؟

## د کوچنيوالي دنياگی، که شاقه کارونه؟

## شپږدېرشمه مقاله

**دا ښه په ياد ولرئ:**
**تر څو نوی نسل په سمه توگه و نه روزل**
**شي، هيڅکله د سمون تمه و نه کړئ. د نوي نسل**
**له روزلو پرته به تل له ستونزو او بدمرغيو سره لاس گريوان اوسئ!**




د يوې ټولنې او يوه هيواد اصلي شتمني د هغوی ماشومان، کوچنيان يا نوی نسل ده. د نوي نسل روزل، نه روزل، سم يا ناسم روزل؛ د هغو خلکو هغه هيواد او هغې ټولنې د راتلونکي سمول يا بربادول دی.

اوس زموږ په ټولنه کې له جگړې نه د رازېږيدلو سوناميگانو او غميزو په څپو کې نوي نسل يا زموږ گلانو او کوچنيانو ته نه يوازې پاملرنه، نه شته؛ بلکې پر دې ټولنه او خلکو باندې د بد مرغی د راغلي سيلاب په څپو کې تر نورو ډېر غرق دي او لا پسې غرقيږي.

په عیني ډول لیدل کیږي:

**ـ د دې پر ځای چې ماشومان ـ کوچنیان وړکتون او ښوونځي ته وهڅوو، فزیکي شاقه کارونه ورله غاړې کوو،**

**ـ د دې پر ځای چې د زدکړو زمینه ورته برابره کړو، د نا غوښتو نشو دایرې ته ورپورې وهل کیږي،**

**ـ د دې پر ځای چې د کوچنیتوب په دایره کې، د دوی د کوچنیتوب حقونه ورکړو، موږ یې د خیټې د مړولو او لوڅ بدن د پټولو غم وکړو، د خپلې خیټې بار هم د هغوی پر اوږو ور اچوو او...**

که څوک دا ماشومان او کوچنیان له نږدې وڅاري، وې ګوري، په ګزارشونو کې له راغلو مالوماتو نه لا زیات، دوی په بلاوو اخته دي. اوس، اوس په میډیا کې د راغلو نویو راپورونو له مخې زموږ په ټولنې او زموږ په هیواد **"افغانستان کې سل زره ماشومان په نشه یې توکو روږد دي"**

د نوي نسل د ژوند او نوې ټولنې د جوړیدو په اړوند، د ماشومانو او کوچنیانو روږدیتوب ډیره جدي او مهمه ستونزه ده. دغه مهموالي ته په پام سره ما (آصف بهاند) څه موده پخوا «له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالی ستونزه» تر سرلیک لاندې لس مقالې ولیکلې او خپرې مې کړې.

زما په لیکنو کې په راغلو مالوماتو، ستونزو او حلارو باندې نه دولتي مسؤلـینو او نه هم غیر دولتي اشخاصو غوږ وګراوه.
بیا چې له ماشومانو او کوچنیانو سره د روان تاوتریخوالي، نه یوازې مخنیوی و نه شو، بلکې نور یې هم زور واخیست او نورې ځانګې ور زیاتې شوې؛ نو مې د مقالو بله لړۍ راپیل کړه او سر لیک مې ورته ورکړ:

**«له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي نوی باب»**

هلته مې بیا هغه ستونزې په نښه کړې چې زموږ د نوي نسل او ټولنې د ډوبیدو او بربادۍ سبب کیدې، خو...

د دې مقالو د لومړۍ برخې په یوه پروګراف کې داسې راغلي دي:

«هغه کسان چې د مخدراتو د قاچاق او خرڅلاو په ترخ کې نیول شوي، په خپلو اعترافاتو کې یې ویلي دي چې د پولیسو ځینو کسانو دوی ته مخدره توکي ورکول چې معتادانو ته یې ورسوي. دې حال ته چې ولیدل شي، د غمیزې لمنه نوره هم توریږي او پراخیږي، پولیس چې خپله دا کار کوي، نو له نورو اړو یا اړکړای شوو کسانو نه څه ګیله ده «...عزیز ادعا کوي، په هغه سیمه کې چې ده اوبه خرڅولې، یوه امنیتي چاروکي ورته نشه یې توکي ورکول چې دی یې پر روږدو کسانو وپلورې.
څه ډول کیدای شي چې د دې غمیزې مخنیوی وشي؟ شخص، اشخاص، لیکوال، شاعر فرهنګي ځنګه کولای شي چې د یوې مقالې یا شعر په لیکلو سره د دې کار مخنیوی وکړي؟ چې نه شي کیدای.

دولت خپله څه کوي، پولیس باید خپله د دولت د یوې لوېې پښې یا یوه تکړه لاس په ډول د دې دیوال د شړیدو او لویدو مخنیوی کړای وای، خو د پولیس پښه هم په دې ګنده ګی کې ورننوتې ده. که د دولت اړوند اراکین او مسؤلې اداري د دې مخنیوي ته نوې لارې چارې ونه سنجوي،

دومره به د دې لمن پراخه شي چې د کابل په سیند کې به د اوبو پر ځای په مخدره توکو د روږدو کسانو سیلاو روان وي.»

او دا دی اوس هغه سیلاو راغی او روان دی او زموږ د ټولنې سل زره تنکي ګلان په کې ډوب او لاس پښې وهي، خو د خلاصون او بچولو له پاره یې یو لاس هم نه شته چې ور اوږد شي. له دې ټولو چغو سورو سره، بیا هم حالت نه یوازې ښه نه شو، بلکې په منفي لوري یې داسې په ګړندیتوب سره منډې وکړې چې د لویانو روږدو کیسه اوس د هیوادوالو او نړیوالو هیره ده، اوس یې په نویو رپوټونو کې لیکلي دي چې په افغانستان کې د سل زره ماشوانو په شاو خوا کې روږدي دي.

د دې تر څنګه د ملګرو ملتونو په نویو رپوټونو کې داسې هم راغلي دي:

«رسمي شمېرې ښیي چې په افغانستان کې شا و خوا سل زره ماشومان په مخدره توکو روږدي دي. افغان چارواکي وایي، دا شمېره ورځ تربلې زیاتیږي. بل خوا، ملګرو ملتونو هم اعلان کړی چې په افغانستان کې د کوکنارو کرکېله تر بل هر وخت زیاته شوې.»

اوس د ستونزې لمن دومره پراخه شوې ده چې هم له هیوادوالو او هم له نړیوالو لار ورکه ده. یو شمیر زړه سواندو د روږدو مشرانو د ستونزو حللارې لټولې، چې اوس د کوکنارو یو بل ګل (د ماشوانو روږدیتوب) هم را وغوړید. دا داسې ګل دی چې نه یې پاللی شي او نه یې له بیخه ایستلی شي.

دولتي مسؤلین هم لګیا دي د راتلونکو ټاکنو له پاره رسمي او غیر رسمي هلې ځلې کوي. که یې کوم دولتي مسؤل شخص ته یا ارګان ته ورياده کړې چې ورو‌ره دا خو ستاسو او ستاسو د ارګان دنده ده چې د مخدراتو پرضد کار او مبارزه وکړئ، تاسو خو په بل څه لګیا یاستئ، دا ولې؟ هغه یا هغوی په یوه ترخه او خوږه موسکا کې درته وایي:

**«... هر سړی پیدا دی خپل، خپل کار لره کنه»**

که په ټول کې دولت او په ځانګړي ډول مسؤلي اداري او ارګانونه د خلکو او کورنیو په ګډې همکارۍ باندې سره سلا شي او یو بل ته لاس ورکړي، کیدای شي چې د دې سونامي مخنیوی وشي او که په همدې ښه پرېښودل شي د غمیزې لمن نوره هم پراخیږي.

**اې مشرانو!**
**پر ماشومانو او کوچنیانو باندې او پر دې ګلانو باندې رحم په کار دی.**

**دا ښه په یاد ولرئ:**
**تر څو نوی نسل په سمه توګه و نه روزل**
**شي، هیڅکله د سمون تمه و نه کړئ. د نوي نسل**
**له روزلو پرته به تل له ستونزو او بدمرغیو سره لاس ګریوان اوسئ!**

د شیرډبرشمي مقالې پای

# نه ایلیدونکې سونامي

## یو میلیون نشه اي ماشومان

### اوه دېرشمه مقاله

د ورستیو شمیرونو له مخې په افغانستان کې درې نیم میلیونه وګړي په نشو روږدي دي. دا یو غمیزه ده، یوه سونامي ده او د دې سو نامي مخنیوی یا نا ممکنه ده او یا به ډیره ستونزمنه وي.

طبعي سونامي ګاني د باد باران، زلزلې او... په راتګ سره را منځ ته کیږي او په یوه ډیر لنډ وخت کې لږ یا ډیر داسي ورانی کوي چې ښایي د بیرته جوړولو او ترمیم وړ وي او د هماغه لنډ وخت په تیریدو سره بیرته غلي کیږي؛ خو زموږ په وطن کې د درې نیم میلیونه وګړو په نشې روږي کیدل هغه سونامي ده چې ورانی یې اوس هم محسوس دی، ځو راتلونکي نسلونه هم ور نه متضرره کیدونکي دي او که یې غم و نه خوړل شي، ورځ تر بلې یې لمن پراخیږي.

ما د کوچنیانو د ادبیاتو د غوړیدو، غني کیدو او د ماشومانو د پالنې او روزنې غم کاوه، خو هغه کوچنیان چې موږ ور ته د کوچنیانو د ادبیاتو غم کاوه، یو شمیر یې د نشو په ډنډ کې لاهو کړای شول، په داسي ډنډ کې چې نور یې نه قلم، نه کاغذ، نه هم کتاب او سواد په کار دی او نه یې هم د کوچنیانو د ادب په نامه کوم بل څه.

زه او ما ته ورته څو نور قلموال لګیا یو قلم چلوو، هڅه کوو او د مقالو ، شعرونو او کتابونو په لیکلو، ژباړلو او چاپولو سره په دې بوخت یو چې د ماشوم او کوچني او نوي نسل د روزنې په موخه د کوچنیانو ادبیات غني کړو، پراخ یې کړو او د هغوی له پاره لیکلي مواد کورا کور ورسوو، خو په دې خبر نه یو چې له موږ نه مخکې او زموږ له کتابونو او درسي موادو نه مخکې ډیری کورونو ته نشه اي توکي رسیدلي دي او د لو یانو تر څنګ یې ماشومان او کوچنیان هم تر ستوني ډوب کړي دي. په نشو روږدی دا نوي نسل د داسي خاموش قاتل په منګولو کې را ګیر شوی دی چې را خلاصول او را کشول یې هم کیدای شي د هغو د مړینې په بیه تمام شي.

دې ستونزې ته زما پخوا هم پام شوی و او همدې سترې سونامي ته په پام سره مې د ۲۰۱۴ کال په څوارلسمه نیټه د«د روسیې اولمپیک او د نشې اولمپیک، مډالونه او دودونه» تر سر لیک لاندې مقاله ولیکله.

هلته مې په ښکاره خپل نظر څرګند کړ چې نور خلک د اختراعاتو په رامنځ ته کولو سره سیالي کوي، د ژوند د وسایلو د جوړولو له پاره هلې ځلې کوي، د صحت له پاره د سپورت مسابقې کوي، خو زموږ په ټولنه کې د جهالت او ناپوهې د حاکمیدو په وجه د نشې مسابقې رواني دي. په ۲۰۱۴ کال کې ارقامو ښودله چې په افغانستان کې په نشه اي توکو د روږدو شمیر یو میلیون ته رسیږي، خو دې موضوع ته د سیاسیونو او د دولت د بیلابیلو برخو او په ځانګړي ډول د مسؤلینو نه پاملرنه، خبره دې ته ورسوله چې اوس هغه یو میلیون نشه یانو نور لارویان هم پیدا

کړي دي او شمیر یې درې نیم میلیونو ته رسیدلی دی. د هغې مقالې په یوه برخه کې ما لیکلي وو:

«په افغانستان کې درواني تېل شوې جګړې په پایله کې، پردې وطن باندې رنګارنګ سونامي ګانې راغلې دي چې یوه یې په نشه اي توکو د اخته کېدو سونامي ده. د میدیا د راپورونو له مخې اوس د افغانستان د یو میلیون په شا و خوا کې وګړي په نشه اي توکو اخته دي. له بده مرغه په دېرشو میلیونو کې یو میلیون لویه سلنه ده او ډېره خواشینونکې ده چې پر افغانستان باندې د نورو پر له پسې سونامي ګانو په څنګ کې دا هم لویه ورانونکې سونامي ده.

په دې یو میلیون کې به ډېره کمه سلنه د هوس د نشې له لارې د تباهۍ دې لوی ډنډ ته ور ننوتي وي، خو ډېره سلنه یې د جبر نښه ده. په خوارۍ او په ناپوهۍ کې ډوب افغانان په نه پوهېدنه کې ور پورې وهل شوي دي. په ټول کې د ټولنې هر اړخیز وروسته پاتې والی او په ځانګړې ډول د سواد نه شتوالی، په خلکو باندې د پخوانیو زړو قوانینو او رواجونو حاکمیت، د سیاسي ثبات نه شتوالی، د دولت او خاصتاً د حکومت بېخي ضعف، دوامداره بیکاري، په کورنیو کې د رنګارنګ ستونزو موجودیت، اقتصادي ستونزې او... دا ټول په ګډه د دې سبب شوي چې دا خلک په نشو روږدي شي او یا یې هم له بهر نه له ځان سر ه د یوه سوغات په ډول راوړلي دي چې هره برخه یې د جلا څېړنې او ژړا وړ ده.

دا هغه سونامي ده چې له پخوا زمانو څخه د افغانستان پر خلکو را ماته شوې ده، خو اوس خپل اوج ته رسیدلې ده. د نشه اي توکو د کارولو دغه سونامي د کورنیو له بېوزلۍ نه را پیل شوې ده. مور د ټولنیزې ناپوهۍ او بې سوادۍ د بلا د شته والي په سلسله کې، پرته له دې چې د نشه اي توکو د کارولو په پایلو باندې پوه شي، خپل ماشوم د دې له پاره نشه کوي چې دا خپله کار ته وزګاره شي، یا به غوجل پاکوي، یا د کور کارونو ته اړم وي او له ټولونه مهمه دا چې خپله تر ټولو مهمه وظیفه یعنې د قالینو اوبدل هیر نه کړي.

په ښاري ژوند کې تر دې هم د ژاړه او تأسف وړ غمیزې سره مخ کیږو. مور، ماشوم ته نشه اي توکي ورکوي چې بې سده شي، لکه د کوما د حالت ناروغ، بې حاله پریوزي چې د خلکو پام او زړه سوی ور ته واوړي، او په دې ډول یې مور د همدې بې حاله ماشوم او څو نورو بچو روزي تر لاسه کړای شي. هره ورځ په دې ماشوم باندې دا کار تکراریږي. ښځه نشه یې توکي اول خپله کش کوي او بیا یې لوګی د ماشوم خولې او پزې ته ور پو کوي، د وړوکي ماشوم، واړه حجرات د نشو په څپو کې داسې په خوب ویده کوي چې لس پنځه لس ساعته و نه ښوري او وروسته له څه مودې هغه ماشوم لا په هماغه کوچنیوالي کې داسې په مخدراتو روږدی شي چې بیا یې را اړول مشکل نه، بلکې ناشوني وي.

دا یوه جمله ده: د ماشوم پلار نه شته، وژل شوی او...

په دې کور، کوڅه کلي، ښار، هیواد، سیمه او لا ټوله نړۍ کې د بشر د حقوقو په دې لویه هنګامه کې، د دیموکراسۍ بې بې؟ په دې لوی جنتي بڼ کې داسې څوک نه شته چې پوښتنه وکړي چې دا ګدا میرمن چې له غیرتونو؟ سره، سره لاس غځوي خیر غواړي، د چا ښځه ده؟ دا پروت نشه کړای شوی ماشوم د چا زوی یا لورده؟ پلار یې چې وژل شوی، ولې وژل شوی؟ د چا او څه له پاره وژل شوی؟ او چا وژلی؟ او نور ډېر داسې ولې، ولې او...؟

د دود او نشې دغه المپیک زموږ د وطن په هر کلي، کوڅه او ښارګي دا ډېره موده روان دی؛ خو هلته لرې په نوره دنیا کې چې زموږ د وطن په هر کلي او مالت کې هغو ته کفار او د کفارو وطن ویل شوی او ویل کیږي، څه نورې کیسې او لوبې رواني دي. هلته څه کیږي چې د نشې د المپیک مخه ونیول شي، ژوند او آرام ته د تګ په لوري سیالۍ را منځ ته شي، چې ښه مثال یې همدغه د روسیې د سوچي المپیک دی.

ښايي دا تصادفي پېښه وي چې هغه هيوادونه چې په دې وروستيوکې د المپيک لوبو کوربانه وو او دي، زموږ د هيواد په روانو سياسي او نظامي پېښو کې مرکزي او منفي رول درلود او لري يې؛ خو زموږ د خلکو او ټولنې د سواد د سطحې ټيټ والی، ناپوهي، د سياسي رهبرانو جفا او د دوی خرڅيدل... او د خلکو او ټولنې په ذهنونو باندې حاکم افکار هم د هيرولو نه دي.

نوره نړی څه کوي او موږ څه کوو؟

په اِنګلند کې د لندن المپيک، په افغانستان کې د جګړې المپيک،

په روسيه کې د سوچي المپيک، په افغانستان کې د نشې او دود المپيک،

په نوره دنيا کې د تکنالوژی، د ژوند د ښه کيدو او عصري کيدو المپيک،

خو زما په وطن کې د جګړې المپيک، د بربادی المپيک، د نشه اي توکو د رواجيدو المپيک، د بيسوادی د زياتيدو المپيک، جهالت ته د ور ننوتو المپيک، له تکنالوژی او تمدن نه د تښتيدو المپيک روان دی، ورځ تر بلې زور هم اخلي او موږ ور ته هره ورځ د « الحمدلله » په ويلوسره شکرونه هم باسو.

زموږټولنه اوخلک چا داسې کړه او څه بايد وشي؟...»

د يو ميليون نشه اي ماشومانو او کوچنيانو اوسنی نسل ته څه نوم کيښودای شو؟

چا کړي او ولې يې کړي دي؟ او دې ور ته نورې پوښتنې شته، خو د ځواب ويلو مسؤل او آدرس نه دی مالوم. زه خو وايم چې دا موږ خپله کړي، يا د نه پاملرنې په وجه يا د نه پوهيدنې په تيارو کې. د قرباني شوو کوچنيانو دغو څو عکسونو ته پام وکړئ چې د مشرانو د نه جبرانيدونکو تير وتنو عکس را ښيي:



دې کوچنيانو ته چا ټوپک په لاس کې ورکړی دی؟ يو مشر.



دا کوچنی چا دې شاقه کار ته اړ ایستلی دی؟ یو مشر.

آیا څوک حق لري چې دې ماشومانو او کوچنیانو ته سبا ورځ و وایي چې وطن او خلک پر تا حق لري؟

زه خو وایم چې هیڅ څوک د دې حق نه لري چې دې او دوی ته ورته کوچنیانو ته و وایی چې وطن او خلک پر تاسو حق لري. وطن او خلکو دوی ته نه یوازې څه نه دي ورکړي، بلکې هر څه یې ور نه اخیستي دي.

دا د مشرانو د تیر وتنو عکس دی چې د نشو د نسل په نامه باید یاد شي، د دې نشه اي ماشومانو او د شاقه کارونو او د لویانو د هوسونو ښکار ماشومانو او کوچنیانو د کورنیو د اقتصادي او ټولنیز ژوند د خرابوالي لومړني مسولین همدا سیاسي مشران دي چې د دوی تیر وتنو نن ورځ ټولنه د بدمرغۍ کندې ته ور پورې وهلې او د کورنیو د بې سوادۍ، خراب یا نشت اقتصاد په پایله کې تر دې بریده رسیدلې دي چې مور د ماشوم د ویده کولو له پاره ماشوم ته تریاک ورکوي او یا یې د نشه توکو لوګي په پزه او خولې کې ور پوه کوي.

دا هغه نسل دی چې د کورنیو له بیکارۍ، بیسوادۍ او خراب اقتصاد له وجې په نشو روږدي کړای شوي دي او عوامل یې هم باید په ټولنه او ټولنیز ژوند کې ولټول شي او د له منځه وړولو له پاره یې سمه نسخه ور ته ولیکل شي.

دا په نشو روږدي مشران او کشران زموږ د ټولنې پر تندي باندې هغه تور داغ دی چې د سیاسي واکدارانو د پر له پسې تیر وتنو په اثر، ټولنه، د ټولنیز ژوند بنیاد او اساس ړنګ کړای شوی دی، د ټولنې او کورنیو اقتصاد او امنیت له منځه تللی او په پایله کې یې دا نسل ټولنې ته ډالۍ شوی دی او ټول باید په دې پوه شي چې دا د پټي سر نه دی، اوس ډیره نا وخته ده، ځکه چې د پټي سر اوبه شوی دی، زهر په کې کرل شوي دي او اوس دا د زهرو فصل:

(درې نیم میلیونه روږدي: اته نیم لکه روږدې میرمنې او یو میلیون روږدي ماشومان او تنکي ځوانان)

ښه مست په ګل کې دی چې بوی يې ټول وطن نه، بلکې ټوله نړۍ يې نيولې ده او نوره به يې هم ونيسي او ډېرې منفي پایلې يې لکه مات لاس د افغانستان او افغانانو په غاړه کې یا ور لويدلي دي او یا په نړدې او لرې راتلونکو کې ور لوېږي.

په نشه اي توکو باندې د یو ميليون افغان ماشومانو او کوچنيانو روږديل،

د زهرو هغه کرونده ده چې حاصل يې د هر افغان پر دسترخوان باندې د خوراک له پاره چمتو کيدلای شي.

بي بي سي څو ورځې مخکې دا خبر خپور کړ چې د افغانستان درې نیم ميليونه وګړي په نشو روږدي دي:

«افغانستان کې تر یو ميليون ډېر ماشومان نشه کوي او پرې روږدي دي. دا خبره کابل کې له نشه يي توکو سره د مبارزې اداري کړې. دوی وايي ټول افغانستان کې ټول ټال درې ميليونه خلک په نشو اخته دي. نجما ځلا کابل کې د روږدو کسانو تر ټولو لوی مرکز فېنکس ته تللې. هلته له ماشومانو سره غږېدلې او د روږدي کيدو لاملونه يې ترې پوښتلي»

د بي بي سي والا مسؤليت یوازې د خبر خپرول او بس، نور نو د «غم ده د لالي په سر، مسته دې تازه ګرځي» کيسه ده، خواره خواري د افغانانو او د افغانستان ده چې درې نیم ميليونه خوځيدونکي مړي ور له غاړې دي.

دا یو ميليون روږدي ماشومان، کوچنیان او تنکي ځوانان، اته نیم لکه روږدې میندې او په ټول کې درې نيم ميليونه روږدي افغانان؛ د هغه نا سم شعار او نا سمې پالیسی پایله ده چې ویل کيدل به:

«وې زیږوئ، وزن يې مځکه جګوي، روزي يې خدای ور رسوي»

خو د پاسني شعار سر لارو او پیروانو د دې په باب فکر نه کاوه چې د دغه نوي نسل ــ چې مځکه يې وزن جګوي او روزي يې خدای ور رسوي ــ د سواد او ښوونې روزنې مسأله څنګه کيږي؟ د ورکتون، ښوونځي او پوهنځي غم يې څوک خوري؟ د کار زمينې او شرايط څوک ور ته برابروي؟

کله کله داسې هم شوي دي چې مورږ له بهرنيانو نه سر ټکوو چې په خپلو هيوادونو کې يې زموږ له ماشومانو سره جفا کړې او کوي يې، ورغلي کم سنه افغان کوچنيان بيرته را شړي، خو دې ته مو پام نه وي او پام مو نه دی چې کور دننه او په هيواد کې دننه او په خپله ټولنه کې له خپلو ګلاليو ماشومانو سره، له خپل نوي نسل سره او له خپلې راتلونکې سره، موږ خپله څه کوو؟ وهل، ټکول، شاقه کارونه، جنسي تيری، ټنبتول، خرڅول، جګړې ته ليږل او نور څه فعلونه دي چې نه مو دي ور سره کړي او دا دی اوس مو لا په نشو هم روږدي کړل، هغه هم دوه، درې، لس، شل او سل نه، بلکې یو ميليون.

له دې روږدو ماشومانو نه بي بي سي یو راپور تاژ جوړ کړی دی، چې په ځينو برخو کې يې داسې راغلي دي:

«... علي په اووم ټولګي کې و، چې له نا سمو ملګرو سره ناستې په نشه اي توکو روږدی کړ...

د روږدو د درملنې یو مرکز چې فينکس نوميږي ځينې روږدي په کې تر درملنې لاندې دي

د يوې وروستۍ سروې له مخې چې د افغانستان د نشه اي توکو سره د مبارزې وزارت د يوې امريکايي ادارې په مرسته تر سره کړې ده، ښيي چې په افغانستان کې درې اعشاريه پنځه ميليونه وګړي په نشه اي توکو روږدي دي. په پاسني شمير کې يو کامه څلور ميليونه دايمي روږدي ښودل شوي دي او دوه کامه دوه ميليونه داسې په نښه شوي دي چې په يو ډول نه يو ډول له نشه اي توکو اغيزمن دي.»

دا ارقام ټول خواشينوکي دي خو تر ټولو زړونکي يې دا ده چې په دې شمير کې اته سوه پنځوس زره ښځينه معتادين دي او يو ميليون هغه روږدي کوچنيان دي چې عمر يې له اتلسو کلونو ټيټ دی.

په نشه اي توکو د روږدو افغانانو دا شميره، په تيره د ښځو او ماشومانو شمير زما په ګډون د هغو افغانانو له پاره د زهرو کرونده، نه ايليدونکي سونامي او د خطر زنګ دی، چې د نوي افغانستان د جوړولو له پاره او له نورې متمدنې نړۍ سره يې د سيالۍ له پاره؛ د نوي نسل په روزلو عقيده لري او عملاً کار ورته کوي. نو دغو افرادو سره اوس څه وکړو او څه ډول نوې دندې به د نوي نسل د سمې روزنې د پلويانو په مخ کې ايښودل شوې وي؟؟؟

د بي بي سي په ګزارش کې راغلي دي چې:

«حکومت ژمن دي چې په نشه اي توکو د روږدو کسانو د درملنې هڅې به لا پراخوي...» خو له ډيرو کلونو را په دې خوا د حکومت له خولې دا خبرې را وزي، مګر عملاً يا څه نه کوي او يه يې نه شي کولای، په تيره چې اوس، اوس د حکومت اصلي ستڼه د فساد بيلابيلې مافيايي ډلې جوړوي او په خاصه توګه د نشه ای توکو مافيا.

د ګزارش په يوه برخه کې د بي بي سي له خوا دا پوښتنه مطرح شوې چې: ولې دې يو ميليون افغان ماشومان په نشو روږدي شي؟

لاملونه يې يو دولتي چاروکی(له نشه اي توکو سره د مبارزې وزارت مرستيال جاويد احمد قايم) په خپله لنډه مرکه کې څرګند کړي دي. په نشو د روږدي کيدو لاملونه قايم صاحب داسې په نښه کړي دي:

«د دې اصلي لامل دا دی چې دا ماشومان د هغو کورنيو نه دي چې د دوی والدين په نشه اي توکو روږدي دي او يا په هغو فاميلونو کې دي چې په دغه کارو بار اخته دي.»

داسې څوک نه شته چې دې ښاغلي نه پوښتنه وکړي چې: دې ماشومانو که نشه له ميندو پلرونو نه په ارث تر لاسه کړې وي، نو د هغو ميندې پلرونه بيا څنګه نشيان شول او که مادر زاد نشه يان وو؟

ژورنالست له ښاغلي مسول(قايم) نه پوښتنه کوي چې: ستاسو وزارت د دې ستونزې د مخنيوي له پاره څه کړي دي؟

قايم صاحب ور ته لکه د تيرو څلويښتو کلونو په څير يوه متحدالماله خبره کوي چې موږ داسې د تداوۍ مرکزونه لرو او داسې ترينينګ ورکول کيږي او...

د ښاغلي قايم په خبرو کې يوازې يوه خبره د ستونزې د حل په برخه کې اړخ لګوي چې بايد د ښوونې او روزنې له لارې نه د ماشومانو د روږدي کيدو د مخنيوي له پاره کار وشي.

ښاغلی قايم او نورو ښاغلو مسولينو!

په نښو د اخته کیدو او روږدیدو ټولنیزې ریښې او زمیني پیدا کړئ او د منابعو او سر چینو د وچیدو غم یې وخورئ. تش په نامه کلینکونه اول ګټه نه لري او که یې ولري څنګه چې روږدی ستاسو د درملنې له دایرې نه و وت، بیا هماغو ټولنیزې ستونزو سره لاس ګریوان کیږي او په نشو روږدو له نظره یې چاره، بیا نشې ته پناه وړل دی او ښایي چې ستاسو ډیری د درملنې مرکزونه هم خیالي وي چې بودجه تر لاسه کوي او په عمل کې هیڅ هم نه تر سره کوي.

د مسولینو له لوري د ماشومانو په نشه د روږدي کیدو د مخنیوي له پاره دا ښودل شوي دي چې دوی پوهیږي چې ماشوم ته د ویده کیدو له پاره تریاک ورکول کیږي چې ویده شي چې مور قالینه اوبدلو ته بیکاره شي، او د حل لاره یې دا ښوولې ده چې باید کورنیو ته عامه پوهاوي ورکړل شي.

د دولت ښاغلو مسولینو!

خلکو، ټولنې او کورنیو ته تر عامه پوهاوي ورکولو مخکې د هغوی اقتصادي ستونزې ور حل کړئ، چې د قالینې اوبدلو ته تر دې بریده اړ نه شي چې خپل ماشوم ته د ویده کیدو له پاره تریاک ورکړي، یا یې د نشه اي توکو لوګی په خوله او پزه کې ور پوه کړي او بیا یې د لارو او واټونو تر څنګ په بیسده ډول د خلکو د زړه سوي د جلبولو او پیسو د تر لاسه کولو له پاره له یوې تیارې تر بلې تیارې څملوي او په دې ډول له خپلو اولادونو او کورنی نه نیولې، بیا ګردې ټولنې ته اور ور واچوي.

په افغانستان کې درې نیم میلونه په نشو روږدې شمیره او په هغو کې د یو میلیون نشه اي ماشومانو شمیر دا ښیي چې موږ د ژوندیو په غم کې نه یو، د نوي نسل په فکر کې نه یو او د راتلونکي ټولنې د نیکمرغی په فکر کې نه یو او دا ترخه حقایق دا په ګوته کوي چې ځینې افغانان د ژوند او ژوندیو په فکر کې نه دي، بلکې د ژوندیو په ځای، د مړو پرستش کوي یعنې چې موږ ډیر مُرده پرسته یو، نه ژوند پرسته، او په خپلو دې کارونو سره که له یوې خوا د نوي نسل راتلونکې تباه کوو، نو له بل پلوه د هغو نا پوه، نا اهله او جاهلو سیاسي مشرانو دا شعار او خبرې په عمل کې پیاده کوو چې ویل به یې:

«ملت شهید پرور افغانستان»

د دې پر ځای چې د ژوندیو غم وخورو او د نوي ژوند د آرامتیاو په باب فکر وکړو و، زموږ د ټولنې ځینې کړی د خپلو سیاسي موخو له پاره د مړیو په غم کې دي او وایي چې د پلانې هډوکي را ویستل شول، بیرته خښ شول د پلانې هم باید را وایستل شي او بیرته خښ کړای شي. له دې کارونو نه داسې پایله راوزي چې موږ یو ژوندی ملت نه، بلکې هغه ملت یو چې د ژوند په فکر کې نه یو، د مړیو په سودا کې شپې ورځې تیروو، نو خود به مو په بیلابیلو سونامي ګانو کور وران وي له هغې دلې نه د نشو په سونامي. داسې رسنۍ هم شته چې د مړو د هډوکو را ایستلو او بیرته ښخولو ته یې ډول غاړه کې اچول او په لوړ آواز یې ډنګوي،

خو د درنیم میلونه روږدو افغانانو د ورانونکي سونامي له پاره د یو سپن په اندازه هم غږ نه جګوي، یو میلیون په نشو روږدي ماشومان یې پر ځای پریښی دي او د مړو هډوکو ته سُرنی غږوي.

سم ژوندی بنده اول وژنو، د خدای له لوري ستره ورکړل شوي ډالی یعنې ژوند ور نه اخلو، بیا د شهید نوم ور باندې ږدو او بیا یې د«ملت شهید پرور» تر شعار لاندې خلک پرستش ته مجبورو، په داسې حال کې چې بودا دوه زره پنځه سوه کاله پخوا ویلي وو:

«د خدای پار دی مړي پریږدئ، مړي مړه دي، د ژوندیو غم وخورئ!»

زه له مسؤلینو نه او د ماشومانو، کوچنیانو او د نوي نسل د روزني او پالني له پلویانو دا پوښتنه کوم: چي اوس له دي نا غوښتي سوغات(په نشو دري نیم میلیونه روږدي) سره څه کوئ؟ چا کړي او بار به يي اوس څوک پر اوږو وړي او دا د نا کړې گناه پیټی څوک تر کومه او ولي پر اوږو چلوي؟

زه په ټولو هغو دولتي، نا دولتي، رسمي او غیر رسمي موسساتو، ټولنو او اشخاصو، چي د کوچنیانو د ژوند د خوندي کولو، د کوچنیانو د روزلو او ادبیاتو له پاره کار او هڅي کوي، غږ کوم چي زما د پاسنیو پوښتنو او ستونزو په نظر کي نیولو سره، د دې سونامي د مخنیوي او د راتلونکو نسلونو د خوندي کیدو په موخه دي، د نورو مثبتو هلو ځلو تر څنگ د نشه اي توکو د کارولو د مخنیوي او په تیره د ماشومانو د نه روږدي کیدو له پاره خپلي هلي ځلي گړندی کړي. د دي ستونزو د حل په محور کي باید دا لومړیتوبونه وي:

ــ امنیت په لومړیتوبونو کي،

ــ د خلکو د اقتصادي ستونزو له منځه وړل په لومړیتوبونو کي،

ــ د زدکړو او کار زمینه برابرول په لومړیتوبونو کي.

ماشوم او کوچني ته چا د قلم پر ځای ټوپک او سگرت او نشه اي توکي په لاس کي ورکړل؟ مور خپله، مشرانو، میندو پلرونو. که سیاسي مشران دي او که په عامو وگړو کي مشران، ټول پړ او ملامت یو، که دا جفا بهرنیانو هم کړي وي، مونږ ملامت یو، ځکه چي د هغوی د جفا د مخنیوي له پاره لازم سواد او پوهه نه لرو، خلاصه له هر اړخه چي وسنجول شي، بل څوک ملامت نه دي، مونږ خپله ملامت یو.

دا يي څو بیلگي دي چي مونږ له خپلو ماشومانو سره، له خپل نوي نسل سره او له خپل راتلونکي ژوند سره څه کړي دي:



دا کوچنی چا ځرولی او ژړولی؟ یو مشر



دا ميرمن چا اړ ايستلي چي ماشومان د خير غوښتلو له پاره په نشه ويده کړي؟ مشرانو



دا کوچنی چا بې پلاره کړی چي داسي شاقه کار ته اوره ورکړي؟ مشرانو

او د دي پوښتنو ځوابونه او دلايل به ځوک و وايي؟

دا غميزه به هغه وخت پای ته ورسيږي چي موږ سواد زدکړو، ښوونځي او پوهنځي ته مخه کړو او د علم ډيوه بله کړو.

يو ځل بيا په تکرار سره وايم چي اوس هم ناوخته نه ده، موږ بايد د استاد ګل پاچا الفت دا توصيه تطبيق کړو:

«کوچنيان بايد په علم پسې ولاړ شي او د علم رڼا له ځان سره راوړي»

د اوه ديرشمي مقالي پای

# شپيته کلن، شپږ کلنه او انصاف

## «تير په هيره»

### اته دېرشمه مقاله

د «تير په هيره» منفي اړخ تر مثبت دا ډير دی. هغه څوک چې غواړي له مسوليت نه ځان وژغوري، نو د «تير په هيره» توري سمدلاسه مقابل لوري ته مخکې ږدي. پر شپږ کلنې باندې جنسي تيری او اوس د «تير په هيره» د مفهوم په رڼا کې هر څه باندې خاورې اړول شوي دي. زه نه پوهيږم چې زموږ له هيواد، ټولنې او خلکو نه څه شی جوړ شوي دي، هغه څه تر سره کيږي چې بايد و نه شي، هغه څه تر سره کيږي چې په اوريدو يا ليدو يې د انسان پر بدن ويښتان دريږي، هغه څه تر سره کيږي چې په هيڅ دين او قانون کې نه شته او نه بايد وي؛ خو زموږ په ټولنه کې تر سره کيږي. او له هغه نه هم جالبه دا چې د څو ورځو په تيريدو سره هغه موضوع داسې هيره شي، يا داسې هيره کړای شي، لکه هيڅ شی چې لا پيښ شوي هم نه وي، که دولت لږ څه شرم او حيا مخ ته ودروي نو د موضوع د څيړلو تر عنوان لاندې يو هيأت و ټاکي، څه موده وروسته پلاوی هم ورک شي، موضوع هم پسې هيره شي، داسې لکه چې پانه هم نه وي ښوريدلې، لکه د چا خبره:

**«نه خر وهلی، نه ښڅته ماته»**

څه موده مخکې په ميډيا که لکه نا څاپي باران يو دم د يو خبر باران وشو چې پر يوې کم سنې ماشومې باندې کوم جګ سنې عام سړي که کوم ملا جنسي تيری کړی که يې نکاح کړې او تر ټولو ژړونکې او خندونکې يې لا دا چې د دې کار عامل ادعا کړې چې دا جلی ده ته د ډالی په توګه د دم و دعا په مقابل کې د هغې د مور پلار له خوا ور ښښل شوې ده. پر دې ماشومې باندې جنسي تيری تر هر نامه لاندې چې وي د ښښلو او توجې وړ نه دی.

جنسي تيرى له ماشومانو او كوچنيانو سره د تاو تريخوالي تر ټولو منفي او لويه برخه جوړوي او له بده مرغه چي د ټوپکي واكدارئ په دايره او موده كي دا په يو عام دود باندې بدل شوى دى.

په دې برخه کي له بېلابېلو منابعو څخه دغو څو خبرونو ته پام وکړئ:

- له يوې ۶ كلنې ماشومې سره د ۴۰ يا ۵۰ كلن سړي نكاح،
- ازدواج ملاى 50 سالهٔ هراتى با دختر 5 ساله غورى،
- افغان ملا د ۶ كلنې نجلۍ سره د واده په تور نيول شوى،
- ملايى كه با كودک شش ساله ازدواج كرده بود بازداشت شد،
- بازداشت يک ملا دعا خوان به جرم روابط جنسى با دختر شش ساله،
- محكوميت مرد ۴۲ ساله به هفت سال زندان به جرم ازدواج با دختر ۶ ساله افغان،

په میډیا کي د همدې خبرونو له خپرېدو سره هممهاله يو فرهنګي په خپله فيسبوک پاڼه کې په ډانګ پيلي ډول وليکل:
«معذرت غواړم ژورنالستو حضراتو، په هرات کې له شپږ كلنې ماشومې سره د شپېته كلن سپين ږيري نكاح خبر نه بلكې دود دى. د خبر وړتيا هغه حادثه لري چې يو ځل، استثنائي، يا غيرعادي پېښيږي. ښكاره او مشهور مثال يې هماغه دى چې وايي كه سپى انسان وداړي، خبر نه دى، ځكه سپى انسان داړي، خو كه انسان سپى وداړه، خبر دى، ځكه چې دا كار غير معمولي دى.

له بده مرغه، د كم سنو نجونو واده زموږ د فرهنګ عادي برخه او زموږ د قانون د تاييد وړ دى او زموږ ملا صاحبان خو يې نكاح هم په خپله تړي او خون يې هم اخلي.

شرعاً ښځه د خپل ځان مالكه ده، او د دې له رضائيت پرته نكاح باطلېږي او د سمي نكاح په نه شتون كي د داسي ښځي او مېړه هره شپه يو ځاى كېدل نه يواځې زنا، بلكې زنا بالجبر، او په ننني اصطلاح، جنسي تېرى دى، خو دا چې خوارې افغاناني له خپل حق څخه ناخبره دي، اكثره دا ډول حالت خپل نصيب ګڼي، نه يواځې دا چې شكايت نه كوي، خپله ژړا او اوښكي پټوي او پر خپلو ارمانونو او خواهشاتو خاورې اړوي، بلكې همدا عقده يې په عقيده هم اوړي او د خپلو لونو او اولادونو په برخه كې هم ورته پرېكړې كوي. كه په دې اعتبار و وايو، د نا خوښي نكاح هره بستره يوه انحصاري رنډى خانه ده، خو څوک د دې خبرې د كولو جرأت نه لري...»

دا زموږ حال دى چې يا يې د غيرت په نامه د كور بنديوانه كوو، يا يې په وهلو ټكولو داسي حد ته رسوو چې نور نه د خبرو وي نه د كار او بيا د ليونتوب نوم پرې ږدو او وايو چې د خداى رضا به همداسي وي، يا جنسي تيرى پرې كوو او كه بل څه نه، اور خو شته چې په كي وې سوځوو.

داسي ښكاري چې د دې ټيپ خلكو د شهوت تنده اوس په ۱۴ كلنو او اتلس كلنو نه ماتيږي، د هغه له پاره يې اوس تر هغو د ټيټ سن ماشومانو ته مخه كړې ده چې د شهوت تنده ور باندې ماته كړي.

كه د دې ماشومې مور پلار او يا په اصطلاح ميره سواد، پوهه او انساني بصيرت درلودلاى، د ښوونځي او پوهنځي په دروازه ننوتلي واى دا كار نه كيده.

په دې پېښه کې سړی یا فاعل ادعا کوي چې دا نجلۍ د ده ملکیت دی او د دم او دعا په بدل کې دا نجلۍ ده ته تحفه او ډالۍ شوې ده. کله چې د فاعل دلایل واوریدل شي، بیا د ماشومي د مور پلار خبرو ته کینو او بیا د ۲۰۱۶ کال ټولو پرمختګونو او د تکنالوژۍ او انساني ژوند دې پوړیو ته وګورو او بیا یې د دې خلکو له اعمالو او تفکر سره مقایسه کړو؛ د انسان په وجود باندې ویښته دریږي.

زما له نظره له یوې خوا که اصلي ملامت د دې پیښې عاملین د جلۍ کورنۍ او ښاغلی دعا خوان؟ دي؛ نو له بلې خوا باید دا پوښتنه هم په جدي ډول مطرح شي چې پر دغې ټولني دا حالت چا راوست او دا وحشت چا ور باندې خپور او حاکم کړ او نور ډیر داسې ولې ولې؟

دا حالت له همدې ځناورو او د دوی له تور او غیر انساني طرز تفکر سره راغی، چې د افغانانو له عقیدوی طرز تفکر یا اسلام سره نیم پاینټ اړخ هم نه لګوي، همدا تنظیمي ټوپکي واکداري وه چې د غنیمت په نامه هر څه په لاس ور تلل، نو خپل یې ګڼل، حتی د خلکو ناموس. په دې ډول دا او دې ته ورته وحشت پر ټولني باندې د همدې تنظیمي جهادي اوصولو په رڼا کې پر ټولني باندې حاکم شو، چې نن یې ثمر د ټولو خلکو ستوني او ژوند ور تریخ کړی دی او دا هر څه د بې سوادۍ، نا پوهۍ او پر ټولنه باندې د تیارې د غوړیدو په پایله کې زمو وطن او خلکو ته ور په برخه شوي دي.

کوم چا له ډیر درد نه په خپل فیسبوک کې داسي لیکلي وو:
«این هم عکس سید عبدالکریم مرد پنجاه ساله که مجرم به ازدواج با دختری شش ساله به نام "سیید بی بی" است

به جان عزیزترین هایم قسم اگر من قدرت در صدور حکم مجازات را در دوایر قضایی کشور داشتم، حکم عقیم کردن چنین مرد هایی را صادر می کردم»

په رښتیا له موږ نه قزاقان هم ښه دي، هغوی یو قانون تصویب کړ چې پر ماشومانو متجاوزین باید خصي کړای شي، خو زموږ په هیواد کې د ټوپکي پالیسی په دایره کې نازول کیږي.

د اته دیرشمې مقالې پای

## «تلويزيونه څه کاني دې وکړي؟»

### نوی چاپ شوی او ويشل شی کتاب

### «هر دم ازين باغ برې ميرسد»

### د ښوني او روزني وزارت د پام وړ!

### نه دېرشمه مقاله

د ټوپک پر ځای بايد ماشوم ته قلم او کتاب په لاس کي ورکړو
او کتاب ته مو پام وي چي کوم کتاب په لاس کي ورکړو،
هغه کتاب په لاس کي ورکړو چي د دنيا او آخرت
د سميدو راز په کي نغښتی وي، نه دا چي
يوازي جنت ته د تلو په پلمه د دنيا
او آخرت د بربادی او د نوي
نسل څه چي، ان د څو
نسلونو د تباهی راز
په کي پټ وي.




د ۲۰۱۷ کال د اپريل په اومه نيته مي د ښاغلي قدير مرزا لکنوال په فيسبوکپاڼه کي د يو کتاب دا پاسنی عکس پام ورواړاوه، عکس مي کليک کړ او د نورو عکسونو په ليدلو داسي هک پک شوم چي ستونی مي وچ او سا مي په بنديدو شوه.

زه په لومړي سر کي له ښاغلي لکنوال نه مننه کوم چي په دې موضوع يې د خپلي پاڼي له لاري خبر کړم. څو ورځې مي څه و نه ليکل، ومي ليدل چي هيڅ چا هم څه و نه ويل او وي نه ليکل، خو زه له دې موضوع سره بې تفاوته پاتي کيدای نه شم او داسي نظر لرم چي دا موضوع په هر ډول چي نور انګيري، هغه د نورو کار دی، خو ما ته ډېره مهمه موضوع او لويه ستونزه

ده. زه خو لا داسي وايم چي زموږ د ټولني نوي نسلونه د همداسي کتابونو په لوستلو سره د تباهۍ کندي ته نور هم ور نږدي کيږي چي د مخنيوي له پاره يي بايد عملي اقدام وشي.

د مالوماتو له قراره چي د دې کتاب د ليکوالو او شايع کونکو نور ورونه هم په بيالبيلو ځايونو کي لګيا دي عين نظريات وړاندي کوي، د تمدن او نوی تکنالوژي د مخنيوي له پاره بيرته د همدې تکنالوژۍ له امکاناتو نه استفاده هم په کوي. زه له دانشمند استاد کانديد اکاديميسين اعظم سيتاني نه د زړه له کومي مننه کوم چي د دې مقالي د کار تقريباً پای کي يې له دې مالوماتو نه خبر کړم. او دلته يي د دوستانو د زياتو مالوماتو له پاره د موضوع د نه اوږدوالي په پار يوازې د لينکونو په ښودلو سره بسنه کوم.

د سيد محمد يزداني دات کام (com.smyazdani) په نامه، يوه ويبپانه کي هم تلويزيون حرام اومنع اعلان شوی دی. هلته هم کوم تن پاڅيدلی او په عالي نوښت؟ سره د يې د «شمشير برهنه حيدري، بر ګردن شيطان هر دري» تر سر ليک الندي يو کتاب ليکلی دی او خپل نظريات يي په کي وړاندي کړي دي. دا جمله مي له هماغي پاڼي نه را نقل کړې دی:

دیدن تلویزیون حرام و شکستن آن واجب است؛

بيا وروسته افغان ليکوال عالم افتخار پر همدې ستونزې باندي خپل عالمانه نظريات څرګند کړي او په يوه ويبپانه کي يي خپاره کړي دي. درانه لوستونکي کولای شي د دې وحشت اوغميزې لړی په ټاکلو آدرسونو کي، چي په متن کي ما په نښه کړي دي، تعقيب کړي.

زه د سيد محمد يزداني دات کام کي د تلويزيون پر بحث او د «شمشير برهنه حيدري، بر ګردن شيطان هر دري» کي پر فتواوو باندې کار نه لرم، خو پر پښتو ژبه باندې د ژباړل شوي او په افغانستان کي د خپاره شوي کتاب، «تلويزيونه څه کاني دې وکړې؟» باندې تم کيږم.

اوس پوره باوري شوم چي د دې غنيمت؟ کتاب په چاپيدو او خپريدو سره به پښتو ژبه له هره اړخه غني؟ او د دې کتاب د لوستونکو افکار به ګل و ګلزار؟ شي. زما د همدې ادعا د ثبوت له پاره به، د «تلويزيونه څه کاني دې وکړې؟»

د کتاب د مطالبو له فهرست څخه ستاسو پام ځينو داسي سر ليکونو ته راواړوم چي زما په شان به مو خوله ور ته وچه شي. د پاسني کتاب له مرغلرو؟ څخه:

ــ د تي وي (TV) کتلو ګناهونه، ۴ ام مخ،
ــ په تي وي کتونکي د الله تعالی ۱۸۰ لعنتونه، ۶ ام مخ،
ــ د تي وي د کتلو له امله کينسر، فالج، د سترګو... ۷ ام مخ،
ــ د تی وي په کتلو سړی څنګه بې غيرته کيږي؟ ۱۹ ام مخ،
او...
د کتاب د مطالبو د فهرست د يوه مخ بشپړه بيلګه دا ده:



د تي وي شور و غوغا او بیچاره لمونځ ........ 49
د جوماتونو سیوری هم له تي وي پاتې نه شو ........ 50
په تي وي چې څوک دا هندي ستدرې واوري ........ 51
په تي وي د ستدرو اورېدونکو لپاره همدا حکم دی ........ 52
د تي وي په کتونکي به خپل لمونځ څه اغېزه وکړي ........ 53
د تي وي او ستدرو مینه والو حشر ........ 54
د تي وي له خاطر د جمعې ورځې لمانځه سره مخه ښه ........ 58
د تي وي په څېر ستدرې هم انسان نشه کوي ........ 59
د تي وي له امله د پلار حکم ماتېږي ........ 61
د تي وي مینه وال خپل زوی ، لور ، میرمن او ورور د فلم ........ 62
د تي وي انتینا د مسلمان په کور د صلیب نښه ده ........ 63
د تي وي مینه والو حشر به له عیسویانو سره کېږي ........ 63
د تي وي داننینې په اړه له پنده ډک خوب ........ 64
د تي وي له امله یوه ښځه مار وچیچله ........ 65
تي وي د مسافرو سفر هم بې برکته کړ ........ 66
تي وي یو ورور د بل ورور قاتل وګرځاوه ........ 68
له تي وي سره څه راغله او څه لاړه ........ 69
د تي وي له خاطره د مور نافرماني او مرګ ........ 70
کله چې به زوی په تي وي کوم پروګرام کاته ........ 72
له کوره د تي وي ایستل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیارت ........ 73
د تي وي له خاطره د قران کریم سپکاوی ........ 73


ما پخوا هم پر ورته ستونزو مقالې لیکلې دي او اوس د دې ستونزې په اړوند یو ځل بیا د تیرو مقالو د موادو په نظر کې نیولو سره، په تفصیل سره نوې مقاله لیکم او د مقالې په ترڅ کې کتاب در پیژنم، مثبت خو څه نه لري د منفي پایلو په باب یې خبرې کوم .د دې موضوع په اړوند د ښاغلي لکنوال په لنډکي یادداشت کې، چې ما ته د لومړنیو او اصلي موادو حیثیت لري، داسې راغلي دي:

«د کابل ختیځ کې د احمدشاه بابا مینه پرته ده چې خلک یې د ارزان قیمت په نامه هم پیژني. د دغه ښارګوټي مطلق اکثریت پښتو ژبي افغان وکړي دي. دې ښارګوټي کې څو ښوونځي فعاله دي، خو لکه د پښتنو د اوسیدو په هر بل ځای کې، یاد ښار ګوټی کې هم یو درجن مدرسي هم فعاله دي، چې پښتانه په خواره مینه خپل ماشومان دغو مدرسو ته لیږي .فکر نه کوم چې چا هم د خپل ماشوم نه پوښتنه کړې وي چې تاسو د ښوونځي نه وروسته چې دغو مدرسو ته ځئ، څه لولئ او څه زده کوئ ؟ ویده پښتونه! راویښ شه او یو ځل وګوره چې ستا ماشوم د کومه عمره ښستیګری ته هڅول کیږي« تلویزیونه څه کاني دې وکړي؟» تر عنوان لاندني کتاب په دغو مدرسو کې په وړیا توګه ویشل کیږي او ماشومان د دغه کتاب لوستلو او زده کولو ته هڅول کیږي .په دا خبره موږ ټول ښه پوهیږو چې خپله د کتاب لیکونکی هم تلویزیون یا د ده په لهجه تې وي خامخا لري او ګوري یې، خو ولې زما او تا ماشوم هڅوي تر څو د تلویزیون او تکنالوژی

نه لري والي غوره کړي؟ پښتون باید تل تر تله جاهل پاتي شي او تل د پنجاب اجیر عسکر و اوسي او د دین د ګټو په نامه باید تل پنجاب ته ګټه ورسوي.

د دغه کتاب ځیني کیسي داسي بیان شوي دي .یوه جنۍ ټوله شپه تلویزیون کتلو آخر بلا شوه . یوه مور وه ډرامي کتلي چې سهار راجګه شوه سترګي يي د سرشاته لاړې وې .او داسي سل نور بې ځایه او احمقانه دلایل.

د یادوني وړي بولم چې د نوموړي کتاب په وروستیو پاڼو کې دا دعوه هم شوي ده. چې تلویزیون ذکر په قرآن شریف کې هم شوي ده او منع شوي ده .

زموږ هیله د ښوني او روزني له وزارت نه دا ده چې ژر تر ژره د دینی مدارسو نصاب په خپل لاس کې ونیسي، تر څو د ولس غریب بچي د بنسټګري او نورو اروايي ناروغیو نه په امن کې وساتل شي# .قديرمرزالکنوال»

د ۲۰۱۷ کال د اپریل په لسمه نیټه مې ښاغلي لکنوال سره په مسینجر باندې خبرې وکړې او د «تلویزیونه څه کاني دې وکړي؟» د کتاب په باب د خپرو کړو معلوماتو په هکله مې وپوښته، هغه داسي و ویل:

«د کابل د پلچرخي په ارزان قیمته پروژه کې اکثریت ماشومان او کوچنیان له عادي ښوونځي نه وروسته، دیني مدرسو ته هم ځي. عادي ښونځي کې کومه ورځ ښونکی له شاګرد نه د کورني کار د نه تر سره کولو پوښتنه کوي چې ولي دې کورنی کار نه دی کړی؟ زدکونکی په ځواب کې ورته وايي چې زه وخت نه ور ته لرم، نو ته څه کوي؟ زه وروسته له مکتب نه مدرسي ته لیږل کیږم، له هغه وروسته څه د کور کارونه، بیا ډوډۍ خورم او وروسته له هغه د دې کتاب (تلویزیونه څه کاني دې وکړې؟) د لوستلو هم را ته ویل شوي وي، بیا دومره ستړی یم چې...»

زه یو ځل بیا له ښاغلي لکنوال نه مننه کوم او دا وایم چې د ده کور دې ودان وي چې دا موضوع په مستند ډول د ده له لوري د یو بل ښاغلي په مرسته چې د نوم د نه ښودلو غوښتنه يي شوې ده، د میډیا له لارې تر ټولو پورې ورسیده.
د کتاب لیکوال حافظ محمد صابر صفدر ښوول شوی دی، ، پښتو ژبې ته د ژباړن نوم يي شاهد عمران په ګوته شوی چې په اغلب ګومان مستعار نومونه دي.
له کتاب سره د لاندې عکس له لارې ښه معرفي کیدای شئ:



تشویش مه کوئ، د کتاب له محتویاتو نه به مو هم خبر کړم چې که څوک يې په غور سره ولولي او زيات نه نيمايي هم چې مراعات کړي، توله کورنی يې پرته له کومې پوښتنې جنت ته ځي. د کتاب فهرست په دریو مخو نو کې برابر کړای شوی دی، چې لومړی مخ يې دا دی:



د ژباړن سریزه.......1
د تي وي ( TV) کتلو گناهونه.......4
تي وي او اتلس گناهونه.......5
په تي وي کتونکي د الله تعالی ( ۱۸۰ ) لعنتونه.......6
د تي وي د کتلو له امله کېنسر ، فالج ، د سترگو.......7
يوې نجلۍ ته د ډاکتر لاربښوونه.......8
تي وي له خپلو کورونو وباسئ.......9
کنېسر د تي وي له امله.......9
د تي وي له مضره شعاعگانو ( وړانگو )څخه.......10
د تي وي له راوړلو مخکینی او وروستنی سترگو لیدلی حال.......11
تي وي او ناروغي.......11
د ښځو کتونکو شکلونه بدل شو.......12
د تي وي لومړنی يرغل د ښځو په حيا او د نارينه.......13
د تي وي په کتلو ښځه څنگه بې حيا کېږي ؟.......18
د تي وي په کتلو سړی څنگه بې غيرته کېږي ؟.......19
د تي وي له خطره ډک پنځه درسونه.......20
د تي وي دويم له خطره ډک درس عام خلک ترلاسه کوي.......21
د تي وي درېيم له خطره ډک درس ... چې نجونې.......22
د تي وي څلورم له خطره ډک درس ... چې هلکان.......23
د تي وي پنځم له خطره ډک درس ... چې ځوان نسل.......24
له هنرمندانو سره د خلکو غايبانه مينه.......24


دا ډېره خواشینونکې مسآله ده چې زموږ په ټولنه کې د يويشتمې پيړی په ۲۰۱۷ کال کې داسې تلبیغات کیږي او په بيلابيلو نومونو لمن ورته وهل کيږي.

پخوا ما هڅه کوله چې د مطالعې د عاملو له پاره ډېره پاملرنه وکړم، نور قلموال مې هم هڅول او خپله مې هم يوازې د مطالعې د ارزښت او عاميدو له پاره تر لسو ډېرې مقالې ليکلې دي، خو اوس د دې کتابونو په ليدولو هک پک يم چې څه وکړم ، دا يې مطالعه دود شوې، د لوستلو له پاره داسې څه ورته راليږي چې له زهرو نه هم بد تره دي، دغه کتاب يې ډېره ښه او ژوندی بيلگه ده.

د ۲۰۱۴ کال په مارچ کې مې د افغانستان د کندوز په ولايت کې د نا مالومو او ناپيژاندو اشخاصو له لوري د شخصي ديني مدرسو د جوړيدو او د کار و بار په توديدو سره ، د دې کار پايلو ته په کتو سره او د همداسې افراطيت او همداسې افراطي شخصي ښوونځيو په ډيريدو سره په دې باب د «د افغانستان ښوونيز نظام، جامعة الصالحات، اشرف المدارس يا د نوي نسل... ؟» تر سر ليک لاندې يوه مقاله وليکله او د ياد کال د مارچ په لسمه نيټه مې خپره کړه:

د افغانستان ښوونيز نظام

جامعة الصالحات، اشرف المدارس

يا

د نوي نسل... ؟




په یاده مقاله کې ما په سپینه ویلي وو چې:

«په افغانستان باندې له جګړې نه د رازیږیدلوسونامي ګانو ناوړه او منفي تا ثیرات زموږد ټولنیزژوند د هرې پانې په هره کربښه کې تر سترګو کیدای شي. دلته خبره د افغانستان په ښوونیز نظام او په دې نظام کې پر شته مرضونو او ستونزو باندې ده. بحث مو د ښوونیزنظام په دایره کې د اشرف المدارس(جامعة الصالحات) په نامه د یوه بل ګل؟ په غوړیدو دی. داسې ګل او داسې مدرسې چې هر څه د افراطیت او تشدد په خم کې رنګوي . په اسلام کې د راغلو اصولو له مخې، پرته له شکه چې اسلام د تشدد دین نه دی؛ خو کله چې دین له سیاست سره غوټه کړای شي او له هغه نه سیاسي موخو ته د رسیدو له پاره استفاده وشي، نو دین نه د سواستفادې زمینه برابریږي، چې دا کار له بده مرغه اوس ښه په مزه روان دی او زموږ په هیواد افغانستان کې د ډیرو ډلو پالیسي همداسې ده. د افغانستان په کندوز ولایت کې د اشرف المدارس (جامعة الصالحات) په نامه د نجونو ښوونځی یا دیني مدرسه، د ښوونې اوروزنې وزارت له اجازې پرته په جلا پروګرام سره زده کوونکې روزي، سپینه به یې وایو پایله یې بنسټ پالنه اوځان وژنه ده. همدا اوس دا لړۍ د بهرنیو کړیو د اهدافو د ترسره کولو له پاره د خامو موادو د تولید د یوې فابریکې حیثیت لري.»

بلې! پایله یې هغه شوه چې ما ویلي وو:

ـ د کندوز څو ځلي جګړې او څو ځلي سقوط ،

ـ د بې شمیره خلکو وژل او بې ځایه کیدل،

ـ کندوز د نړیوالو قدرتونو د سیالۍ ډګر،

ـ او په پای کې د کندوز اوسنی ځپځپانده وضع.

دا د امریکایي او غربي دیموکراسۍ ترچترلاندې، د اسلامي دولت په دایره کې د بربادۍ هغه پروګرام دی چې له د پارلس کلونو را په دې خوا پیل شوی دی.اوس یې کنترول د دولت؟ له واکه هم وتلي دی، پرې خبرهم نه وي چې چیرې او څه وخت او څوک داسې مدرسې جوړوي. ښه مثال یې په کندز کې «جامعة الصالحات» نومې مدرسه ده.

اوس دلته دا پوښتنې مطرح کیږي چې: ولي يې جوړه کړه؟ چا د څه له پاره جوړه کړ؟ څوک يې تمويلوي؟ مسووليت يې د چا پرغاړه دی؟ پايلي يې څه دي؟ له دې مدرسي خلاصيدونکي چيرې جذبيږي او څه کوي د کار ساحه يې کومه ده؟ دا او دې ته ورته نورې داسې پوښتنې چې زموږ په وطن کې د نوي نسل د روزنې په برخه کې د جدي پاملرنې وړ دي.

يو وخت همدې جنګې ډلو يا د پرديو نيابتي عسکرو يو کتاب خپور کړی و، چې سرليک يې « نظامې درسونه» و او ما د ۲۰۱۳ کال د مې په ۱۷ مه نيټه مفصله مقاله ور باندې خپره کړه او د عواقبو په باب مې يې هم خپل نظر څرګند کړ. دلته يې د موضوع د مهم والي په پار د مقالې **مهمه** برخه يو ځل بيا رال اخلم:

اوورسته له څومره کلونو دا دی بيا نويد صاحب د افغان کوچنيانو دزدکړې په برخه کې يوې سترې ستونزې ته د يوې عينې او ژوندۍ خاطرې په ليکلوسره اشاره کړې ده. د بي بي سي په پښتو ويبسايت کې د نورالبشر نويد د کالمونو په سلسله کې د۲۰۱۳ کال د مې په ۱۲مه نيټه د «د جهاد په کتاب پسې يو ليواله ماشوم » يو کالم راغلی دی. په دې کالم کې د هماغې کيسې بله برخه راغلې ده، چې په ۱۹۹۱کې چې نويد د يوه افغان ماشوم د دودغړن ژوند انځور په کې ايستلی و. په دې تو پيرسره چې په ۱۹۹۱ م کال کې افغان ماشوم د وروڼو او مور د نس مړولو له پاره مندې وهلې، خو دا بل ماشوم جنت ته د تللو په خاطر د جهاد کتاب لټوي. دا ماشوم ښايي د هغه کتاب په لټون پسې راوتلی وي چې حقاني شبکې د«نظامې درسونه» تر سرليک لاندې چاپ اوخپورکړی و چې پرته له معلم او ترينګه نه يې د جهاد طريقه ښووله.

**دغه «ماشوم ته خپل استاد ويلي و چې د جهاد کتاب وګوره. څه ظالم، قاتل استاد دی چې خپل شاګرد ته هغه لارښيي چې په خپله پرې د تلو جرات نه شي کولای.»**

ځينې سياسيون او د نظرخاوندان لا په دې نظر دي چې نقص په نظام کې نه دی. له نن نه دوه درې ورځې مخکې ښاغلي مسکينيارپه خپل تلويزيون کې د خپلوسياسي تبصرو په لړ کې په زغرده و ويل چې:« نيمګړتيا په نظام کې نه ده، نظام بايد بدل نه شي، نيمګړتيا په کرزي کې ده او د کرزي په کاري تيم کې ده، دوی بايد بدل شي.»

زه داسې فکر کوم چې تر ټولو ستره نيمګړتيا په نظام او سيستم کې ده. په سياسي او ښوونيز نظام کې. موږ بايد د شخص يا اشخاصو د بدلون نه مخکې، د نظام او سيستم د بدلون په فکر کې اوسو، د ټولنې طرز تفکر بايد بدل کړای شي، **د ټوپک پر ځای بايد ماشوم ته قلم او کتاب په لاس کې ورکړو او کتاب ته مو پام وي چې کوم کتاب په لاس کې ورکړو،هغه کتاب په لاس کې ورکړو چې ددنيا اوآخرت دسميدو رازيې کې نغښتي وي،نه داچې يوازې جنت ته دتلو په پلمه ددنيا او آخرت دبربادی او دنوي نسل څه چې لا دځونسلونودتباهئ راز په کې پټ وي.**

همدا جنت ته د تګ د منفي او بدو تبليغاتو وجه ده چې زموږ ډيرى کوچنيانو ته، زموږ ګلانو ته ويل شوي دي چې:

ټوپک دځوانانو ؛ګانه ده.

خو تر نن پورې نه دي ورته ويل شوي چې:

قلم د نوي نسل ګانه ده،

زدکړه او پوهه د نوي نسل زيور دی،

کمپيوټر د نوي نسل د وړاندې تګ او د علم او پوهې د زدکړې او لاس ته راوړلو ښه وسيله ده.

د تيارې د استازو مشرانو او رهبرانو په لوړ آواز په خپلو خبرو کې ويلي دي:

«ګورئ!

پام کوئ چې فیسبوکي ځوانان مو چپه کوي.»

دوی د خپل ژوند د اوږدولو له پاره له رښا (پوهه) سره مخالفت کوي. دا ستره او د پام وړ خبره ده چې :

**ترتولوستره ګناه، ستر خیانت او ستره جفا دا ده چې نوی نسل له حقایقو لرې، له پوهې او تکنالوژۍ څنګ ته، په تیاروکي وساتل شي.**

موږ له بده مرغه د خپل افراط او تفریط د ناوړه عادت له مخې یو وار هر څه سره کړل او بیا مو وریسې له هغه نه په افراط سره شنه کړل او سپین بادونه مو داسې پسې را والوزول چې نوی نسل څه چې، نوي نسلونه یې په تیارو کې مخ په ښکته تېل وهل،حتی ښوونه او روزنه.

د باندې له افغانستانه که د ښوونې او روزنې سلسله تعقیب شې له دې نه بد افراط په کې شوی دی. په هغو کتابونو کې چې په لومړي ځل ماشوم ته « الف - ب » ور زده کوي، ولیکل شول:

ت = توپک

ټ = ټانک

ج = جهاد

و = وژل

م = مرګ

ک = کمونست

او...

داسې کتابونه او داسې تعلیمي نظام کوچنیانو ته، نوي نسل ته کرکه، جګړه او وژل ور زده کړې او ور زده کوي یې، چې دا دی تر نن پورې یې پور همدا افغانان پسې ادا کوي.

موږ ځان څه چې، حتی توري مو نوم بدې کړل.

همدا توري مو داسې هم کارولای شول:

و = وطن

م = مور

ک = کرل

او...

له بده مرغه په افغانانو کې خو اول سواد عام نه دی، بیا چې د سواد خاوند شو ملا صاحب؟ مولانا صاحب جهادي صاحب او افراطي صاحب؟ او پلانکی صاحب ور ته د جهاد کتابونه چاپوي او په لاس کې یې ورکوي، ورته وایي چې د دې لوستل تا ته د جنت دروازې خلاصوي، دا ولوله، بیا لاړ شه خپل وطن وران کړه، په اور کې یې وسوځوه او...

په مېديا کې به ډير لږ داسې خبر واورئ چې د نوي نسل د روزنې په برخه کې دې سرې ور ته په تمه شي. ښځې مو د لنګون په وخت کې لومړی خپل ماشوم له لاسه ورکوي او بیا خپل ژوند. ناروغان مو پيسې روا ناروا ګټي او تداوی له پاره پاکستان، هند او... ته روان وي او هلته پرته له دې چې ناروغ پوه شي يا تداوي شي، يو پوښتورګی يې ور نه ايستل کيږي، او دې ته ورته نورې ډيرې ستونزې.

د دغو ستونزو تر ټولو لوی عامل د سالم ښوونيز نظام نه شتون دی، د يوې عادي ډاکترۍ، روغتون او نرسې نه شتون دی چې ښځه ماشوم او نور ناروغان د لنګون او ناروغی په وخت کې ژوند له لاسه ورکوي.

داسې خبر به په ميديا کې ډيرلږوګورئ چې ليکلي يې وي د نرسنګ کورس نه يوه، دوې، لس، شل او... تنه فارغاني شوې او په کوم صحي کلنيک کې يې په کار پيل وکړ. يا د نرسنګ کوم کتاب يا د نورو ټولنيزو خدماتو لارښود کتاب له چاپه راووت، خودا خبرونه يوځل نه څوځلي ميديا په ډيرکش اوځيرتوروسره خپروي چې:

- ۱۶طالبانوته د فضيلت پګړۍ ور وتړل شوې،

- پر تقوا ولاړه کورنۍ ګټوراسلامي کتاب له چاپه رووت،

- د درنو شاعرانو او نعت ويونکو د پام وړ... ټولنې د حمدونو او نعتونو يوه ټولګه(المزمل) خپره کړه،

- حقاني شبکې جنګي کتاب خپورکړ،

حقاني شبکې د جنګياليو د جذبولو او روزنې له پاره د«نظامي درسونه» په نوم کتاب خپورکړ چې ۱۶۰مخونه لري.

او...

دا جګړه او د ديني مسايلو تبليغ او زدکړه، هغه هم په غيرعلمي اوغير معياري ډول، زموږ د پلار نيکه ميراث دی که څنګه؟ موږ بايد ديندارې وکړو، خو د ژوند د نورو اړينو مسايلو زدکړه هم بايد هيره نه کړو. دې ستونزې ته ما په تفصيل سره په ۲۰۱۰ کال کې د سويدن په مالمو ښارکې د جوړشوې سيمينارله پاره په خپله مقاله (اور او ګلان) کې اشاره کړې ده.

په اوسني وخت کې دا زموږ ښوونه او روزنه ده او دا زمودرسې کتابونه دې. ولې د نرس قابله ګۍ کورسونه نه جوړيږي،چې دارالحفاظونه جوړوي او بيا د فضيلت پګړۍ ورتړل کيږي. خپلې ښځې د مرګ تر پولې وهو چې ولې زوی نه زيږوې، خو چې په اولاد تکليف ورته پيښ شو، بيا نرس او ډاکتردرک نه لري چې د زيږون لارښوونه او مرسته ورسره وکړي، پګړۍ والا ا وفضيلت والا بيا په داسې حالاتو کې څه مرسته کولای شي؟

دا هماغه د چرچرک او ميرې کيسه ده، چرچرک د کاروخت کې سندرې ويلې، ميرې کار کاوه. کله چې ساړه شول سخت ژمی سره سختې راغله، بيا چرچرک د يوې دانې له پاره ميرې ته عذرونه کول. موږهم همداسې يو، سياست، اقتصاد، علم، هنراو... رانه پاتې دې، يوازې نعتونه وايو او د فضيلت پګړۍ تړو، دوبی اوسعودي ته د ولور د ګټلو په خاطر سختو جسمي کارونو ته اوږه ورکوو، خو د درس له پاره... نور خلک پر مخ تللو هيوادونو ته د علم په زدکړې پسې ځي، او کله چې زموږ ماشوم او زموږخويندې ميندې مريضان شي، بيا پرديو ته لاس غځوو او يا يې د غيرت تر چترلاندې په کور کې ساتو، د مرګ ترپولې يې رسوو او پرديو ډاکترانو ته يې هم نه ورښيو، ځکه چې غيرت مو داغداره نه شي.

اوس هم ناوخته نه ده،موږباید داستادګل پاچا الفت دا توصیه تطبیق کړو:

**«کوچنیان باید په علم پسې ولاړ شي او د علم رڼا له ځان سره راوړي»**

پاسنیو خبرو ته په پام سره، اوس خبره تر دې پورې را رسیدلې ده چې د تروریزم خبرې، کتابونه او عاملین په هر کور کې ناست دي.

دا ټولې ستونزې چې یادي شوې، دا له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي د بیلابیلو ډولونو پایلې دي. کوم کتاب چې په دې مقاله کې ورباندې خبرې کوو«تلویزیونه څه کاني دې وکړي؟» کله چې دا په ماشومانو او کوچنیانو لولو، دا په لنډه یا اوږده زمانه د هغه ژوند تباه کوي، دا په خپله د تاوتریخوالي یو ډول دی. او له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي په باب ما د ۲۰۱۶ کال په لسمې میاشت کې د «له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالی ستونزه» مقاله ولیکله او د ۲۰۱۶ کال په لسمې میاشت کې، په څلورو برخو که خپره کړه. د دې مقالې په لومړۍ برخه کې مې له ماشومانو او کوچنیانو سره تاوتریخوالی پر دغو برخو ویشلی و:

زموږ د ټولنې عیني ستونزو او تجاربو ته په کتو سره، د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی په لومړي ګام کې په درېو برخو باید و ویشل شي :

۱ ـ رواني تاوتریخوالی: (ژبنی تاو تریخوالی، ډارول، ښکنځلې کول، بد رد ویل، تهدیدول او ډول، ډول نور رواني فشارونه)،

۲ ـ جسمي تاوتریخوالی: وهل ټکول، شاقه کارونه،جګړو ته اړایستل)،

۳ ـ جنسي تاوتریخوال.

زه اوس دې ته حیران یم د دې کتاب «تلویزیونه څه کاني دې وکړي؟» او دې ته ورته موادو د لوستلو په پایله کې چې زموږ د نوي نسل راتلونکی ژوند بربادوي او هر څه د ذهن په کرونده کې ور ته وچوي، څه نوم کیږدم؟

«له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالی ستونزه» د مقالو په لومړۍ برخې کې ما داسې لیکلي وو:

«کله چې موږ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي له لارې عقدوي چلند کوو، نو په حقیقت کې موږ د هغوی د ذهن په کرونده کې د عقدو او ستونزو تخم کرو چې په زلمیتوب او له هغه نه وړاندې په ژوند کې د هغوی هر څه په زهرو لړي. ډاکتر صاحب محب زغم «د حقارت غوټه» نومی کتاب له فارسي ژبې نه په روانه پښتو اړولی دی او دا موضوع په کې ډیره هر اړخیزه او علمي څېړل شوې ده. که موږ غلي کینو، چوپتیا او ځان غلی نیول خپله له نوي نسل سره جفا ده، دا په خپله یو ډول تاوتریخوالی دی چې په رڼو ور ته ګورو، نوی نسل مو د همداسې کتابونو په لوستلو د د همدې تاوتریخوالي په پایله کې د بربادۍ کندې ته ور لویږي، که د مخنیوي له پاره یې څه ونه کړو، دا په خپله له هغو سره د تاوتریخوالي یوه ښکاره بیلګه ده.

له کوچنیانو او ماشومانو سره دغه یاد تاوتریخوالی څوک کوي؟ البته چې مشران یې کوي او مشران یې هغه وخت کوي چې په هغوی کې د بې سوادۍ او نا پوهۍ مرض شایع وي. که د عادي لیک لوست په کچه سواد ولري، هغوی بیا مطالعه نه کوي او د سواد لوړې کچې ته یعنې علمي سواد ته چې هغه د ماشومانو او کوچنیانو او تنکیو ځوانانو روزنه ده، ځان، کورنۍ او ټولنه نه شي ور لوړولی. نو په دې صورت کې نه ماشوم، نه کوچنی، نه نوی نسل او نه هم د

هغوی حقوق پیژني. په دغسي یو حالت او په دغسي یوه ټولنه او چاپیلایر کې چې د بیسوادی او ناپوهی بال ور باندې حاکمه وي، بیا نو د مینې او محبت ځای تاو تریخوالی نیسي او کله چې له ماشوم او کوچني سره تاو تریخوالی وشو، پایله به یې دغسي وي لکه زموږ ټولنه او زموږ دا اوسني نسلونه چې د هرې ستونزې د حل الره په وهلو ټکولو یا ژبني تاو تریخوالي کې لټوي.»

د دغه کتاب «تلویزیونه څه کاني دې وکړې» لیکل، ژباړل، خپرول او بیا د افغانستان په څیر یوه جنګځپلې او وروسته پاتې ټولني کې د هغه خپرول، له یوې خوا ستر جنایت دی او له بلې خوا له ماشوم او کوچني سره په غیر مستقیم ډول سره د تاوتریخوالي هغه ډول دی چې له یوې خوا نه لیدل کیږي او له بل لوري نه یې پایلې ډیرې خطرناکې دي. ټولنه او مشران باید په دې پوه کړای شي چې له ماشومانو او کوچنیانو سره هر ډول تاوتریخوالی پټ جنایت دی.

اوس زه په دې نه پوهیږم چې دا نامالوم خلک چې داسي کتابونه لیکي، ژباړې او بیا یې افغانستان ته راوړي او زموږ د نوي نسل د تباهی له پاره یې دوی ته وړیا په لاس کې ورکوي، دا څه ډول تاو تریخوالی دی، څه نوم ورته کیښودل شي  او د د دې ضعیف دولت په چوکاټ کې یې د مخنیوي له پاره باید څه وکړو، د ښوونې او روزنې وزارت خو هسې هم لاس تر زنې ناست دی، ښایي ور باندې خبر به هم نه وي او کتاب هم د هغو ښوونځیو ماشومانو او زده کونکو ته ور کول کیږي چې په همدې وزارت پورې اړه لري، او همدوی یې بودجه ورکوي، خو مرامونه د نورو په کې پوره کیږي.

خدای دې مل شي د وطن او د ملګرو

دا یې هم د «تلویزیونه څه کاني دې وکړې» وروستی ډالی، ښه په ځیر یې ولولئ:




د تي وي کتونکو یو نااشنا کار ........ 25
د تي وي د هنرمندانو ستایلو په اړه له پنده ډکه کیسه ........ 26
زیاتره خلک د تي وي اخیستلو په وخت کې دا فکر کوي ........ 27
د تي وي لیدونکو په اړه د سترګو لیدلی حال ........ 28
د تي وي اوسنی نظام ورنګوئ ، مخکې له دې چې تاسو ........ 29
د تي وي له لعنته مو ځوانان بې غیرته شو ........ 29
د تي وي کتونکي ، بې پردې او میک اپ سینګار کړې ........ 30
ښایي چې تي وي لیدونکي له دې انکار وکړي ........ 34
تي وي د نړۍ د سترو جرمونو لوی مرکز ........ 35
د تي وي ډرامو ته غله ډېر په شوق ناست وي ........ 36
یوه نه منونکې کیسه ........ 36
تي وي له هر کوره سینما جوړه کړه ........ 37
تي وي د انساني ټولنې بنسټ له منځه یووړ ........ 37
د تي وي مینه وال اوس هم دا خبره کوي ........ 38
د تي وي مینه والو یو نااشنا پوښتنه او د هغې ځواب ........ 38
تي وي د خیر اله هم کرځېدای شي ........ 40
د تي وي روح ........ 41
د تي وي مینه والو حیلې او د هغې درې ځوابونه ........ 41
د تي وي درېیمه لویه ګناه او د یو پوهاند د ناپوهۍ ځواب ........ 43
موسیقي او د الله تعالی حکم ........ 44
تي وي ، راډیو ، وي سي ار او فلمونه هم لهو الحدیث دي ........ 46
تي وي او قران ........ 48


د نه دېرشمې مقالې پای

## «وسله ګرځول سنت دي»؟

### ځلوېښتمه مقاله

«چې چنګیز ورته د خپل جومات امام شي
شني لوخړې یې جنډې ځکه د بام شي

چې هر څه په لمبو وسوځي پاخه شي
دا وطن چې څومره سوځي، هومره خام شي»

(ممتاز ارمان)

روڼ اندو د رسنیو په مرسته دا خبره تر ډېرو پورې رسولې ده چې په یوه لویه غونډه کې یو چا وسله ګرځول د دین د احکامو یوه برخه ګڼلې ده:

**«وسله ګرځول سنت دي»؟**

(د مولانا صبور له ارشاداتو؟ څخه)

د ۲۰۱۶ کال د دسمبر په دویمه مې د فیسبوک یوه یار (ښاغلی نثار احمد صالح) په خواشینی سره دا توري لیکلي وو:

«مولانا صبور وایي ماشوم ته قلم او وسله دواړه باید ورکړل سي. نوموړی وایي وسله ګرځول سنت دي، که موږ قلم ورکوو؛ نو وسله هم باید ورکړو چې له کوشنیوالي ورسره عادت سي.
اوس نو د اسلام مقدس دین، امریکا بد نام کړی، که مولانا صبور؟
لعنت د خدای دې درباندي وسي»

د دې تورو لوستلو زښت ډېر خوا بدی کړم، نو مې سمدلاسه ښاغلي نثار احمد صالح ته داسې ولیکل:

ښاغلی نثار احمد صالح!

سلامونه او نیکې هیلې مې ومنه، هیله ده هر څه ښه وي.

که د مولانا صبور د خبرو لینک را ته ولیږئ، مننوی به یم:
«وسله ګرځول سنت دي...»

په دې عصر کې ځان بدمرغه ګڼم چې دا توري یا اورم، یا یې لولم او...

ښاغلي صالح سمدلاسه بيرته را ته وليکل:

«استاده سلامونه!

دا خبره يي کابل کي يو کنفرانس کي کړې وه. د جميعت اصلاح يو غونده وه.
حميد هڅاند يي په اړه تفصيلي ليکنه کړې ده.

ما تاسو د هڅاند صاحب پر هغه ليکنه مينشن کړلاست،
نوري خبري هم سته.»

ما چې کله د ښاغلي هڅاند ليکنه پرانستله او ومې لوستله، د پام وړ ټکي يې دا دي:

«...مولوي صيب و ويل: غرب او د غرب دلالان، سيکولران او ليبرالان وايي ماشوم ته وسله مه ورکوئ، ماشوم ته قلم ورکړئ. ده له مسخرې په ډکه لهجه و ويل چې دا نو په ګوره کې د زهرو ورکړه ده. ده استدلال وکړ چې قلم هم بنه شی دی، خو بې له توپکه قلم هيڅ شی هم نه دی. ده و ويل چې توپک که بد وای، غربيانو به نه لرل. ده و ويل ، **د وسلي ګرځول سنت کار دی**، ځکه نو قلم دې هم ماشوم ته ورکول شي، او وسله هم.

زه حيران شوم چې مولوي صيب څنګه خلک په يو علمي کنفرانس کي تشويقوي چې ماشوم ته د وسلي ورکول سنت او بناء ضروري کار دی. ايا خلک تشويقول چې هم پخپله وسله واخلي او هم يي ماشومانو ته ورکړي، پخپله افراط، جنګ او تاوتريخوالي ته لاره نه هواروي؟

مولوی صيب استدلال وکړ چې که وسله بده وي، بيا خو نو لاس هم بد دی؛ ځکه په لاس هم بد کار کېدای شي، او په وسله هم. ده و ويل چې د همدې استدلال له مخې دې نو بيا لاس هم قطع شي. خو مولوي صيب دې ته نه دی متوجه چې وسله ګرځول د اردو او پوليسو کار دی؛ عام خلک بايد وسلي ته لاسرسی نه ولري؛ ځکه ټولنيز نظم له منځه ځي. بل پلو، د لاس لرل او نه لرل په هيڅ ډول د وسلي له لرلو او نه لرلو سره نه شي تشبيه کېدای. داسي يوه تشبيه د منطق او استدلال څخه ليری ده...»

په کومه غونډه کي چي مولانا صبور «د وسلي ګرځول سنت دي»؟ خبره کړې ده، مفصل ريپوټ يي د ښاغلي هڅاند په ليکنه کي لوستلای شئ چې ما يې پته لږ وړاندې وښودله.

په يوه لويه غونډه کي د ګڼ شمير خلکو په غوږونو کي د دې خبرې وړپوه کول چې وسله ګرځول سنت دي، دا څه ډول پيام ليږدولای شي، داسي اشخاص په ښکاره دا ټولنه او دا خلک او په تيره دا اوسنی نسل او راتلونکي نسلونه د جګړې ډنډ او د جګړې اور ته ور پوري وهي.

زه د نوي نسل د علمي روزني او د تعليم د عاميدو د يو کلک پلوي په توګه، په زغرده وايم چي د ټوپک او بم په ځای دي نور زموږ ماشومانو، کوچنيانو او نوي نسل ته کتاب، قلم او کمپيوټر لاس کي ورکړل شي؛ ښونځي او پوهنځي ته د تګ زمينه ور ته برابره کړای شي، جګړې ته او په تيره د ورور وژني نيابتي جګړې ته د ځوانانو هڅول، له ټول عالم سره جفا او جرم ګڼم. زه نه پوهيږم چې د بلي دنيا د ديموکراسی د نغارې په پايله کې منځته راوستل شوی دولت ويده دی او که خپله د تازه نيابتي جګړو ډول غږوي او... که داسي نه وي نو ولې د دغو اشخاصو د داسي خبرو مخنيوی نه کوي چي په لومړي ګام کي د ټولو خلکو اوبيا د ځوانانو، کوچنيانو او ماشومانو د ذهن په کرونده کي د زهرو تخم کري، نوي نسل ته د ژوند د اميد په ځای «د مرګ منظر» مخکي ږدي، د کتاب لوست او کمپيوټر په ځای يي ټوپک اخستلو ته تشويقوي او په خپلو خبرو او بيانيو کي په ښکاره او په رڼا ورځ د ګڼ شمير خلکو په مخ کي چيغي وهي چې:

**«وسله ګرځول سنت دي»؟**

که رښتيا وسله ګرځول سنت وي، بيا نو پوښتنه دا ده چې آيا دا سنت يوازې افغانانو ته په ميراث کې ور رسيدلی دی که نور «عالم اسلام» هم د دې سنت د پر ځای کولو دنده لري؟

زه چې دې خبرو ته د نوي نسل د روزنې د نهضت يو سر سپارلي سپاهي له عينکو او سترګو ګورم، نو وايم چې دا له اوسني، راتلونکي او لا نورو ځو نسلونو سره داسې جفا ده چې په هيڅ ډول، نه جبيره کيدای شي او نه هم توجه کيدونکې او نه هم بښونکې ده او د دې لويې ګناه مسؤليت په لومړي ګام کې د دې خبرو ويونکو ته او بيا هغو واکدارانو ته ور له غاړې ده، چې د مخنيوي دنده يې لري، خو مخنيوی يې نه کوي.

ځنګه چې ښکاره ده، زموږ په ټولنه کې د پوښتنې ځوک نه شته. د همدې آشفته بازار د نرخ و نوا له مخې، مولانا صاحب څه موده وړاندې په افغانستان کې د آزادۍ ګټونکي، د تعليم پلوي او نوي ژوند د جوړولو د سر لاري، شاه امان الله په باب هم څه ارشادات وړاندې کړي وو چې په ټوله مانا له ملي ګټو او ملي وياړونو سره په ټکر کې وو، هغه وخت مسؤلو کسانو غوږ و نه ګراوه، روڼ اندو چې هر ځومره نارې سورې وکړې، دولت غوږونه کاڼه واچول.

د مولانا صاحب د ارشاداتو يوه برخه دا وه چې: د شاه امان الله، د تعليمي او پرمختګ پروګرامونو پر ضد د را پورته شوي ګوډ ملا په هکله يې ويل:

«ملا عبدالله ولي و، هر چيرې به چې کيناست ور لاندې به شنو جلګو سر را پورته کاوه او...» د ګوډ ملا په باب د مولانا صبور د ارشاداتو له خپريدو نه ځو شيبې وروسته ځوانانو د ګوډ ملا يو عکس آنلاين کړ، په عکس کې ليدل کيږي چې ګوډ ملا ناست دی، خو تر لاندې مځکه کې نه يوازې دا چې جلګې يا چمن نه دی را شين شوی، بلکې ليدل کيږي چې تر ګوډ ملا لاندې خاورې باديږي:



دا ډله خلک او د دوی شا ته پټ اصلي ځارونکي او د قومندې ورکونکي غواړي چې افغانان ټول عمر له تعلیم نه لرې، په وحشت او جګړه کې ژوند وکړي او تل د نورو د نیابتي جګړې د ملا تړلو سرتیرو په شان د دوی قومندې ته چمتو اوسي.

مولانا صاحب وايي چې وسله ګرځول سنت دي ، خو دا نه وايي چې نظافت د ایمان جز دی، دا نه ور ته وایی چې تعلیم پر ټولو فرض دی او د خپلې پوهې څخه په استفادې سره خپل ځان، خپل چاپیریال، کور، کلی او ښار باید پاک وساتل شي. د ډيرې وروستی علمي څيړنې د پایلې په خپاره شوي ريپوټ کی ويل شوي چې افغانستان په پنځو لومړيو ککړو هیوادونو کې لومړی ځای خپل کړی دی. او ککړه هوا هغه خاموش قاتل دی چې د تنفس په پایله کې يې په لسګونو او سلګونو ډوله هغه نا روغی رامنځ ته کيږي چې انسان د ګور تیارو ته ور میلمه کوي. او دا ککړه هوا او وروسته پاتیوالی موږ ته له څه شي را په برخه شوی؟ د کتاب او تعلیم پر ځای، له وسلې او جګړې سره مینه.

د همدې خبرې چې **«وسله ګرځول سنت دي»؟** او دې ته ورته خبرو د تبليغ پایله ده چې هره ورځ د وینو مزه څکو او د چاودنو او وژنو په نتیجه کې مو د لارویانو پښې د وژل شوو انسانانو په اندامونو لګيږي او یا مو د پوهنتون محصلین په رڼا ورځ په دار ځړول کيږي.

د مولانا صاحب په دین کې خو د خیر، سولې او وروړګلوی خبرې هم شته، ولې هغه خلکو ته نه وايي چې د **«وسله ګرځول سنت دي»؟** په ویلو او تبلیغ سره د جګړې اور ته نور لرګي او تیل ور اچوي.

که د مولانا صبور هیله تر سره شوه او دا سنت پر ځای شو چې هر ځوان باید مسلح وګرځي؛ دې ته هم باید پام وشي چې:

**په وسله دمبوره نه وهل کيږي، د وسلې کار او دنده وژل او ژوند اخيستل دي.**

خلکو، په تیره ځوانانو ته وسله په لاس ورکول، په لوی لاس جګړې ته د خلکو او نوي نسل ور پورې وهل دي او جګړه د تیزابو هغه ډنډ دی چې عادي انسانان څه چې لامبوزن هم ور ولويږي، بیرته نه شي ور نه را وتلای.

د همدې مولانا ګانو یوه همفکري به په هره وینا کې چغې وهلې:

« ملت شهید پرور افغانستان»؟

دی خپله چغې وهي:

«وسله ګرځول سنت دي»؟

دا او دې ته ورته تبلیغات، په زوره خلک د جګړې دیو ته په غیږو ور وستل دي.

ولې:

ټول عمر جګړه،

ټول عمر مرۍ خبنول،

ټول عمر د خوېند، میندو او میرمنو د اوښکو سیلاو ته کتل،

ټول عمر شهید پروري،

ولې؟

تر څو پورې؟

د څه له پاره؟؟؟

که رښتیا وسله ګرځول سنت وي، نو په امریکا کې وسله ګرځول رسمي جواز لري او هر څوک کولای شي د جواز له مخې وسله ولري او وي ګرځوي او ډیری امریکایانو دا سنت تر مسلمانانو لا ښه په ځای کړی دی، هغوی ته مولانا ګان ولې شنه کافران وایي؟

د کمپیوتر، کتاب او قلم په ځای نوي نسل ته د وسلې د ورکړې تبلیغ که مولانا کوي که یې ملا کوي که یې سیاستوال کوي که یې بهرنی او که یې کورنی د منلو، زغلو او توجه وړ نه دی.

موږ که له وسلې سره مینه کول عاموو او تبلیغ ورته کوو، پایله یې همدا اوس مالومه ده، یوازې به مړي خښوو او بس، څکه:

**په وسله باندې کرل، ریبل، ودانول او تولید نه کیږي؛ وسله یوازې د وژلو او ژوند اخستلو وسیله ده.**

یوازې د یو هیواد ملي مسلح ځواکونه حق لري چې د وطن، خلکو او عامه نظم د ساتنې له پاره وسله وساتي، له ځان سره یې وګرځوي او په اړین وخت کې یې وکاروي.

ځلوېښت کلنو تجربو ښودلې ده چې زموږ ډیری وسله والو هیوادوالو، وسله په نیابتي ډول، د نورو د ګټو او د خپل وطن د بربادۍ له پاره ګرځولې او کارولې ده، نه د وطن او خلکو د دفاع له پاره.

د څلوېښتمې مقالې پای

# په ګاونډیو هیوادونو کې افغان ماشومانو سره تاوتریخوالی

الف ـ په ایران کې،

ب ـ په پاکستان کې.

**الف ـ په ایران کې:**

هغه څه چې په ایران کې له افغانانو، په تیره کوچنیانو سره شوي دي، ټول له نړیوالو او اسلامي قوانینو سره په مغایرت کې دي. په ایران کې ځومره او څنګه له افغان کوچنیانو سره تاو تریخوالی شوی دی، د هغو ټکي په ټکي ثبتول ډیر ستونزمن کار دی. ځومره چې زه خبر یم په ایران کې له افغان کوچنیانو سره په پراخه پیمانه تاوتریخوالی شوی دی، ما یې پر څو بیلګو مقالې لیکلې دي چې دلته به یې د نمونې په ډول وړاندې کړم:

## دوه ماشومان، دوه مرګونه او دوه چلندونه

### یو څلوېښتمه مقاله

د تهران د ښار په څنډو کې د ورامین په سیمه کې شپږ کلنه افغان ماشومه (ستایش) تښتول کیږي، بیا ور باندې جنسي تیری کیږي، بیا وژل کیږي او بیا وربانديې تیزاب پاشل کیږي. دې عمل ته څه نوم کیښودل کیدای شي او څه ډول توجې کیدای شي؟

د ټولو ملي، سیمه ایزو او نړیوالو قوانینو په رڼا کې، باید دغو خبرو ته پام وشي:

ـ له دې پیښې سره د ایراني چارواکو چلند،

ـ د ایراني مقاماتو، میډیا او زموږ د هیواد د ایران پلوو او پر ایران مینو اشخاصو او آدرسونو پټه خوله،

ـ زموږ د عامو خلکو هر اړخیزه بیوسي،

ـ او د افغانستان د دولت د فکري او جسمي معلولو او معیبو چارواکو بې غوري،

لړې نه په همدې زماني وخت کې د افغان ماشوم له غمیزې څو ورځې وروسته یو ایرانی شپږ کلن ماشوم د ایران په زنجان نومي ښار کې څاه ته لویږي، مړ کیږي، قضایي مقامات د هغه ښار ښاروال او څو تنه نور مسولین لومړی بر طرفه او بیا توقیف کوي،

خو د افغان وژل شوي ماشوم کورنۍ او خپلوان د دوی په اصطلاح «تحسن» ته هم نه پریښودل کیږي او د سپڼ په اندازه غږ جګولو حق هم نه ورکول کیږي.
وا،وا قانون؟، وا، وا جمهوري اسلامي؟، برادري او هم کیشي او هم زباني او نور هم همدې دوو چلندونو ته کوم نوم ورکړل شي؟

زه خو یې داسې ګڼم چې:

دا لومړی زموږ د تندي تور داغ دی چې په خپله نا پوهۍ مو په خپل وطن کې اور بل کړی، ځینې په کې سوځو، ځیني ورنه تښتیدلي یو او د نورو لري او نږدې مسلمانو او نا مسلمانو خیرات ته ناست یو په پټه خوله یې هر تیري او نا روا ته رنې رنې ګورو،

بیا د ټول بشریت پر تندي باندې داغ دی چې د دموکراسی بې بې؟ تر تور ټیکري او اوږدې تور لمني تر تور سیوري لاندې د دیموکراسی او عدالت په نامه د همداسې هیوادونو لکه ایران سره چې له بشري حقونو نه د سر غړاوي، د مطبوعاتو د آزادی د زندی کولو او اعدامونو سر لاری هیواد کنټرول کیږي، ټرونونه لاسلیکوي چې هر عمل یې د بشریت او دیموکراسی پر ضد دي، خو نړیوال بیا هم پټه خوله رنې رنې ور ته ګوري.

په ایران کې، په یوه وخت کې، د یوه قانون؟ د حاکمیت په دایره کې دوو ماشومانو ته، د ژوند د امکاناتو د برابرولو پر ځای مرګ ور ډالی کیږي.

چیرې چې دا پیښه را منځ ته شوې، هغه جغرافیایي سیمه اوس د «جمهوري اسلامي ایران» په نامه سره یادیږي. په دې «جمهوري اسلامي؟» کې ظاهراً انسان یو انسان، اسلام یو اسلام، قانون یو قانون، خو نظریات او چلندونه بیل او توپیري دي.

دا کیسه لکه ډراماتیکه چې وي، دواړه پیښې په «جمهوري اسلامي ایران» کې پیښې شوې دي، دا ماشومان ډیر ګډ وجوهات لري:

ـ دواړه قربانیان ماشومان دي،

ـ دواړه قربانیان مسلمانان دي،

ـ دواړه قربانیان د یوه پیغمبر امتیان دي،

ـ دواړه قربانیان د یوه سن درلودونکي یعني شیږ کلن دي،

د دې ګډو وجوهاتو تر څنګه یې یکي یوازینی توپیر دا دی چې لومړنی قرباني(ستایش) افغانه ده او بل قرباني ایرانی دی؛ خو د وژل کیدو داستان او جریان ته یې که پام وشي، د لومړني قرباني(ستایش) په پیښه کې له سر نه تر پای پورې یو پاینټ انساني عدالت نه لیدل کیږي او بله پیښه چې ولوستل شي ډیر څه په کې مبهم دي، خو بیا هم د ایراني څاه ته لویدلي ماشوم د مرګ په خاطر د هغه ښار ښاروال او ځینې لوړ پوړې چاروکي بر طرفه او توقیفیږي.

د افغان ماشومې د دوسې په برخه کې د ایراني مقاماتو دریغ انتظار کول او پایلې ته د کومې هیلې درلودل بې ثمره دی، د هغوی دریځ روښانه دی او هغه له هر اړخیز تعصب نه کار اخستل دي.

دا چې په ایران کې د ننه، ایرانیان افغانانو ته کوم نومونه او اصطلاحات کاروي، هغه ډیرو هغو ایرانیانو او افغانانو ته مالوم دي چې دا نومونه، لقبونه او اصطلاحات کاروي او اوري یې او د پیغور بار یې افغانان پر اوږو باندې وړي. کله چې ایرانیان د نړیوالو تر نظارت لاندې خبرو ته کیني، بیا د ښه ګاونډیتوب؟، اسلامي اُخوت؟، همژبتوب؟، میلمه پالنې؟او ... لغاتونه او اصطلاحات کاروي، خو هغو پټو او ښکاره عملونو اونظرونو ته یې چې دوی د افغانستان او افغانانو په حق کې کړي او ویلي دي، ولیدل شي، هر یو یې چې ګوري او یا اوري، نو د ژړا او چیغو وړ دی:

ګاونـده څه شی به دې یاد کـړم
چې نا کردې یادوم ژړا راځینه

نوره نړۍ دې پر خپل ځای وي چي ایرانیانو هلته څه انډوخر جوړ کړی دی، یوازې د افغانستان او افغانانو په حق کې د ایراني مقاماتو او ځینو ایرانیانو د کړو ناکردو لست که ولیکل شي، ښایي له سلګونواو زرګونو مخونو نه به واوړي. زه به یې دلته د «ستایش» د غمیزې په اړوند د څو هغو غیر انساني کړنو او نا کردو یوازې سر لیکونه ولیکم، چې میډیا ته رسیدلي او ثبت شوې دي، دا چې څومره یې د ایراني استخباراتو په وسیله پټ شوي، تر خاور لاندې شوي او هیر شوي دي، هغه یوازې خدای ته مالوم دي او هغه چا ته چي ور باندې تیر شوي او عملي شوي دي.

درانه لوستونکي کولای شي چې یوازې د په نښه شوو کلماتو په کلیک کولو سره د مطلب یا راپور تفصیل ته مراجعه وکړي:

ـ د ویکیلکس اسناد ښیي چې ایران په نړۍ کې د مخدره توکو تر ټولو لوی قاچاق وړونکی هیواد دی،

ـ په نړیواله کچه د ایراني مقاماتو د ډیرو غولونو، چلونو او فریبونو په پایله کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت یوې مرستیالې(وندی شرمن) په ۲۰۱۳ کال کې و ویل چې د ایرانیانو په ډي اِن اِې (DNA) کې دروغ او غولونه نغښتي ده،

ـ د «کمیته امداد خمیني» تر سر لیک لاندې په ښکاره ډول د افغانستان په عقیدوي، سیاسي، او فرهنګي چارو کې مداخله او لاسوهنه،

ـ د ایران په بیلابیلو ځایونو له هغې ډلې نه د «فارس» په ایالت کې افغانانو ته د نقلیه وسایلو او خوراکي موادو په خرڅولو باندې بندیز:

ـ په ایران کې افغانان د سنت په طریقه له لمونځ کولو نه منع کیږي،

ـ ایراني مقامات غواړي د سنیانو وژل جاري وساتي،

ـ ایران په ښکاره او پټه، یا دوی خپله یا په افغانستان کې دننه د خپلو معاشخورو لاسپوڅو له لارې پر افغانستان باندې فرهنګي یرغل کړی دی. په افغان جرمن وبپانه کې د ښاغلي سراج وهاج مقالې او راغلي اسناد یې د ګواهي یوه ځنده،

ـ دا یو وار نه، څو ځلې میډیا ویلې دي «ایران د افغانانو مړي د دوی پر کورنیو پلوري» او عملاً پر هغو کورنیو تطبیق شوي دي چې عزیزان یې هلته اعدام یا وژل شوي دي او بیا یې مړي د پیسو په بدل کې ور سپارلي دي (ایراني اسلامي اخوت؟)،

ـ ایراني مقامات د ایران شل میلیوني اهل تسنن له ټولو سیاسي او مذهبي حقونو بې برخې کړي دي او د دویمي درجې اتباعو په سترګه ور ته ګوري،

ـ ایراني سیاسیونو او آخوندانو له افغانستان څخه د قُم او دیوبند د جګړې ډګر جوړ کړی،
ـ ایراني سیاسیونو او اخوندانو له افغانستان څخه د استخباراتي جګړې او له هغه نه وړاندې د تودې او مسلح جګړې ډګر هم جوړ کړی دی،

ـ سني مذهبه افغانان په ایران کې هیڅ ډول دیني آزادي نه لري، ټول لمنځونه، په تیره د اختر لمونځونه په پټه ادا کوي،

ـ افغان نا اهله مقامات د ایرانیانو په نومونو واټونه نوموي، خو په مقابل کې ایراني واکداران زموږ په نا کړې او یا نا مالومي ګناه وژل شوي او اعدام کړای شوي مړي پر موږ په پیسو خرڅوي،

ـ هغه څه چي آخوندي رژيم او آخوندان له افغانانو سره کوي، لکه:

تفريحي پارکونو او د لمبلو ځاينو ته د افغانانو نه پريښودل، له قانوني اسنادو سره سره له ښو ولايتونو نه د افغانوشړل، افغانانو ته د صحي خدماتو ممانعت، ترانسپورتي مسولينو ته د افغانانو د نه ليږد امر، ښونځيو ته له تګ نه د افغان ماشومانو منع کول او ...

په ايران کي د ننه، د افغانانو په حق کي د دغسي کارونو سر ته رسولو ته، د اوسنيو اصطلاحاتو له مخي څه نوم غوره کيدای شي؟ ښاغلي قيس کبير په ۲۰۱۲ کال کي دا نا خوالي د يوې اوږدې مقالي په ترڅ کي يو په يو شميرلي او ځيرلي او د اپارتايد له رژيم سره يې ورته ګڼلي دي،

ـ ايراني آخوندان د ايراني استخباراتو په مټ، په لوړ و مصارفو سره د «کميته امداد خميني» په چوکاټ کي، د افغانانو په منځ کي شرر، فتنه، نفاق او بدمرغي ويشي،

ـ ايراني مقامات په خپله د خپلو سياسي او نظامي موخو له پاره هره دروازه ټکوي، نه کفر پريږدي، نه اسلام او نه يهود، دوی په ظاهره وايي چي د اسراييلو دښمنان دي، مګر ميديا داسي اسناد او فلمونه خپاره کړل چي ايران له اسراييلو سره پټي اړيکي لري،

ـ د افغانستان په جګړو کي د ايران «سپاه پاسداران» په مستقيمه او غير مستقيم ډول لاسوهنه او مداخله کوي،

ـ په ايران کي د اسلامي جمهوريت په سيوري کي د افغانانو توهين، تحقير او ربړونه ورځ تر بلي مخ په زياتيدو ده،

ـ د ايران اوسنی ژوندي آخوندان په خپله خوله اعتراف کوي چي په شپيتمه لسيزه کي د ځای پر ځای اعدامونو امر په خپله خميني صادر کړی و. د ايران يو آخوند چارواکی داسي اعتراف کوي:

«امام معطل نمی کرد، در جا اعدام می کرد.»

او ور پسي په ډير جرأت سره وايي:

« دبير شورای نگهبان حکومت اسلامی ايران اعتراف کرد که اعدامهای دهه 60 بدون محاکمه و زير نظر شخص خمينی اجرا می شده است.»

ـ کله چي ايرانيان افغانان په يوه لوی يا واړه جرم او يا هم په کومي هسي خبرې ونيسي، ځای يي زندان او په نصيب کي يي د دار پړی دی او بيا يي مړي بيرته پر افغانانو خرڅوي، خو د «ستايش» په حق کي د کړي جنات په وخت کي، افغان مقاماتو د مخدره موادو د قاچاق په تور پنځه ايراني بنديان له زندان نه آزاد کړل(ښه ګاونډيتوب، همکيشتوب، همژبتوب او نور توبونه ...)،

ـ ميډيا څو ځلي اسناد او شاهدان وړاندي کړي دي چي د ايران «سپاه پاسداران» له بيلابيلو لارو نه په استفادې سره، آن د خميني له واکمنۍ نه نيولي د بشار اسد د واکدارۍ تر ساتلو پورې، افغانان اړ باسي چي د ايراني استخباراتو له پلان سره سم په جګړو کي ګډون وکړي. تر ټولو تازه شواهد بي بي سي د ۲۰۱۶ کال د اپريل په شلمه په يوه تحليلي رپوټ کي وړاندې کړل،

ـ ټوله نړۍ چغي وهي چي ايران او ايراني مقامات او ايراني سياسيون، په ايران کي، په سيمه او نړۍ کي تر ټولو بد او منفي سياست پرمخ بيايي، خو ايراني چارواکي په سپين سترګۍ سره چغي وهي چي دوی حق په جانبه دي، ښه بيلګه يي د ۲۰۱۶ کال په شلمه نيټه د بي پولي رپوټ

ورکونکو گزارش دی. هغوی ویلي دي چې ایران په ټوله نړۍ کې هغه هیواد دی چې د مطبوعاتو آزادي یې ځپلې ده او مخنیوی یې ور ته کړی دی، او ...




د اوس له پاره دا غمیزه پای نه لري

## د«ستایش» غمیزه

د ۲۰۱۶ کال اپریل په اولسمه نیټه د آخوندي رژیم د ټیکه دارانو تر ږیرې لاندې، د تهران د ښار په څنډو کې د ورامین په سیمه کې «ستایش» نومې افغان ماشومه د آخوندي رژیم د وحشي بچیانو د شهوت ښکار کیږي او بیا وژل کیږي.

ستایش یې له ټول معصومیته سره ووژله او د آخوندي رژیم استازو، د ستایش خپلوان او د هغوی نور خوا خوږي افغانان سپین ایستلو ته هم پرې نه ښودل؛ په همدې وخت او همدې هیواد کې یو ایرانی شپږ کلن ماشوم د ایران په زنجان نومي ښار کې څاه ته لویږي، مړ کیږي، قضایي مقامات د هغه ښار ښاروال او څو تنه نور مسولین لومړی بر طرفه او بیا توقیف کوي. لکه چې آخوندي تفاوت همدومره وي.

هغه وخت په دې ډول د ستایش پر وژلو او دوسیه باندې خاورې واړول شوې، اوس څه پېښ دي چې بیا آخوندي رژیم د ځان بر حقه ښوولو له پاره او د عدالت د پلي کولو په نامه ډمامې را پیل کړي دي چې د ستایش قاتل دوه ځلي په مرگ محکوم شو.

څومره افغانان چې په ایران کې په دار ځړول کیږي، نه نوي (۹۹) سلنه باندې د مخدره توکو د کار و بار تور لگول شوی دی او مړي یې بیا بیرته د هغوی پر کورنیو خرڅول کیږي. دا دوسیې او نور هغه ظلمونه چې د ایران په جغرافیاې محدوده کې د افغانانو په حق کې شوي او کیږي، په کوم عدالت کې به وڅیړل شي؟؟؟

افغان چارواکي خو یې هسې هم په فکر کې نه دي. په کابل کې ناست واکداران هغه کارونه کوي چې باید و یې نه کړي، د شمالي کوریا د اتمي آزموینو غندنه کوي او... و سړیه! ستا یې په کوریا څه او ستا یې د هغوی پر اتمي آزموینو څه غرض؟ خپل کور کې دي

توره سپی لنګه ده، په زړګونو بچي یې خلکو ته غاړي او خولې ور اچوي، د تورې سپې کونګري در و تږئ.

په ایران کې هر افغان ته یو وار نه، په سل ګونو لا زرګونو ځلې د «آشغال» خطاب شوی او کیږي، خو هماغه «اشغال» چې بیا په کوم بل هیواد کې د خپل استعداد او لیاقت له مخې کوم مقام ته ورسیږي، بیا دوی سوانح، تذکرې او اسناد ور ته جوړوي چې دا ایرانی دی، که هیڅ نه وي دا خو وایي چې دا په ایران کې زیږیدلی دی، خو دا یې تر څنګه نه وایي چې دغه په ایران کې زیږیدلی یا زیږیدلي او د هغه یا هغې کورنی څو ځلې او په څه ډول د «افغان اشغال» په نامه، په زوره له ایران نه شړل شوي دي چې غوره مثال یې د کانادا په کابینه کې مریم منصف نومې افغانه ده.

دا چې اوس د ستایش قاتل ایراني آخوندان دوه ځلې په اعدام محکوموي، له دې به دوی څه موخه لري ، زه خو نه ور باندې پوهیږم.

هغه وخت چې د «ستایش» په حق کې دا ستره نا روا تر سره شوه او دا ستره غمیزه رامنځ ته شوه، ما د یوې مقالې په ترڅ کې موضوع د پنځه ویشت (۲۵) مآخذونو په ښودلو سره په مستند ډول وڅیړله او د ۲۰۱۶ کال د اپریل په دوه ویشتمه نیټه مې د «دوه ماشومان، دوه مرګونه او دوه چلندونه» تر سر لیک لاندې خپره کړه، درانه لوستونکي کولای شي زما یاده مقاله په لاندې لینک کې ولولي:

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_dwa_mashoman_dwa_margona.pdf

## د «ستایش» په غمیزه پسې د «بهارې»غمیزه:

په همدې نږدې ورځو کې یو ځل بیا په ایران کې له افغانانو سره یو بل ستر جنایت تر سره شوی دی. همدا نن بي بي سي پښتو او بي بي سي فارسي دا خبر ورکړ چې د په ښار کې پر یوې پنځه کلنې افغان ماشومې جنسي تیری شوی دی. ماشومه له لارې تښتول شوې جنسي تیری ورباندې شوی او بیا نیم ژواندې چېرې غورځول شوې ده.
د بي بي سي په ریوټ کې راغلي دي:

«د ایران په اصفهان ښار کې پر یوې افغان ماشومې نجلۍ جنسي تېری شوی دی. د ایران د بېرنیو پېښو د اداري رييس رضا جعفري د ایلنا خبري اژنس ته ویلي، دغې افغان ماشومې د خپل کور مخې ته لوبې کولې چې تښتول شوې او څو ساعته وروسته په یوه کنډواله ځای کې موندل شوې ده.

ښاغلی جعفري وايي دغه ماشومه اوس له روغتون رخصت شوې ده.
په تهران کې د افغان سفارت د پېښو مسوول مسعود فریادي له رسنیو سره په خبرو کې پر دغې ماشومې د جنسي تېري پخلی کړی او وايي دغه پېښه د ایران د پولیسو او د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنر تر څېړنې لاندې ده.

د ښاغلی فریادي په وینا تراوسه په دغه پېښه کې ښکېل کسان نه دي نیول شوي.
د دغې نجلۍ یو خپلوان چې له ایرانه بهر ژوند کوي بي بي سي ته ویلي، دا پېښه د سې شنبې په ورځ (۹ غبرګولي) په اصفهان ښار کې هغه مهال شوې چې دغه نجلۍ د ډوډۍ اخیستو لپاره له کوره وتلې وه.

دغه کس چې نه غواړي نوم يې واخيستل شي وايي، پر موټر سايکل سپاره کس نجلۍ تښتولې او جنسي تېرى يې پرې کړى دى.

دى وايي، وروسته د نجلۍ کورنۍ د اصفهان پوليسو ته خبر ورکړى او روغتون ته لېږدول شوې وه.

څو ورځې وړاندې، پر ټولنيزو رسنيو د يوې پنځه کلنې افغان ماشومې چې ويل کېږي جنسي تېرى پرې شوى خبر لاس په لاس کېده، خو هېڅ کومې کره سرچينې دغه خبر نه دى تاييد کړى.»

دا پېښه په ايران کې لومړى پېښه نه ده چې پر افغان ماشوانو باندې جنسي تيرى کيږي، په ۲۰۱۶ کال کې هم پر يوې بلې افغان ماشومې باندې چې ستايش نوميده، جنسي تيرى شوى و. په هغه وخت کې هم ما خپل غږ اوچت کړ او دوې مقالې مې ورباندې وليکلې. په لومړنې مقاله (دوه ماشومان، دوه مرګونه او دوه چلندونه) کې مې داسې ليکلي وو:

«د تهران د ښار په څنډو کې د ورامين په سيمه کې شپږ کلنه افغان ماشومه (ستايش) تښتول کيږي، بيا ور باندې جنسي تيرى کيږي، بيا وژل کيږي او بيا ورباندې تيزاب پاشل کيږي .دې عمل ته څه نوم کيښودل کيداى شي او څه ډول توجې کيداى شي؟ د ټولو ملي، سيمه ايزو او نړيوالو قوانينو په رڼا کې، بايد دغو خبرو ته پام وشي:

ــ له دې پيښې سره د ايراني چارواکو چلند،

ــ د ايراني مقاماتو، ميديا او زموږ د هيواد د ايران پلوو او پر ايران مينو اشخاصو او آدرسونو پټه خوله،

ــ زموږ د عامو خلکو هر اړخيزه بيوسي،

ــ او د افغانستان د دولت د فکري او جسمي معلولو او معيبو چاړواکو بې غوري.

لرې نه په همدې زماني وخت کې د افغان ماشوم له غميزې څو ورځې وروسته يو ايرانى شپږ کلن ماشوم د ايران په زنجان نومي ښار کې څاه ته لويږي، مړ کيږي، قضايي مقامات د هغه ښار ښاروال او څو تنه نور مسولين لومړى بر طرفه او بيا توقيف کوي، خو د افغان وژل شوي ماشوم کورنۍ او خپلوان د دوى په اصطلاح «تحسن» ته هم نه پريښودل کيږي او د سپن په اندازه غږ جګولو حق هم نه ورکول کيږي .واه!وا قانون؟، واه، وا جمهوري اسلامي؟، برادري او هم کيشي او هم زباني او نور هم همدې دوو چلندونو ته کوم نوم ورکړل شي؟

او دويمه مقاله چې «د ستايش غميزه» عنوان مې ورکړى و. د هغې مقالې په يوه برخه کې بيا داسې راغلي دي:

«د ۲۰۱۶ کال اپريل په اولسمه نيټه د آخوندي رژيم د ټيکه دارانو تر رږيې لاندې، د تهران د ښار په څنډو کې د ورامين په سيمه کې «ستايش» نومې افغان ماشومه د آخوندي رژيم د وحشي بچيانو د شهوت ښکار کيږي او بيا وژل کيږي .ستايش يې له ټول معصوميته سره ووژله او د آخوندي رژيم استازو، د ستايش خپلوان او د هغوى نور خوا خوږي افغانان سپڼ ايستلو ته هم پرې نه ښودل؛ په همدې وخت او همدې هيواد کې يو ايرانى شپږ کلن ماشوم د ايران په زنجان نومي ښار کې څاه ته لويږي، مړ کيږي، قضايي مقامات د هغه ښار ښاروال او څو تنه نور مسولين لومړى بر طرفه او بيا توقيف کوي. لکه چې آخوندي تفاوت همدومره وي .هغه وخت په دې ډول د ستايش پر وژلو او دوسيه باندې خاورې واړول شوې، اوس څه پيښ دي چې بيا آخوندي رژيم د ځان بر حقه ښوولو له پاره او د عدالت د پلي کولو په نامه ډمامې را پيل کړي

دي چې د ستايش قاتل دوه ځلي په مرګ محکوم شو .ګڼ شمېر افغانان چې په ايران کې په دار ځړول کيږي، نه نوي (۹۹) سلنه باندې د مخدره توکو د کار و بار تور لګول شوی دی او مړي يې بيا بيرته د هغوی پر کورنيو خرڅول کيږي.
دا دوسيې او نور هغه ظلمونه چې د ايران په جغرافياي محدوده کې د افغانانو په حق کې شوي او کيږي، په کوم عدالت کې به وڅيړل شي؟؟؟ افغان چارواکي خو يې هسې هم په فکر کې نه دي. په کابل کې ناست واکداران هغه کارونه کوي چې بايد و يې نه کړي، د شمالي کوريا د اتمي آزموينو غندنه کوي او...
و سړيه! ستا يې په کوريا څه او ستا يې د هغوی پر اتمي آزموينو څه غرض؟ خپل کور کې دې توره سپی لګېدلې ده، په زړګونو بچي يې خلکو ته غاپي او خولې ور اچوي، د توري سپی کونګري در و تړئ...»

دلته ما د تيرې او اوسنۍ پيښې يو لنډکی ګزارش برابر کړ، اوس به بيا وليدل شي چې د کابل مسؤلين څه کوي او د تهران مسؤلين د اسلامي رژيم د عدالت په سيوري کې څه اجرآت کوي.

ب ــ په پاکستان کې:

دا چې په پاکستان کې، لکه د ايران په څير، له ګڼ شمېر افغان ماشومانو او کوچنيانو سره ګڼ شمېر او څه ډول تاوتريخوالی شوی وی، د دې اندازه لګول به ډير ستونزمن کار وي. ما يې يوه داسې بيلګه لا پخوا ليکلې، ثبت کړې او خپره کړې وه چې يو ژورناست په خپلو سترګو ليدلې او له هغه کوچني سره يې انټريو کړې وه او ما يو ځل د مقالې په بڼه خپره کړې وه او بيا مې په خپل يو اثر (لاروړکي لارويان) کې هم را اخيستې وه، دلته يې هم په پاکستان کې د جهاد؟ تر سيوري لاندې له افغان کوچنيانو سره د تر سره شوي تاوتريخوالي د يوې بيلګې په ډول را اخلم. يو ژورنالست له يو هغه افغان ماشوم سره مصاحبه کړې چې ټول عمر او ټوله کورنۍ يې، له ده سره د شوي تاوتريخوالي له کبله برباد شړې ده:

## «ما له کلمه نه راځي»

### «ما له کلمه نه راځي»

### له يو افغان مهاجر کوچني سره د نورالبشر نويد مرکه

يوه ورځ مې په پيښور کې د يوې مجلې په لومړي مخ کې په دغه عنوان باندې سترګې ولګېدې: «ما له کلمه نه راځي»

په ډيره بيړه مې همغه مخ را واړاوه. هلته له دوو عکسونو سره دغه مضمون او مرکه چاپ شوي وه: «

نوم: زين الدين

د پلارنوم: غواص

علاقه: کندوز- کورتيپه

حال: فارست پلوسي، پيښور

ملاقات: نوالبشر نويد

ما ته ياد نه دي چې زه کله راغلی وم. د مور په غيږ کې وم. وروسته چې لوی شوم، نو په هر څه پوه شوم. زه افغان مهاجر يم. د کندز ولايت د کورتيپې اوسيدونکی يم. دلته وړوکی لوی

شوم. پلار مي دري کاله وشول چي په افغانستان کي شهيد شو. هغه د کماندر مسعود سره و. زما پلار خپلو مجاهدو ملګرو دلته پيښور ته راوړ. ملګرو يي زما مور ته ووې چي دی شهيد دی. د خراسان کيمپ سره خښ کړای شو.

چي زما پلار مړ شو، زما د پلار ملګري هم نه راتلل. زما دوه ماشومان ورونه هم دي. ډوډی به نه وه، راشن کارت هم نه و. ما يوه ورځ ماشومان ملګري ليدلي وو چي هغوی خلکو ته سپيلني لوګي کول او خلکو به پيسي ورکولې. ما هم دا ډبی جوړ کړ او مور ته مي و وي چي ستاسو او دوو ماشومانو ورونو د پاره ډوډی راوړم. مور راله دوه روپۍ راکړې او ما د سپيلنو داني په بازار کي واخيستي. په اول ځل چي ښار ته راغلم او سپيلني مي چا ته لوګي کړل، نو هغو شپږ پيسيز راکړو، زه ډير خوشحاله شوم. ټوله، ټوله ورځ په بازارونو کي وګرځيدم. ما ته ياد نه دي چي په اوله ورځ ما څو روپۍ پيدا کړي دي، خو چي کور ته لاړم نو ډير ستړی وم، پښي مي خوږيدې. ما مور له پيسي ورکړې، بيا مور څه پيسي راکړې او ما ورله ډوډی راوړه. دا زما څه د پاسه يو کال وشو چي د کمپ نه راروان شم او خلکو ته په پيښور کي سپيلني لوګي کوم. څوک راله ديکي راکړي، راته وقهريږي چي مه کوه لوګي راباندې بد لګيږي، څوک راله څه نا څه پيسي راکړي. ما ته دا هم سوال ښکاري چي خيرات غواړم، خو له دې سوال سره عادت شوم. اول، اول به مي زړه خفه کيده، اوس چي مي مور او دواړه ورونه ډوډی وخوري، نو ډير خوشحاله شم. ډير ځلي خلکو وهلی رټلی يمه، خو مور راته وايي چا سره جنګونه مه کوه، موږ په پردی وطن کي يو. دلته خو ته له خلکو نه ډوډی غواړې، او چي څوک څه غواړي، نو هغوی ته خلک ستغي سپوري وايي.

موږ ته کله، کله مور د شپي د خپل وطن کيسي کوي، زموږه زړه ډير خفه شي چي زموږه کور به هم وران وي. چي زه خبر شم زما په وطن کي جنګ دی، نو ډير خفه شم. که زموږ وس کيدای، نو خپل کور ته به تلي وو، خو خلک وايي هلته ډوډی نه شته.

زه د جمعي په ورځ چوټي کوم. خپل ورونه د پلار قبرله بوځم. اول، اول به زما ماشومان ورونه او زه قبر ته ډير ژړيدو، زما مور به هم ډير ژړل. اوس موږ نه ژاړو. زما مور هم چي قبر له راشي، نو ډير ساعت خفه وي. زما وړوکي ورور يوه ورځ زما مور ته ويلي وو چي:
موږ چي خپل وطن ته ځو، نو پلار به هم بوځو. په هغه ورځ زما مور ډير ژړلي وو. زه هم په دې نه پوهيدم چي زما مور په دې خبره ولي وژړل، خو اوس پوهيږم. زه هم کله، کله خوشحاله شم چي خپل کور ته به ځوو، خو چي د پلار قبر ته ګورم، نو بيا خفه شم چي زما پلار به دلته پاتي شي.

ما ته دا پيښور هم لکه خپل کور ښکاري، ځکه چي دلته وړوکی لوی شوم. هره ورځ د سپيلنو لوګی کولو له پاره فردوس سينما، مالګي منډه يي، خيبربازار او ډبګری ته ځم او واپس بيا روان شم. ډوډی د غرمي په بازارکي چا سره خورم. چي د چا نه ډوډی پاتي شي، هغوی يې راله راکړي. بيا چي کور ته ځم، نو ورونو له ډوډی واخلم.

ما ته کله، کله پلار ډير را ياد شي. اول به ډير ژړيدم، خو بيا راته مور ووې چي ستا پلار شهيد دی. شهيد له پاک خدای جنتونه ورکوي. شهيد ډير لوی وي. ستا پلار د وطن شهيد دی، نو زه ډير خوشحاله شم. اوس هم ډير خوشحاله يم چي زما پلار د اسلام له پاره شهيد شوی دی.
دا پخي پخي خبرې د کندز ولايت د ګورتيپي سيمي د يو پنځلس کلن ماشوم خبرې دي چي په عمر کم دی، خو حالاتو له وخت نه وړاندي بالغ کړی دی.

يوه ورځ يو خيرن، خيچن ماشوم دفتر ته راننوتو. په غاړه کي يي د کپړې تيلی و، په هغه کي د سپيلنو داني وې، په لاس کي يي په يوه ډبی کي د سکرو انګارو. د تيلی نه يي داني په انګار واچولې، لوخړې شوې، ببوزی يي ورته و واهه، يو بل ورته و ويل:

ما- ما- ما  لوخړې مه کوه. د هغه زړه لکه چې مات شو. دریم چت ته په ۳۶ پونکو راختلی ماشوم ته یې په بې ارزۍ وکتل. ما ورته اشاره وکړه، هغه سمدستي څو دانې په انګار کې واچولې، ما منع کړو.

ما وې په موږ به د چا نظرولګي،د نظرشوي خلک خو تاسو یاست چې بې کوره، بې وطنه، بې یاره بې دلداره شوي یاست.هغه ودرید او ما د هغه دریم چت ته په ۳۶ پونکو د راختلو کفاره ادا کړه. هغه تلو، ما منع کړو.

خبره واوره!

هغه ګم سم ودرید، ما ورته و وې:

ته د کوم ځای یې؟

زه، زه د کندوز یم.

دلته کینه.

زما مخې ته د کندوز ولایت د ګورتیپې شهزاده، د ښار د لوګیو خیرن ناست و. دغه وخت یو بل افغان مهاجر راغی. سپینه پاکه ښکلې ږیره، تک سپین پټکی په سر کړی، تک سور سپین مخ، ما دغه سپین ږیري ته و ویل:

راشه ستا وطندار دی.

هغه څو ورځې وړاندې ما ته ویلي وو چې زه د کندز د ولایت یم، په سوونو جیریبه زمکه لرم، یو زوی مې سعودي کې دی. هغه له خپل وطندارسره یو څو خبرې وکړې او بیا یې ورته و وې چې اوس ښه سرې له راغلې. هغه ما ته اشاره وکړه او لاړو.

زما مخې ته د کندز ولایت شهزادګان ناست وو. یو شهزاده چې په مخ کې یې نن هم د خپل وطن... توب سره وو او په پټکي یې دوره نه وه.

بل شهزاده د سپیلنو شهزاده و چې،

د وطن سرخي یې په مخ کې سوزیدلې وه،

په وړو لاسونو کې یې اور نیولی و،

په سپوږمی مخ یې د پیښور د لوګو تورکې وو،

په سترګو کې یې د رنجو په ځای یأس او ارمان و،

د افغانستان د شهید زوی و،

مور او دوو ماشومانو له پاره یې سوال کولو،

ډوډۍ یې غوښته،

د خپل وطن ملا ورته ویلي وو چې د اسلام جنګ دی،

ورشئ یو د بل سرونه مات کړئ،

د اسلام او وطن په نوم په لکونو افغانان قتل شوي. یو طرف ته افغان شهید شو، بل طرف ته یې افغان ته د شهادت مرتبه واخسته. زما سره د افغانستان د هغه شهید زوی ناست و، د چا پلار

چي«د اسلام په لاره» کې شهيد شوی دی. ما له هغه نه آخري تپوس کړی و او زه يې ګونګی کړی وم:

بچي!

تا له کلمه درځي؟

کلمه؟

نا، ما له کلمه نه راځي.

بچی!

مونځ درځي؟

مونځ؟

مونځ نه راځي.

زه د اسلام د شهيد زوی ته دوو آخري سوالونو په خپله يو سوال کړم. ما وې راشئ اې د لوی نازولي پيغمبر(ص) د موصلي وارثانو!

اې د افغانستان د مذهب استادانو!

د افغانستان د لکونو شهيدانو زامنو ته کليمه درسته کړئ، مونځ ورته وښايئ. د اسلام او د مذهب د شهيد زوی که درنه نن ډوډی، کور او امن غواړي، نو کليمه هم ورته وښايئ، ځکه چې څوارلس کاله د دې بچو پلرونو د اسلام له پاره جنګ کړی دی.»

د يوځلويښتمې مقالې پای

# چيرې چې ښوونکی نه وي

## دوه ځلوينتمه مقاله

### د هغو خلکو او قوم تباهي ډېره نږدې ده چې
### له سواد، کتاب، مطالعې، تعليم، ښونځي
### او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!

په ټوله نړۍ کې دا يوه منل شوې خبره ده چې: چيرې چې ښونکی وي، هلته ډيوې وي، هلته رڼا وي او چيرې چې ښونکی نه وي، هلته نه ډيوې وي او نه د رڼا څرک.

يو وار مې په کابل کې د بي بي سي د تعليمي پروژو(نوی کور، نوی ژوند) د خپرو کړو کتابونو له ډلې نه يو کتاب ولید چې عنوان يې و: «چيرې چې ښوونځی نه شته» دا کتاب مې واخست، له کابل نه مې اروپا ته، ډنمارک ته له ځان سره راوړو، ومې لوست، ګټور کتاب و او د لوستلو پر مهال مې ټولې هغه سيمې لکه بريښنا له نظره تيريدې چې د تورو غرونو ديوال ور نه را تاو و او له هغه ديوال نه بل خطر ناک د نا پوهی غير مريي ديوال مې هم ور نه را تاو ليده، چې هغه سيمې په کې را ګير دي.

دا چې چيرې ښونځی نه وي، غميزه ده، خو اوس چې ميډيا ثابته کړې ده چې په همداسې سيمو کې لا يوه ښځينه ښوونکې هم نه شته. دا نو بايد داسې و انګيرل شي چې:
اوس خبره نوره هم پسې شړيدلې، چاړه له غوښې ور تيره او هډوکو ته رسيدلې ده.
اوس د ښوونځي د نه شتون کيسه پر ځای پاتې ده، خبره د ښونکو نه شتون ته رسيدلې ده، مانا دا چې په افغانستان کې په ځانګړې ډول په ډيرو پښتني سيمو کې لا يوه ښځينه ښونکې هم نه شته.

که يې د نه شتون په دلايلو پسې لټه وشي بيا هم دا خبره مخې راځي چې: «څه ژرنده پڅه او څه غنم لامده» يعني څه دولت جان؟ ملامت او څه هم د ټولنې او خلکو وروسته پاتې والی. په دولت کې د ښې او سالمې اداري نه شتون دا زمينه برابره کړيده چې معارف د قاتل او غله په لاس کې وي. د معارف پيسې د دولت لوړ پوړو چارواکو په بډه وهلې دي او د خلکو د نا پوهی غم، خلک د کوم شي په لومه کې را بند دي چې هغه غيرت؟ نوميږي. يعني دې غيرتيانو دومره د غيرت په ډندونو کې لمبلي دي چې يوه ښځينه تنفس کونکې هم، ښونځي او پوهنځي ته د تلو په نامه له کوره د باندې نه پريږدي؛ نو چې له کوره يې د باندې نه پريږدي؛ ښونکی، ښونځی، پوهه او پوهنځی خو کور ته ورتلای نه شي.

نو وه ماما! وه کاکا! وه پلاره! وه وروره! وه...!!! زه څه درباندې وکړم؟ «چې نه ځې په شا به دې کړم، چې نه خورې څه به دې کړم؟»

د ۲۰۱۶ کال د مې مياشتې په دولسمه نيټه مې د بي بي سي په پښتو او فارسي ويبپاڼو کې دا سر ليکونه تر سترګو شول:

ـ پکتيکا يوه ښځينه ښونکې هم نه لري،

ـ پکتيکا؛ ولايتی بدون معلم زن،

ـ د پکتيکا نژدې نيم ميليون وګړو ته يوازې يوه متخصصه ډاکټره،

ـ د تورخم دروازه نن په دويمه ورځ هم تړلې وه،

خدای حاضر دی خولې را باندې را ماتې شوې، وشرميدم او ځان را ته له يوه سپين واښه نه هم سپک ښکاره شو. هڅه مې وکړه چې د «خود سانسورۍ» په سلسله کې ځان غلی ونيسم او ځان تيرباسم، خو و نه توانيدم. ځان سره مې و ويل چې سرېيه د دې په مسؤليت کې خو ته هم شامل يې.

په پکتيکا کې د يوې ښځينه ښونکې نه شتون، د لويې پکتيا يا لويې پکتيکا د نيم ميليون وګړو له پاره يوه ښځينه متخصصه او د دومره لويو او وړو ډله، ډله نا روغانو سره هم مهاله:
«د تورخم دروازه نن په دويمه ورځ هم تړلې وه»

نو د لويې پکتيا دا لوی والی په څه شی کې دی چې د الف بې د زدکړې له پاره يو ښځينه ښوونکې او يو د عادی ناروغ له پاره ډاکټر نه شته. داسې نه ده چې د هغې سيمې د ښخينه وو سرونه له وښو ډک دي او څه نه شي زده کولای، نه هغوی د «غيرت؟» په نامه له کوره د باندې نه پريښودل کيږي چې څه زده کړي، بيا ښونکې او ډاکټر ور نه جوړ شي.

دلته دی چې دا ثابتيږي چې غيرت او لوی والی يعنې د ښځينه مخلوق په کور کينول، له سواد او تعليم نه يې را ستنول او بيا پر ټولو مريضانو باندې د غيرت د بې غيرتی تور ټيکری غوړول، پردي ملک ته يې بيول او د تداوی له پاره هغوی ته هم پيسې ورکول، هم غاړه ور ته پټول او هم زاری ور ته کول، دا شو غيرت !!

د غيرت د توري پاسنی تفسير نور نا سم دی، اوس زمانه بدله شوې، هر څه بدل شوي دي، له تکنالوژۍ سره افکار او عيني ژوندون هم بدلون موندلی دی؛ موږ ته هم اړينه ده چې د زماني له بدلون سره ځان بدل کړو، د پخواني غيرت او پخوانيو افکارو له دايرې نه ځان را وباسو. دا غيرت نه دی چې موږ خپل نوی نسل، په تيره نجوني له زدکړو را ستنوو. د اوسنی زماني له غوښتنو سره سم غيرت بايد داسې تعريف شي: په هره کورنی کې چې ډير تعليم کړي ځوانان او پيغلې وي، هغه کورنی تر ټولو نورو دا غيرتي کورنی ده.

خو موږ دا څو پيړی لګيا يو د نا پوهی د تورو افکارو په دايره کې خپلې«ښځګلې» له زدکړو او تعليم نه را ستنوو او هغه ته د غيرت نوم ورکوو.

زما وړانديز خو دا دی چې:

ـ که د غيرت له نيلي نه را کوز شو او د سواد زدکړې، تعليم ، ښونځي او پوهنځي دروازې وټکوو، دا به ډيره ښه وي،

ـ د لويې پکتيا له ډير تکرار نه که لږ را ټيټ شو او د واړه ښونځي په حويلی کې د يو عادي سواد توری تکرار او زده کړو او خپل بچې د ښوونځي په لور وليږو، څه موده وروسته به مو په کلي کور او ښار کې د ښونکو او ډاکترانو ډلې ګرځي.

ـ د لويوالي او غيرت له دنګو منارو نه بايد را ښکته شو او د تعليم په واړه انګړ کې د سواد او پوهې ګدايي وکړو. دا به ډيره ښه وي، دا د رڼا پر لوري قدم اوچتول دي.

د غيرت مانا داسې نه ده چې څوک د خپلې کورنی ښځينه مخلوق له درس، تعليم، ښوونځي او پوهنځي نه را وګرځوي، که له رواني پلوه او څه چې زموږ په تاريخ کې موږ ته زموږ جغرافياي موقعيت او زموږ د ټولنې وروسته پاتې والي، د غيرت په نامه را په برخه کړي دي، کيدای شي هغه داسې تعريف شي:

«... افغانانو د خپل سیاسي اقتصادي موقعیت له امله خپل ناموسي حریم (ښځینه او کوچنیان)، عقیدوي حریم (مقدس ارزښتونه) اقتصادي حریم (زمکه ، کور او څاروي) له ګواښ سره مخامخ لیدل، د همدې لپاره به یې ټول عمر د دغو مهمو حریمونو د ساتلو لپاره د (غیرت) حس او غریزه عمومي کوله.

د ارواپوهنې له نظره غیرت د خصوصي حریم د ساتلو عقده او پټ ځواک دی چې د تاوتریخوالي لپاره غبرګوني ځواک رامنځته کوي. د غیرت غوښتنه دا وه چې د حریم ساتلو لپاره باید وسله په لاس کې وي، په دې توګه وسله د غیرت نښه وګڼل شوه او په وسله سنبال نارینه تر ټولو غیرتي نارینه ګڼل کېده.»

سره له دې چې ما د نوي نسل د روزلو په موخه د خپلو لیکلو مقالو په ډېرو برخو کې، د دې غمیزې له پېښیدو او رسوا کیدو نه لا پخوا، دې موضوع ته اشارې کړې وې. ما(آصف بهاند) د ۲۰۱۰ کال په نهمه میاشت کې د «اور او ګلان» تر سر لیک لاندې مقاله خپره کړه او په هغې مقالې کې مې دې موضوع ته ګوته نیولې وه چې که ښوونځي او تعلیم نه وي، پایله به یې څه وي. څو کرښې یې دا دي:

«وګورئ ! که ښه حقیقت ته ځیر شو، بهرنیو هیوادونوته یې د کفر له ډاره نه لیږو، د وچوغرو لمن کې د قهریدلي شنه یا وریځ آسمان تر چتر لاندې، یا د پسونو، وزو او خرو په لکۍ پسې ټول عمر تیرولو سره خو د نوي عصر، نوي علوم زده کیدای نه شي او کله چې مو نوي علوم او فنون زده نه وي، نو له تمدن سره به بیګانه او له کاروان څخه به یې ډېر وروسته پاتې اوسو، بیا نو نه پښتنو ته څه کولای شو او نه هم پښتو او نه هم پښتني فرهنګ ته.

له بده مرغه زموږ ښوونځي د کفر په تور یا سوځول کیږي او یا الوزول کیږي، ښوونکي او زده کوونکي مو یا په ډزو ویشتل کیږي یا حلالیږي او یا په دار ځړول کیږي. پښتنو د «نوکالج، نونالج» علمي مسا له هیره کړې ده. پخوابه روسی سکاد راکټ هم په پښتني سیمو لګیده او اوس بې دوه پنځوس ډوله الوتکه هم په پښتني سیمو بمونه غورځوي او وایي چې موږ اسامه لټوو، امریکایانو ستن په کاهدان کې اچولې او وایي چې موږ ستن لټوو. همدا اوس د جګړې ټول زور په پښتني سیمو او پښتنو باندې دی، آ خوا هم پښتون وژل کیږي او دا خوا هم.

دغه راز له بده مرغه زموږ د دودیزې ټولنې ویاړ د علم او تمدن په ارابه پسې ځغا ستل نه دي، بلکې د دین په لمن پورې زوړندیدل دي، دا خبره د دې مانا نه لري چې په علم پسې تلل دې د دین د هیرولو په مانا وانګیرل شي. خپله دینداري به هم کوو او د علم زده کړه به هم نه هیروو.»

خو بیا هم باید غلي کیننو او د خپل مسولیت د بار د دروند والي په اندازه یو څه و وایو او یو څه وکړو، که بل څه نه شو کولای، حد اقل خپل غږ خو وباسو.

په همدې سوچونو کې ډوب وم او پاڼې اړولې، چې په فیسبوک کې د تعلیم د عامیدو د یو لوی پلوي، ښاغلي رحمت الله تنها یو لیکلی مطلب مخ ته راغی چې د غیرتیانو؟ پر نا سمو او کږو لارو باندې د تګ انځور په کې ایستل شوی او په استادانه ډول نقد شوی هم و،

دغو غیرتیانو؟ ته د قلموالو، روڼ اندو او چیز فهمه قشر خولې او ستوني وشکیدل چې د خدای پار دی د غیرت په دغه ډنډ کې خوسا کیږئ، ورنه را ووزئ، خو چا ته وایي. د همدې چیغو، نارو، سورو یوه بیلګه د استاد تنها خبرې دي چې د همداسې خلکو په آدرس یې لیکلې دي، دا یې بشیر متن دی:

«پښتون لالا غږ مې اورې که د اسرافیل شپیلی درته وغږوم ؟؟؟

زما استاد ډاکټر صیب غوري وايي په لويه پکتيا کې پوهنتونونو ته ځېرمه د نجونو ښايسته او نوي ليليې جوړې شوي خو يوه پښتنه پېغله په بسم الله نه پکې پيدا کېږئ، ټول د لرو پرتو سيمو ازبکې، تاجکې او هزاره خويندې محصليني پکې اوسي، همدا حالت په لوی کندهار او لوی ننګرهار هم حاکم دی. دا تاجکې، ازبکې او هزاره پېغلې به فارغې سي، خپلو کليو ته به ولاړې سي، هلته به نورې پېغلې تحصيل ته وهڅوي، بلاخره به دا سيمې ټولې باسواده سي، له معلمه نيولې تر ډاکټر او انجنير به ټولې پکې وي خو ستا پېغله به په خوشايو کې پيدا، په خوشايو کې را لويه او په غوجله کې مړه سي. دا ټول ځکه چي ته غيرتي يې او خپل پت، غيرت او شمله د خوشايو په سمبالښت کې وينې!

پښتونه ! ايکې يوه لسيزه دې بله هم پکار ده، نور له خيره سره نابود يې، تباه يې، برباد يې، دا د ننګ او غيرت شمله

به دې ډېر ژر له سره را کښته او د جواليتوب په پار تر ملا وتړې.
مړه دې وي بېغرته غيرتيان!»

خو پښتون غيرتي يې نه اوري، ښاغلي تنها له دې نه هم په تنده لهجه حقيقت په عين آدرس په مخ کې ور ته ايښی دی، وګورئ:

« دووس خو نو ښکر نه لرې!
په خپل کور او کلي کې ښوونځي او پوهنځي ته تلونکې نجلی فاحشه او کافره ګڼې خو خپله ناروغه تور سرې يې بيا په لاس ګاډي کې د تورخم پر پوله پکيستانې ډاکټر ته ور روانه کړې وي

مړه دې وي بېغرته غيرتيان!»

سره له دې چي د دوی په اصطلاح مسلمان ورور؟ پاکستاني دا دوې که درې ورځې د تورخم دروازه ور ته تړلې ده او د غيرتي پښتون مريضه ښځه، بوډا پلار او په نسناستې خوارځواکې اخته ماشوم د تړلې دروازې تر شا د پاکستاني مليشه رحم ته خوله جينګه جينګه کوي، خو خپله خور، خپله لور او خپله لمسی د غيرت په وجه درس ته نه پرېږدي، او د خپل جهالت له مخې نه غواړي چي په خپل کور، کلي او ښار کې يې ډاکټرانې، نرسانې او ښوونکې و روزل شي چي دی خپله او د ده غيرت له سوال زاری او مرګ نه خلاص شي، نه! ده ته له هر څه نه خپل غيرت ډېر عزيز دی او ارزښت ور ته لري.

غيرتي لالا؟ د غيرت منارې لوړوي، تر سيورې لاندې يې ډانګ په لاس کيني، خور، لور او لمسی له تعليم، ښوونځي او پوهنځي نه را ګرځوي او په دې ډول په خپل کور کلي او ښار کې د ډاکترانو، ښوونکو او ... مخه نيسي؛ چي غيرت يې داغداره نه شي، خو بله ورځ يې خپله مريضه ښځه، خپله مريضه مور او نا روغه لور په شا کړې وي او پرديو ډاکترانو ته يې د مداوا له پاره په عذرونو سره ورولې، خو هغوی يې دروازې پر مخ ور تړي.

دا هم د غيرت پايله!!!

**د هغو خلکو او قوم تباهي ډيره نږدې ده چي**
**له سواد، کتاب، مطالعې، تعليم، ښونځي**
**او پوهنځي نه ځان لرې ساتي!**

د دوه ځلويښتمې مقالې پای

# لوڼې د زدکړو په لور، که نه...

## دري ځلویښتمه مقاله

په دې ورځو کې د افغانستان په بریتنایي میډیا کې د ګڼو بدو او منفي خبرونو او راپورنو تر څنګ، یو ښه او مثبت خبر هم تر سترګو کېده، چې سرلیک یې داسې و:

«د خوست د موسی خېلو ولسوالي مشرانو د نجونو د تعلیم مخنیوونکو ته جریمه وټاکله»



دا ډیر ښه خبر او نظر دی، چې پخوا هم په یادي سیمي یا شا و خوا سیمو کې خلکو دغسي پریکړه کړې وه چې: هغه کورنی چې د نجونو د تعلیم مخه نیسي، باید جریمه شي؛ خو زه ډاډه یم چې ډیری کورنی به د یادې جرماني د ورکړې توان هم نه لري، چې وروسته بیا نوري ستونزې رامنځ ته کوي.

د دې خبر په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«تاند- د خوست د موسی خېلو ولسوالی اوسیدونکو په یوه قومي جرګه کې پرېکړه کړې چې که چا د نجونو د زده کړو مخه ونیوله، پنځه زره افغانۍ به قوم ته جریمه ورکوي.

د منګلو مشرانو دا پرېکړه تېره اوونۍ په یوه قومي جرګه کې وکړه.

د منګلو د قوم په دې جرګه کې، چې د موسی خېلو د ځایي چاراواکو په بلنه جوړه شوې وه، د نجونو د جبري زده کړو په پرېکړه قومي مشرانو او سپین ږیرو لاسلیکونه کړي او د خوست د

پوهني له اداري یې غوښتي چې په یاده لیرې پرته ولسوالی کې نجونو او هلکانو ته د زده کړو وړ شرایط برابر کړي...

د خوست د پوهنې ریاست چاراواکو ویلي چې د موسي خېل ولسوالي د قومي مشرانو له پرېکړې وروسته به دې ولسوالی ته پام زیات کړي.

د دوی په وینا د خلکو د همکاری په صورت کې د پوهني وزارت لا ډېره مرسته کړلی شي...»
دغه رښتیاني قومي مشران دي چې داسې او دې ورته پرېکړې کوي چې مثبت تاثیرات یې ټولو راتلونکو نسلونو کې محسوس وي او نه هیریدونکي مثبتې پایلې لرلی شی.

زما له نظره په دې برخه کې د خلکو او دولتي اړوند مسؤلو ادارو د ګډې همکاری تر څنګ باید د دې په باب هم پریکړه کونکي فکر وکړي چې هغه څوک چې د رښتنې زدکړې په خاطر نه، بلکې د جریمي له ډاره خپلې لونې ښونځي ته لیږي، د دا داسي کورنیو په باب هم پاملرنه وشي چې دوی باید له رواني پلوه چمتو کړای شي چې نه یوازې د نجونو، بلکې د هیڅ کوچني د زدکړو مخه ونه نیسي.



کیدای شي ځیني کورنی د اقتصادي ستونزو له مخې خپله لور ی یا لونې ښوونځي ته و نه لیږي.حکومت باید داسې پلانونه طرحه کړي چې د زدکونکو د اقتصادي ستونزو د رفع کولو په خاطر شاګردانو ته خوراکي یا نقدي تشویقي بستې یا ډالی په نظر کې ونیول شي. او دا کومه نوې خبره نه ده، پخوا هم د افغانستان په ښونځیو کې تشویقي بستې ورکول کیدې لکه وچې شودې، وچې هګۍ، کله، کله وړه او نور غذایي مواد، که دا کار نه وي، ښایي ځیني کورنی داسې استدلال وکړي چې: زما دا یوه لور ده خس راټولوي، څو وزې او میږې دي هغه پیایي، د کور کارونه کوي؛ دا هم چې ښونځي ته ولیږم، نو بیا...

په هر صورت دې پريکړې ته به په ښه نظر وګورو او هيله چې له دې وروسته د هيواد په هره سيمه کې دې ته ورته مثبتې پريکړې وشي. هيله ده داسې و نه شي لکه د دولت د نورو پريکړې په څير چې پريکړې کيږي، پر يخ يې ليکي، سره لمر ته يې ږدي او...

د دې ښې او مثبتې پريکړې له ښه والي سره، زه په دې ډاريږم چې د افغانانو د افراط او تفريط په سلسله کې د دې په مقابل اړخ کې بله داسې پريکړه ونه شي چې د هرې کورنۍ کوچنۍ که د ښونځي پر لار تر سترګو شو، هغه ته به د مرګ تر پولې سزا ورکول کيږي.

کومې ډلې ټپلې چې همدا اوس په افغانسمتان کې د واک پر ګدۍ ناست دي، مخکې له واک نه، کله چې په مسلحانه اپوزيش دريځ کې وو، د ښونځيو سوزول او د ښونکو حلالول يې ثواب ګڼل کيده، خو اوس چې دوی په واک کې دي، هماغه د دوی کارونه اوسنی مسلح اپوزيشن تکراروي، نو دا نه يوازې ثواب نه ګڼل کيږي، بلکې غير شرعي او ضد بشري ګڼل کيږي او نور داسې ډير مثالونه.

بله خبره دا ده چې بايد په څير وليدل شي او فکر پرې وشي چې همدا اوس د هيواد د دريګونو قواوو واک د څه ډول خلکو په لاس کې دی:

ـ څومره زدکړې لري؟

ـ د دريګونو قواوو په هر ټيټ، منځوي يا لوړ مقام کې چې واک لري، د هغه وړتيا ورسره شته که نه؟

ـ په پای کې د هيواد د ابادولو او نوي نسل د روزلو په برخه کې څه ډول فکر کوي؟

که زه د دريګونو قواوو د دندو او مسوليتونو په باب څه وليکم، خبره به له مقالې، کتاب او کتابونو نه هم واوړي. يو لنډ خو ډير هنرمندانه مثال به يې زه دلته راوړم چې زما يوه فيسبوکي ملګري د ۲۰۱۶ کال د جون په يولسمه نيټه په طنز ډوله ژبه داسې حقيقت ليکلی چې له خندا به دې بډوډې ورته ونيسي او د اوښکو په تويولو به دې اوښکې وچې شي.

زما يو ناليدلي فيسبوکي اشنا دغه څو جملې د پارلمان د وکيلانو په باب ليکلې وې چې د ماليې له وزير څخه څه غوښتنې لري. په هغه وخت کې ما دا څو جملې کاپي کړې او سر ليک مې ورته وټاکه:

«د دايکندي وکيل، د کندهار وکيل»
اوس هغه جملې دلته د مثال له پاره رانقلوم:

«ټاپه وهل يې پر تاسو،

په کابل کې د ماليې وزير ته د ډايکنډي وکيل د پوهنتون جوړولو پيشنهاد ور وړي، د پنجشېر وکيل د روغتون درخواست کوي، د کاپيسا وکيل د سړک پخولو ړغ پورته کوي، د پروان وکيل د بريښنا د پايو د لا تينګښت ټينګار کوي...

خو د لوی کندهار وکيل د تر حساب تېرو مساجدو او جامع ګانو سره، سره د بلې جامع د جوړولو آمر ځني اخلي! دې ته اوس په کوم نظر ګورئ؟

زموږ اولنۍ اړتيا څه ده؟ خبر ياست چې په ټول اروزګان کې څو مکتبونه او پوهنتونونه لرئ؟ د روغتون کيسه خو يې در معلومه ده، چې لږ درنه پيښه وسي زخميان د کندهار مېرويس روغتون ته راځغلوي...

دين يې دام دئ د دنيا په لار کي ايښئ
پـرې را اړوي وحشيان د مـخلـوقـات

«رحمان بابا»

په افغانستان کي د نجونو د تعليم له پاره رسمي او دولتي هڅې شوي دي، خو پايله يې کله محسوسه او کله به لا درکه وه. حتی داسي هم شوي چي افغانستان د نجونو له پاره تر ټولو خطرناک هيواد ښودل شوی دی.

بي بي سي د ۲۰۱۷ کال په اکتوبر کي يو راپور خپور کړ چي سر ليک يې داسي و:

**«افغانستان د نجونو تعليم لپاره څلورم ناوړه هېواد»**

د دې سر ليک او رپوټ له لوستلو سره سم مې د **«يوه بله نيکنامي؟»** تر سرليک لاندي يوه مقاله وليکله او سمدلاسه مې خپره کړه.

د دې مقالي په يوه برخه کي ما (آصف بهاند) داسي ليکلي دي:

«څو ورځې مخکي (۱۱/۱۰/۲۰۱۷) د «نجونو نړيواله ورځ» ورځ ولمانځل شوه او زمو ميډيا هم لږ و ډير ونده په کي واخيسته. ځينو هسي ياده کړه، ځينو په ښو تورو سره د نجونو د قدر داني له پاره يو څه وليکل، يوه نيمه مقاله خپره شوه، د نجونو د ژوند د خرابوالي په باب گزارشونه... او ځينو لا وليکل چي دا ورځ بيا له کومه شوه.

په هر ډول چي و، د نجونو په باب يو غږ اوچت شو او يو ځل بيا د هيوادوالو او نړيوالو تر غوږونو پوري دا خبر او دا چيغه ورسول شوه چي په افغانستان کي د نجونو ژوند له هره اړخه خراب او تريخ دی او ډيره سلنه له تعليم، ښوونځي او پوهنځي نه لری دي.

د نجونو د ورځي د لمانځلو په لړ کي داسي تاييد شوي او نا تاييد شوي ارقام هم وړاندي شول چي د دوو ميليونو په شا و خوا کي نجوني ښونځي ته د تگ له حق نه محرومي دي او د دې محروميت تر څنگه د تاوتريخوالي له ظالمانه ډولونو سره هم مخ دي. که ښوونځي ته لاړې هم شي، اويا سلنه نجوني په لږ لوړ سن او لږ جگ ټولگي کي نه پريښودل کيږي چي ښوونځي ته ادامه ورکړي؛ د دغو عيني ستونزو سره، سره د ښوونې او روزنې وزارت هم په ټاکلي وخت د نجونو ورځ ولمانځله.

وروسته له دې چي په ميډيا کي د نجونو د ورځې درز دروز لږ غلی شو، بي بي سي داسي يو رپوټ خپور کړ چي هر بادرکه او با احساسه انسان ته ټکان ورکوي...

د بي بي سي په ياد راپور کي افغانستان د هغو هيوادونو په ډله کي څلورم ښودل شوی دی چي نجوني په کي د تعليم نا وړه حالت لري...

د نړۍ په هر گوټ کي چي يو منفي لست خپريږي، له بده مرغه چي افغانستان په کي وي او دا دی اوس مو په دې لست کي هم توره کړې، څلورم يو او دا په هيڅ وجه پټيدای هم نه شي. ملامتيا چا ته ور له غاړې ده، دا هم څوک نه مني، که ثابته هم شي چي ډيره سلنه موږ خپله افغانان ملامت يو، بيا خو جنگ او د جگړې نوم شته چي پېره ور له غاړې کړو او ځانونه سپيني کوترې معرفي کړو، خو هغه شيبه مو هيره وي چي د غيرت، شرم او ځينو نورو دلايلو له مخې خور، لور وهو ټکوو او دې ته يې اړ باسو چي له ښونځي څخه لاس په سر او د کور بنديوانه شي، ښونځي ته د هغې (نجلۍ) په نه تگ چي څومره نورې ستونزې را ولاړيږي، هغه مو هيرې وي.

پخوا ما په خپلو مقالو کې د نورو ولایتونو مثالونه ورکړي و، خو همدا اوس په میډیا کې داسې خبرونه راځي چې لا د ننګرهار غوندي فرهنګپاله ولایت کې هم په ځلورو ولسوالیو کې یوه ښځینه فارغه نه شته. دغه رپوټ ته پاملرنه وکړئ:

«د ننګرهار ولایت د پوهنې ریاست چارواکي وايي، چې د دغه ولایت په ځلورو ولسوالیو کې تر اوسه یوه جلۍ هم له دولسم ټولګي فارغه شوې نه ده.

د پوهنې ځای ناستي رییس سید عیسی سادات سلام وطندار ته وویل، چې په یو شمېر ولسوالیو کې ان ځینې کورنۍ خپلې لوڼې له شپږم ټولګي پورته زدهکړو ته نه پرېږدي.

د پوهنې رییس وايي، چې **دوربابا، اچین، نازیان او لالپوره** ولسوالیو کې د دولسم ټولګي یوه فارغه هم نه لري.»

دا چې په نړیواله کچه د افغانستان نوم په هغه لست کې په ځلورمه شمیره کې درول شوی چې د نجونو د تعلیم له پاره نا وړه حالت لري، (دا هم ځانته دلایل لري)...»

کیدای شي د تعلیم د مسالې په برخه کې د ځینو قلموالو هڅې، د ځینو دولتي مقاماتو(اشرف غني روان کال د ښوونې او روزنې کال اعلان کړ) او د ځینو نا دولتي ټولنو (قلملار ټولنه، ویسا ورونه، چې د تعلیمي انقلاب لړ ۍ یې همدا اوس د هیواد په بیلا بیلو برخو کې روانه ده) د هڅو تاثیرات به وي، یا په عیني ژوندانه کې د شته نیمګړتیاوو او اړتیاوو درک او ورباندې پوهیدنه او ورسره د خلکو د پوهې او مالوماتو کچه دومره لوړه شوې چې اوس د نجونو د تعلیم مخه نیونکې کورنۍ په جرمانو محکومیږي.




د دري ځلوېښتمې مقالې پای

# د ښونځيو تړل،

## د وطن او نوي نسل بربادول دي

## ځلورځلويښتمه مقاله

**ښونځي بندول،**

**نوی نسل له سواد او زدکړو محرومول،**

**علم، تمدن او پوهې ته نه ويل،**

**دا له ځان سره،**

**له وطن سره،**

**له نوي نسل سره**

**او له ټول بشريت سره**

**ستره جفا ده،**

**ستر بشري جنايت دی.**

ټوپکي ډلو ګواښ کړی دی چې د ننګرهار په جلال آباد ښار او شاوخوا ولسواليو کې دې نجوني ښونځيو ته نه ځي، ګواښ يې عملي شوی هم دی.
دغه راز يوې بلې وسله والي ډلې د پکتيا په دوو ولسواليو کې دوه ويشت (۲۲) ښوونځي بند کړي دي. په څو وروستيو ورځو کې د ښونځيو د تړل کيدو په تړاو، د ميديا ځينې خواشينونکي سر ليکونه په دې ډول دي:

ـ د داعش له خبرداري وروسته په ننګرهار کې لسګونه ښوونځي تړل شوي(بي بي سي)

ـ د داعش له خبرداري وروسته په ننګرهار کې اکثره ښوونځي تړل شوي (تاند)

ـ وسله والو طالبانو د پکتيا په ۲ ولسواليو کې ۲۲ ښوونځي بند کړي (تاند)

ـ به دنبال 'تهديد داعش' دهها مدرسه دخترانه در شرق افغانستان تعطيل شد (بي بي سي)

زموږ په وطن کې اوس هر څه پای ته ورسيدل، د چنګيز کاني وشوي، پاتې يو ښوونځي و، دا هم غواړي وتړي او د پوهې ډيوه داسې مړه کړي چې نښه يې پاتې نه شي.
په عذرونو هم نه کيږي چې د معارف پلويان ننواتي ورته وکړي، جرګه ورولېږي او ورته ووايي چې:
د خدای پار دی ښونځي مه تړئ او د دې وطن د ماشومانو او کوچنيانو د تعليم مخه مه نيسئ، دا د تباهۍ لاره ده، دا د بربادی لاره ده، د دې وطن بچيان د بربادی لارې باندې مه روانوئ او...
نو بايد ورته و ويل شي:
وروره نظامي يې، نظامي کارونه دې کوه، له مکتب او مکتبي سره څه کار لرې، ولې د رڼا کړکی د هېواد د نوي نسل پر مخ تړې؟

همدا نن مې د افغانستان د نوي نسل د روزلو د يو خواخوږي په پاڼه کې دا پوست له نظره تير شو:

**«د خپل دوښمن ماهيت وپيژنئ،**
**تر هرڅه ډېر، ستاسو او ستاسو د بچیانو له پوهې او لوړ شعوره داريږي.»**

د همدې ټوپکي واک په دوره کې، د يوې لويې ټوپکي ډلې مشر د خپلو همفکره ملګرو په يوه مهمه غونډه کې هغوی ته وويل:

**هوښيار شئ، دا د نوي تکنالوژۍ نسل، دا فيسبوکيان مو را چپه کوي او...»**

ټوپکيان په ټول کې د نوي نسل له باسواده کيدو، هوښياريدو او نوې تکنالوژۍ ته رسيدو نه زښته ډير ډار لري او پر دې ښه پوهيږي چې که نوی نسل باسواده شي، او نوې تکنالوژي په لاس ورشي له هر څه خبريږي، په هر څه پوهيږي هلته ده چې بيا د ټوپکيانو او زړو پالو ببولالو ته غوږ نه نيسي او...

ټوپکيان او جګړه غوښتونکي ګني ځيرې او ډلې لري، خو ټول د يوې سکې دوه مخونه دي. پلان يې يو دی، خو تر بيلو بيرغونو لاندې ورانی کوي.

يوه په ننګرهار کې ښوونځي وتړل، بل يې په پکتيا کې مکتبونه بند کړل. دوی د رڼا په ځای تياره غواړي.

اوسني ټوپکيان چې دا کار کوي، د دې کار تومنه او تجربه يې له خپل تير نسل نه را اخيستې ده. همدا اوس چې کومې ټوپکي ډلې د جهاد او مقاومت په نامه په واک کې شريک دي او د جهاد او مقاومت په نامه يې دولتي ځوکی په اختيار کې دي او خپل غنيمت يې ګڼي؛ دوی اوږده موده کله چې د پخوانيو دولتونو په مسلح اپوزيشن کې وو، همدا مکتب سوزول، ښوونځي بندول، د ښونکو او زده کونکو وژل او الوزول يې د ثواب او جهاد تر سرليک لاندې په وياړ سره کول؛ اوس چې طالب او داعش د دوی دريم او څلورم نسل شميرل کيږي، خود به دا کار د نيکونو د رسم په نامه په وياړ سره کوي.

له ماشومانو او کوچنيانو سره تر ټولو ستره جفا او خطرناکه تاوتريخوالی د ښونځيو تړل دي، د ښونځيو الوزول دي او کوچنيان ښونځيو ته نه پريښودل دي او دا کار مسلح ګروپونه ښه په مزه تر سره کوي؛ دوی پر دولت د سياسي نظامي فشار راوړولو له پاره دا کار کوي، خو زموږ د هيواد ځو نسله يې را برباد کړل. دوی که له يوې خوا دا کار د ثواب د ګټلو په نامه ترسره کوي، نو له بلې خوا د امتيازونو د ترلاسه کولو له پاره هم دا کار ترسره کوي؛ خو په مقابل لوري کې خلک او ټولنه په دوامداره توګه عذابونه زغمي.

**ښونځي بندول،**

**نوی نسل له سواد او زدکړو محروموول،**

**علم، تمدن او پوهې ته نه ويل،**

**دا له ځان سره،**

**له وطن سره،**

**له نوي نسل سره**

**او له ټول بشريت سره**

**ستره جفا ده**

**ستر بشري جنايت دی.**

د څلورڅلويښتمې مقالې پای

# زموږ تعلیمي نظام او د جهادي کتابونو لړی

## پنځه ځلوېښتمه مقاله

دیوه هیواد او یوې ټولنې پر ښوونیز نظام باندې غږیدل نه تمامیدونکې او نه زړیدونکې خبره ده، هر کله باید د وخت له غوښتنوسره سم، د ملي او هیوادنیو ګټو په پام کې نیولو سره خبرې پرې وشي او اړین بدلونونه په کې راوستل شي.

د دې خبرې کول ښه، ښیا اړینه ګڼم چې په ټول کې زموږ ښوونیز نظام نیمګړی دی. په رسمي او غیررسمي چاپیدونکو موادو کې ډېره سلنه داسې شیان ماشوم ته، نوي نسل ته او د ټولنې راتلونکوو مسولینو ته په لاس ورکول کیږي چې هغه شیان نه یوازې ټولنه او نوی نسل د زمانې له نویو غوښتنو او پوښتنو سره نه شي برابرولای، بلکې داسې حالت ته یې رسوي چې دنوي وخت پر ضد یې دروي.

په افغانستان کې دننه په ښوونځیو کې ډیرې نیګړتیاوې شته چې باید نه وای، خو له هیوادنیو رسمیاتو نه د باندې کړی کې ښیا بل څه روان دي. هغه څه چاپیږي او زموږ نوي نسل ته په لاس کې ورکول کیږي چې زموږ د ټولنې او خلکو د تباهۍ سبب شوي، کیږي او د دې وطن او خلکو د دښمنانو غوښتنه ده.

په افغانستان کې دننه او له افغانستان څخه د باندې د افغانانو د ژوند هره پانه چې راواړول شي، له نیمګړتیاوو او ستونزو ډکه وي. هغه نیمګړتیاوې چې ډیرې یې باید اوس زموږ په مخ کې نه وای، موږ هر کله ورسره لاس ګریوان یو او کړې تیروتنې ښیا، ښیا تکراروو ا وملامتیا یې هم په شرایطو، تیرو واکدارانو او جګړې باندې ورتپوو. ښه مې په یاد دي چې رحیم الله یوسفزي په یوه مرکه کې د طالبانو په برخه کې د یوې پوښتنې په ځواب کې ویلي و:

«د چا په نس هم که درد شي، وایي چې دا د طالبانوله لاسه...»

اوس له بده مرغه که د چا په خپل کور کې له خپلې ښځې او کوچنیانو سره اړیکې خرابې شي، نو وایي دا د وخت او شرایطو، جګړې او... له لاسه.

د امریکایي دیموکراسۍ په دایره کې، د کرزي د واکمنۍ په لومړۍ دوره کې، په تیروتنه او نه پوهیدنه کې د وطن یوعالم او با درکه او بادرده شخصیت د ښوونې روزنې د اداري (دښوونې اوروزنې وزارت) مسول شو، امین یادوم، رسول امین. دی هم په تیوریکي ډول او هم په عملي ډول د ښوونې روزنې متخصص و، ده په همدې څانګه کې لوړې زدکړې درلودې او عملاً یې د ښوونکي یا استاد په ډول کار کړی و. دا د اوریدلو یا لوستلو او د روایاتو خبره نه ده، ما خپله کله چې د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځی کې زدکړې کولې، د شاګردۍ ویاړ یې را په برخه شوی دی. ما په عملي ډول دی ولید چې ده څومره له وطن او خلکو سره مینه درلوده او په ښوونیز نظام باندې یې عقیده درلوده او د زړه له کومې یې کار ورته کاوه؛ خو له بده مرغه چې له څه لنډې مودې وروسته له کار نه لرې کړای شو، ښایي چې د حاکم نظام د ټوپکوالو یو خصلت به همداوي چې کار پوه خلک نه غواړي، ځکه چې د ټوپک وال له عالم او قلموال سره نه وي جوړه.

د استاد شپون په یادداشتونو کې داسې راغلي دي چې:

«... د کرزي په دربارکې یوه ورځ مارشال فهیم د ټولو وزیرانو په شتو کې، مخامخ ودرید د کرزي میز ته یې په سوک ګزار ورکړ او وې ویل:

« میخواهي که یک قفاق بزنمت؟»

ولسمشر ورته ترې، ترې کتل. چې مارشال ووت، نوکرزي له امین صیب نه پوښتنه وکړه، که ته زما په ځای وای څه دې کول؟ امین ورته وویل:

«ریس صیب که زه وای اول مې متې ورته شا ته تړلې، بیا مې په وهلو له ارګه ایسته چې بادیګر دې خوا رانه شې.»

ښایي کانه ارګمشرته د ښوونې روزنې د دې زړه سواندې همدا مصلحت به وچې نور یې کار ته پرینښود او داسې یو څوک یې د هغه پر ځای وټاکه چې نه یوازې په ښوونې روزنې خبر نه و، بلکې ټول کړه وړه یې د وطن او د وطن د تعلیمي نظام پر ضد وو.
د نورو دلایلو ترڅنګه، دغسې دلایل دي چې تعلیمي نظام مو تر اوسه همداسې ګډوډ او ضد ملي دی او د ملي مسایلو پر ځای په کې شخصي ذوقي او تنظیمي شیان تدریسیږي.

د ذوقي شیانو په ډله کې یې لویه نمونه په تعلیمي نظام کې د اړینومسایلو(اساسي قانون، ترافیکي قانون، ملي ترمینالوژي، لومړنۍ طبي مرستې، دوطن پالنې روحیه او...) پر ځای د کرکټ شاملول دي چې کوم ښاغلي به د مهاجرت په دوران کې یو څو ورځې په پاکستان کې د کرکټ په میدانونوکې منډې کړې وې او اوس یې د خپل ذوق له مخې چې د ده خوښیږي او واک هم لري، نو یې تعلیمي نظام کې د ملي مسایلو پر ځای د کرکټ د ځای پر ځای کولو هڅې پیل کړې. زه د هیڅ ډول سپورت مخالف نه یم، خو نه داسې چې د ډیرو اړینو مسایلو د زدکړې او تدریس بودجه او وخت دې په هغه ولګول شي، هیله ده چې د کرکټ مینه وال او په تیره ـ زما د ډیرې خوښې وړ کالم لیکونکی، چې زه ورته د اوسني زماني د مسجع نثر مخکښ لیکوال هم وایم ـ مطیع الله عابد له ما نه خوا بده نه کړي.

د همدې کتاب په یوه مقاله کې مو په پاکستان کې له افغان کوچنیانو سره د «ما له کلمه نه راځي» ترسرلیک لاندې له یو افغان کوچني سره، د ښاغلي نورالبشر نوید انتریو ولوستله، ورسته له څومره کلونو دا دی بیا نوید صاحب د افغان کوچنیانو د زدکړې په برخه کې یوې سترې ستونزې ته د یوې عیني او ژوندۍ خاطرې په لیکلوسره اشاره کړې ده. د بي بي سي په پښتو ویبسایت کې د نوید د کالمونو په سلسله کې د۲۰۱۳ کال د مې په ۱۲ مه نیټه د «د جهاد په کتاب پسې یو لیواله ماشوم» یو کالم راغلی دی. په دې کالم کې د هماغې کیسې بله برخه راغلې ده، چې په

۱۹۹۱کي چي نويد د يوه افغان ماشوم د دودغړن ژوند انځور په کي ايستلی و. په دې توپير سره چي په ۱۹۹۱ م کال کي افغان ماشوم د ورونو او مور د نس مړولو له پاره منډې وهلې، خو دا بل ماشوم جنت ته د تللو په خاطر د جهاد کتاب لټوي.

دا ماشوم ښايي د هغه کتاب په لټون پسي راوتلی وي چي حقاني شبکي د «نظامي درسونه» تر سرليک لاندې چاپ او خپورکړی و چي پرته له معلم او ترينڼگه نه يې د جهاد طريقه ښووله. دغه «ماشوم ته خپل استاد ويلي و چي د جهاد کتاب وگوره. څه ظالم، قاتل استاد دی چي خپل شاگرد ته هغه لاربښيي چي په خپله يې دتلو جرات نه شي کولای.»

ځيني سياسيون او د نظر خاوندان لا په دې نظر دي چي نقص په نظام کي نه دی. له نن نه دوه درې ورځي مخکي ښاغلي مسکينيار په خپل تلويزيون کي د خپلو سياسي تبصرو په لړ کي په زغرده ووېل چي: نيمگړتيا په نظام کي نه ده، نظام بايد بدل نه شي، نيمگړتيا په کرزي کي ده او د کرزي په کاري ټيم کي ده، دوی بايد بدل شي.

زه داسي فکر کوم چي تر ټولو ستره نيمگړتيا په نظام او سيستم کي ده. په سياسي او ښوونيز نظام کي. موږ بايد د شخص يا اشخاصو د بدلون نه مخکي، د نظام او سيستم د بدلون په فکر کي اوسو، د ټولني طرز تفکر بايد بدل کړای شي، د ټوپک پر ځای بايد ماشوم ته قلم او کتاب په لاس کي ورکړو او کتاب ته مو پام وي چي کوم کتاب په لاس کي ورکړو، هغه کتاب په لاس کي ورکړو چي د دنيا او آخرت د سميدو راز په کي نغښتی وي، نه دا چي يوازې جنت ته د تلو په پلمه، د دنيا او آخرت د بربادی او د نوي نسل څه چي لا د ځو نسلونو د تباهئ راز په کي پټ وي.

همدا جنت ته د تگ د منفي او بدو تبليغاتو وجه ده چي زموږ ډيری کوچنيانو ته، زموږ گلانو ته ويل شوي دي چي:

ټوپک دځوانانو ؛گاڼه ده.

خو تر نن پورې نه دي ورته ويل شوي چي:

قلم دنوي نسل گاڼه ده،

زدکړه اوپوهه دنوي نسل زيوردی،
کمپيوتر د نوي نسل د وړاندې تگ او د علم او پوهي د زدکړې او لاس ته راوړلو ښه وسيله ده.
د تياري د استازو مشرانو او رهبرانو په لوړ آواز په خپلو خبرو کي ويلي دي:
گورئ!

پام کوئ چي فيسبوکي ځوانان مو چپه کوي.

دوی د خپل ژوند د اوږدولو له پاره له رڼا (پوهه) سره مخالفت کوي. دا ستره او د پام وړ خبره ده چي :

تر ټولو ستره گناه، ستر خيانت او ستره جفا دا ده چي نوی نسل له حقايقو لرې، له پوهي او تکنالوژی څنگ ته، په تيارو کي وساتل شي.

موږ له بده مرغه د خپل افراط او تفريط د ناوړه عادت له مخي يو وارهر څه سره کړل او بيا مو ورپسي له هغه نه په افراط سره شنه کړل او سپين بادونه مو داسي پسي راوالوزول چي نوی نسل څه چي، نوي نسلونه يي په تيارو کي مخ په ښکته ټيل وهل، حتی ښوونه اوروزنه.

د باندي له افغانستانه که دښووني او روزني سلسله تعقيب شي له دې نه بد افراط په کې شوی دی. په هغو کتابونو کې کې چې په لومړي ځل ماشوم ته «الف - ب» ورزده کوي، وليکل شول:

ت= توپک

ټ = ټانک

ج = جهاد

و= وژل

م= مرگ

ک = کمونست

او...

داسي کتابونه او داسي تعليمي نظام کوچنيانو ته، نوي نسل ته کرکه، جګړه او وژل ورزده کړي اورزده کوي يي چې دا دی تر نن پورې يې پور همدا افغانان پسې ادا کوي.

موړ ځان څه چې، حتی توري مو نوم بدي کړل.

همدا توري مو داسي هم کارولای شول:

و= وطن

م = مور

ک= کرل

او...

له بده مرغه په افغانانو کې خو اول سواد عام نه دی، بيا چې د سواد خاوند شو، ملا صاحب؟ مولانا صاحب جهادي صاحب او افراطي صاحب؟ او پلانکی صاحب ورته د جهاد کتابونه چاپوي او په لاس کې يې ورکوي، ورته وايي چې د دې لوستل تاته د جنت دروازې خلاصوي، دا ولوله، بيا لاړشه خپل وطن وران کړه، په اور کې يې وسوځوه او...

په مديا کې به ډير لږ داسي خبر واورې چې د نوي نسل د روزني په برخه کې دې سرې ورته په تمه شي. ښځې مو د لنګون په وخت کې لومړی خپل ماشوم له لاسه ورکوي او بيا خپل ژوند. ناروغان مو پيسي روا ناروا ګټي او تداوئ له پاره پاکستان هند او... ته روان وي او هلته پرته له دې چې ناروغ پوه شي يا تداوي شي، يو پوښتورګی يې ورنه ايستل کيږي، او دې ته ورته نورې ډيرې ستونزې. د دغو ستونزو ترټولو لوی عامل د سالم ښوونيز نظام نه شتون دی، د يوې عادي ډاکتر، روغتون ا ونرسي نه شتون دی چې ښځه ماشوم او نور ناروغان د لنګون او ناروغی په وخت کې ژوند له لاسه ورکوي.

داسي خبر به په ميديا کې ډير لږ وګورې چې ليکلي يې وې د نرسنګ کورس نه يوه، دوې، لس، شل او... تنه فارغانې شوې او په کوم صحي کلنيک کې يې په کار پيل وکړ. يا د نرسنګ کوم کتاب يا د نورو تولنيزو خدماتو لارښود کتاب له چاپه راووت، خودا خبرونه يو ځل نه، څو ځلې ميديا په ډير کش او ځيرو توروسره خپروي چې:

- ۱۶طالبانو ته د فضيلت پګړی وروتړل شوې.

- پر تقوا ولاړه کورنۍ ګټور اسلامي کتاب له چاپه راووت.

- د درنو شاعرانو او نعت ویونکو د پام وړ... ټولنې د حمدونو او نعتونو یوه ټولګه (المزمل) خپره کړه.

- حقاني شبکې جنګي کتاب خپور کړ.

حقاني شبکې دجنګیالیو د جذبولو او روزنې له پاره د «نظامي درسونه» په نوم کتاب خپورکړ چې ۱۶۰ مخونه لري...

او ...

دا جګړه او د دیني مسایلو تبلیغ او زدکړه، هغه هم په غیر علمي او غیر معیاري ډول، زموږ د پلار نیکه میراث دی که څنګه؟ موږ باید دینداري وکړو، خو د ژوند د نورو اړینو مسایلو زدکړه هم باید هیره نه کړو. دې ستونزې ته ما په تفصیل سره په ۲۰۱۰ کال کې په خپله مقاله «اور او ګلان» کې اشاره کړې ده.

په اوسني وخت کې دا زموږ ښوونه او روزنه ده او دا زمو درسي کتابونه دي. ولې د نرس قابله ګۍ کورسونه نه جوړیږي، چې دارالحفاظونه جوړوي او بیا د فضیلت پګړۍ ورتړل کیږي. خپلې ښځې د مرګ تر پولې وهو چې ولې زوی نه زیږوي، خو چې په اولاد تکلیف ورته پیښ شو، بیا نرس او ډاکتر درک نه لري چې د زیږون لارښوونه او مرسته ورسره وکړي، پګړۍ والا او فضیلت والا بیا په داسې حالاتو کې څه مرسته کولای شي؟

دا هماغه د چرچرک او میږي کیسه ده، چرچرک د کار وخت کې سندرې ویلې، میږي کار کاوه؛ کله چې ساړه شول سخت ژمي سره سختي راغله، بیا چرچرک د یوې دانې له پاره میږي ته عذرونه کول. موږ هم همداسې یو. سیاست، اقتصاد، علم، هنر او... رانه پاتې دی، یوازې نعتونه وایو او د فضیلت پګړۍ تړو، دوبۍ او سعودي ته د ولور د ګټلو له پاره ځو، نور خلک پرمخ تللو هیوادونو ته د علم په زدکړې پسې ځي، او کله چې زموږ ماشوم او زمو ږخویندې میندې مریضانې شي، بیا پردیو ته لاس غځوو او یا یې د غیرت تر چتر لاندې په کور کې ساتو، د مرګ تر پولې یې رسوو او پردیو ډاکترانو ته یې هم نه ورښیو، ځکه چې غیرت مو داغداره نه شي.

اوس هم ناوخته نه ده، موږ باید د استادګل پاچا الفت دا توصیه تطبیق کړو:

**« کوچنیان باید په علم پسې ولاړشي او د علم رڼا له ځان سره راوړي »**

د پنځه خلویښتمې مقالې پای

## د لیکوال بیوګرافي:



پوهندوی محمد آصف بهاند د محمد عمر زوی، د ۱۹۵۷م کال د دسمبر په ۲۳مه نیټه د کابل د چهاردهي په شکرالله خان نومي کلي کې زیږیدلی دی. لومړنی زده کړې یې د کابل د علاوالدین په تجربوي ښوونځي کې کړي دي، بیا یې د کابل په محمود طرزي لیسه کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ، خو دولسم ټولګی یې د میدان ښار د نرخ په لیسه کې پای ته ورساوه.

د ۱۳۵۵ کال د حمل په میاشت کې یې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې لوړې زده کړې پیل کړې او په ۱۳۵۸ کال یې د لیسانس سند تر لاسه کړ. له فراغت نه وروسته د کابل د روښان په دارالمعلمین کې د ښوونکي په توګه ومنل شو.

په ۱۳۶۰ کال په ژمي کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په علمي کدر کې ومنل شو. په ۱۳۶۶ کال کې یې د استاد صدیق روهي په لارښووني د ماسترۍ د تیزس دفاع وکړه.

آصف بهاند له ۱۳۵۶ کال راهیسې شعر وایي، نوی شعر ډیر لیکي، کله، کله یوه نیمه غزله او قصیده هم لیکي. په سل ګونو علمي تحقیقي مقالې، شعرونه او کتابونه یې په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې په معتبرو علمي مجلو او بریښنایي خپرونو کې نشر شوي دي.

د هجري شمسي نېټي په شپېتمه لسیزه کې د څو کلونو له پاره د کابل پوهنتون د علمي مجلې (اجتماعي علوم) د مرستیالی دنده ورله غاړې وه.

دغه راز د هجري شمسي نیټي په شپیتمه لسیزه کې د اوږدې مودې له پاره د رادیو افغانستان د روزني اداري د علمي پروګرام «موږ او اوریدونکي» لیکوال پاتي شوی دی.

آصف بهاند د افغانستان د لیکوالو ټولني د مرکزي شورا غړی و.

په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې یې په لسګونو علمي او فرهنګي سمینارونو کې ګډون کړی، مقالې یې ورته لیکلي دي او په یادو سیمینارونو کې یې لوستي دي.

په ماسکو کې د اوږدې مودې له پاره د افغانستان د فرهنګ ټولني د منشیتوب او د یادې ټولنې د ادبیاتو د څانګې مسولیتونه ورله غاړې وو.

د سویډن په بیلابیلو ښارونو کې، د سویډن هیواد او په سویډن کې د میشتو افغانانو د فرهنګي ټولنو له خوا د مورنی ژبې سیمینارونو ته بلل شوی او د یو لکچرر په صفت یې کارنده او فعاله برخه په کې اخیستې، مقالې یې ورته لیکلي دي او له سکندنویایي هیوادونو څخه د مورنۍ ژبې له راغلو ښوونکو سره یې د مورنۍ ژبې پر ستونزو او په پردې چاپیریال کې د مورنۍ ژبې د زده کړې او ساتلو پر ستونزو او د حل پر لارو چارو غږیدلی، مشورې یې ورسره کړې او د سویډن په ستاکهولم، یوتیبوري او مالمو ښارونو کې یې ګڼ لکچرونه وړاندې کړي دي.

**آصف بهاند د خپلو فرهنګي هڅو په لړ کې، دغه ادبي ـ فرهنګي کارونه تر سره کړي دي:**

۱ ـ پښتو ادب له ۱۲۵۰ څخه تر۱۲۹۷ پورې (د لیسانس دورې مونوګراف)،

۲ ـ شعر د پښتو کلاسیکو شاعرانو له نظره (د پوهنیارۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۳ ـ د معاصر پښتو شعر شکل او مضمون (د پوهنملی علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۴ ـ په پښتو شعر کې د انځور او تخیيل مسأ له (د پوهندويی علمي رتبې ته د لوړيدو له پاره علمي اثر)،

۵ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، لومړی کتاب، د کابل پوهنتون د نا پـښتو ځانګو له پاره درسي کتاب (ګستـتـنر چاپ)،

۶ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دویم کتاب، د کابل پوهنتون نا پښتو ځانګو له پاره درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۷ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دریم کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو ځانګو درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۸ ـ د پښتو ادبیاتو د لرغوني دورې منظوم متون، د پښتو ځانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۹ ـ د پښتو ادبیاتو د اوسنی دورې منظوم متون، د پښتوځانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۱۰ ـ د خوشال د دستارنامې منتخبات، د پښتو ځانګې درسي کتاب (ګستـتـنرچاپ)،

۱۱ ـ د کوچنیانو ادبیات، د چاپ او خپرونو د دولتي کومیتې له خوا په ۱۳۶۶ کال کې خپورشوی دی او دویمه درجه مطبوعاتي جایزه یې ګټلې ده،

۱۲ ـ مروره مځکه (د شعرونو ټولګه) ، په ۲۰۰۹ کال په کابل کې د دانش خپرندویې ټولنې له خوا خپره شوې ده،

۱۳ ـ لارورکي لارویان، لومړی ځل په ۱۳۹۱ کال کې چاپ شوی دی، مومند خپرندويي ټولنې خپور کړی دی او دویم ځل د ۲۰۱۷ کال په جولای کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۴ ــ د سمندر وړه بناپیرۍ، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، په ۲۰۱۸ کال په کابل کې چاپ شوی دی، مومند خپرندويي ټولنې په جلال آباد کې خپور کړی دی،

۱۵ ــ د سمندر وړه بناپیرۍ او نه (۹) نورې کيسې، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۸ کال په جنورۍ کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۶ ــ لنډۍ او د ثبتولو ستونزه، ، د ۲۰۱۸ کال په جون کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۱۷ ــ د کوچنیانو ادبیات،(د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر، اوسنی حالت) دویم ټوک، د دوه زره اوه لسم (۲۰۱۷) کال په اګست کې، په افغان جرمن آنلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی،

۱۸ ـ د باران سیوری (د شعرونو ټولګه)، ، د ۲۰۱۸ کال په اکتوبر میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوې ده،

۱۹ ـ د تعلیم ډیوه او د نوي نسل روزنه (د مقالو ټولګه)، د ۲۰۱۹ کال په فبرورۍ میاشت کې، په افغان جرمن آنلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۲۰ ـ د امپراتور نوې جامې او شپږ نورې کیسې، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۹ کال په می میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۲۲ ـ د افغانستان له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه (د مقالو ټولګه)، همدا اثر.

چاپ یا آنلاین کولو ته تیار:

ـ د شعرونو دوې ټولګې،

ـ او درې عنوانه ځېرنیز کتابونه.

پوهندوی آصف بهاند اوسمهال د ډنمارک په هیواد کې ژوند کوي او لکه پخوا په فرهنګي کارونو کې فعال دی، خپلو ځېرنیزو او تخلیقي کارونو ته دوام ور کوي.

پای